ننگرهار اقتصاد پوهنځی

# صنعتي اقتصاد






پوهاند محمد بشير دوديال

پلورل منع دی

١٣٩٩

صنعتي اقتصاد
Industrial Economics
پوهاند محمد بشير دوديال

Nangarhar Economics Faculty

Afghani

Prof M Bashir Doudiyal

# Industrial Economics



Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**




ISBN 978-9936-620-93-3

Not for Sale

2020

# صنعتي اقتصاد

پوهاند محمد بشير دوديال

افغانیک
Afghanic



Pashto PDF
2020

Nangarhar Economics Faculty
ننگرهار اقتصاد پوهنځی

Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**

# Industrial Economics

Prof M Bashir Doudiyal

Download:
www.ecampus-afghanistan.org

اقرأ باسم ربك الذي خلق

# صنعتي اقتصاد

## پوهاند محمد بشير دوديال

### لومړی چاپ

دغه کتاب په پي ډي ايف فارمټ کې په مله سي ډي کې هم لوستلی شئ:



د کتاب نوم: صنعتي اقتصاد

ليکوال: پوهاند محمد بشير دوديال

خپرندوی: ننګرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځی

وېب پاڼه: www.nu.edu.af

د چاپ کال: ۱۳۹۹، لومړی چاپ

چاپ شمېر: ۱۰۰۰

مسلسل نمبر: ۲۹۶

ډاونلوډ: www.ecampus-afghanistan.org

چاپ ځای: سهر مطبعه، کابل، افغانستان

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې، په جرمني کې د Eroes کورنۍ يوې خيريه ټولنې لخوا تمويل شوی دی.
اداري او تخنيکي چارې يې په آلمان کې د افغانيک لخوا ترسره شوي دي.
د کتاب د محتوا او ليکنې مسئوليت د کتاب په ليکوال او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبيق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤليت نه لري.

د تدريسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړيکه ونيسئ:

ډاکتر يحيی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کابل

تېليفون ۰۷۵۶۰۱٤٦٤۰، ۰۷۰٦۳۲۰۸۴۴

ايمېل textbooks@afghanic.de

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

ای اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳٦-٦۲۰-۹۳-۳

# د لوړو زده کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډیر مهم رول لوبولی دی. درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پیژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومي مننه کوم چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانگو کې درسي کتابونه تألیف او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې اداء کړی دی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم تر څو په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړي، چې له چاپ وروسته د گرانو محصلینو په واک کې ورکړل شي او د زده کړو د کیفیت په لوړولو او د علمي پروسې په پرمختگ کې یې نیک گام اخیستی وي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي چې د گرانو محصلینو د علمي سطحې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو رشتو کې معیاري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي.

په پای کې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او زموږ همکار ډاکتر یحیی وردک څخه مننه کوم چې د دې کتاب د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړېده.

هیله منده یم چې نوموړې گټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي تر څو په نیږدې راتلونکې کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درنښت

پوهنمل دیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزی

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر

کابل، ۱۳۹۸

# د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي. یو زیات شمیر استادان او محصلین نویو معلوماتو ته لاس رسی نه لري، په زاړه میتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

تر اوسه پورې موږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، البیروني، کابل، کابل طبي پوهنتون او کابل پولي تخنیک پوهنتون لپاره ۳۱۱ عنوانه مختلف درسي کتابونه د طب، ساینس، انجنیري، اقتصاد، ژورنالیزم او زراعت پوهنځیو (۹۶ طبي د آلمان د علمي همکاریو ټولنې DAAD، ۱۹۰ طبي او غیر طبي د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې Kinderhilfe-Afghanistan، ۷ کتابونه د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې DAUG، ۲ کتابونه په مزار شریف کې د آلمان فدرال جمهوري جنرال کنسولګري، ۳ کتابونه د Afghanistan-Schulen، ۱ کتاب د صافي بنسټ ، ۲ کتابونه د سلواک ایډ، ۸ کتابونه د کانراد ادناور بنسټ KAS، ۱ کتاب په آلمان کې د اناسیس کمپنۍ لخوا) په مالي مرسته چاپ کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړونده پوهنتونونو او یو زیات شمېر ادارو او مؤسساتو ته په وړیا توګه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.afghanistan-ecampus.org ویب پاڼې څخه ډاونلوډ کولای شئ.

دا کړنې په داسې حال کې تر سره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰ - ۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې:

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د لیکلو فرصت برابر شي د تعلیمي نصاب د ریفورم لپاره له انګریزي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړین دي، له دې امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلین او استادان نشي کولای عصري، نویو، تازه او کره معلوماتو ته لاس رسی پیدا کړي."*

موږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هیواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچر نوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره دا اړینه ده چې د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره هر کال څه نا څه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

**له ټولو محترمو استادانو څخه هیله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، وژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه ایډېټ او د چاپ لپاره تیار کړي، زمونږ په واک کې یې راکړي چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوند پوهنځیو، استادانو او محصلینو په واک کې ورکړو. همدارنګه د یاد شویو ټکو په اړوند خپل وړاندیزونه او نظریات له مونږ سره شریک کړي، تر څو په ګډه پدې برخه کې اغیزمن ګامونه پورته کړو.**

د مؤلفینو او خپروونکو له خوا پوره زیار ایستل شوی دی، ترڅو د کتابونو محتویات د نړیوالو علمي معیارونو په اساس برابر شي، خو بیا هم کیدای شي د کتاب په محتوی کې ځینې تیروتنې او ستونزې ولیدل شي، نو له درنو لوستونکو څخه هیله مند یو تر څو خپل نظریات او نیوکې مؤلف او یا مونږ ته په لیکلي بڼه راولیږي، تر څو په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

له افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او د هغې له مشر ډاکتر ایروس څخه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې ورکړی دی، دوی تر دې مهاله د ننګرهار پوهنتون د ۱۹۰ عنوانه طبي او غیرطبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه اخیستی دی.

د جي آی زیت (GIZ) له دفتر او CIM (Center for International Migration & Development) څخه، چې زما لپاره یې له ۲۰۱۰ نه تر ۲۰۱۶ پورې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي وو، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لوړو زده کړو له سرپرست وزیر پوهنمل دیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزی، مالي او اداري معین ډاکتر احمد سیر مهجور، مالي رئیس احمد طارق صدیقي، په لوړو زده کړو وزارت کې سلاکار ډاکتر ګل رحیم صافي، د پوهنتونونو رئیسانو، د پوهنځیو رییسانو او استادانو څخه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هڅولې او مرسته یې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له مؤلف څخه ډېر منندوی یم او ستاینه یې کوم، چې خپل د کلونو-کلونو زیار یې په وړیا توګه ګرانو محصلینو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر یو حکمت الله عزیز او فهیم حبیبي څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار

کابل، فبروري، ۲۰۲۰

د دفتر ټیلیفون: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰، ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴

ایمیل: textbooks@afghanic.de

# فهرست


سریزه............................................................................ 1
لومړی څپرکی.................................................................... 3
عمومیات ......................................................................... 3
صنعتي اقتصاد(Industrial Economics) ......................................... 3
د صُنعت تعریف .................................................................. 4
د اقتصادي ودې او صنعتیتوب اندازه کول ...................................... 11
د یوه اقتصاد یا هېواد صنعتي کول(Industrialization) ...................... 12
تمرینات .......................................................................... 12
دوهم څپرکی..................................................................... 14
په نړۍ او افغانستان کې د صنایعو تاریخچه او پرمختیا ........................ 14
په افغانستان کې صنایع........................................................... 16
لاسي صنایع او د هغو اهمیت ................................................... 19
لاسي صنعت او له هغه سره ورته نورو اصطلاحاتو سره یې توپیر ............... 22
صنایع د ملي اقتصاد د یو مهم سکتور په توګه .................................. 22
د صنایعو مهمې ځانګړتیاوې:..................................................... 22
د ملي اقتصاد په وده کې د صنایعو ارزښت....................................... 25
تمرینات .......................................................................... 27
دریم څپرکی..................................................................... 28
په صنایعو کې تولید ............................................................. 28
د کار ځانګړتیاوې................................................................ 34
په صنایعو کې د کار مولدیت..................................................... 36
پېژندنه .......................................................................... 36
د کارګرانو خوځښت ............................................................. 39
پېژندنه .......................................................................... 39
د کار د خوځښت عوامل......................................................... 40
د کار وېش....................................................................... 42
پېژندنه .......................................................................... 42
د ځای ټاکنې په اړه د یو شمېر مهمو ټکیو په نظر کې نیول ..................... 45

د ابزارو اقتصاد........................................................ 64
گوداموونه........................................................ 66
په کار ځایونو (تصدیو) کی د کار توکي (محمول)........................................................ 67
تمرینات........................................................ 72
څلورم څپرکی........................................................ 74
د صنعتي تولیداتو پالیسی او پلان ........................................................ 74
د صنعتي اقتصاد پالیسی( سیاست) یعنی څه ؟ ........................................................ 74
د یوې تصدۍ دتولیداتو پلان ........................................................ 76
د صنعتي کارکوونکو د چمتو کولو پلان جوړونه ........................................................ 80
د مادي تخنیکي تدارکاتو او تمویل پلان ........................................................ 82
د صنایعو د ایجاد، تاسیس او ځای پرځای کولو په پلان کې مهم پرنسپونه ........................................................ 83
د صنایعو د تاسیس د محل د غوره کولو عوامل........................................................ 84
پوښتنې ........................................................ 86
پینځم څپرکی........................................................ 87
په صنعت کې مُزد........................................................ 87
د صنایعو د کارگرانو او معاشاتو د پلانولو په هکله ځینی ټکي ........................................................ 94
تمرینات ........................................................ 95
شپږم څپرکی........................................................ 96
په صنایعو کی د کار موثریت (اغیزمنتوب) ........................................................ 96
دصنایعو د رامنځته کیدو او پراختیا مهم شرایط ........................................................ 98
په ملي اقتصاد کی د بیلابیلو سکتورونو تر منځ اړیکې ........................................................ 99
مخابرات ........................................................ 100
ساختمان ........................................................ 100
دکرنې او صنعت دسکتورونو ترمنځ اړیکې........................................................ 101
دمتوازن پرمختګ اړتیا )Need for Balanced Development(........................................................ 104
اووم څپرکی........................................................ 106
صنایع په اوسني افغانستان کې ........................................................ 106
په افغانستان کی د صنعت په سکتور کی د بوختو بشری ځواکونو نسبی سهم........................................................ 113
د افغانستان په ملی اقتصاد کی د صنعت د سکتور ونډه........................................................ 114
د افغانستان په بهرنی تجارت کی د صنعتی محصولاتو ونډه........................................................ 117

د صنعتي ځمکو ته لاسرسی کې ستونزی چې خدمتونه وړاندې کوي ........................ 125
تمرينات ........................................................................................ 131
اتم څپرکی ..................................................................................... 132
محلی شوی صنايع ............................................................................ 132
(Localized industry) ........................................................................ 132
محلي صنايع اود فعاليتونو مناسب ځای پرځای کول( Appropriate Location ) ........................ 132
په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو په موضوع د څېړنې اړتيا ...................................... 135
د افغانستان لاسي صنايع او د هغو اهميت .......................................................... 136
لاسي صنعت؛ او له هغه سره ورته نورو اصطلاحاتو سره يې توپير ................................ 137
له لاسي دوديز کارځای سره د لاسي صنعت توپير ................................................ 138
له ماشيني صنايعو سره د لاسي صنعت توپير ...................................................... 138
لاسي صنايع او د افغانستان اقتصاد ................................................................ 139
په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو تاريخچه ......................................................... 143
د هېواد د غاليو زيات توليدوونکي ................................................................. 145
عوايد او د ارزښت کړۍ ............................................................................. 145
د وړيو مينځل اوسنۍ کول .......................................................................... 145
د غاليو سکېل او مينځل ............................................................................. 146
د غاليو د بازار موندنې او سوداګری ستونزی او خنډونه ........................................... 146
وروستۍ پرمختګونه ................................................................................ 146
په افغانستان کی د غاليو د اوبدلو مهم مرکزونه ................................................... 148
په هېواد کې د غالۍ اوبدلو د دستګاه ډولونه ...................................................... 149
د افغانستان په اقتصاد کې د غاليو د اوبدلو ارزښت ............................................... 152
په افغانستان کی د غالۍ اوبدلو د صنعت مخکی پراته خنډونه ..................................... 153
د غاليو د پلورلو لپاره ضعيفه بازار موندنه ......................................................... 155
د هيواد د غالۍ اوبدلو يو شمير مهمې ستونزې او خنډونه: ....................................... 156
د غاليو اوبدلو د صنعت د ښه کيدو لپاره وړانديزونه او لارې چارې ............................... 158
د سيمه ييزو صنايعود دوديزو بازارونو معرفي او لنډه تاريخچه .................................... 160
د تاشقرغان بازار ................................................................................... 162
د خرمنو کوڅه ...................................................................................... 168
د رخت کوڅه ........................................................................................ 168

د اوړو سرای .................................................. 170
د پسونو د پلور سرای .................................................. 172
د هرات زوړ بازار .................................................. 174
د کاشي کارۍ صنعت: .................................................. 178
اووه قلمه یا هفت قلم کاشي: .................................................. 178
معرقه کاشي .................................................. 179
د لرگي صنعت .................................................. 181
خادر اوبدنه: .................................................. 183
د مسگرۍ صنعت: .................................................. 183
د مسگرۍ کوڅه: .................................................. 187
د استالف بازار .................................................. 191
د کندهار زوړ بازار .................................................. 194
د کولالۍ صنعت .................................................. 203
مصرفي مواد .................................................. 205
د تنور سازۍ صنعت .................................................. 208
د کاڼي د صنعت مصرفي مواد .................................................. 212
د کاڼي پر مخ ظریف هنرونه .................................................. 213
د لرگي هنر .................................................. 214
د لرگي د صنعت مصرفي مواد .................................................. 215
د لرگي د مخ ظریف هنرونه .................................................. 218
د لرگینو اثارو جوړونه .................................................. 220
په افغانستان کې د زرگرۍ صنعت .................................................. 221
د زرگرۍ مواد .................................................. 224
د تولید اوزار او وسایل .................................................. 225
د تولید طریقه .................................................. 225
غالۍ اوبدنه یا ټغر اوبدنه: .................................................. 225
ټغر اوبدنه .................................................. 227
د لیمڅي صنعت .................................................. 228
ټټاري یا حلبي سازي .................................................. 230
دلرگیو د سریښ ډولونه .................................................. 250

گلگل او په لرګي باندې د هغه استعمال ............................................. 253
دګلګل کارۍ پر مهال د يو شمېر ټکو په پام کې نيول.............................. 255
د لرګي رېګمال کول................................................................. 256
د لرګيو د رېګمال ډولونه............................................................ 256
په پالش کاري کې ساتنه او څارنه.................................................. 258
د پالش کارۍ پړاوونه ............................................................... 260
د لرګي بيسن کاري .................................................................. 260
استر رنګ............................................................................ 260
د ترکاڼۍ او معماري په چارو کې د آب ترازو استعمال............................. 262
د آب ترازو ډولونه.................................................................. 262
د لرګی مېخ او پېچ او د لرګی په تخنيک او ترکاڼي کې يې فعاليت ............... 265
د لرګي په تخنيک او ترکاڼي کې د فلزي پرزو کارول................................. 270
د کړکيو ډولونه...................................................................... 280
تمرين ................................................................................ 283
ماخذ ................................................................................. 284

## سریزه

صنعت د ملي اقتصاد یو مهم او مولد سکتور دی . د ننني پرمختللو هیوادونو زیاتره بهرنی سوداګری او داخلي تولیدات د صنعت پرسکتور متکی دی. د هر هیواد په ملي اقتصاد کی بیلابیل سکتورونه شامل وی لکه: کرنه، صنعت، سوداګری، عامه خدمات (صحت، ښوونه اوروزنه، ترانسپورت، مخابرات او نور) ، چی د هیوادونو د ځانګړو خصوصیاتو له مخی د هر سکتور دریځ په ملي اقتصاد کی توپیر کوی. دبیلګی په توګه د جاپان د هیواد اقتصاد عمدتا د صنعتی تولیداتو په صادراتو پیاوړی شوی دی، حال دا چی یو شمیر دخلیج هیوادونه د نفتو صادروونکی دی، د آسترلیا په ملي اقتصاد کی د مالداری محصولات لکه وړی، غوښه، پشمی منسوجات او داسی نور رول لری، خو د مصر دهیواد په ملي عوایدو کی توریزم مهم بلل شوی دی. افغانستان له بده مرغه د وروسته پاتی حالت له امله لا اوس هم خپلو ملي تولیداتو کی ډیر داسی عمده تولیدات نه لری چی خپل عواید ورباندی په پوره اندازه اوچت کړی . تر اوسه پوری هم زموږ زیاتره تولیدات او صادراتی اقلام یو شو کرنیز محصولات دی چی هم د هیواد دننه مصرفیږی او هم یی یوه برخه بهر ته استول کیږی، لکه : انګور، خټکی، پسته، انار، ممیز او منې. حال دا چی ډیره ضروری ده چی په هیواد کی باید صنعت ته هم ډیره پاملرنه وشی، دا ځکه چی صنعت د هیواد دننه خام توکی پروسس کوی او په کار تماmو اقتصادی توکیو یی بدلوی چی د خلکو اړتیاوی ورباندی پوره کیږی. په لغت کې صُنعت (صُنع) جوړلو ته وایي، په اصطلاح کې صنعت هغه کسب، کار او هنر دی، چې دهغه په ترڅ کې مواد د اړتیاوو د پوره کولو په موخه پروسس کیږی، یعنی په بڼه او شکل کې یې بدلون راوستل کیږی. که صنعت ته پاملرنه ونه شی د هیواد دننه ګڼ شمیر منابع یا ضایع کیږی یا بی استفادی پاتی کیږی او د خلکو اړتیاوې به هم پوره نه وي. د یو شمیر وروسته پاتی هیوادونو په اقتصاد کی ځکه لازم او د پام وړ بدلون ندی راغلی چی د دوی خام مواد بهرنیو هیواوته په ډیره ارزانه بیه صادریږی او بیرته له هغی خوا کارتمام صنعتی تولیدات دوی ته په لوړه بیه واردیږی . وروسته پاتی او پرمختیایی هیوادونه باید د داسی ستراتیژی او پالیسی لرونکی وی چی د هغی له مخی د خپل صنعت سکتور ته په ښه بڼه وده ورکړی . د همدی منظور لپاره د صنعتی اقتصاد مضمون د یوه مهم مسلکی مضمون په توګه د اقتصاد د پوهنځی په پروګرام کی شامل شوی دی . د دغه مضمون تدریس له دیرشو کلونو

ځخه زما په غاړه و. یو څه موده دغه مضمون نه یوازې د اقتصاد پوهنځی کی، بلکې د کرنې پوهنځی کی هم تدریس کید، خو وروسته د کرنې د پوهنځی له نصاب ځخه حذف شو. د کرنی پوهنځی کی ځکه د دې مضمون تدریس په پام کی نیول شوی و چې کرنه او صنعت یو بل سره نږدی اړیکی لری، اوس د کرنې پوهنخي کې صنعت د کرنیز اقتصاد د مضمون صرف یوه کوچنۍ برخه جوړوی، خو د اقتصاد د پوهنځی یو مهم او اساسی مضمون دی. مخکې تر دې د دې مضمون لپاره درسی کتاب نه و لیکل شوی، دا دی د یوه ضرورت په توګه ورته درسی کتاب تالیف شو، تر څو د محصلانو ستونزه په بنه ډول حل شی، هیله ده محصلان، د تصدیو منجران، داقتصادي پالیسی جوړوونکی، ملی پانګوال او داقتصادی موسساتومدیران ورځخه غوره استفاده وکړی.

# لومړی څپرکی
# عمومیات

## صنعتي اقتصاد(Industrial Economics)

د اقتصاد دعلم هغه څانګه ده، چې دصنعتي کیدو په اړه د اقتصادی سیستم له تحلیل او مطالعی سره سروکار لری. صنعتی اقتصاد دهغو اقتصادی اصولو او تجربو په هکله بحث او خبری کوی چې په سیده توګه دیوه اقتصاد جوړښت تر اغیزې لاندې راولي یا یو اقتصاد ته بهه ورکوی. دلته د عمومي اقتصاد قوانین د صنعت په سکتور کې تر مطالعې لاندې نیول کیږي. دا د عمومی اقتصاد یوه نوی څانګه ده. د عمومی اقتصاد دغه څانګه د کارګرانو، دتصدیو د مدیرانو او ددولت ترمنځ اړیکی روښانوی او د صنعت په سکتور کې د تولیدی عواملو د اغیزمن استعمال، غوره تخصیص کولو او د مطلوبیت د ایجاد په هکله لارښوونه کوي.

د صنعتی اقتصاد دعلم بحثونه بالعموم دصنعت، دصنعت پیژندنه، د صنعت څانګې، په صُنعت کې تولید او تولیدی عوامل، خام او نیم کاره توکي، په صنعت کې کار او د کارګرانو مزدونه ، په تصدیو او فابریکو کی د کار د سازماندهی بڼې ، د کار مقررات، د کارګری اتحایو دندی او له نورو اقتصادی سکتورونه سره یې اړیکی او په تیره بیا د صنعت په هکله د پالیسیو غوره کول یا د صنعتی سیاست ښودل او بیانول دی.

یا په بله وینا : صنعتی اقتصاد هغه پوهنه ده چې د صنعتی تصدیو په دننه کی اقتصادی قوانین تر څیړنی لاندې نیسي او صنعت د یوه تولیدی سکتور په توګه په هر اړخیزه توګه؛ چې له اقتصادی نظام سره ارتباط ولری، تشریح کوي. صنعتی اقتصاد هم (positive) یا مثبت (عملي) او عملی اړخ او هم (normative) یا علمی او نظری اړخ لری.

# د صُنعت تعریف

صُنعت په لغت کې جوړولو ته وایی چی د عربی ژبې له (صُنع) څخه اخیستل شوی ده، یعنې د یو شي جوړول او په لاس باندې د یو شي بڼې ته بدلون ورکول. په اصطلاح کې صنعت د انسانانو د استفادې او اړتیاوو د پوره کولو په موخه داشیاو او مواد و داستحصال او د بڼې بدلون ته وایي .

په اقتصادی ادبیاتو ( اصطلاح) کې له خامو یا نیم کاره توکو څخه د یو ضروری جنس پروسس یا داقتصادی جنس یا خدمت تولید ته صنعت( Industry) وایی. په بله وینا :

صنعت د وګړو د استفادې په خاطر د خامو او لومړنیو موادو د بڼی بدلون دی ، چی د استفادې د وړتیا په خاطر په دغو لومړنیو موادو باندې د صنعت عملیه تر سره او شکل یی تغییر کوي، لکه له لرګي څخه د میز، چوکۍ، دروازې او نورو شیانو جوړول، له طبی بوټو څخه د درملو جوړول، له څرمن څخه د بوټانو جوړول، له ختو څخه د منګي، متې ، کټو او نورو شیانو جوړول، له ګنیو څخه د بورې او ګوړې جوړول، له شړشم څخه د غوړیو ایستل، له لوخو څخه د پوزیو جوړول او داسی نور.

اروپایي ژبو کې صنعت ته (industry ) وایي و موخه یې هغه پروسه ده چې د هغې په ترڅ کې خام مواد په کار تمامو تولید شویو توکو بدلیږي.

د بازار په نظام کې صنعت د خامو موادو پروسس، په یوه بشپړ رقابتي بازار کې د صنعتی پروسس هغه چوکاټ دی، چې ګڼ شمېر کار ځایونه د مشابه جنس د تولید لپاره هلته سیالي کوي. نن ورځ د یوې پیړۍ پخوا په مقایسه، لاسي صنعت یوه پرمختللې، پېچلې، اتومات او میکانیزه پړاو ته وده کړې ده او له مانو فاکتور څخه ماشیني پړاو ته اوښتی ، خو په یو شمېر پرمختیایي هېوادو کې لا هم لاسي صنعت د دوی ملي تولید کې اوچت ارزښت لري. د بېلګې په توګه په افغانستان کې لاسي ګنډل، غالۍ او بدل، تغر او پوستین جوړول لا اوس هم د مانو فاکتور په کتار کې په اقتصاد او د وګړو کار ګومارنې کې خپل ارزښت ساتلی دی. د چین په شان یو لوی اقتصاد کې هم تر اوسه لاسي مستظرفه صنایع خپل ارزښت لري، حال دا چې د امریکې متحده ایالاتو، جرمني، انګلستان، کاناډا ، روسیې او یو شمېر نورو هېوادونو کې ماشیني صنعت څو څو ځله پیاوړی او پرمخ تللی دی چې دوی یې د اتو یا اوو صنعتي

هېوادونو (G8/G7) په کتار کې درولي دي. په دغو هېوادونو کې صنعتي ځانګو يو بل سره ځانګړې اړيکې ايجاد کړې دي، لکه د خوراکي توکو پروسس، کاغذاو کارتن جوړول، دماشين جوړول، نساجي او نور.

دا ټولی هغه ییلګی دی چی د هغو په ترڅ کی لومړنی خام توکی د بڼی په بدلون سره د کارولو وړ ګرځی او اقتصادی ارزښت پیدا کوی.

یو شمیر نوروا اقتصادپوهانو صنعت داسې تعریف کړی دی:

دانسانانو د کار اخيستنې او استفادې په موخه د موادو او خامو توکو دبڼې بدلون صنعت دی.

په دی توګه و یلای شو چی د صنایعو مفهوم د لومړنیو او خامو توکیو د بڼی په بدلون کی نغښتی دی، چی د انسان د شعوری او هدفمند کار له امله په هغو کی ګټورتوب ورزیاتیږی او د هغه په ترڅ کې دلومړنیو خامو توکو کیفیت او ارزښت او د کار وړتیا لوړیږی. دغه چلند بیلګه(پروسیجر) د انسان د مټ او کار په زور ترسره کیږی، نو د انسان کار هغه ځواک دی چی په دغو صنعتی توکیو کی مصرف شوی یا لګیدلی دی او هغو ته یی اقتصادی ارزښت ورکړی دی.

کیدای شی خام مواد یا د صنعت لپاره خام توکی لومړی په نیم کاره موادو تبدیل شی او بیا وروسته په بشپړو کارتمامو مواد بدل شی لکه له کان څخه د وسپنی را ایستل او بیا په پولادو دهغی بدلول او ورڅخه د پرزو او ماشین الاتو جوړول، یا له وړیو څخه سنی جوړول او بیا وروسته له هغو څخه د شړی، ټغر، غالۍ اوپټو ګانو اوبدل. په دی توګه تار او سنی نیم کاره توکی اوپټو، ټغر او شړۍ کار تمام توکی بلل کیږی. د بوټانو په صنعت کی د غوایی څرمن چی تازه ایستل شوی خام توکی دی، وروسته چی په دباغی کی په پخه څرمن اړول کیږی ، نیم کاره توکی بلل کیږی او کله چی بوټ ورڅخه جوړ شی، نو په کارتمامو موادوبدلیږی ، خو دغه محصول یعنی بوټ بیا یو شمیر متممو نورو موادو ته هم اړتیا لری لکه د بوټانو بندونه یا دهغو لپاره رنګ. په دې توګه داسې ښکاري چی صنعت یوه څو مرحله یی پروسه ده. هغه ځای یا محل کې چې صنعتی پروسه پر مخ وړل کیږی، هغه ته صنعتی کار ځای Industrial firm یا Manufacturing یا صنعتی تصدۍ ویل کیږی. دا هغه کار ځای دی چې هلته یو یا څو تنه تولید ترسره کوي. یا هغه پیژندل شوی ټاکلی ځای چې

هلته دتولید په موخه پانګه او د کار ځواک یو ځای کیږي اویوه صنعتي پروسه پرمخ بیا يي.
یا : صنعتی تصدی industrial firm
هغه ځای دی چی خام او نیم کاره توکی په کار تمامو پروسس شویو صنعتی اجناسو بدلوی.
. د نن ورځې عصری او ماشینی صنعت په ځانګړو تولیدی واحدونو کې پرمخ بیول کیږی.
دصنعتی اقتصاد د علم له مخې د کاروبار، د تولید یا خدماتو د عرضې دغه واحد چې د تولید عوامل په کار اچوي او ټولنې ،مشتریانو، کورنیو اویا نورو موسساتو ته خدمات اوجناس تولیدوي او ورباندې پلوري يې، يو اقتصادی انفس(واحد) دی چې له دریو نورو انفسونو (دولت، کورنۍ او خارج) سره سیده اړیکې لری. دغه کار ځای(صنعتی تصدي) له یوې خوا مصارف او له بلې خوا عواید لری. دا د اقتصادي تصامیمو د نیولو یو واحد دی، دکار ځواک استخداموي، تولیدي عوامل په کار اچوي او محصول پلورلو ته چمتو کوي. له تولید پرته یو شمېر نورې چارې هم کېدای شي پرمخ بوځي لکه د خپلو تولیداتو لپاره اشتهارات، په قرار دادونو کې ګډون او نور فعالیتونه. کار ځای (firm) د کوچني اقتصاد د بحث موضوع ده.
په پیل (لومړیو وختو) کی صنعت صرف په دوو برخو وویشل شوی و : یو یی لاسی ،مانو فاکتور صنایع اوبل یی ماشینی صنایع، خو وروسته بیا ماشینی صنایع هم په څو برخو وویشل شول، خو د وخت په تیریدو سره نن ورځ صنایع د دروندوالی او نورو خصوصیاتو له مخی په نورو بیلابیلو برخو ویشل شوی دی لکه: سپک صنایع، درانه صنایع، لاسی صنایع، کلیوالی صنعت او داسی نور.
صنایع د استعمال او تولید شویو اجناسو د استفادی له مخی هم په بیلابیلو برخو ویشل شوی لکه د خوراکی موادو صنعت، د نساجی صنعت او داسی نور.
صنعت د خپلی پیچلتیا او پیشرفت د درجی له مخی په ماشینی او مانو فاکتور صنعت باندی ویشل شوی دی ، خوپه لویه سطح صنعت زیاتره په جلا برخو ویشل کیږی. له یاده مو ونه وځی چی په معاصر اقتصاد کی هره هغه تولیدی او خدماتی رشته چی یو څه عرضه کوی، هم د صنعت په نوم یادیږی. یعنی نن ورځ کرنی، توریزم، تحقیق، فضایی چارو او نورو ته هم د صنعت صفت ورکړل شوی دی . له دی پلوه بیاد صنعت ویش په دې ډول دی :

۱. Primary sector :په دی کی دوسایلو مستقیم استخراج له مځکې څخه شامل دی، لکه. زراعت ،له کانی زیرمو استفاده،ماهی نیول او ښکار کول.دوی تولیدات بیخی نه پراسس کوي .دوی کارخانه او دصنعتی پروسس کارځای نه لری چی دګټې لپاره جوړشی، بلکی لکه هغسی چی په طبیعی بڼه دی هماغسی یی تر استفادی لاندی راولی . زرګونه کاله مخکې انسانانو همدغه ډول ژوند درلود. آن تر څو کلونو مخکې ډیرو خلکو شامپو نه پیژند له د هغی پرځای یې یو ډول ژیړه خاووره باندې (دسرخاوره یا ګل سرشوی) سرونه مینځل، له ونو او بوټو څخه یې دهغو میوه رااخیسته او له سیندونو یې کبان رانیول او مرغان او یو شمیر حیوانات یې ښکار کول او شیدی یې له وزو او غواګانو څخه راولوشلې او په دې ډول یې پرته له کوم صنعتی پروسس استعمالول. حال دا چې په معاصر صنعت کې زموږ هدف پروسس کول، د خامو توکو اقتصادی استعمال، د تولید د پروسې موثریت، د صنعتی کارځای موقعیت،مصارفو ، عوایدو او پانګی سنجول، کار او دکارګرد مزد د اصولو پیژندل او په هغو پوهیدل دی. اوس پرایمری یا لومړنی صنعت نشته، که وی هم ډیرو وروسته پاتې سیموکی به وی.

۲. Secondary sector :پدی کی دلومړی سکتورڅخه دتولیداتوپراسس شامل دی.پدی کی ټول کارخانه یی یا په فابریکو کی جوړشوی تولیدات او محصولات شامل دی، لکه هغه چی فلزات چاښوی ، دښیښی تولید اود ترانسپورتی او بار وړونکی نقلیه وسایط او یا دانرژی موټورنه او د و سایلوتولید ،جوړونهconstruction،manufacturing او داسې نور . دا د پرایمری په پرتله پر مختللی سکتور دی، چې بشریت له اتلسمې پیړۍ وروسته دصنعتی انقلاب له برکته په دې ډول صنعت لاسبری شو.

۳. Tertiary sector :پدی ګروپ کی دخدماتو مهیا کول شامل دی.لکه ښوونه او روزنه ، عامه روغتیا ... چی کارګران نه بلکی استادانteachers،منیجرانmanagers او داسی نورد صنعت لپاره د خدماتو اووسایلو مهیاکوونکی وی او دا ډول خدمات رسول د صنعت دبحث یوه برخه ګرځیدلی وي. دصنعت په پرمختګ کې دا دریم پړاو و چې د ساینس او تکنولوژی د عصر په وروستیو کی را څرګند شو.

۴. Quaternary sector : په دې ګروپ کې د صنعت ده ښه کیدو او پرمختګ لپاره دتکنالوجی اوساینس څیړنه (تحقیق) شامله ده. ساینسدانان او د علمي څیړنو استادان په دې برخه کې کار کوي. ځینې نور داسې وايي چې دادمخکنی سکتوربرخه(branch) ده




.پدې کې دټولنې یا اقتصاددلوړې سطحې اوتصمیم نیوونکې مراجع شامل دي. په دې کې دیوې ساحې لوړترین تصمیم نیوونکې لکه علمي حکومتGovernment،science ،پوهنتونونهUniversities،culture and the media او نور مراکز په کاربوخت دي. دا صنعت معنوي تولیدات هم را اخلي لکه اختراعات، فرمولونه ، کیمیاوي ترکیبات جوړول، دمدیریت، محاسبه کولو اودتصدی درهبري نوي مهارتونه او نور.

په لرغونو وختونو کې د لاسي صنایعو تولیدات ساده لوښي ، چاکوګان، لور، غشي، جارو، کټ، یوم، تبر ، ساده د سینګارګاڼې او داسې نور وو، خو هیره دې نه وي چې همدا اوس هم دې ډول صنایعو ته اړتیا شته او ګڼ شمیر پرمختللي هیوادونه هم همدا اوس داډول لاسي صنایع لري او آن دا چې ځینې لاسي صنایع د ماشیني صنایعو په پرتله لوړه بیه لري. لکه په افغانستان کې غالۍ او په چین کې یو شمیرې دکور د سینګار دلرګیو او تو کرانو تولیدات .

د اتلسمی پیړی په پای او د شلمی پیړی په پیل کی عصری ماشینی صنعت په اروپا کی د لومړی ځل لپاره په انګلستان کی د بخار د ماشین د اختراع په واسطه رامنځته شو چی په حقیقت کی همدا دصنعتی انقلاب پیل و، له همدې وخت څخه وروسته د صنعتی اقتصاد، دتصدی مدیریت او کارګری اتحادیې او دصنعت په اړه داسې نور مسایل رامنځته شول. دې نوي پړاو ته د صنعتی انقلاب (Industrial revolution) نوم ورکړل شو چې داسې یې تعریفوو:

هغه یو ډېر ژور او بنسټیز تحول چې په صنعت او دتولید په تخنیک کې راغلی دی. د اتلسمې پیړۍ په پای او د نولسمې پیړۍ په پیل کې د تولید په تکنالوژۍ او له لاسي صنعت څخه لوی ماشیني صنعت د اقتصادي نظام بدلون.

دغه بدلون یوه پروسه وه چې ننیو صنعتی بیلابیلو لویو او له صنعتی پلوه پرمختللو هیوادو مختلفو وختونو کې تکمیل کړه او د صنعتی کول یا (Industrialization) په نوم وپیژندل شوه. د صنعتی اقتصاد علم صنعتی کول داسې را پیژني:

د یوه هېواد د اقتصادي پرمختیا داسې پړاو ته ور رسېدل دي، چې د کرنې په پرتله یې د صنعت وده ګړندې او اوچته شي. وروسته تردې پړاو څخه په ټول اقتصاد کې د صنعت اهمیت اوچتېږي. لکه چې پوهېږو، زیاتره وروسته پاتې او پرمختیایي هېوادونه یوازې یو مسلط سکتور لري. د افغانستان په شان ګڼ شمېر نورو پرمختیایي هېوادو کې لا اوس هم مسلط او مهم سکتور د کرنې سکتور دی. دوی باید نورو برخو ته هم وده ورکړي. کله چې د دوی نوي په پښو دریدلی صنایع ګړندۍ وده وکړي او ترکرنې څخه مخکې شي. نو دا یې د صنعتي کېدو یوه نښه ګڼل کېږي. د دویمې نړېوالې جګړې له پای ته رسېدو څخه وروسته ګڼ شمېر پرمختیایي هېوادونو همدا ستراتیژي غوره کړه او تر شپېتمې میلادي لسیزې پورې یوازې څو هېوادونو ښې پایلې درلودې، په تېره بیا هغو هېوادو چې د خپلو صادراتو پیاوړي کولو ته یې پاملرنه کړې وه، صنعت یې هم ښه شو. دوی تر۱۹۶۰م. کلونو پورې د صنعتي کېدو مرحلې ته ورسېدل، خو ټول پرمختیایي هېوادونه هغه بریدته ونه رسېدل، لکه هغسې چې له نظري پلوه اټکل کېده. یعنی وده عملاً واقع نه شوه، دا ځکه چې دوی دا تشخیص نه کړه، چې ایا پانګونه به په کومه برخه کې ښه مولدیت ولري. ځینو نورو ونشو کولای بهرنیو صنعتي توکو سره سیالي وکړي، ځینو نورو ته صنعتي کول ډېر ګران او غیر اقتصادي تمام

شول، یعنې دوی ته په کور دننه د یوه صنعتي جنس تولیدول تر واردولو ګران پرېوتل. لنډه دا چې له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته پخواني مستعمره کوچني پرمختیایي هېوادونه ډېر ژر په دې باندې وپوهېدل چې د پایید ونکو صنایعو د رامنځته کولو لپاره لا هم ډېرې ستونزې ورته په مخکې پرتې دي، نو ځکه په صنعتي کولو کې پاتې راغلل او د دوی بازارونه لا صنعتي تولیداتو ته ډېر کوچني وو. بده خو داوه چې دوی مجبور و د خپلو صنایعو لپاره ځینې خام توکي له بهر څخه وارد کړي، (افغانستان اوس هم مجبور دی د خپل صنعت لپاره عادي خام توي کي له بهرڅخه وارد او بیا وروسته تریوې لنډې پروسې یې ټوله پروسه بشپړوي) چې په دې توګه ورته اقتصادي نه تمامېږي. له بلې خوا د دوی خپل خام توکي ډېر ارزانه بهر ته صادرېږي، نو ځکه یو شمېر دغه ډول هېوادونو د صنعتي کېدو د ستراتېژۍ پرځای بېرته د کرنې ښه پرمختګ او کلیو پراختیا ته پام واړاوه. په داسې حالاتو کې یوه پرمختیایي هېواد ته دا مهمه ده چې په دې باندې وپوهېږي، چې آیا د دوی پانګونه په کومه برخه کې اغېزمنه ده. د صنعتي اقتصاد علم موږ ته همدا رازده کوي چې آیا موږ خپل صنعت په څه ډول او په کومو ځانګو کې ښه کولای شو او په څه ډول باید خپل صنعت چې ډېر ضروری سکتور دی، پیاوړی کړو.

د زیاتو خلکو لپاره د صنعتیتوب industrialization کلمه په تاریخی لحاظ د ۱۸ او ۱۹ میلادی پیړۍ د لویې برتیانیې د صنعتی انقلاب industrial revolutionپوری مربوط ښکاری، په هر حالت دا یوه جاری او دوامداره پدیده ده چې په نړیواله کچه د پراختیا او پرمختیا په حال کی ده، اوس د نړۍ ډیری وروسته پاتی ساحی less developed regions هم ورڅخه د متاثره کیدو په حال کی دی. ځکه چی صنعتیتوب industrializationد ژوند د اوچتی سطحی د راوستونکی، دفقر د کموونکې، ګومارنې او قوی اقتصاد د بنسټ په توګه پیژندل شوی دی. او دا داسی یو هدف دی چی د ټولو ملتونو لخوا تعقیبیږی.

لکه چې مخکې هم وویل شول، صنعتی انقلاب په لویه برتانیا کی په اتلسمه پیړۍ کی پیل شو ،چی دا د ګڼ شمیر ټکنالوژیکی اختراعاتو له وجهی یو مشهور انقلاب دی. یعنی په دی دوره کی ګڼ شمیر ټکنالوژیکی اختراعات technological invention منځته راغلل چی په هغې کی زیات د یادونی وړ پخوانی د څرخ ماشین spinning jenny د بخار ماشین steam engine دی. همدارنګه په صنعتی انقلاب سره عنعنوی تجارت لکه خیاطی

sewing، اوړه کول flour milling، څپلۍ او بوټ جوړول shoe making او نور ډېر کارونه له انساني او حیواني قوی د استفادی څخه په ماشیني کار چې په یوه اندازه خطر هم له ځانه سره لری بدل شول. په حقیقي ډول پرمختګ د ترماډینامیک کی د حرارتي انرژی بدلول په حرکی انرژی وو چی کانونو ته یې د دی امکان برابر کړ چی وکولای شی د ځمکی د تل څخه سکاره او معدني تیږې د ډیری لیری فاصلې څخه په آسانۍ سره راوچتولی شی. او همدارنګه زیات ماشینونه یی د زیاتو وظایفو لپاره کار ورکوی چی دغه ماشینونه د انساني او حیواني قدرت په واسطه نه، بلکې د انرژیکی منابعو (دډبرو سکرو، نفتو، اوبو، بریښنا اونورو) په واسطه چلیږی. د صنعتی انقلاب ړومبنی فایده د انفرادی کارګرانو لپاره د لوړ مزد په واسطه د ژوند د لوړی سطحی برابرول وو.

لوړ مزدونه د پیریدلو قدرت زیاتوی دا په دی معنی کله چی د خلکو تقاضا د تولید لپاره زیاته شی د دی نتیجه دا کیږی چی د منابعو مصرف زیاتیږی او تولید شوی اجناس او محصولات د خلکو د احتیاجاتو د رفع کولو لپاره دنړۍ بیلابیلو سیمو ته له وچې او سمندری لارو رسیږی. صنعتیتوب industrialization ته پرمختللو هیوادونو دخپلو اختراعاتو او خپلو طبیعی منابعو د ښه انکشاف ورکولو له لارې پراختیا ورکړه او وروسته پاتې هیوادونه یی تر تاثیر لاندې راوستل.

## د اقتصادي ودې او صنعتیتوب اندازه کول

د یو هیواد د ژوند د سطحی د معلومولو لپاره په زیاته پیمانه استعمالیدونکی اقتصادی شاخص ناخالص ملی محصول یا GNP دی.

GNP یا Gross National Products د یو هیواد په داخل کی ټول تولید شوی محصولات دی چې په اجناسو او خدماتو د دولتی او شخصی راغلو مصارفو مجموعې څخه ترلاسه کیږی او دهیواد دننه او بهر پلورل کیږی او عاید یې محاسبه کیږی. نن ورځ هر هیواد هڅه کوي چې خپل ملی محصول لوړ کړی او د دې د لوړولو لپاره په صنعتی کولو زور اچوی.

په دې توګه صنعتی کیدل(Industrialization) د اتلسمی پیړی دپای او د نولسمې پیړۍ د پیل نښه و ګرځیده اوپه اقتصاد کی یی نوی ځانګه او انګیزه رامنځته کړه. د ماشین د

پیدا ایښت نیټه همدا د اتلسمې پیړی پای ګڼل کیږی . له هغه وخت راهیسی په دی دوه سوه کلونو کی په صنعت کی ډیر ژور بدلون راغلی دی . صنعتی انقلاب د نړی بڼه بدله کړه او ورسره یو ځای د پانګوالی وده هم پیل شوه او د ځمکوالی ( فیوډالی ) ټولنه رنګه شوه .

## د یوه اقتصاد یا هېواد صنعتي کول(Industrialization)

دداسی پالیسیو او لارو پرمخ بیول دي چی په هغو سره صنعت په یو مسلط او قوی سکتور بدل او د هیواد اقتصادی شاخصونه، عواید، مالیات او تجارت وربانډی ولاړ وی. دغه پروسه ځان سره لاندینی بدلونونه راولی:

۱.دبناری سیمو پراختیا

۲.دنفوسو له زیاتوالی سره یو ځای په نویو سیمو کی د هغوی اسکان کول

۳.د فارغ وخت کمیدل، خو د معیشیت د وسایل ښه کیدل

۴.د کاری مهارتونو، فنی تخصص او د کار د ویش زیاتیدل

۵.په ټولنه کی د وګړو د اقتصادی چلند لپاره د قوانینو وضع کول او دهغو حتمی تطبیق کول

۶.د حکومت په لاس کی د قدرت لا زیات تمرکز، له سیمه ییزو غیر رسمی لیډرانو ( خانانو، ملکانو، ارباب ، د کلیسا له راهبانو او نورو...) څخه د دولت لاس ته د قدرت تمرکز او

۷.دنویو تولیدی رشتو و هنرونو او فنونو پراختیا

۸.د اتحادیو، سندیکاګانو او کوپراتیفونو پراختیا او د انسانانو ترمنځ د تعاونی محیط دننه د روابطو پراختیا

۹.دسیکولر کلچر پراختیا او د ګڼ کتلوی مصرف زیاتیدل، چی تجارتی او کاروباری کلچر یو حاکم او مسلط کلچر کیږی. په سلګونو فابریکی ورځ په ورځ پراختیا مومی ، د تولیداتو ترمنځ سیالی زیاتیږی ، پانګه نوره هم تجمع پیدا کوی او ماشین په ډیرو ځایونو کی حکم چلوی. مهارتونه، په کار کی استخدام، د ارزشونو ټاکنه او نور معیارونه د سیالی له مخی کیږی او پخوانی عنعنوی ټولنه خپل شکل په عصری ټولنه باندی بدلوی.

## تمرینات

۱.صنعت په لغت کې څه ته وايي؟

۲.صنعت تعریف کړئ.

۳.دخامو او نیم کاره توکو مثالونه ولیکئ.

۴.په لومړیو وختونو کې صنعت په کومو برخو ویشل شوی و؟

۵.نن ورځ صنایع په کومو ډولونو ویشل شوی دی؟

۶. secondary sector تشریح کړئ.

۷.معنوی تولیدات کوم صنعت کې شامل دي؟

۸.عصري- ماشینی صنایع څه وخت او چیرته رامنځته شول؟

۹.د صنعتیون کولو پروسه ځان سره کوم بدلونونه راولي؟

۱۰.مانوفاکتور کوم صنعت ته وایي؟

# دوهم څپرکی

## په نړۍ او افغانستان کې د صنایعو تاریخچه او پرمختیا

د لومړنۍ اشتراکیه ټولنې پر مهال یوازې حیواني محصولاتو د خلکو د ژوند لپاره کفایت نه کاوه، نو په ځمکه باندې یې د کار ترڅنګ، په لومړي ځل ساده وسایل جوړ کړل چې په هغه باندې یې د کرنې د تولید د ښه کولو او زیاتولو لپاره پر ځمکه تخنیکي ساده کارونه پیل کړل، وروسته پسې انسان د وسپنې ویلې کول زده کړل. دوی له ویلې شوې وسپنې څخه د دفاع او د کار ساده او لومړني وسایل جوړ کړل. د دغه مهال صنعتګران به په کلیو کې په کوچنیو کارځایونو کې په انفرادي بڼه په کار بوخت وو. کله چې لومړنیو ښارونو یو څه پرمختګ وکړ، په هغه کې د ساده وسایلو د جوړولو او پلورلو ساده کارځایونه جوړ شول چې وسایلو ته اړو خلکو به لومړی فرمایش ورکاو او بیا به د دوی د اړتیا وړ وسایل جوړ شول. په دغه مرحله کې ټول کار د انسان په مټ ترسره کید. دغو کوچنیو کارځایونو ته مونو فکتور ویل کیدل.



*د لاسي صنعت یوه بیلګه*

تر اتلسمې پیړۍ پورې چې لا ماشین نه و جوړ شوی، په ټوله نړۍ کې د کوچنیو عواملو لرونکی مانو فکتورونه په صنعت بوخت و. د صنعت د پرمختیا له پلوه د بیلابیلو هیوادونو ترمنځ ډیر توپیر نه و. د لومړي ځل لپاره په انګلستان کې په صنعت کې په اتلسمه پیړۍ کې لوی بدلون راغی، چې لاسي کار په ماشیني کار بدل شو او د دوی په اقتصاد کې ژور بدلون راغی. د ماشین رامنځته کیدو ته د صنعتي انقلاب نوم ورکړل شو. په دې توګه اروپا د صنعتي انقلاب له برکته د پرمختللي اقتصاد او روښانه ټولنیز ژوند لرونکی شو، د دوي برخلاف هغه

هیوادونه چې له ماشیني صنعت څخه بې برخې و، په هماغه پخواني وروسته پاتي حالت کې پاتې شول. په دې توګه وروسته پاتې یا پرمختیایي هیوادونه نه یوازې دا چې د صنعتي انقلاب لرونکی نه شول، بلکې د دغه انقلاب اغیزو څخه هم بې برخې پاتې شول. وروسته بیا په اروپا کې په نولسمه پیړۍ او په تیره بیا په شلمه پیړۍ کې صنعت نور هم ډیر پرمختګ وکړ. ثقیله صنایع چې الکترونیزه او اتوماتیزه بڼه یې لرله رامنځته شول، خو پرمختیایي هیوادونه بیا هم له دغه مهم ضرورت څخه بې برخې پاتې شول. د شلمې پیړۍ په نیمایي کې یو شمیر پخوانیو مستعمرو او پرمختیایي هیوادو لکه هندوستان، تایوان، سنګاپور، او کوریا هم د صنعت په برخه کې بڼه ګامونه اوچت او په اقتصادي او اجتماعي برخه کې یې بڼه بریالیتوبونه ترلاسه کړل. خو یو شمیر نورو بیا دا چانس پیدا نه کړ.
افغانستان ته د بریتانیا د استعماري دولت له خوا ډیر بد میراث پاتې شو. کله چې برتانوي استعمار په سیمه کې ماتې وخوړه د افغانستان نیمه برخه یې په یوې تحمیلي کرښې جلا او له سمندر سره مو رابطه قطع او خپل طبیعي سرحدات مو له لاسه ورکړل. له دې پرته د غازي امان الله خان د دولت په راپرځیدو سره د صنایعو هغه ډیر غوره بنسټ چې د امیر شیرعلیخان له وخته راپیل شوی او د غازي امان الله د ریل پټلۍ، بریښنا او نورو نویو عصري تاسیساتو په وارد ولو نور هم په پښو درول شوی و، له منځه ولاړ او سقاوي اغتشاش د ترقي او نوي صنعت ټولې نښې او د نویو ریفورمونو هرڅه برباد کړل. د غازی امان الله د مترقي رژیم په له منځه تګ سره افغانستان د آسیا یو وروسته پاتې هیواد وګڼل شو. خو د دوهمې نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو وروسته له ۱۳۳۵ ل. (1953م.) کلونو په افغانستان درې پنځه کلن اقتصادي – اجتماعي پلانونه په بریالي ډول تطبیق شول او یو شمیر زیربنایي تاسیسات لکه سیلوګانې، د نساجي فابریکې، د سمنتو تولید، عصري میکانیزه فارمونه، د کابل د جنګلک فابریکه، او ګڼ شمیر لاسي صنایع رامنځته او په زړه پورې بڼه یې د پرمختګ ګامونه اوچت کړل. باید ووایو چې افغانستان کې صنایع هغومره ګړندي پرمخ نه تلل لکه نوره نړۍ کې چې پرمخ تلل، علت یې د ځمکني (زمیني) ترانسپورت ستونزې، د انرژیکي منابعو قلت، او د حکومت ټیټ ظرفیت و، په داسې حال کې چې د کانې توکو، د اوبو د منابعو او غوره اقلیم او د بشري ځواک له پلوه یو شتمن هیواد و.

شلمه پیړۍ په نړۍ کې د ساینس او تکنالوژۍ د عصر په نوم و نومول شوه. په دغه پیړۍ کې پر مختللو صنعتي هیوادونو نه یوازې چې خپل ضرورتونه پوره کړل، بلکې ګڼ شمیر تولیدات یې بهر ته صادرول. دوی په صنعت کې نوې څانګې ایجاد کړې او بازارونه یې ورځ په ورځ د نړۍ ګوټ ګوټ کې پراخ شول. پرمختللو صنعتي هیوادونو د وسپنې ویلې کولو، د ډبرو د سکرو استخراج او د ربړ او پلاستیک په صنعت کې نوي ګامونه اوچت کړل. په دې توګه د صنعتي انقلاب ثمرې ددوی اقتصادي او ټولنیز ژوند په ډېر ګړندي ډول بدل کړل.

د صنعتي انقلاب ځانګړتیاوې په لاندې توګه بیانولای شو:

۱. د تولید او د کانونو په ایستلو کې ماشین د لاسي کارځای ونیو،

۲. د ماشین د ګرځولو ځواک د ډبرو سکاره، بریښنا، پټرول، ګاز، ډیزل او هستوي انرژي ده چې دا په خپله فعالیتونو ته پراختیا ورکوي،

۳. تولیدي او د استخراج ماشینونه د مربوطه هیواد په ملي پانګه جوړولو کې په کار لویږي او د مربوطه هیواد فني او تخصصي ماهرین یې چلوي چې د خلکو پوهې سره مرسته کوي،

۴. د اړونده هیواد خلک باید د صنعتي فابریکو د چلولو پوهه ترلاسه کړي،

۵. صنعتي شوی هیوادونه د خپلو ماشینونو او فابریکو په واسطه خپل خام توکي او منابع په کار اچوي او د منابعو له لاسه وتلو مخه نیسي.

۶. د پرمختیایي هیوادونو وضعیت څخه داسې ښکاري چې دوی لا هم خپل ماشینونه نه لري چې په خپله پانګه یې په کار اچولي وي. کوم ماشینونه او فابریکې چې دوی یې لري له نورو هیوادونو څخه یې پیرودلي دي، خو په هر حالت کې د دوی د خامو توکو د پروسس لپاره صنعت ته اړتیا ده.

## په افغانستان کې صنایع

له میلاد څخه د درې پیړیو مخکې تاریخي شواهد ښکاره کوي چې د یونانو باختری تمدن پر مهال صنعت، پژتوړلو (مجسمه سازي) او حکاکي ښه ترقي کړې وه. په نهمه میلادي پیړۍ کې زمونږ نیکونو د وریښمو صنعت، نساجي او کاغذ جوړولو کې ښه مهارت درلود او افغانستان د ختیځ او لویدیځ ترمنځ د تجارت لاره وه. ددې ترڅنګ په لسمه

میلادي پیړۍ کې د سامانیانو پرمهال فلزي صنایع لکه سره زر، و سپنه، مس، سرب جوړول او د هغه ویلې کول او د وسایلو جوړول په ترقي کې وو. په اتلسمه پیړۍ کې د امیر شیرعلیخان پرمهال سره له دې چې انګریزانو زمونږ پر هیواد تیری کړی و، خو بیا هم د وسلې جوړول، صابون او شمع جوړول او طباعتي صنایع موجود وو. د نولسمې پیړۍ په ترڅ کې په (۱۸۸۷م.) کې چې له ۱۲۶۶ل. کال سره برابره وه، په کابل کې د ماشین خانې فابریکه جوړه شوه، چې اوس یې هم ودانۍ موجودې دي.

کله چې په ۱۳۳۵ل. کال کې د افغانستان لومړنی علمي اقتصادي- اجتماعي پلان جوړ او تطبیق کول یې پیل شول، په هغه کې صنایعو او زیربنایي پروژو ته ډیره پاملرنه وشوه او صنایع د ټوپ وهلو پړاو ته ورسیدل په دوهم پنځه کلن او دریم پنځه کلن اقتصادي- اجتماعي پلان کې هم دغه مهم سکتور ډیرې غوره لاسته راوړنې درلودې چې تر نن ورځې پورې یې آثار پاتې دي.د دغو درې پنځه کلنو پلانونو په ترڅ کې موږ د سمنټو تولید، سیلوګانې، دواجوړولو ،د زیتونو دپروسس صنعت،دطبیعی ګازو صنعت، دکیمیاوی سرې دتولید صنعت، د رخت (نساجی) صنعت، پلاستیک جوړولو، دپرزو خراطی او د موټرو دترمیم، لاسي مستظرفه صنایعو، کاغذجوړولو ،صابون،جرابو، بوټ، دخوراکی توکو صنایع اوډیرو نورو برخوکې ښه پرمختګ کړی و او ورسره یو ځای موتوریزم هم ښه وضعیت درلود.

همدا اوس هم د افغانستان لاسی صنعت لکه کلالی، کاشی جوړول، پوزی اوبدل، غالۍ او نور د خلکو یو ګټور شغل او په صادراتی اقلامو کی مهم صادراتی اجناس دی د بیلګی په توګه: لاسي صنایع، زموږد هیواد د خلکو د فکر، هنر، ستونزو او خواریو او آرمانونو سمبول او ننبه ده چې د تاریخ په اوږدو کې یې په کلکه توګه د تولیدوونکو د نوښت د راوستلو د غو ښتنې له احساس څخه اغیزمن دی. په ډیرو سختو او ناوړه شرایطو کې دغه صنعت د غوړیدو او پرمختګ په لوري تللی دی. ددغې بیلګې ښه شاهد هغه ارزښت لرونکي آثار دي، چې د نړۍ په نامتو موزیمونو کې د افغانستان دغالیو په نوم ساتل کیږي. ځینې وخت دغه هنر ته د طبیعي او نا طبیعي ناوړه پیښو له امله زیان رسیدلی دی. د غالیو او د غالیو د جوړولو صنعت نه یوازې یوه اقتصادی حرفه، بلکې یو ظریف هنر دی. افغاني غالۍ نه یوازې دا چې یو مصرفي توکی (جنس) دی، بلکې یو کلتوري عنصر هم دی. دغه

ګرانبيه جنس، د افغانانو د تمدن د هنري ښکلا، جغرافيې، باورونو، آدابو او دود– دستور او ټولنيزو کړو–وړو ښکارندويه هم ده چې له هيواد څخه بهر يې د افغانانو د هويت درونډ بار هم په اوږه دی.



*غالۍ دافغانستان يو لرغونې صنعت*

ديوې اټکلي احصائيې له مخې په افغانستان کې يو ميليون تنه په سيده او ناسيده توګه په دغه صنعت کې بوخت دي چې په ډير ښه ډول د کار موندنې لامل شوی دی، بل ښه والی يې دا دی چې خام توکي (وړۍ) يې د هيواد دننه توليديږي. د غه صنعت زموږ د هيواد يو شمير ولايتونو کې بيوزلی له منځه وړی ده. افغانستان هر کال په منځنۍ توګه ۱۰۶ميليونه تختې غالۍ توليدوی او زموږ د صادراتو لويه برخه جوړوی چې عايد يې يوه کال کې تر۱۵۰ميليونو ډالرو پورې رسيږي. د افغانستان غالۍ په نړۍ کې د ټولو صادريدونکو غاليو ۱۵سلنه جوړوی، چې په سيده او ناسيده توګه د ټولنې د وګړو په کارموندنه او روزګار چلولو کې د اهميت وړ دی. د ټولنې بيوزلو وګړو، د ښځو لپاره د کارموندلو او د کليوالي اقتصاد اهميت ته په کتلو سره، د غاليو صنعت په افغانستان کې ډير اوچت ارزښت لري.



## لاسي صنایع او د هغو اهمیت

لاسي صنایع یا لاسي صنعت هغې اقتصادي څانګې ته ویل کیږي چې د اجناسو تولید په کوچنیو کارځایونو کې چې زیاتره یې په ځانګړي او خپلواک ډول کار کوي، ترسره کیږي او دغه ډول کارځای (تصدي) د یوه فني شخص له خوا اداره کیږي چې د کار په وسایلو او اوبدلو په چارو کې پوره مهارت لري.

یو شمیر پوهان وایي چې لاسي صنعت هغه انفرادي تشبثات (کاروبارونه) دي چې د کارځواک، وسایلو او له خامو توکو څخه په کار اخیستو کې د تصدۍ د کفایت او مهارت تابع دي. او د وخت په تیریدو سره خپل اصطلاحي مشخصات له لاسه ورکوي. ځینو دورو کې پیشه وران او د لاسي صنعت کاروباریان هغه کسان وو چې خام او نیم کاره توکي به یې په خپلواکه توګه په تولید کې کارول.



لاسي صنعت دوه ډوله دي:

- يو ډول يې پيژندنه او نظامنامه لري
- دوهم ډول يې هغو صنايعو ته ويل کيږي چې له اساسنامې او نظامنامې پرته کار کوي.
- لومړی ډول يې بيا په دوو برخو باندې ويشل کيږي :

۱.هغه تړلي صنايع چې په هغو کې د شاګردانو شمير لږ وي او د شاګرد او وستاکار د کار پريښودل پکې نه ليدل کيږي.

۲. هغه پرانيستي صنايع چې په هغو کې د کار پريښودل کوم بنديز نه لري او د شاګردانو روزنه هم پکې محدوده ده.

د لاسي صنعت اصطلاح په بيلابيلو هيوادونو کې په نورو ډولونو سره تعبير کيږي، په يو شمير هيوادونو کې چې صنعت پرمختګ کړی دی، په هغو کې لا اوس هم د لاسي صنعت نښې د پخوا په شان ليدل کيږي، خو ځينو سيمو کې له منځه تللي دي.





*په افغانستان کې د کور د ښځو لپاره یو شمیر مناسب اقتصادی فعالیتونه او د ښځینه کار دوه بیلګې*

باید هیره نشـی چې د نن ورځې ټولو پرمختللو هیوادونو د لاسـی صـنعت او لاسـی اقتصاد مرحله لا پخوا بشپړه کړی ده او د عصری صنعت مرحلی ته داخل شوی دی. دغې مرحلې ته د لاسی صنعت اقصتاد ویل کید.

دلاسی صنایعو اقتصاد (handcraft economy) هغه اقتصاد و، چې په اروپا کې د څوارلسمې او پنځلسمې پیړۍ په ترڅ کې د ښارونو په پرمختګ سره رامنځته شو. دا هغه اقتصـاد وچې ګڼ شـمېر لاسـي صـنایع او حرفې د ودې په حال کې وې او په کورونو یا کوچنیو هټیو کې په تولید بوختې وې او خپل تولیدات یې بازار ته عرضـه کول. دا د مانو فاکتور یوه مرحله وه. اوس هم لاسـي صـنایع د ډېرو هېوادو په تېره بیا د پرمختیایي هېوادو

اقتصــاد کې اوچت ارزښــت لري. د پرمختيايي هېوادو لپاره مهمه ده، چې دغه ډول ګرانبيه صنايع وساتي، وده ورکړي او د وګړو په استخدام کې ورڅخه ګټه واخلي.

## لاسي صنعت او له هغه سره ورته نورو اصطلاحاتو سره يې توپير

له کورنيو حرفو سره د لاسي صنعت توپير په دې کې دی چې د لاسي صنعت يوه خپلواکه تصدۍ (کارځای) خپل توليدات په بازار کې پلوري او توليدوونکي له بازار سره سيده اړيکه لري، حال دا چې په کورنيو کې صنعتګر يا پيشه ور له بازار سره سيده اړيکه نه لري، بلکې ددغه حرفو لرونکي خپل توليدات د دلال او سوداګرو په لاسونو پلوري. په کورکې لاسی صنايع ( Household industries)هغه اقتصادي فعاليتونه دی چې په يوه کورنۍ کې د کورنۍ يويا څو غړي وربانديې بوخت وي او خپل ژوند وربانديې پرمخ بيايي. د وی بايد ټاکلي ځای کې فعاليت ولري، د خپل صنعت دشهرت خاوند وی، د ځای په بدلون سره يې صنعتي فعاليت ونه دريږي او کېدای شي سوداګريزې نښې اولوحه ولري. دغه ډول صنعت پرمختيايي هېوادو کې د دوی د کلتوري شرايطو او اقتصادي امکاناتو په پام کې نيولو سره ډېر ګټور اقتصادي فعاليت دی، دا ځکه چې د کور مېرمنې هم پکې برخه لرلای شي او سيمه ييزې سرچينې تر کار لاندې راولي او د منابعو د ضياع مخه نيسي او توليد يې سيمه ييزې اړتياوې پوره کوي. په کورکې لاسی صنعت د لاسی صنايعو او مانوفاکتور يوه برخه ده. د دغو حرفو پيشه وران ممکن د خپلو کاروبارونو تکړه استادان و ماهر خلک وي، خو له اقتصادي پلوه به نا خپلواک وي او د پلورلو له يوه مرکز سره به تړلي وي. بايد هيره نشی چې لاسی صنعت او په کورکې صنايع دواړه د اقتصاد لپاره ډېر ګټور دی.

## صنايع د ملي اقتصاد د يو مهم سکتور په توګه

## د صنايعو مهمې ځانګړتياوې:

لکه چې پوهيږو صــنعت د توکو او لومړنيو خامو موادو د بڼې د بدلون پروســه ده، چې ددغې پروســې نهايي محصــول او کار تمام اجناس ورځني ژوند کې په کاريږي. صــنعتي اقتصاد، د اقتصاد د علم د يوې برخې په توګه د بيلابيلو صنعتي کتګوريو (لکه انجنيرانو،

تخنیکرانو، ماهرو کارګرانو او غیر ماهرو کارګرانو) او صنعتي اقتصاد په رهبري او مدیریت کولو، د صنعتي تولید د ودې د طریقو او عواملو د موندلو او ښودلو، د صنعتي کارتمامو اجناسو د تولید او ترلاسه کولو لپاره د خامو توکو د چمتو کولو، په صنعت کې د لګښتونو د کمولو او د با کیفیته اجناسو د تولید په هکله بحث کوي. باید وویل شي چې نن ورځ د انسان لپاره د ژوند د وسایلو په چمتو کولو کې، دلاسي صنعت ترڅنګ، ماشیني صنعت مهم ارزښت پیدا کړی دی او صنعتي کول د هرهیواد اقتصاد ی ضرورت دی. د صنعتي کولو د پروسې په جریان کې منابع ورځ په ورځ په زیاتیدونکې توګه تر کارلاندې راوستل کیږي. او هڅه کیږي چې اقتصادي جوړښت نوی شي. دا هم باید وویل شي چې دوه عوامل یعنې انساني ځواک او طبیعي عوامل د صنعت په پرمختګ کې مهم دي. طبیعي عوامل لکه د ډبرو سکاره، وسپنه، نفت، ګاز او نور نن ورځ په نړۍ کې د ژوند په رازراز ډګرونو لکه کلتور، سیاست، حقوقو، کرنې، تجارت، اونورو بې شمیره برخو کې د صنعت له اهمیت څخه انکار نشي کیدای.

څرنګه چې د یوه هیواد او د یوې ټولنې لویه هیله د دوی د اړتیاوو پوره کیدل، د دوی د معنوي او مادي ژوند د کچې اوچتیدل او هوساینه ده، نو دغه هیله تر ډیره بریده پورې صنعت پورې تړلې ده. صنعت د سړي سر کلنۍ ګټې په زیاتیدو اغیزه لري.

سره له دې چې کرنه هم د هیوادونو د اقتصاد په ښه کیدو کې ارزښت لري، خو کرنه تر ډیره بریده پورې طبیعي، اقلیمي او بشري شرایطو پورې تړلې وي، نو ځکه یې د عاید او حاصل اټکل کول مبهم او ستونزمن وي.

د صنعت په ترقي کې د کرنیزو محصولاتو تر څنګ کاني (معدني) توکي هم اهمیت لري، نو د صنایعو د ترقي لپاره باید د کرنې پرمختګ هم ډاډمن شي. لکه چې مخکې هم وویل شول صنعت له ابتدایي لاسي شکل څخه پرمختګ وکړ او نن ورځ تر ډیر پرمختللي ماشیني صنعت پورې ورسید. دغې پیچلې او ګړندۍ پروسې یو شمیر پړاوونه درلودل چې په لاندې ډول وو:

۱. په لاسي کارځای کې تولید انفرادي شکل درلود او پانګه یې ډیره کمه وه. د کار تشدیدي والی پکې ډیر و، یعنې د پانګې په پرتله په کار ډیر حساب کید. د کار تخصص وستاکار پورې اړه درلوده. د هري صنعتي پیشې (کلالي، ترکاڼي، پښګري...) مهارت او

تخصص به له پلار څخه زوی ته پاتې کید. د حرفې او پیشې د خاوند نوم او شهرت د تولید شوي جنس کیفیت ښود، حال دا چې په ننني کتلوي صنعتی تولید کې په یوه فابریکه کې د کارویش موجود دی او د یوه جنس په تولید کې څوڅو تنه کارکوونکي بوخت دي، چې د هر یوه انفرادي نوم او شهرت څوک نه پیژني او نه هم د افرادو نوم د جنس په کیفیت اغیزه لري، د کار تشدید یت پانګې ته لیږد یدلی، یعنې د کار په پرتله د پانګې عامل ډیر مهم او په دې ډول سره لږ وخت کې ډیر تولیدات ترلاسه کیږي.

۲. پخواني لاسي (مانوفکتور) صنعت کې د یوه کوچني کارځای تولید یوازې یوې کوچنۍ سیمې او ټاکلي مشتري پورې تړلی او د جنس د جوړولو لپاره د مخکني او شخصي شناخت له مخې فرمایش ورکول کید. د صنعتي جنس تقاضا کوونکی به په صنعتکار باندې د باور او د هغه له نوم او شهرت سره د آشنایي له مخې هغه ته ورته او فرمایش به یې ورکاو، خو د نن ورځې فابریکه یي او ماشیني صنعتي جنس تقاضا کوونکي د مشتریانو شمیر له سیمو او هیوادونو وتلي او مشتریان اصلاً د جنس تولیدوونکي نه پیژني. د نن ورځې د صنعت تولیدات نړیوال مارکیټ لري او د خرڅلاو حجم یې ډیر لوی دی. د صنعت ډیره برخه پرته له کوم مخکني فرمایش څخه تولیدیږي، (صرف بعضې لوی تولیدات چې په جلا ډول جوړیږي لکه لویې بیړۍ یا الوتکې د مخکنی فرمایش له مخې تولیدیږي) خو داسې صنایع لکه قلم، میز، صابون، ټوکر او ګڼ شمیر نور پرته له فرمایش څخه په ډیر زیات شمیر تولید او د نړۍ بیلابیلو بازارونو ته عرضه کیږي.

۳. پخواني لاسي کوچنی کارځای کې پانګه ډیره لږوه، خو کار به تشدیدي و او ټول کار به د کارګر په مټ ترسره کید. ددې معنا دا نه وه چې په اړونده صنعت کې د کارکوونکو شمیر زیات و، بلکې معنا یې دا ده چې د کار وسایل ډیر ساده و او تخصص هم ډیر محدود و، صرف ځینو کارونو کې به له یو شمیر ساده تخنیکي وسایلو کار اخیستل کید، نور کار په لاس باندې پرمخ بیول کید، حال دا چې په ننني عصري صنعت کې لویې فابریکې چې څوڅو ماشینونه او پرمختللي تکنالوژي لري بوختې دي. او بیلابیل محصولات په کتلوي بڼه تولید او بازار ته عرضه کیږي. د نن ورځې تولید هم ماشیني هم اتوماتیزه شوی دی.

۴. پخوا په یوه لاسي کارځای کې ټولنیزې اړیکې او د کارکوونکو تر منځ د کارویش ډیر لږو او د صنعت خاوند (کلال، پښګر، ترکاڼ...) له هرځای او هر قوم څخه شاګردان نه

نيول، بلکې د کار ترسره کول دده زوی او يا هم د کورنۍ غړو پورې تړاو درلود، او صنعتي او کارګري سازمانونه او اتحاديې هم موجودې نه وې. او سني صنعت کې استخدام او د صنعت زده کړه د کورنۍ او سيمې له ساحې څخه وتلې. له بلې خوا د کارګر او د فابريکې د خاوند ترمنځ اړيکې د رسمياتو او قوانينو له مخې دي او استخدام هم د پيژندنې او خپلوي له مخې نه، بلکې د کار د مهارت له مخې دي، په دې توګه دنن ورځې د صنايعو وده او پرمختګ د توليدي مناسباتو او کارګر د ځواک او پوهې له امله ده.



*د پرمختللی ماشينی صنعت يوه بيلګه*

## د ملي اقتصاد په وده کې د صنايعو ارزښت

لکه چې مخکې وويل شول، صنايع د ملي اقتصاد يو مهم او پياوړی سکتور دی چې د مادي نعمتونو په توليد او د اړتيا وړ اجناسو په جوړولو او پروسس کې ونډه لري او د ملي اقتصاد نورو سکتورونو سره له تخنيکي پلوه مرسته کوي او ټولنه يې د تخنيک او وسايلو له پلوه مجهزه کړې ده. د نورو سکتورونو (کرنې، تجارت، ترانسپورت، طب،...) پرمختګ او تخنيکي سمبالوالي د اړوند هيواد د صنعتي توليداتو او د فابريکو شمير او د تکنالوژي په درجې پورې تړلې دي.

د صنعت او په تیره بیا د ثقیله صنعت رامنتځته کیدل او ترقي د اړونده ټولنې د تخنیکي او مادي بنسټ د بریالي رامنځته کولو او پرمخ بیولو او د اړونده ستونزو په بریالي حل کولو پورې اړه لري. د صنعت په پرمختګ سره د یوې ټولنې د مادي بنسټ او تخنیک مسایل حل کیږي. له سیاسي او ټولنیز پلوه د صنایعو ډیرمهم ارزښت په دې کې دی چې د کارګرانو ترمنځ یووالی رامنځته کوي او او ددوی ټولنیزه پوهه اوچتوي، په پایله کې دوی په ټولنیزو او سیاسي مسایلو کې رغنده برخه اخلي. د صنایعو پرمختګ سوداګري ښه کوي او د وارداتو په تعویض کې مرسته کوي. صنعت د پرمختیایي هیوادو د خامو موادو ماشین بلل کیږي چې ددوی مالي بنسټ ته خدمت او فعالیت کوي. صنعت نور سکتورونه په وسایلو او اسبابونو مجهز کوي او هریو یې په خپل وار پرمختګ کوي او دا ددې لامل کیږي چې له صنعت سره یوځای نور اقتصادي سکتورونه هم ښه ترقي وکړي او د هر کارکوونکي تولید اوچت او په پای کې ټول ملي تولید زیات شي.

ملي اقتصاد ته د صنایعو یوه لویه ګټه دا ده چې د کرنې تولیدات د خامو موادو په توګه پروسس کوي او له هغو څخه د ټولنې د احتیاجاتو لویه برخه پوره کوي. په دې توګه د ټولنې د احتیاجاتو د پوره کیدو یوه وسیله ګرځي.

په افغانستان کې د څلوېښتمې شمسي لسیزې په ترڅ کې د صنعت پیاوړتیا ته توجه وشوه او تر شپیتمې لسیزې په مرکز(کابل)، بغلان، جوزجان، هرات، کندهار او بلخ کې د صنعت مراکز جوړ شوي وو. هغه وخت مونږ خوراکي صنایع، د سمنټو تولید، نساجي، سیلوګانې، نفت او د ګاز، د ډبرو د سکرو صنایع، پلاستیک جوړول او بې شمیره لاسي او کوچني صنایع لرل. د بیلګې په توګه په شپیتمه شمسي لسیزه کې د پلان جوړونې ددولتي کمیټې د طرح او توحید د ریاستد ۱۳۶۲ کال راپور وایي چې:

د ۱۳۵۷ ش. کال د بیو په اساس په صنعت کې د ناخالص تولید ارزښت ۱۴۰،۴ میلیارده افغانۍ وه چې په دې جمله کې ۲۲،۷ میلیارده افغانۍ دولتي، مختلط او فابریکاتي سکتور پورې اړه درلوده او ۴،۴ میلیارده افغانۍ یې په ماشیني صنایعو کې خصوصي سکتور پورې اړه درلوده. په دې کې ۱۷،۴ میلیارده افغانۍ لاسي صنعت پورې اړه لرله. په دې کې ۱۷،۴ میلیارده افغانۍ لاسي صنعت پورې اړه لرله.

له ۱۳۷۱ کال څخه تر ۱۳۸۲ کال پورې د صنعت په برخه کې موثق ارقام نشته خو له دې وروسته بیا افغانستان یو پولي ریفورم ترسره کړ، د ایسا اداره جوړه شوه او صنعتي پارکونه تاسیس او د ملي پرمختیا ستراتیژي تدوین شوه چې پایله یې دا وه چې تر ۲۰۱۲ م. کال پورې بیرته په هیواد کې یو څه صنعتي تاسیسات او ورسره لاسي صنایع رامنځته شول چې ارقام یې په تیریو څو جدولونو کې ښودل شوي دي .

## تمرینات

۱.د افغانستان لومړنی پنځه کلن پلانونه له کوم کال څخه وروسته پیل شول او نتایج یې څه وو ؟

۲.دصنعتی انقلاب ځانګړتیاوې کومی دي؟

۳.په افغانستان کې تاریخی صنعتی آثار له کومو وختونو راپاتی دي ؟

۴.دصنایعو مهمې ځانګړتیاوې ولیکئ.

۵.په لاسي کارځای کې تولید کوم شکل لري؟

۶.پښګری او کولالی کې د کارویش شته؟

۷.په ۱۳۶۲ل. کال کې د ۱۳۵۷ کال د بیو پر اساس د صنعت د برخې د ناخالصو تولیداتو ارزښت څو و ؟

۸.آیا افغانستان کې اوس لاسی کارځایونه شته او آیا اقتصادی اهمیت لري؟

۹.افغانستان د ماشینی صنعت لرونکی دی؟

۱۰.ټولنیزې اړیکې په لاسي صنایعو کې ډیرې دي او که په ماشینی صنعت کې؟

# دریيم څپرکی

## په صنايعو کې توليد

**توليد:** توليد هغه عمليه ده چې د هغې په ترڅ کې د انسان د اړتيا وړ نعمات ايجادېږي. د توليد په پروسه کې د توليد عوامل (پانګه، کار، ماشين، ودانۍ ...)او د انسان کاريو بل سره يو ځای کيږي.
په بله وينا : توليد (production ) د مادي نعماتو د ظرفيت زياتول، د بشري غوښتنو او اړتياوو د پوره کولو په خاطر داجناسو رامنځته کول او په دې برخه کې د خدماتو چمتو کول دي.
يا : توليددانساني غوښتنو دارضا په خاطر د مطلوبيت ايجاد ولو ته وايي. ( دوخت ، ځای، بڼې او تصرف يا مالکيت له پلوه ).
صنعت کې توليد هغه اجناس دي چې د انسان دکار محصول وی لکه لمڅی، قلم، کمپيوټر او نورشيان. په صنعت کې د انسانانو د اړتياوو د پوره کولو په موخه د طبيعت د عناصرو اواجناسو د مفيديت درجه لوړيږي، مثلاً له لرګي څخه ميز جوړيږي، له وړيو څخه ټغر جوړيږي، له ختېو څخه ګړی ، او له وسپنې څخه تراکتور جوړيږي.
**د توليد عوامل:** ددې لپاره چې انسان عادي ژوند ولري او مشکلات يې حل وي، نو يو شمير اړتياوې لري چې هغه بايد ورته چمتو وي. د انسان اړتياوو د تاريخ په اوږدو کې له يوه مهال څخه تر بل پورې توپير موندلی دی. وسايلو، د ژوند اسبابونو، کورونو، د ترانسپورت وسايلو او نورو مادي اړتياوو له يو مهال څخه تر بل پورې توپير موندلی دی. څومره چې ټولنې تکامل کړی دی، هومره ورسره مادي غوښتنې هم بدلې شوي دي. ددې لپاره چې د انسان دغه مادي غوښتنې پوره شي تل يې توليد ته ملا تړلې ده او د دې لپاره چې توليد ولري، بايد کار وکړي. له دې خبرې څخه داسې پايله اخلو چې: توليد د انسان د کار او فعاليت هغه ډګر دی چې موخه يې د ضروري اجناسو رامنځته کول دي. پرته له توليد څخه د ټولنې اړتياوې نشي پوره کيدای. همدا کار او توليد دی چې د ټولنې بقا ډاډمنه کوي. ټولنې

تل په په بدلون کې دي، مګر کار او تولید تل دوام لري. لکه همغسې چې تولنه له لګښت څخه مخ نشي اړولای، همداسې هم تولید نشي درولای، په کارځایونو کې د تولید د عملیې پرمخ بیول انساني کار، ماشین (د کار وسایلو) او د کار موادو(د کار محمول یا موضوع) ته ضرورت لري. انساني کار او فعالیت، ځمکه، اوبه، ماشین د کارځای وسایل او د کار مواد د تولید عوامل بلل کیږي. په فابریکه یا صنعتي کارځای کې دا څلور واړه یو ځای کیږي. دلته به د تولید دغه څلور عوامل تشریح کړو.

**I.کار د تولید د عامل په توګه**

**الف) کار (labor) په عمومي توګه:**

کار دانسان په واسطه هدف لرونکی فعالیت ته ویل کیږي، چې په اقتصاد کې د دریو نورو عواملو ترڅنګ د تولید یو عامل (Factor of production) دی.

کار داسی هم تعریف شوی دی: د تولید او خدماتو د اجرا لپاره د بشري سرچینو فعالیت . یاهر هغه فکري او جسمي فعالیت او تلاش چې مولد وي.

کار د انسان هدف لرونکی فعالیت دی چې په دغه فعالیت سره په طبیعت کې موجود مواد د اړتیا د پوره کولو لپاره د بڼې له پلوه پروسس کوي. له دې امله چې د انسان د اړتیاو وړ اجناس او ضروري غوښتنې په چمتو بڼه نشته، نو ځکه د هغو د بڼې د بدلون او په بڼه شکل د جوړولو لپاره باید کار وکړي. په دې توګه کارګران نه یوازې دا چې د ټولنې اړتیاوې پوره کوي. بلکې د ټولنې تخنیکي وده او علمي پرمختګ کې هم مهم رول لري. سره له دې چې اوس ماشین او تکنالوژي ډیره پرمخ تللې ده، خو بیا هم د انسان کار دومره اهمیت لري چې د پوهې ډیرې څانګې او زیات علمي تحقیقات د انساني کار په برخه کې ترسره کیږي او د انساني کار ارزښت ورځ په ورځ نور هم زیاتیږي. د انسان د کارو فعالیت کیفیت او پایله له یوې خوا دده د جسمي او روحي توانایي پورې او له بلې خوا دده په اراده پورې اړه لري. انسان د کار په ترځ کې خپل روحي او فزیکي ځواک په کار اچوي او د خپل استعداد په مرسته پروسه پرمخ بیایي. په دې ترځ کې د کارګر تخنیکي زده کړه، عمر، شخصي تجربه او استعداد او جسمي روغتیا هم د کار په پایله او نتیجه باندی تاثیر او رول پکې لري.

### ب-کار په صنایعو کې

د نن ورځې په صنایعو کې کار د کار ویش، د نویو وسایلو استعمال او د تولید د نویو مقرراتو برخې لري. صنعتي اقتصاد درې برخې تر مطالعې لاندې نیسي چې هره یوه به جلا جلا ولولو:

د کار ویش له پخوا څخه رامنځته شوي دی او هر چا په خپله ځانګه کې کار کاو. پښنګر او ترکان د کلالي کارونه او نه هم څرمن ګنډونکی غشې او لیندۍ جوړولې بلکې د هرلاس صنعت وستا کار به معلوم و، د لومړي ځل لپاره په ۱۷۷۶م. کال کې انګلیسي اقتصاد پوه آدام سمیت د کار ویش بیان کړ، خو له ۱۷۷۶م. څخه مخکې هم یو شمیر اقتصاد پوهانو مثلاً آلماني تورګوت په ۱۷۶۷م. کې د کار د ویش بنسټونه بیان کړي و. ددې لپاره چې یو جنس تولید شي، باید له پورتنیو عواملو پرته باید د کار ویش هم په پام کې ونیسو. د کار ویش هم په کوچنیو (خفیفه) صنایعو او هم په درنو یا ثقیله صنایعو کې ارزښت لري. باید خام توکي (لکه د ترکاڼي لپآره لرګي، د بوټ جوړولو لپاره څرمن، د ټوکر جوړولو لپاره مالوچ او داسې نور) ولرو.



*سنی د تېغر، شړۍ او غالیو لپاره نیمکاره توکي دي*

همدارنګه نیم کاره توکي ( د ودانۍ لپاره خښتې، د خوراکي توکو لپاره بوره، اوړه، غوړي او داسې نور) ضروری دی. په دې توګه د صنعتي پروسې لپاره خام او نیم کاره توکي بیلابیل استعمال لري. په همدغو خامو او نیم کاره موادو باندې کار ترسره کیږي او تولید صورت نیسي. د کار اندازه، تخصص، وخت، د کارګر د مهارت درجه او د کار مراحل د صنعت هره څانګه کې یو بل سره توپیر لري. په کوچنیو صنایعو یا لاسي حرفه او پیشه کې په خپله متصدي یا مالک کارګر هم دی. یعنې د لاسی کارځای (مانوفاکتور) خاوند په خپله تولیدي عملیه پرمخ بیایي، نو په دې ډول صنعت کې د کار ویش نه لیدل کیږي، خو په ثقیله صنعت کې د هرې پرزې او د هر ماشین لپاره جلا جلا کارګران موجود وي. مثلا د موټر جوړولو فابریکه د ټایر او ټیوب د برخې کارګران جلا دي، د سیټ جوړولو کارګران جلا، د موټر د شیشو د تولید کارګران جلا او د باډۍ د جوړولو جلا دي. په ودانیو جوړولو کې ترکاڼ خپله برخه کار کوي، د بریښنا مزي یو بل کارګر غځوی او خښتې لګول او پلستر کاري بل کارګر ترسره کوي، خو د اوبو نلونه یو بل تن جوړوي. په دې توګه پرمختللی صنعت کې د کارویش ته اړتیا ده او د کار ویش د تخصص او ځانګړي مهارت له مخې وي.

له خامو او نیم کاره توکیو پرته په صنعت کې ګُمکي وسایلو ته هم ضرورت لرو. د بیلګې په توګه د کارخانې دننه لاسي ګاډي ګُمکي وسایل دی. د ولډنګ په کار کې تورې عینکې ګُمکي وسیله ده، د پلستر کاري لپاره دستکش، د کیمیا په لابراتوار کې سپینه چپن او د کان



کیندلو لپاره ربړي موزې ټول ګُمکي وسایل دي، نه اصلي.







ګُمکي يا مرسته کوونکي وسایل صرف د کار په سرعت او آسانه کولو کې مرسته کوي. که ګُمکي وسایل نه وي کار ترسره کيږي، خو ممکن ډېر ګړندی به ترسره نشي.
په صنعتي تصدۍ کې کار، کارګر، خام توکي، نیم کاره توکي او د کار ويش(د کارګرمهارت) ټول د توليدي پروسې مثمریت لوړوي.
د نن ورځې صنعت کې د کارګرانو ترکيب د توليدي څانګې خصوصيت پورې اړه لري چې د هرې برخې هره ډله کارګران يو بل څخه جلا وي. په صنعتي تصدۍ کې فني اشخاص، د کار پاخه متخصصين، کارګر، د کارګر شاګرد، اقتصاد پوه، حقوقپوه، انجنير، روغتيايي مشاور، محاسب او نور ټول په ګډه کار کوي او يو د بل په مرسته د اړتيا وړ اجناس توليدوي. دوی هريو په خپله څانګه کې يو بل ته مشوره ورکوي او د تصدي چارې سمبالوي. د تصدۍ د مدير يوه دنده دا ده چې د کارګرو په استخدام او غوره کولو کې يو شيمر عوامل په پام کې ونيسي لکه: د تحصيل درجه، تجربه، صداقت، د عمل کولو برياليتوب، عمر، روغتيا، اخلاق، د ضايعاتو څخه مخنيوی، د وخت پيژندنه، همکارانو سره ښه چلند او درناوی او داسې نور ښه صفتونه. مونږ په صنعت کې يوازې انجنيري او اقتصاد ته نه، بلکې د مديريت علم، ټولنپوهنې، اروا پوهنې او د چاپيريال پوهنې څانګو ته هم اړتيا لرو، چې دغو څانګو ته (مجاوره علوم) ويل کيږي. په صنايعو کې د ښځينه او نارينه وو د کار څانګې يو بل څخه جلا دي. د نارينه و کار لکه د کان ايستل، د پولادو ويلې کول، د ډبرو د سکرو ايستل، سمنټ توليدول او داسې نور درانه کارونه دي، خو د ګنډلو چارې، نساجي، خوراکي توکی توليدول، تار اوبدل، ساعت جوړول، او دخوراکی توکو توليد او داسې نور کارونه چې ثقيله چارې نه دي د ښځو لپاره مناسبې دي.



*دخاص ښځینه صنعت یوه بیلګه*

لکه څرنګه چې ځمکه، پانګه او مدیریت ډیرې عامې کلمې دي، همغسې کار هم یو ډیره عامه کلمه ده چې نه یوازې د اقتصاد په علمي ادبیاتواو درسی کتابونو کې پکار وړل کیږي بلکې په ورځنۍ عامیانه ژبه کې هم ډیره استعمالیږي. په عامیانه ژبه کې د کار څخه مقصد د غیر ماهر کارګرو فعالیتونه دی. مګر بیا په علمي ادبیاتو کې په تیره بیا اقتصاد علم کې د کار څخه مقصد د انسان ټول هغه فزیکي او ذهني کوښښونه دي چې د پولي حق الزحمو د لاسته راوړلو په منظور سرته رسیږی. او دصنعتی اقتصاد په بحث کی زموږ موخه د ماهر او تخصصی کار په هکله ده.

لکه څنګه چې Marshall وایي:

" هر هغه ذهني او فزیکي کوښښ چې په بشپړه توګه یا قسماً د سرګرمی یاوخت تیولوپه موخه، نه بلکې د توکو د رامنځته کولو په نیت سرته ورسیږي کار څخه عبارت دی."

پدې ترتیب په اقتصاد کې ټولې هغه مولدې کړنې لکه د یو کروندګر کرنه، د فابریکې د کارګر کار، د یو ډریور ډریوري، د یو ښوونکي ښوونه او روزنه، د یو څارنوال څارنوالي، د یو ژورنالیست ژورنالیستي، د یو مامور ماموریت، د یو پولیس پولیسي او داسې نور... چې د پولي حق الزحمې په بدل سر ته ورسیږي کار ګڼل کیږي او ټولې هغه کړنې چې په لاندې شکلونو کې ترسره شي کار نه ګڼل کیږي.

- د بوختیا او شخصي خوښیو لپاره کړنې لکه د مور په وسیله د ماشوم زیږول، شوقي سندرې ویل، او داسې نور
- غیر مولدې کړنې لکه خیر ټولول، غلا کول، قمار بازي کول، او داسې نور

# د کار ځانګړتیاوې

1. کار د نورو عواملو په پرتله ډېر نوه جبران کیدونکی عامل دی.

دا پدې مانا چې کار ذخیره یا معطل کیدای نشي. که چیرې یو کارګر د څه وخت لپاره کار ونکړي او بیکاره وي د هغه ضایع شوی کار نه ذخیره کیږي بلکې د تل لپاره ضایع کیږي.

2. کار د کارګر څخه نه بیلیږي.

څنګه چې ځمکه او پانګه د خپلو څښتنانو څخه بیلیدای شي په هغه ډول کار د کارګر څخه نشي بیلیدلای، د بیلګې په ډول د یو کس ځمکه او موټر په جلال آباد کې وي او خپله کس په کابل کې مګر بیا د کار لپاره حالات څه بل شانته دي که چیرې د موټر یو ډریور ډریوري غواړي نو د ډریوري لپاره باید اړوند نقطه کې حاضر شي.

3. د پانګې په پرتله ډېر لږ دانتقال وړتیا لري.

څرنګه چې د کار د کارګرانو په وسیله په ساحه کې کیږي او کارګران انسانان دي. نو د خپلو انساني اړیکو او احساساتو له امله د خپلو اوسیدنو ځایونو او خپلوانو سره تړلي دي. دا هغوی ته ډېر ستونزمن کار دی چې خپل خپلوان او د اوسیدو ځای پریږدي او بل ای ته لاړ شي. بیا هم اوس مهال په ملي او نړیواله کچه د کارګرانو لیږد د بیلا بیلو انګیزو له امله صورت نیسي.

4. د چنه وهلو ضعیف ځواک لري.

څرنګه چې کار نه ذخیره کیږي نو ددې محدودیت له امله کارګر نه غواړي چې بیکاره پاتې شي، پس نو ددې مجبوریت له رویه د استخدام کوونکو په پرتله د چنه وهلو (Bargaining) ضعیف ځواک لري؛ نشي کولای چې کاري شرایط تر ډېر حده پورې د خپلې خوښې مطابق وټاکي سربیره پردې کارګران اکثره د استخدام کوونکو په پرتله غریب وي او د شتمنیو ذخیره نلري، د چټک عاید ترلاسه کولو په هڅه کې وي نو ځکه د کاري شرایطو په ټاکلو کې تر ډېره حده پورې پاتې راځي.

5. کارګران انسانان دي، نه ماشینونه،

ځرنګه چې کار د کارګر نه بیلیږي او کارګر انسان وي، نه ماشین، نو د یو ماشین په څیر چې هیڅ احساسات او خواص نه لري له هغه سره چلند نشي کیدای. د یو انسان په حیث کارګر آرام او تفریح ته اړتیا لري که چیرې ورسره سم چلند ونشي کیدای شي چې کار پریږدي یا له قصده کار خراب کړي او که چیرې ورسره سم او دوستانه چلند وشي کیدای شي چیر ډیر زیار وګالي او ډیر ښه کار وکړي سربیره پر دې ځرنګه چې یو متصدي ماشین پیري ماشین په تمامه مانا د هغه په ملکیت کې شاملیږي هغسې کار نشي پیرودلای یا نې د کارګر کار پیرودلي شي نه کارګر.

6. د کار په موثریت کې توپیر وجود لري.

ځرنګه چې کار د کارګرانو په وسیله عرضه کیږي، نو د ښه تعلیم، تریننګ او تجربې له امله ځینې کارګران د ځینو نورو په پرتله ډیر موثره کار کوي او د کار موثریت کې اوچت وي. د بیلګې په ډول یو ښه تربیه شوی مهارت لرونکی کارګر کیدای شي په یو ساعت کې لس جوړه بوټان تولید کړي او یو عادي کارګر یوه جوړه.

7. د کار د تولید مصارف سنجول ستونزمن دي.

د ماشین په پرتله د کار د تولید مصارف سنجول ستونزمن دي د بیلګې په ډول یو ډاکټر ۱۷ کاله تعلیم او ۱۰ کاله تجربې سره یو ناروغ د ۱۰ دقیقو لپاره معاینه او ورځخه ۵۰۰ افغانۍ فیس اخلي نو پدې حالت کې دا ستونزمن وي چې د ډاکټر دغه ۱۰ دقیقیې معاینې مصارف معلوم کړو مګر بیا که په همدغه ۱۰ دقیقو کې یو چوکۍ تولید کړو، نو معلومولای شو چې چوکۍ مونږ ته په څو تمامه شوه.

8. کار یو تولیدي عامل دی

د پانګې او ځمکې په پرتله کار یو فعال تولیدي عامل دی ځمکه او پانګه هغه وخت توکي او خدمات تولیدولای شي چې کارګران هغوی باندې کار وکړي په همدې اساس یوه فابریکه کې د کار اداره کول د ماشینونو او موادو په پرتله ستونزمنه ده.

9. پانګه د کار په وسیله رامنځته کیږي.

ځرنګه چې کار د کارګر په وسیله ترسره کیږي او کارګر د کار په وسیله عاید لاسته راوړي، نو کچیرې کارګر د خپل عاید یوه برخه سپما کړي او سپما شوې برخه بیرته پکار واچوي تر څو

اضافي عايد ورڅخه لاسته راشي، نو ويلی شوچې پانګه يې رامنځته کړه پس ويلی شو چې پانګه اصلا د کار په وسيله رامنځته کيږي.

10. د کار عرضه کول ارتجاعي وي.

د کار په عرضه کې زياتلوای رامنځته کيدای شي خو د هغې په عمومي سطحه کې د نفوسو او پراخوالي او کافي تريننګونو او مهارتونو ورکولو له لارې زياتوالی راوستل ډير وخت ته اړتيا لري.

## په صنايعو کې د کار مولديت

### پېژندنه

د کار له مولديت څخه هدف د يو کارګر توليدي ظرفيت دی، ياني د يو کارګر په وسيله په اوسطه توګه په في واحد د وخت کې د توليد اندازې ته د کار مولديت وايي. چې په فرموليک شکل يې په لاندې ډول ليکلای شو.

$$\text{د کار مولديت} = \frac{\text{د توليد مقدار}}{\text{ساعت * ورځ * د کارګرو شمير}}$$

**بيلګه:**

که چيرته ۱۰۰ تنه کارګران په **۲۵** ورځو او په هره ورځ د ۸ ساعته کار په پايله کې ۲۰۰۰ دانې تلويزونونه توليد کړي. نو د کار مولديت يې لاسته راوړئ.

د پورته بيلګې حلولو لپاره د کار مولديت فرمول څخه ګټه اخلو.

$$\text{د کار مولديت} = \frac{\text{د توليد مقدار}}{\text{ساعت * ورځ * د کارګرو شمير}}$$

$$\text{د کار مولديت} = \frac{2000}{100 * 25 * 8} = \frac{1}{10}$$

يادوونه:

د پورتني فرمول او بیلګې څخه دا پایله اخیستلای شو، چې د کار مولدیت دوه لاروه نه لوړیدلای شي.

1. ښه کیفیت
2. لږ لګښت

**د کار په مولدیت باندې اثر کوونکي عوامل:**

د کار په مولدیت باندې څلور عمده عوامل اثر غورځوي.

1. د کارګر شخصي کوایف
2. هغه کوایف دي چې خپله کارګر پورې اړه پیدا کوي لکه د کارګر لاندنۍ ځانګړتیاوی:

- ❖ قومي او ارثي کوایف: څومره چې یو کارګر د زحمت کش قوم نه وي هغومره یې د کار مولدیت لوړ وي د بیلګې په ډول په افغانستان کې ډیر زحمت کش قوم هزاره قوم دی نو د نورو عواملو په نظر کې نیولو سره به حتما د یو هزاره کارګر د کار مولدیت اوچت وي څکه په ارثي او قومي توګه زحمت کش دي.
- ❖ صحي کوایف: څومره چې د یو کارګر ذهني او بدني روغتیا ښه وي هغومره به یې د کار مولدیت اوچت وي.
- ❖ ذهني او اخلاقي کوایف: څومره چې یو کارګر د ښه ذهن او اخلاقو څښتن وي هغومره به یې د کار مولدیت اوچت وي.
- ❖ تعلیمي او تربیوي: څومره چې یو کارګر د تعلیم او تربیې کچه لوړه وي هغومره به یې د کار مولدیت اوچت وي.



2. د کارکولو شرایط او مزد کچه

دا عوامل د کارګرو کاري ماحول او شرایطو پورې اړه پیدا کوي لکه په لاندې ډول

- ❖ کاري محیط: څومره چې د یو کارګر کاري محیط آرام، زړه راښکونکی او صمیمي وي هغومره به د کارګر د کار مولدیت اوچت وي.
- ❖ تخصص یا د کار ویش: څومره چې د کارګرو تخصص یا د کار ویش زیات وي هغومره به د هغوی د کار مولدیت اوچت وي.
- ❖ ښه کاري وسایل: څومره چې د کارګرو لپاره ښه کاري وسایل موجود وي هغومره به د هغوی د کار مولدیت ښه وي.
- ❖ اقلیم: څومره چې د کارګرو لپاره ښه مساعد اقلیم وي (معتدله هوا) هغومره به د هغوی د کار مولدیت غوره وي.
- ❖ د مزد لوړه کچه او ښه کاري شرایط: څومره چې د کارګرو د مزد کچه او نور کاري شرایط لکه بونس، تحفې، ترفیعات او داسې نور ښه وي هغومره به د هغوی د کار مولدیت اوچت وي.

3. سیاسي او ټولنیز شرایط

دا عوامل د کارګرو ټولنیزاو سیاسي شرایطو پورې اړه نیسي لکه په لاندې ډول:

- ❖ ټولنیز شرایط: څومره چې یو کارګر ته ټولنیز شرایط لکه رواجونه او ټولنیزې عقیدې ښه وي هغومره به د هغوی د کار مولدیت اوچت وي او په معکوس حالت کې به یې د کار مولدیت ټیټ وي.
- ❖ سیاسي شرایط : څومره چې یو کارګرته سیاسي شرایط لکه سیاسي ثبات او امنیت ښه وي هغومره به د هغه د کار مولدیت ښه او په زړه پورې وي او په معکوس حالت کې به یې د کار مولدیت ټیټ وي.

4. د کارګرو او د هغوی استخدام کوونکو ترمنځ اړیکې.

دا عوامل د کارګرو او د هغوی استخدام کوونکو ترمنځ اړیکو پورې اړه پیدا کوي لکه په لاندې ډول.

❖ د کارګرو او د هغوی استخدم کوونکو ترمنځ شخصي اړیکې: ځومره چې د کارګرانو او د هغوی د استخدام کوونکو ترمنځ ښه او د ملګرتیا اړیکې وي هغومره به د کارګرانو مولدیت زیات وي.
❖ د کارګرو اتحادیې: ځومره چې د کارګرو اتحادیې ښې وي او وشي کړای چې د کارګرانو او د هغوی استخدام کوونکو ترمنځ ښې اړیکې رامنځته کړي او د کارګرانو د حقوقو څخه دفاع وکړي هغومره به د کارګرانو مولدیت لوړ وي.

## د کارګرانو خوځښت

### پېژندنه

پرته د ډېرو ستونزو څخه او په آسانی سره د کارګرانو نوېو دندو، موقفونو او ځایونو د بدلولو توانایي او ظرفیت ته د کار خوځښت وايي.

د کار د خوځښت ډولونه

د کار د خوځښت ځینې عمده ډولونه دا دي:

1. د کار جغرافیایي خوځښت:

د بیلابیلو امتیازاتو او انګیزو پربناء د کارګر د کاري ځای بدلولو توانایي او ظرفیت ته د کار جغرافیوي خوځښت وايي. د بیلګې په ډول که یو کارګر د بیلابیلو انګیزو او امتیازاتو پربنا له یوه ولایت څخه بل ولایت ته د کار په نیت وخوځیږي دغه نوی ولایت کې و اوسیږي او کار وکړي نو ویلی شو چې د کار جغرافیوي خوځښت یې کړی دی.

2. د کار مسلکي خوځښت:

د بیلابیلو امتیازاتو او انګیزو پربناء د کارګر د مسلک بدلولو توانایي او ظرفیت ته د کار مسلکي خوځښت وايي. د بیلګې په ډول که یو کارګرد بیلابیلو امتیازاتو او انګیزو پربناء د انجنیري مسلک پریږدي او سوداګري مسلک ته لاړ شي نو ویلی شو چې د کار مسلکي خوځښت یې کړی دی.

3. د کار افقی خوځښت:

د بیلابیلو امتیازاتو او انګیزو پر بناء په یو بل ورته دندې باندې چې عین موقف ولري د کارګر د دندې بدلولو توانایي او ظرفیت ته د کار افقي خوځښت وایي. د بیلګې په ډول که یو کارګر د بیلابیلو امتیازاتو او انګیزو پر بناء د نیو ولایت د مالي او اداري مدیر دنده پریږدي او بل ولایت کې په عین موقف دنده واخلي نو ویلای شو چې د کار افقي خوځښت یې کړی دی.

4. د کار عمودي خوځښت:

د بیلابیلو امتیازاتو پر بناء په یوه بښه دندې باندې چې لوړ موقف ولري د کارګر دندې بدلولو توانایي او ظرفیت ته د کار عموي خوځښت وایي. د بیلګې په ډول که یو کارګر د بیلابیلو امتیازاتو او انګیزو پربناء د ماموریت موقف څخه آمریت موقف ته ترفیع وکړي نو ویلای شو چې د کار عمودي خوځښت یې کړی دی.

## د کار د خوځښت عوامل

د کار د خوځښت د بیلابیلو امتیازي او انګیز عواملو له امله صورت نیسي.

1. د مزد د کچو توپیر

کارګران د نورو عواملو ترڅنګ د مزد کچو توپیر به نظر کې نیولو سره له یوې دندې نه بلې دندې ته خوځي، یانې که چیرې د یوې دندې په پرتله بلې دندې کې ورته ښه مزد ورکړل شي نو حتمي به بلې دندې ته خوځي.

2. د کار شرایط

کارګران د یو کار یا دندې نه بلې ته د ښه کاري شرایطو پر بناء هم خوځي، د بیلګې په ډول که چیرې یوه دنده د بلې په پرتله لږ کاري ساعتونه، د صحت او هستوګنې سهولتونه، پاک او آرام کاري ماحول ولري، نو کارګر به حتمي هغه ماحول ته ورځي.

3. لوړ موقف غوښتل او جاه طلبي

که چیرې یو کارګر د ښه ژوند او جاه طلبی اراده ولري نو حتمي به له یوې دندې څخه بلې داسې دندې ته وخوځي چې په راتلونکي کې ورڅخه د ښه ژوند او جاه طلبۍ توقع ولري.

4. سوله او امنیت

د کار خوځښت به هرومرو هغې دندې ته ډیر وي چې سوله او امنیت په کې تامین وي.

5. د ترانسپورت او اړیکو وسایل

د ترانسپورت او اړیکو وسایل هم د کار خوځښت ډیروي، یعنې څومره چې د ترانسپورت او اړیکو وسایل ډیریږي هغومره به د کارګرانو د تګ او راتګ او اړیکو د کچو د لوړوالي چانس زیاتیږي او د کار بیلابیل خوځښتونه ورته اسانه کیږي.

6. تعلیم

باسواده کارګران د کار خوځښت ته ډیره لیوالتیا ښیي ځکه چې هغوی ډیر ژر د حالاتو بدلون او د نویو مهارتونو د ترلاسه کولو سره ځان برابرولای شي.

7. د کاري فرصتونو په اړه معلومات

د کاري فرصتونو په اړه معلومات هم د کار په خوځښت باندې اثر غورځوي، یعنې که چیرې کارګرانو ته د نوي کاري فرصتونو په اړه معلومات ډیر شي نو هغو به بیلابیل کاري خوځښتونه رامنځته کړي.

**د کار د خوځښت پروړاندې خنډونه**

لاندې عوامل د کار خوځښت پروړاندې خنډونه جوړوي

1. د خپلوانو او کور سره علاقه
2. اقلیمي توپیرونه
3. دودیز توپیرونه
4. ژبني توپیرونه
5. ناکافي ترانسپورتي سهولتونه
6. حکومتي بندیزونه
7. بې سوادي او بې پروایي
8. جنګي او سیاسي نا ارامي
9. غیر رقابتي اوسیدل
10. صحت او داسې نور

# د کار وېش

## پېژندنه

د کار ویش د عصري تولید یوه مهمه ځانګړنه ده چې د یو هیواد په مجموعي محصول او شتمنیو زیاتوالي کې ډېر عمده رول ترسره کوي. په اقتصاد کې د کارویش څخه مقصد داسې یو ترتیب دی چې د هغې په وسیله یو وخت کې بیلابیل افراد بیلابیلې دندې سرته رسوي.

د کار ویش ډولونه (Types of division of Labor):

1. ساده یا وظیفوي یا ټولنیز د کار ویش ( simple or functional or social division of labor)

ساده یا وظیفوي یا ټولنیز د کارویش څخه مقصد د یو کارګر او کارځای لخوا د یو محصول بشپړ تولید دی، یا د ټولنې ویش په عمده دندو باندې لکه، نجاران، زرګران، آهنګران عبارت دي له ساده د کار ویش څخه؟

2. د کار تخنیکي ویش (Technical division of Labor)

د یوې تصدي د حدودو پر بناء د کار ویش عبارت دي له تخنیکي د کارویش څخه. د دغه ډول کار ویش په وسیله یو تصدي د یو محصل تولید په بیلابیلو پروسو او هره پروسه د کارګرانو په بیلابیلو ګروپونو باندې ویشي.

3.د کار ارضي ویش (Territorial division of Labor):

نظر ځانګرو تخصیصي ښارونو، مناطقو او ښارګوټو ته د کارګرانو ویشل عبارت دي د کار له ارضي ویش څخه.

د درک او ذهنی توانایی له مخې کار په دریو برخو ویشل کیږی:

الف) ابتکاری کار ب) تنظیمی کار Organizational ج) عملیاتی کار یا Operational

بالعموم په صنعت کې کار همدا عملیاتی کار دی چی کارګران د خپل جسمی او دماغی مهارت په کار اچولو سره هغه تر سره کوی او د کارفرما له خوا دوی ته ښودل شوی پروسه پرمخ بیایی او د خپل فعالیت او د ماشین د تخنیکی فعالیت په نتیجه کی مطلوب اجناس تولیدوی. یعنی دصنعتی کارځایونو معمولی کارګران دومره ذهنی اوچت مهارت او زده

کړی نه لري چې دوه لومړنی ډوله کارونه هم وکولای شی، بلکې دوی صرف د خپل مزد د ترلاسه کولو لپاره ټاکلی وخت کې ښودل شوی اجراات ترسره کوی.
یادوونه: دغه ډول کار ویش ته د صنعتونو تمرکز (localization of industries) هم وایي.

## د کار د ویش ګټې

د کار ویش یو تصدي ته لاندې ګټې لري

1. د تصدي په مولدیت کې زیاتوالی راولي
2. د تصدي د وسایلو او تجهیزواتو په سم ساتلو کې مرسته کوي.
3. د تصدي په تولیدي مهارت کې زیاتوالی راولي.
4. په تصدي کې د اختراعاتو چانس زیاتوي.
5. د تصدي په وخت کې سپما رامنځته کوي.
6. د تصدي په مشغولتیا کې تنوع رامنځته کوي.
7. تصدي سره د سم شخص په ټاکنه کې مرسته کوي.

**II. ځمکه د تولید د عامل په توګه**

د تولید د نورو درې عواملو (پانګې، کار، مدیریت) ترڅنګ ځمکه یو مهم تولیدي عامل دی. د صنعت لپاره د ځمکې د غوره کولو لپاره باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي.

الف) د ځای غوره کول
ب) د ځای د غوره کولو په ارتباط د بیلابیلو ټکیو رعایتول
ج) د ځمکې ځانګړتیاوې
د) د ځمکې جوړښت
ه) د ځمکې پراخوالی

الف) د ځای غوره کول:
د صنعتي کارځای د تاسیس لپاره باید د ځای په غوره کولو کې لاندني عوامل په پام کې ونیول شي:

۱.ساحوي عامل
۲. ناحيوي عامل
۳. د صنعتي تصدۍ يا فعاليتځای داخلي عامل.
دغه درې عوامل به هريو جلا جلا ولولو:
۱.ساحوي عامل له اقتصادي، اجتماعي او کلتوري پلوه رول لري. د صنعتي فابريکو د ځای په غوره کولو کې بايد يوه پراخه ځمکه په پام کې ونيول شي. او هلته بايد د صنعتي تصدۍ ټول تاسيسات، لکه ګودام، شنه ساحه، پارکنګ، اصلي ودانۍ، نورې فرعي ودانۍ او ملحقات هير نشي. دا بايد وسنجول شي چې د نساجي فابريکه بايد څه ډول ساحه کې جوړه شي. د بورې د توليد فابريکه بايد د ګنيو او چغندرو د توليد په ساحه کې وي او د څرمن جوړولو فابريکه بايد د مالداري سيمو ته نژدې وي. د دغه ډول عواملو په پام کې نيولو ته ساحوي عامل وايي.
يو وخت په کابل ولايت کې د پلچرخي سيمه ځکه د صنعتي پارک لپاره غوره شوې وه چې له ښار څخه بهر او ښه پراخه سيمه وه چې د ښار د هوا د ککړتيا لامل نه کيده. همدارنګه د غوري د سمنټو فابريکه ځکه په بغلان کې جوړه شوې وه چې هلته د سمنټو کانو او د انارو د جيلي فابرکه او د وړۍ اوبدلو فابرکه ځکه کندهار کې جوړه شوې وې چې کندهار کې انار او شاخوا سيمو کې يې وړۍ ډير توليدات لرل. له ۱۳۷۱ کال څخه مخکې د هيواد ټول خصوصي او دولتي صنايع د همدغو ځانګړنو له مخې په ډير ښه ډول انتخاب او ځای پرځای شوي وو چې د هيواد اقتصاد يې په ښو درولی و. د صنعتي فابريکو لپاره د ځای په غوره کولو کې بايد يوه لنډه موده په پام کې ونه نيول شي، بلکې د نفوسو د زياتوالو او د ميشتځايونو د پراختيا فکتور بايد وسنجول شي. دا ځکه چې د صنعتي سيمې لپاره ښه پراخه ساحه غوره نشي د وخت په تيريدو سره خامخا د صنعت پارک ساحه کې تاسيسات او رهايشي ساحه رامنځته او بيا د ځای تنګوالی احساس کيږي چې په دې صورت کې دوباره د صنعتي تاسيساتو انتقالول بلې سيمې ته غير اقتصادي تماميږي.
۲. ناحيوي (سيمه ييز) عامل:
بايد وويل شي چې ناحيوي عامل له ساحوي عامل سره ډير نژدېوالی لري. له ناحيوي عامل څخه موخه دا ده چې د فعاليت په بهير کې څنډه او خنډه رانشي، يعنې کارګر، د کار خام او نيم

کاره توکي او نورې اړتیاوې لکه وسایل او ماشینونه په ټاکلي وخت، په ټاکلي اندازه او په ټاکلي ځای کې ترلاسه شي.

**۳. د صنعتي فعالیت ځای داخلي عامل:**

له دې امله چې د ځای ټاکنې مقررات عموماً د دولت دنده وي او د دولت له خوا ټاکل کیږي، په تیره بیا ښاروالي او د ښار جوړولو ادارات دا مسئولیت او لارښوونه په غاړه لري، خو بیا هم د تصدۍ یا کارځای مدیریت هم باید دې برخه کې پوهه ولري او خپل مسئولیت ادا کړي. مثلاً دوی باید داخلي وضعیت داسې عیار کړي چې په کار کې آسانتیا او په تولیدي لګښتونو کې سپما وشي. د بیلګې په توګه دا باید وښودل شي چې آیا فابریکه یو پوړیزه وي که څو پوړیزه، آیا د ماشینونو ترکیب او د هغو ترمنځ واټن، د هغو نصب، مونتاژ، انستالیشن او داسې نور ټکي باید ښه وسنجول شي. په دې توګه د صنعتي پارکونو د سیمې په ښودنه او ټاکنه کې د ښاروالي او ښار جوړونې اداره هم رول لري او د صنعتي فابریکې داخلي عامل د تصدۍ مدیریت پورې اړه لري.

## د ځای ټاکنې په اړه د یو شمیر مهمو ټکیو په نظر کې نیول

الف) د ودانیو او نورو جوړښتونو د مقرراتو په پام کې نیول:

له دغو مقرراتو څخه مو خه هغه دولتي لوایح دي چې په هغو سره د خلکو د اوسیدو ځایونه او مسکوني سیمې او زراعتي ساحه له صنتعي ساحې څخه جلا کوي. دغه لوایح، مقررات او طرز العملونه معمولاً د ښاروالیو، کرنې وزارت او د ښار جوړونې د ادارې له خوا جوړ او بیا نافذیږي. له بده مرغه افغانستان کې زیاتره وخت دا ډول مقررات نه و او نه هم مراعات شوي دي. خو دا د دې دلیل نه شي کیدای چې په راتلونکي کې دې هم د ښار جوړولو، دصنعتي پارکونو او مسکوني سیمو په ټاکنه کې دا موضوع هیره شي. باید د شنو ساحاتو، د استوګنې سیمو او صنعتي او خدماتي ځمکو ترمنځ تناسب وساتل شي. همداسې هم خدماتي، ترانسپورتي او تفریحي ساحې هیرې نشي. د شنې ساحې له منځه وړل به ډیر بد عواقب ولري. ددغو ټولو ساحاتو متناسب ټاکل او د صنعتي ودانیو د طرز رعایت کول په عامه هوساینې، د تولید په اغیزمنتوب او اقتصادي والي او د روغتیا ساتنې او د ماشینونو په ډیر ښه فعالیت باندې سیده اغیزه لري. نو ځکه د فابریکو او صنعتي پارکونو له جوړولو مخکې باید ورباندې فکر وشي.

**ب) د ځمکو د پیرودنې د بیو په پام کې نیول**

په افغانستان کې پراخه دښتې او غونډۍ شته، خو د سیندونو تر غاړې کرنیزې ځمکې او شنه ساحه ډیره لږه لرو. معمولا خلک خدماتي تاسیسات، صنعتي تصدۍ، کورونه او تجارتي مرکزونه د زراعتي ځمکو په لوري ور پراخوي او ددغو ځمکو بیه کال په کال لوړیږي، حال دا چې له شنې ساحې څخه لرې پرته دښته بې استفادې پاتې ده. په دې توګه د یوې منبع بې ګټې پاتې کیدل او په بیه کې نه راوستل اقتصادي زیان دی. باید ښاروالۍ، د کرنې اداره، او د ښار جوړونې اداره دښتو او غونډیو ته هم پلان ولري او دغه ځمکې هم لوړه بیه پیدا او د بیې په وړاندې استفاده کوونکو ته عرضه شي، خو په صنعت کې بالعموم د محل د ټاکنې په پرتله د ځمکې بیه دوهمه درجه اهمیت لري. معمولا د صنعتي تصدیو مالکان دې ته ترجیح ورکوي چې د صنعت د پیل کولو لپاره د ځمکې پراخوالی، نور شاو خوا صنایع یا همجوارې تصدۍ (اقماري صنایع)، د خامو توکیو آسانتیا او د ترانسپورت امکانات په پام کې ونیسي او بیا ځمکه وپیري. یو شمیر تصدۍ غوره ګڼي چې اقماري ځانګې ځانته نژدې کړي لکه د څرمن او بوټ جوړولو فابریکه غواړي چې خوا ته یې د بوټ د بندونو د جوړولو فابریکه وي. د راډیو جوړولو فابریکه غواړي چې خوا ته یې د راډیو د پوښ د جوړولو لپاره د څرمن او پلاستیک او کارټن جوړولو کارځای وي. او داسې نور

**ج) د ترانسپورتي لګښتونو او لارو په پام کې نیول**

د خامو توکو، کارتمامو، تولید شویو اجناسو او کارګرانو لیږدول یوه مهمه اړتیا ده چې په دې برخه کې له ښارونو، مارکیټ، د اوسیدلو له ځایونو، کان، د اوبو له منابعو او نورو اړوندو مراجعو سره د تصدۍ فاصله او د ځمکې ډول رول لري. ځمکه باید داسې وي چې ترتصدۍ پورې او د تصدۍ په دننه کې د ټولو مناقلاتي وسایلو (د کارګرانو بس موټر، د موادو لارۍ، کراچۍ لاسګاډي...) لپاره آسانتیاوې موجود وي. په تیره بیا یو شمیر صنعتي تصدۍ د کار له پلوه متکاثفه بڼه لري، چې ترانسپورتي وسایل یې زیات او ډول ډول وي. نو ځکه د ترانسپورت لپاره لارې او پارکینګ مهم ضرورت دی. هغه کارځایونه چې د ترانسپورت وسایل یې زیات وي، نو د هغو لګښت محاسبه کول او په نظر کې نیول مهم دي.




د تصـدیو د خامو توکو او کارتمامو تولیداتو لیږد ته درې ډوله ترانسـپورت (ځمکني، هوايي، او سـمندري) ته اړتیاده، چې یو بل سـره توپیر لري. د بیلګې په توګه جاپان د خپل صـنعت د پرمخ بیولو لپاره نفتي توکي په سـمندر کې لیږدوي، خو اروپايي هیوادونه ګاز له روسـیې څخه په نللیکه کې لیږدوي او داسـې نور مثالونه. په افغانسـتان کې سـمندري او هوايي ترانسـپورت یا نشـته یا ډیر ګران پریوځي. نو ځکه زمونږ ډیره برخه ترانسـپورت ځمکنی ترانسپورت دی، خو د غرونو او پیچومو له امله دغه ځمکني ترانسپورت له ستونزو ډک دی. ډیره به غوره وي چې راتلونکي کې زمونږ صـنعت د کار له پلوه متکاثف وي او ډیر پانګه کښ نه وي. د اځکه چې مونږ کافی اندازه بشـري ځواک لرو او کیدای شـي بشـری ځواک له ګڼو ښـارونو او ګڼ میشـتو سـیمو څخه د صـنعتي پارکونو خوا ته ولیږدوو او د اسکان یوه نوې پالیسي تطبیق کړو. له نن څخه ۵۰ کاله مخکې ډیر کارګران او کارکوونکي له جلال آباد څخه د غازی آباد فارمونو، هډې او څلورم نمبر فارم ته ولیږدول شـول او دغه ټولې سیمې تر کار لاندې ونیول شوې او د نفوسو د میشت کولو ډیره غوره پالیسي هم اجرا شوه همدا سې هم ګلبهار د نساجي د فابریکې شاوخوا او د فامیلیو لپاره کورونه جوړ شول او په هرات، جوزجان او بغلان کې هم ډیر مناسـب شـکل باندې تاسیسـات رامنځته او د ترانسـپورت، ځمکې او میشـت کولو ستونزې حل شـوې وې. په لشکرګاه او پلچرخی کې د رخام د فابریکو د جوړولو علت دا و چې دغه دواړه سـیمې ددغو تیږو کان ته نژدې وې. په پلچرخي کې د شـاه مقصـود د ډبرو د فابریکې جوړول ځکه دغه سـیمه کې په پام کې نیول شـوې و چې د ماهیپر (تنګي غارو) سـیمې ته نژدې وه او دد غو تیږو کان په تنګي غارو کې و، چې د ترانسپورت او خامو توکو ترځنګ کار هم خپل ارزښت پکې تثبیت کړ. له بده مرغه

دغه تاسیسات اوس یا له منځه تللي یا پاملرنه ورته نشته او ځنې یې د خصوصي کولو په نوم له منځه ولاړل.

د) د صنعتي پروسې لپاره د اوبو اړتیا

یو مهم ټکی چې د صنعتي کار ځای لپاره د محل په غوره کولو کې باید هیر نشي هغه د اوبو موجودیت دی. ځینې صنعتي څانګې کافي اندازه د اوبو زیرمو یا جاري اوبو ته اړتیا لري. د بیلګې په توګه دباغي ډیرو اوبو ته اړتیا لري. همدارنګه د کاغذ جوړولو او کیمیاوي توکو صنعت هم روانو اوبو ته اړتیا لري چې باید د اوبو منبع (سیندونه) ورته په پام کې ونیول شي. کلونه کلونه مخکې د افغانستان د اړتیا وړ کاغذ د تولید لپاره په کونړ کې د کونړ سیند ته لنډ د کاغذ جوړولو فابریکې کارکاو، چې اوس د کورنیو جګړو له امله لوټ او له منځه تللې او ماشینونه یې بهر ته د کباړو سپنې په بیه ولیږدول شول. نه یوازې د اوبو موجودیت بلکې د اوبو کیفیت هم مهم دی د بیلګې په توګه د بیر جوړولو په صنایعو کې باید اوبه غوره کیفیت ولري. په اروپا کې د بیر جوړولو کارځایونو ته اوبه له ډیرو لرې سیمو څخه چمتو او لیږدول کیږي.

هـ) له کار ځای څخه د اوبو د وتلو بهیر

ډیره مهمه ده چې د صنعتي فابریکې د جوړولو پر مهال د اوبو د موجودیت، د ځمکې د موقعیت او ساحې تر څنګ دا هم په نظر کې ونیول شي چې آیا وروسته تر مصرف څخه اضافه اوبه، ککړې شوې اوبه او یا هغه اوبه چې په صنعت کې نه دي مصرف شوي کومې خواته او په څه ډول وایستل شي. خصوصاً دغه ډول اوبه ځینو صنایعو کې د فضله او کیمیاوي مرکباتو لرونکې او خطرناکه وي.د نړۍ په پرمختللو صنعتي هیوادو کې له اویا کلونو څخه راپه دې خوا داسې قوانین جوړ او اجرا لاندې دي چې دغې موضوع ته یې پوره پاملرنه کړې او د ککړو شویو اوبو خطر یې اټکل کړی. دغه اوبه انسان، کښت او ژویو ته زیان رسوونکې دي زمونږ هیواد چې نوی د صنعتي کیدو په حال کې دی، دغه خطر نه هیروي او باید په راتلونکو پلانونو کې د صنعتي پرمختیا په بهیر کې دغه ستونزې په پام کې ونیسي.

و) ګاونډي صنایع (همسایه فابریکې)

د صنعتي کار ځای لپاره د ځای په غوره کولو کې دا هم مهمه ده چې باید وسنجول شي چې آیا زمونږ د پام وړ فابریکې تر څنګ څه ډول صنعت دی. که په یوه کار ځای کې احتراقي توکي

تولیدیږی، څوک به حاضر نشي چې د هغه تر څنګ فابریکه جوړه کړي. همدارنګه هغه فابریکې چې ډیر درانه ماشینونه لري او ځمکه لړزوي یا نور ثقیله نقلیه وسایط چې ځمکه خوځوي د ګاونډیتوب لپاره مساعده نه ده چې په نوي فعالیت ځای باندي اغیزه لري.
۳. د ځمکې ځانګړتیاوې
الف) د ودانولو وړ ځمکه: داسې ځمکې شته چې د ودانۍ جوړولو لپاره ډیره ښه وړتیا لري او څو پوړیزه ودانۍ ورباندې جوړیدای شي، خو یو شمیر نورې ځمکې دا ځانګړتیاوې نلري. په داسې حالاتو کې باید د ودانۍ طرح کوونکي او جوړوونکي انجنیر یا مهندس له جیولوژیست سره په ګډه ځمکه مطالعه کړي او د مسلکي نظر ورکولو وروسته دې د ودانۍ په جوړولو پیل وکړي تر څو په راتلونکي کې تصدي او فابریکه له ستونزې او نړیدلو یا درز کیدو سره مخامخ نشي. د صنایعو ودانۍ د صنعت د ځانګړتیا له مخې کیدای شي یو پوړیزه یا څو پوړیزه جوړه شي. د بیلګې په توګه د بوټ جوړولو د صنعت ودانۍ، د کیمیاوي مرکباتو د صنعت فابریکه، د نفیسه او داسې نور سپک صنایع په څو پوړیزه ودانۍ کې جوړیدای شي، خو نقلیه یا درانه صنایع لکه د پولادو ذوب، خراطي او نور بیا یو پوړیزه ودانۍ غواړي، دا ځکه چې په څو پوړیزه ودانۍ کې ممکن لوی خطرونه پیښ کړي. د نړۍ په ګڼ شمیر هیوادونو کې نفیسه صنایع (د ګاڼو تولید، ساعت جوړول، قلم جوړول او نور) په داسې ودانیو کې فعالیت کوي چې ۴ – ۶ پوړونه لري، دکمپیوټر د تولید کمپنۍ په ۱۲–۸ پوړیزو ودانیو کې کار کوي، یعنې ودانۍ لوړې جوړیږي چې لږ ځمکه ونیسي په دې حالاتو کې باید د صنعت ډول او د ځمکې جوړښت، دواړه مطالعه شي.
ب) تر ځمکې لاندې اوبه:
ځینې وخت د ځمکې لاندې اوبو زیرمه ضروري ده، ځینې وخت باید ځمکه جبه زار نه وي، یعنې باید کلکه او وچه وي. ځینې وخت باید د سیلاو خطر په پام کې ونیول شي.
ج) د ځمکې بڼه
له دې څخه موخه د ځمکې هندسي شکل دی، لکه مربع، مستطیل، مثلث او نور (و.ګ: دکتاب ۵۰پاڼه کې په ۱۱شکل کې د یوې فابریکې د ځمکې بڼه).
د) د ځمکې پراخوالی

د ځمکې د پراخوالي په هکله څو ټکي مهم دي: اوسني او راتلونکي اړتیا، په راتلونکي کې د صنعتي تصدۍ پراختیا، اصلي او فرعي ساحه، شنه ساحه، ملحقات او نور. دغه اړتیاوې یو بل سره نژدې اړیکې لري او باید د صنعتي تاسیساتو د جوړولو پر مهال په پام کې ونیول شي. فرعي اړتیاوې لکه پارکنګ، زیرمتون، تفریحي پارک او نور هم ضرور دي.

**III.ودانۍ د تولید د عامل په توګه**





د صنعتي تصدۍ د ودانۍ او د هغو د جوړولو د طرز په هکله لاندني ټکي مهم دي:

الف) د ودانیو بڼه

ب) د ودانیو تنظیم

ج) د ودانیو فرعي ملحقات او د هغو جوړښت

د) یو بل سره د ودانیو تړلتیا او پیوستون یا د هغو جلاوالی

مخکې تر دې چې ودانۍ جوړه شي، باید تولیدي هدف او مقصد او د تولید د اجزاوو یو بل سره تړلتیا او د تولید پروسه تحلیل شی. له دی پلوه ودانۍ په دوو ډولونو ویشل کیږی:
الف) یو پوړیزه او څو پوړیزه ودانۍ: زیاتره صنعتی ودانۍ یو بل سره تړلی او ځینی څو پوړیزه وی. په یو پوړیزه او سره تړلیو ودانیو کی د لیږد لګښت کم وی او د تولید پروسه ګړندۍ ترسره کیږی یعنی د تولید عملیه پرله پسی وی، خو هغه ودانۍ چی څو پوړیزه او یو بل څخه جلا وی، په هغو کی د تولید پروسه او د عملیاتو پړاوونه یو بل څخه جلا وی. په دغه ډول ودانیو کی ډیره ګڼه ګوڼه نه را منځته کیږی. په هغو صنایعو کی چی د ترانسپورت برخه کمه وی او یا هم د تولیدی واحدونو دروندوالی او د ترانسپورتی وسایلو لویوالی زیات وی، یعنی لیږد په غټو وسایلو کیږی، نو هلته باید ودانۍ یو پوړیزه وی. خو د ساعت جوړولو، قلم جوړولو او عطر (حفیفه صنایع) جوړولو صنایع که څو پوړیزه او یو بل څخه جلا وی هم کومه ستونزه نشته.




*د یو پوړیزه صنعتی ودانۍ یوه بیلګه*

ب) سره نښتی (متصل) او یو بل څخه جلا (منفصل) ودانۍ
ممکن یوه صنعتی تصدۍ د څو سره تړلیو او څو یو بل څخه جلا ودانیو لرونکی وي، یعنی یا به متصل وی یا به منفصل. د بیلګی په توګه د بوټ جوړولو فابریکی داسې ودانۍ لری چی څو برخی یی یو بل سره ګاونډی جوړیږی. معمولاً د ځرمن جوړولو او د نفتو د چاڼ په صنعت کی ودانۍ یو بل سره جلا (منفصل) جوړیږی تر څو د اورلګیدو او نورو زیانونو مخه ونیول شی.

ج) د ودانیو تنظیم

ودانۍ د خپلو موقعیتونو د تنظیم له مخې په څو ډولونو جوړیدای شي؛ لکه:

افقي یو لینه ودانۍ: د ودانیو دا ډول تنظیمول یو په بل پسې په پام کې نیول کیږي.

لومړی شکل:



ممکن په دغه ډول تصدیو کې تولیدات او د کار پروسه او د موادو لیږد د یو بل سره نژدې اړیکې ولري لکه د بوټ جوړولو صنایع.

افقي څو لینه ودانۍ: په دغه ډول صنعتي موسساتو کې ودانۍ دوه یا درې کتارونو کې تنظیم کیدای شي لکه مطابع، ترکاڼي او نور.



*غشی د تولید جریان ښیي*

په پورته شکل کې د تولید بیلابیل پړاوونه بشپړیږي، چې ورکړل شوی غشی د تولید جریان او د موادو د لیږد مسیر ښکاره کوي.

۳. عمودي یو لینه ودانۍ



۴. څو لینه عمودي ودانۍ





د تولید جریان

**۵. د یو لینه او څو لینه ودانیو ترکیب**



**د سره نښتو (متصلو) ودانیو تنظیم**

**۱. د ږمنځ ډوله ودانیو بڼه**



**باید وویل شي چي د دغه ډول ودانیو په عمودی برخو کی عموماً د بسته کاری چاری او په افقی برخه کی یې تولید ترسره کیږی.**

**۲. یو بل څخه جلا (غبرګی) ږمنځ ډوله ودانۍ:**

**دغه ډول ودانۍ یو بل څخه د جلا والی سره سره، یو بل ته نژدی وی، چی د تولید پروسه بڼه پرمخ لاړه شی لکه:**

**(۷) شکل**



۳. U ډوله ودانۍ

(۸) شکل



په دغه ډول ودانیو کی په منځنۍ یا مرکزی برخه کی د تولید او تړلو اصلی فعالیتونه او نورو برخو کې يې فرعی فعالیتونه ترسره کيږي. باید وویل شی چی پورته ډول ودانۍ عموماً پخپلو لوړو پوړونو کی د خامو توکو زیرمتون لری.البته د تولید شوی محصول زیرمتون هم ضروری دی، ترڅو له فابریکې څخه د کارتمامو محصولاتو د ایستلو او مشتری ته د سپارلو تر وخت پورې باید کار تمام توکي(تولید شوی محصول) هلته وساتل شي.

۴. H ډوله ودانۍ:



۹ شکل

په دغه ډول ودانیو کې په منځنۍ یا مرکزي برخه کې د تولید شویو پرزو او اجزاوو تړل کیدل او په نورو برخو کې یې د تولید اصلي پروسه پر مخ بیول کیږي. البته د دغې ډول ودانۍ هره جلا برخه د جلا جلا فعالیتونو د ترسره کولو لپاره وي چې د هرې برخې تولید شوې حصه مرکزي برخې ته راځي او بیا دلته سره تړل کیږي (د بیلګې په توګه لاسي چراغ جوړولو په فابریکې کې د چراغ چوکاټ یوه برخه کې تولیدیږي ښیښه بله برخه کې، فنر بله برخه کې او په پای کې سرپوښ بله برخه کې تولیدیږي او بیا په مرکزي برخه کې سره تړل کیږي).

د زوایې په بڼه ودانۍ



*۱۰ شکل*

دغه ډول ودانۍ د ځمکې د موجودیت او د ځمکې د پراختیا او بڼې له مخې نقشه کیږي. په افقي ستون کې د تولید بیلابیل مراحل ترسره کیږي او د تحویلخانې او ګودامونو کوټې هم په همدغه ستون کې په کتار شکل جوړې شوې وي. البته د صنعت د خصوصیت له مخې K او

R ډوله ودانۍ هم لیدل کیږی. مخکې تر کورنیو جګړو څخه د کابل د جنګلک فابریکه له نن څخه دیرش کاله مخکی، د حجاری او نجاری فابریکه، د کندهار د وړی اوبدلو فابریکه او د آریانا مطبعه یی ښه مثالونه دی. د ګلبهار نساجی چی اوس له منځه تللی د ۷ شکل په شان وه او د شاکر چینی جوړولو فابریکی (د کابل په واصل آباد کی د ۸ شکل ښه درلوده).

ج) په صنعتی کار ځای کی فرعی دستګاه




*۱۱-شکل: د یوی صنعتی فابریکی عمومی نما*

دغه ډول دستګاه عموماً د صنعتی تصدی په دننه کې وی چی له بهر څخه نه ښکاری کیږی. لکه د اوبو رسولو دستګاه، د بریښنا سیستم، د هوا پاکولو سیستم، مرکز ګرمی او نور. همداسی هم له اصلی ودانۍ پرته خوا و شا کی ډیپو، دبریښنا برج او فرعی ګودامونه هم موجود وی. هر صنعتی کار ځای خپل شاوخوا شنه ساحه او پارکینګ هم په پام کی نیسی. ځینی کار ځایونه د وتلو د دروازی تر څنګ د وسایلو د چک لپاره ځانګړی کړکۍ لری چی د ترانسپورتی وسایلو کنترول ترسره کوی.

د) د ودانیو اړیکی

د صنعتی تصدیو د ودانیو تر منځ باید اړیکی داسی په پام کی ونیول شی چی لاندنی څلور ټکی پکی هیر نشی:

لومړی) وضاحت: د تصدی هره برخه، هر سیستم او هر فعالیت باید څرګند او د لیدلو او څارنی وړ وی. یعنی ماشینونه، بیلابیل سیستمونه، او تولیدی پروسه باید داسی تنظیم شی چی د ځنډ، خنډ یا کوم بل خطر او پیښی په صورت کی د پیښی جریان او علت د لیدلو او پوهیدلو وړ وی. له ۱۳۷۱ کال څخه مخکی د کابل د جنګلک فابریکه کی چی د موټرو پرزی، باډی، دفتری وسایل، د ښاروالیو د اړتیا وړ فلزی وسایل او کرنیز اسبابونه پکی تولیدل، دغه وضاحت موجود و. د ننګرهار د زیتونو فابریکه کی له ۱۳۷۱ کال مخکی د اچارو د خمونو، لابراتوارونو، سړی خونی او هری برخی لارښود، عمومی نقشه او د څارنی سیستم هم د یادونی وړ دی، په یو شمیر فابریکوکې د بریښنا قوی جریان څخه د ځان ساتلو په خاطر ځانګړی علایم ایښودل کیږی. یو شمیر خطر لرونکو برخو ته د نه نژدی کیدو لپاره ژیړی کرښی رسم شوی وي او داسی نورو مثالونه.

دوهم) د ودانیو تر منځ د واټن په پام کی نیول: بیلابیلی فابریکی او د هغو ځانګړتیاوی او تولیدی خصوصیات د ځانګړی طرز تنظیم Organizing غوښتنه کوی. په دی ترڅ کی واټن د ترانسپورت او د ماشینونو د بدلون له مخی د اهمیت وړ ده. د کابل د پلچرخی په سیمه کی له ۱۳۷۱ کال مخکی د آریانا مطبعه (چی وروسته بیا د نبراسکا په نوم ونومول شوه) له دی پلوه ډیر ښه مثال دی. د دی فابریکی ګودامونه، دفترونه، د صحافت څانګه، د چاپ، زنکوګرافی، پلیت جوړولو او نوری برخی په ډیر ښه واټن ډیزاین او تنظیم شوی دی. البته د دغی فابریکی پوره اندازې ځمکی موجودیت، د ودانیو د لازم واټن د رعایت په برخه کی اغیزه لرله. په مجموع کی په افغانستان کی له ۲۰ – ۲۵ کلونو څخه دی خوا ته جوړی شوی ودانی لازم خصوصیات نه رعایتوی، حال دا چی له دغو کلونو مخکی ټول صنعتی، خدماتی او رهایشی تعمیرات ډیر معیاری وو. په تیره بیا د فابریکو ودانی چی اقتصادی ارزښت لری او د تولید د عادی پروسی او بهیر د ډاډمنتیا لپاره یی اصول رعایتول ضروری دی، دا په صنعتی اقتصاد کی مهم بحث جوړوی.

درېیم) د ماشین غړ، اورلګیدو او ټکانونو رعایت کول: هغه ماشینونه چې تودوخه تولیدوی، هغه ماشینونه چې لوړ غږ لري او هغه چې د اورلګیدو خطر لري، باید یو بل څخه په لرې واټن کې جوړ شي.
پورتنیو مواردو کې مونږ سره د فعالیت ځای محل ټاکنه مرسته کوي. له نیکه مرغه افغانستان له ښارونو او شنې ساحې څخه بهر په اطرافونو کې پراخه او د کلکې ځمکې لرونکې دښتې لرې چې د هرې فابریکې لپاره ښه پراخه ساحه پکې په پام کې نیول کیدای شي. د ایران هیواد خپل صنایع او فعالیتځایونه په همداسې سیمو کې په پراخه ساحو کې جوړ کړي دي.
څلورم) د تولید آسانه بهیر: د تولید بهیر له هغه ماشین او ځای څخه پیل کیږي چې خام توکي د پروسس مرحلې ته داخلیږي او دغه بهیر په هغې نقطه کې پای ته رسیږي چې تولید شوي اجناس سره وترل شي، انستالیشن تکمیل او بسته بندي وشي. د دغې ټولې پروسې لپاره باید د ماشینونو تنظیم، لارې او کمکي وسایل داسې عیار شوي وي چې پروسه په ډیره لنډه لاره تکمیل شي.

**IV.ماشین**



په صنعت کې ماشین هم لکه د ودانۍ او ځمکې په شان د تولید عامل دی چې په دوو ډولونو ویشل شوي دي:

I. د اجناسو د تولید ماشینونه
II. د قوې تولیدوونکي (ګرځوونکي یا څرخوونکي) ماشینونه

دوهم ډول ماشینونه د لومړي ډول ماشینونو د فعالولو لپاره استعمالیږي. یعنی د تولید اصلي بهیر په لومړي ډول ماشینو پوري اړه لري، دوهم ډول یي فعاله کوونکي او د انرژي رسوونکي ماشینونه دي. د دواړه ډولو ماشینو د تدارک، انتخاب او ځاي پرځاي کولو لپاره باید لاندي ټکي په پام کي ونیول شي:

الف) د فابریکي لپاره د ماشین غوره کول: ښکاره خبره ده چي د ماشین په انتخاب کي یو ټیم رول لري چي په هغه کي اقتصاد پوه، انجنیر، قانونپوه او د چاپیریال متخصص شامل وي، خو که چیري دا ډول بشپړ ټیم ونه لرو، نو بیا هم باید اقتصاد پوه او تخنیکي ماهر په ګډه مشوره ماشین غوره کړي. دوي دواړه د ماشینونو تخنیکي او اقتصادي اړخونه مطالعه کوي. د اقتصاد پوه موخه دا وي چي ماشین باید اقتصادي تمام شي یعنی د اقتصاد متخصص یي اقتصادي اړخ او د تخنیک ماهر یي تخنیکي موضوعات څیړي. ځیني وخت د عین جنس د تولید لپاره لوي ماشین او هم کوچني ماشینونه موجود وي چي ځیني وخت لوي ماشین غوره کیږي، ځیني وخت کوچني. د کابل سیلو له ۱۳۷۱ کال مخکي د ژرندي، د اوړو کولو او پخولو لوي ماشینونه لرل، حال دا چي اوس ځیني خوراکي صنایع چي نوي فعاله شوي هغومره لوي ماشینونه نه لري او د مرکزي سیلو په پرتله ډیر کوچني ماشینونه استعمالوي. اقتصاد پوه ته مهمه ده چي ماشین د بیي، د استهلاک د دوري او د انرژي د مصرف له پلوه تحلیل کړي، خو تخنیکي ماهر د ماشین تولیدي قدرت، مقاومت، دترمیم وړتیا او نور ټکي سنجوي. د نړۍ په ډیرو هیوادونو کي د ماشینونو د غوره کولو لپاره ځانګړي دفترونه او مشاورین کار کوي، دوي د تولیدي کار ځایونو لپاره ماشینونه له بیلابیلو اړخونو تحلیل او بیا یي سپارښت کوي. اوس چي د چاپیریال مسئله هم د اهمیت وړ ده او ټولنیزي ستونزي لکه د استخدام مسایل، د بیکاري مسایل او نور هم رامنځته شوي دي، نو د ماشین غوره کولو پیچلتیا موندلي ده. د یوه غوره سپارښت لپاره فعالیتځایونه د حق الزحمي په وړاندي مسلکي ټیمونو ته مراجعه کوي.

ب) د ماشینونو تنظیم: په تیره بیا هغه ماشینونه چي ګرځنده دي د هغو په تنظیم کي باید دقت وشي. جرثقیل (کرینونه)، د ودانیزو توکو د ګډوونکو ماشینونو (د سمنټو او شګي مکسر) او کمباینونو او نورو په اړوند دغه ټکي مهم دي، دا ځکه چي دغه ماشینونه تل خپل ځاي بدلوي، نو ځکه د لیږد له پلوه د دوي تنظیمول مهم بریښي. مستقر یا ځاي پرځاي نصب شوي

ماشینونه صرف یو ځل داسې نظم ته ضرورت لري چې بیا د دوباره لیږد اړتیا و نه لیدل شي، دا ځکه چې د دوی څو ځلې لیږد هم لګښت زیاتوي او هم د ماشین د خرابیدو لامل کیږي. مثلاً د نساجۍ یو ماشین چې یو ځل نصب او مونتاژ شو، بیا یې لیږدول ضرور نه دي. په دې توګه د ماشینونو په تنظیم او ترتیب کې باید لاندې ټکې رعایت شي:

i. ماشینونه باید داسې نصب او تنظیم شي چې د تولید عملیه کې ځنډ رانشي.
ii. کم ځای ونیسي.
iii. د انرژیکي منابعو (بریښنا، تیلو، د ډبرو سکرو ...) څخه اقتصادي استفاده وشي.
iv. له ناوړه پیښو څخه د مخنیوي له مخې منظم کول.
v. د کار د ښو شرایطو په پام کې نیولو له مخې تنظیمول.
vi. د تولید شویو (کارتمامو) اجناسو د زیرمه کولو او ساتنې له مخې تنظیم او نصبول.

الف) د قوي تولیدوونکي ماشینونه

دا هغه ډول ماشینونه دي چې په تصدۍ (کار ځای) کې د جنریټور یا د نیرو مولد په نوم یادیږي. د دوی د فعالولو لپاره له تیلو، اوبو، د ډبرو له سکرو او اوس وخت کې د لمر له وړانګو څخه کار اخیستل کیږي. نن ورځ د نړۍ ګوټ کې لوی او واړه جنراتورونه شته. په لغت کې generator د زیاتوونکي او تولیدوونکي په معنا ده. نن ورځ په صنعت کې له مګنیت هایدرودینامیکي او ترمو الیمیوني جنراتورونو څخه د بریښنا په تولید کې او یو شمیرنورو جنراتورونو څخه د زنګالونو په تولید کې استفاده کیږي.



ب) د اجناسو تولیدوونکي ماشینونه

دغه ماشینونه چې د جنراتورونو یا د انرژۍ د مولدو ماشینونو په واسطه په کار لویږي، په هغو کې د خامو توکو د پروسس عملیه پرمخ ځي او د انسان د مهارت په واسطه فعاله وي.



*دنساجي یوهدفه ماشین*

د ماشینونو ټوله رهبري د انسان په واسطه ترسره کیږي. دغه ډول ماشینونه په خپل وار بیلابیل ډولونه لري:

- یو هدفي ماشینونه،
- څو هدفي ماشینونه،
- مخصوص ماشینونه،
- اتومات ماشینونه،
- فالتو یا ذخیروي ماشینونه. دلته به هر یو تشریح کړو.

- یو هدفي ماشینونه هغه دي چې یوائې یوه عملیه برمخ بیایي. لکه د برمه کولو ماشین او نور. د دغو ماشینونو یو ډیر ښه صفت او غوره والی دا دی چې نظر پیچلو، او څو هدفي ماشینونو ته ساده دي او زده کړه یې آسانه ده لکه د برمه کاري، اره کشي، خیاطي او نور ماشینونه. په دې کې یو شمیر یې جنراتور ته هم اړتیا نه لري. د بیلګې په توګه د خیاطي ماشین په لاس هم ګرځیدلای شي او په بریښنایي موتور هم ګرځیدا ی شي. د دغه ډول ماشینو استعمال فوق العاده تخنیکرانو ته اړتیا نه لري. نیمګړتیا یې دا ده چې صرف د یوه کار د اجرا لپاره

ورځخه کار اخیستل کیدای شي، یعنی استعمال یې صرف یوې ساحې پورې محدود دی.




*د خولۍ ګنډلو یو هدفه ماشین*

- څو هدفي ماشینونه: هغه ماشینونه دي چې د ډیرو اهدافو لپاره په کار ځي. د بیلګې په توګه ترکتور هغه ماشین دی چې د کرنې په برخه کې د کولبې، مالې، تخم کرلو، د تریشرو ګرځولو (درمند کولو) سرې شیندلو او آن د بارو وړلو لپاره کارول کیږي.
- ځانګړي ماشینونه: هغه ډول ماشینونه دي چې یوازې یوه دنده لري لکه د غالیو د سکڼلو ماشین، د خراطي ماشین، د نساجي ماشین او داسې نور. په افغانستان کې له ۱۳۷۱ ل. کال څخه مخکې پورتني ماشینونه معمول وو. د هیواد نساجي ګانو، د چرګانو د ساتنې فارمونو، میکانیزه کرنیزو فارمونو، د پلاستیکي وسایلو د تولید فابریکو، د بوټانو د تولید تصدیو، خوراکي صنایعو، کاغذ او کارټن جوړولو، د حجاري او نجاري فابریکو او دې ته ورته صنایعو دغه بیلابیل ماشینونه او د هغو لپاره ماهر متخصصین درلودل.
- اتومات ماشینونه: دا هغه ماشینونه دي چې د انساني ځواک ډیر لږ او اصغري حد پکې په کار ځي. کارګر یې یوازې د چالانولو او کنټرولو دنده لري. اتومات ماشینونه له یوې خوا ګران دي او له بلې خوا په وروسته پاتې هیوادو

کی د یو شمیر کارګرانو د وزګار کیدو لامل ګرځي. دغه ماشینونه په خپل وار دوه ډوله لري:

بشپړ اتومات او نیمه اتومات.

اوسنی صنعت له میکانیزه شکل څخه الکترونیزه او اتوماتیزه پړاو ته رسیدلی. تر ټولو پرمختللی ماشینونه د دیجیتل دستګاه په واسطه کار کوي چې بریښنایي اعداد، کودونه او شفرونه یې کارول کیږي.

- احتیاطي (ذخیروي) ماشینونه: هغه ماشینونه دي چې په احتیاطي او فالتو بڼه د فعالو ماشینونو د ناڅاپي خرابی د پیښیدو پر مهال د استفادې لپاره ساتل کیږي او د دې لپاره چې د اصلي ماشین د خرابی په صورت کی د تولید پروسه په ټپه ونه دریږي، په کار اچول کیږي. کیدای شي دا نوي وي، اما زیاتره وخت زاړه او مستعمل ماشینونه دي چې په احتیاطي توګه ساتل کیږي.

هـ) د ماشینونو ساتنه

د صنعتي اقتصاد علم له یوې خوا د ماشین بڼه انتخاب او پیرودنه باندې تمرکز لري، له بلې خوا د هغو په استعمال بحث کوي، خو یو مهم بحث یې د ماشین ساتنه ده. له بده مرغه په افغانستان کې د لازمو معلوماتو، ضروري مهارت او د ماشین په اهمیت د نه پوهیدو له امله زیاتره ماشینونه ډیر ژر استهلاک او له منځه ځي. شاید وویل شي چې زیاترین له کاره لویدلي وسایل به په افغانستان کې وي چې تر ټولو لږ اقتصادي استفاده ورڅخه شوي ده.

د ماشین ساتنه یعنې د هغو پیښو مخنیوی چې ماشین ته زیان اړوي. د دې لپاره چې ماشین فعاله او نوي وساتل شي باید د هغه له فعالولو څخه مخکې لومړني تدابیر ورته ولرو. د بیلګې په توګه د ماشین پاک ساتل، په هغو باندې د پوښ او ترپال اچول، د هغو د موبلایل، ګریس، تودوخې لمر او لمدبل کنترول، د ماشین د بریښنا د جریان کنترول د ماشین د پرزو جلا جلا چک کول او داسې نور له استعمال څخه مخکنی ضروري تدابیر دي. د ماشین د فعالیت په ترڅ کې هم همدومره احتیاطي او کنترولي تدابیر ضرور دي.

ځینی غیر ماهر کارګران فکر کوي چې فعال ماشین کوم کنترول، څارنې او مراقبت ته ضرورت نه لري، حال دا چې دا ناسم فکر دی. د ماشین کنترول د ماشین په دوام او د تولید په

کیفیت تاثیر لری. او سنی تصدی او کارځایونه د ماشینونو د ساتنې او څارنې لپاره ځانګړی پلان او د وخت تقسیمات لری.

## د کار ابزار (سامانونه)

دا هغه کوچنی وسایل دی چې د ماشین حیثیت نه لری، خو په جلا جلا ډول ځینی وخت ورته اړتیا پیښیږی. ځینی وخت دغه کوچنی وسایل له ماشین سره تړل شوی وی. لکه په ماشین پوری تړل شوی بیلچه، د لمر او دوړو لپاره توری عینیکی، برمه، څټک، پلاس، تبرګۍ او داسی نور چې کُمکی وسایل هم ورته ویل کیږی. ځینی ابزار دایمی دي او ځیني د لنډ وخت. د ماشین د پیریدلو او نصب پر مهال باید دغه ډول کُمکی وسایل په پام کی ونیول شی. ځینی ماشینونه ځان سره کلکې خولۍ او واسکټونه لری چې د اړتیا پر وخت اغوستل کیږی.



## د ابزارو اقتصاد

سره له دی چې د کُمکی او کوچنیو سامان آلاتو او ابزارو بیه د ماشین په پرتله کمه او ارزانه ده، خو له دی امله چې ډیر استعمالیږی، نو د هغو په استعمال کی باید د اقتصاد اصول (ساتنه، د دوام څارنه او اغیزمنتوب) په پام کی ونیول شی. د هغو ساتنه، زیرمه کول او لازم ځای کی کارول د بیځایه او اضافی لګښت مخه نیسی.



د ابزارو د اقتصاد مفهوم: د دې مفهوم دا دی چې باید د پیریدلو پر مهال ضروري ابزار په ټاکلې اندازه د هیئت له لوري وپیرودل شي او د هغو راليږدول، ساتنه او ويش بايد ثبت شوی او په اقتصادی بڼه وی. د ټولو وسايلو په ډيپو کې ايښودل، دوامداره کنترول، دجنسی شعبې د تحویلدار په کتاب کې يې ليکل، نښی لګول، د ډيپو کارت جوړول، موجودي او نور تدابير اقتصادي مفهوم لري.

**د ترانسپورت وسايل**

په ننني صنعت کی ترانسپورت په څو برخو ويشل شوی دی.

الف) تر کار ځای پورې د خامو توکو ليږدول: چې معمولاً درانه توکي وی لکه له کان څخه کيندل شوی تيږی، کرنيز توکی لکه ټيپر، کچالو، سابه، له ځنګل څخه لرګی، له سيندونو او سمندرونو څخه سمندري توکی لکه بحری فوسيلونه، الجی او فنجی، کبان او نور.

ب) د کار تمام او پروسس شوی صنعتی توکو ترانسپورت لکه اوبدل شوی رختونه، کنسرو شوی خوراکی توکی، پروسس شوی سابه، میوی، تول شوی تيږی، جوړ شوی لرګين وسايل لکه ميزونه او کړکی، او داسی نور. يو شمير دغه ډول توکی يخچال لرونکو، ترپال لرونکو او پرې لرونکو ترانسپورتی وسايلو ته ضرورت لری چی کارتمام توکی تر بازار پوري رسوی.

ج) د پرسونلو ترانسپورت: چی معمولاً بسونه يا د ليږدولو لاری دی.

د) د کار ځای دننه ترانسپورت: دغه ترانسپورتی وسايل له لاسی کراچيو نيولی، تر ليږدوونکو کوچنيو برقی موټرونو، څلور ارابی لرونکی ګاډی او نور دی چی د ماشينونو په منځ کی يا د کار ځای له يوی ودانۍ تر بلی پوری توليدی توکی ليږدوی. يو شمير دغه ليږدوونکی د خوځنده پټليو او هوايی کيبلونو په واسطه حرکت کوی. دلته زياتره زمونږ

موخه د کارځای دننه لیږدوونکي کوچني موټرونه، ارابه لرونکي ګاډي، لاسي ګاډي او دي ته ورته ترانسپورتي وسایل دي. دغه وسایل له تصدۍ یا کار ځای څخه بهر ترانسپورت (الف، ب، ج جز) پوري ډیره اړه نه لري. ځیني وخت له کار ځای (تصدۍ) څخه بهر ترانسپورتي وسایل تصدۍ پوري اړه نه لري، بلکې د تجارو او فرمایش ورکوونکو کمپنیو وي، خو د تصدۍ دننه لیږدوونکي ترانسپورت د کار ځای او فابریکې مال او وسایل بلل کیږي.

**ګودامونه**

په یوه تصدۍ او کارځای کې ګودام ځکه ارزښت لري چې هلته یا خام توکي، یا هم کار تمام توکي یا هم انرژیکي او ګُمکي توکي لکه د ګازو ډبلې، البسه، د کار موزې او احتیاطي وسایل ساتل کیږي. دغه ډول وسایل بیه لري او د خرابیدو امکان یې شته نو ځکه ګودامونه اقتصادي بحث کې شامل دي.



د نننۍ صنعت او کار ځای یوه ځانګړتیا دا ده چې د تصدۍ په وربوی او انګړ کې خامخا یوه برخه د ګودام لپاره په پام کې نیول کیږي. د ګودامونو په برخه کې باید لاندني ټکي په پام کې ونیول شي:

۱. د ګودام لازمه او د اړتیا په اندازه پراخوالی،

۲. د فرعي ګودامونو برابروالی او مناسبت له مرکزي ګودام سره،

۳. د ګودام واټن د تولید له محل څخه (له بیلابیلو برخو د ګودامونو ترمنځ فاصله).

## په کار ځايونو (تصديو) کې د کار توکي (محمول)

د کار محمول يا توکي هغه څه دي چې کار ورباندې ترسره کيږي. په ترکاڼۍ کې لرګي، په ودانيو کې تيږه او شګه او په بوټ جوړولو کې څرمن د کار توکي (محمول) دي. په توليدي تصدۍ کې له سوداګرۍ سره اجناس توپير لري. په سوداګريز شرکت کې اجناس پيرودل کيږي او د بڼې له بدلون څخه پرته بيرته د ګټې په موخه پلورل کيږي، خو په صنعتي کار ځاي کې د اجناسو او توکو پيرودل يوازې د بيرته پلورلو په موخه نه وي، بلکې موخه ورڅخه د هغو د بڼې او کيفيت بدلون (پروسس کول) وي، چې وروسته د بڼې له بدلون څخه مستهلکينو ته عرضه کيږي. دغه اجناس بيه لري او په هغو باندې لګښت شوی وي، نو ځکه په اقتصاد کې مهم بلل کيږي. د کار په محمول يا د کار توکو کې ټول هغه خام او نيم کاره توکي راځي چې په تصدۍ، فابريکه يا ماشين کې له څو يا يوې پروسې څخه تيريږي، نو ځکه د هغو په ارزښت او ماهيت کې بدلون راځي. د کار تر څنګ د توليد عمليه هم مهمه ده. د توليد د عمليې په ترڅ کې خام او نيم کاره توکي د ماشين او ابزارو په مرسته او د کارګر په مهارت سره په توليد شوي جنس بدليږي، نو ځکه د کار توکي يا محمول هم په صنعت کې يو عامل شميرل کيږي. د توليد په بهير کې مونتاژ، تړل او انستاليشن هم د کار يوه پروسه او يو عامل دی. د بيلګې په توګه د توليد شويو پرزو سره تړل (بسته کاري). ځينې وخت بسته کاري او انستاليشن په پلورنځيو کې او ځينې وخت وروسته تر پيرودلو ترسره کيږي. د بيلګې په توګه اوس ډيرې دروازې او کړکۍ په ځانګړو صندوقونو کې پيرودل کيږي چې دفترونو ته تر ليږدولو وروسته په دفتر کې دننه تړل کيږي. په دغه پړاو کې رنګ، سريښ او يو شمير پيچونه د ګمکي وسايلو په توګه له توليد شوي محصول سره يو ځاي وي. بايد هيره نشي چې ځينې تصدۍ د اصلي توليد ترڅنګ له ګمکي وسايلو پرته يو شمير نور اضافي ضمايم هم توليدوي او له اصلي توليد شوي محصول سره يو ځاي وي لکه د تړلو پړی، بارجامه، کريټ او ترپال او داسې نور.

### ۷.پانګه د توليد دعامل

پانګه يا سرمايه په صنعت کې د توليد يو بل عامل دی، له دې څخه مقصد هغه شتمني ده، چې د نور عايد د پيدا کولو په غرض استعمالېداى شي. پانګه دوه ډوله ده: نقدي جنس (پيسې) او سرمايوي جنس. مثلاً ماشين الات، کمپيوټر، دکار ابزار او وسايل او داسې نور

. نقدی پانګه (پیسې) ډیره معموله او ټول یې پیژني، خو دوهم ډول پانګې ته سرمایوی اجناس وایي، دا ځکه چې د صنعتګر نغدې پیسې ندی، خو د تولید پروسه کی ګټه ورترلاسه کوی. د افغانستان د احصائیې اداري پانګیزی شتمنۍ ته لاندې خصوصیات ښودلی دي:

- هغه دوام لرونکی وسایل او ملکیتونه چې عمر یې له یو کال څخه زیات وی،
- له دغو وسایلو څخه په تولید او د عاید په رامنځته کولو کې کار واخیستل شی،
- د هغه ارزښت له ۳۰۰ ډالرو (۱۶۰۰۰ افغانیو) څخه زیات وی،
- هغه ودانۍ چې د هغو د استفادې دوره اوږده شوې وي،
- د لرګیو او نورو ارزښت لرونکو موادو د تولید په موخه د ځمکې جوړول.

د پورته خصوصیاتو په پام کې نیولو سره ویل کیدای شی چې د صنعت لپاره د نغده پانګې ترڅنګ سرمایوی اجناس هم مهم دی، ددې معنا داده چې دواړه صنعت ته ضروری دی.

د سرمایې لفظ د اجناسو د پیداکولو هغو ټولو وسیلو ته ویل کیږی، چې په خپله انسان یې جوړوي، ترڅو د اجناسو د پیداکولو فعالیت د اینده لپاره جاري وساتل شي. په دې توګه سرمایه د انسان په واسطه هغه ایجاد شوی شتمني ده چې د نورې ګټې او اضافی شتمنی د ترلاسه کولو لپاره په کار لویږی(سرمایګذاری کیږي).

د اقتصاد له نظره پانګه د ثروت هغه برخه ده چې د نور ثروت دلاسته راوړلو لپاره په کار اچول کیږي . Capital is that wealth which yields an income or aids the production of further wealth.

دیادولو وړه ده چې پانګه په په سیده توګه اړتیاوی نه پوره کوی، بلکی د احتیاجاتو د ارضا په خاطر د نورو نویو شیانو او خدماتو د رامنځته کیدلو سبب ګرځي .



*ماشین د پانګیز جنس په توګه*

آدام سمیت ډیر کلونه پخوا ویلی و : پانګه دیو انسان دثروت هغه برخه ده چې له هغې څخه نور اضافي عوايد ترلاسه کولی شي . له دې امله چې پانګه د ټول اقتصاد او ملی اقتصاد یو عمومی بحث دی ، په صنعتی اقتصاد کی د پانګونې له تیوری سره سم پانګونه کیږی.
په تصدیو کې د ملکیت له پلوه دوه ډوله نغده سرمایه لیدل کیږي:

الف) خپله نغده پانګه: دا هغه نغده پیسې دي، چې په تصدۍ کې د تولید د پروسې د پرمخ بیولو لپاره په خپله د مالک یا له هغه سره د نورو شریکانو له خوا په کار لوېږي.
ب) د نورو نغده پانګه: دا هغه نغده پیسې دي، چې د تصدۍ له مالک او شریکانو څخه پرته نور (ثالث) اشخاص یې په تصدۍ کې د تولید لپاره په کار اچوي. مثلاً یو شمېر بانکونه حاضر دي، چې په صنعت کې پانګونه وکړي یا یو شمېر پور ورکوونکي د ټاکلې مودې لپاره صنعتي تصدۍ ته نغده پیسې په پور ورکوي.په افغانستان کې پخوا کلونو ملي بانک په ګڼ شمېر صنعتي تصدیو کې پانګه درلوده او یوه شریک په توګه یې عمل کاوه. له دواړو ډوله پانګونې څخه موخه داده چې پولي وسایل د خامو توکو پروسس کې په کار لوېږي دغه کار په لویدلي پورې دارایي د حسابونو په اکتیف لورې کې لیکل کیږي.
په صنعت کې اقتصادي پانګونه د اجناسو او د خدماتو په عرضه کې په سیده نا سیده توګه د پولي دارایي په کار اچول او په اجناسو او خدماتو د دغې ډول دارایي بدلول دي.

څومره چې پانګونه ښه او اوچت ملي عايد ولري هومره اغېزمنه بلل کېږي، دې ته د پانګونې مؤثريت ويل کېږي چې په لاندې توګه سنجول کېږي.

د پانګونې مؤثريت = د ملي عايد د ودې / پانګونه

د تصدی تمويل په لاندې شکل کې ښودلی شو:




لکه چې شکل کې ښکاري د زياترو پرمختيايي هېوادو يو شمېر صنعتي کارځايونه له بهرنۍ پانګې څخه تمويل کېږي، يعنې د دوی د خپلو تصديو (فابريکو له توليدي فروشاتو او د خپلو خرڅلاونو له دوران څخه نه دي تمويل شوي، خو وروسته ترڅه مودې فابريکه په خپلو پښو درېږي او خپله ځان تمويلای شي.

درې ډوله سرمايه ګذاري (پانګونه) موجوده ده:

- ✓ لومړۍ پانګونه (ابتدايي پانګونه): هغه پانګه چې د لومړي ځل لپاره ورباندې يوه فابريکه صفر څخه جوړېږي او فابريکه ورباندې خپل کارپيل کوي دې ته تجهيزاتي پانګونه هم وايي.
- ✓ نوې پانګونه: هغه پانګه چې يو ځل په فابريکه باندې پيسې ولګول شي، ماشينونه نوي شي، فابريکه کې پراختيا راوستل شي او داسې نور مثالونه دې ته توسعوي پانګه هم وايي چې د فابريکې توليدي ظرفيت ورباندې لوړېږي.

- ✓ جبراني يا مکرره (تعويضي) پانګه اچونه: دا هغه ډول پانګه اچونه ده چې د زړو يا ماتو شويو پرزو او وسايلو د نوي کولو لپاره کېږي، دغه پانګونه د کلونو په ترڅ کې د تکنالوژۍ د نوي کېدو په اثر رامنځته کېږي.

په صنعتي پانګه اچونه کې دا مهمه ده چې د پانګونې مصارف او د هغې له امله ترلاسه شوي يا ترلاسه کېدونکي محصولات (توليدات) مقايسه شي، يعنې د مصرف په پرتله بايد حاصل نسبت لوړ وي، کله چې دغه نسبت تر يوه څخه زيات وي هو مره يې ارزښت او چت وي. يعني:

$$\text{د پانګونې ګټورتوب} = \frac{\text{د پانګونې حاصل}}{\text{د پانګونې لګښت}}$$

په اوسني وخت کې په صنعت کې پانګونه د پرمختګ کليدي ټکی دی، ښه او آپتيمال پانګونه د اقتصادي ودې ضمانت کوونکې ده او معنا يې د بشري ځواک په کار اچول او د منابعو او خامو توکو تر کار لاندې راوستل دي

**VI.مديريت**

اداره د توليد يوبل عامل دی .سازماندهي اوتشبث ( Organization and Entrepreneurship) هم ورته ويلای شو. په صنعت کې متشبث له خپل ذهنی استعداد او پوهې څخه کار اخلی. مديريت او اداره کول يو مهارت دی چی کسبی خصوصيت لری، چې د زده کړې(تحصيل)، مطالعی او تجربی په نتيجه کی ترلاسه کيږی.څرنګه چې دتوليد نورعوامل په جداګانه ډول فعاليت نشي کولی او همدا راز دتوليد دعمليې دښه پرمخ بيولو لپاره دتوليد دعواملو مناسب ترکيب ته ضرورت ليدل کيږي ، نوپورته ذکر شوي عوامل يانې ځمکه، کار،ماشين، ودانۍ او سرمايه د متشبث (مدير)په واسطه خپل مينځ کې سره يوځای کيږي. په بله وينا : دنورو پنځو عواملو دترکيب او سازماندهی لپاره د يو بل عامل ضرورت دی چې دتوليد دعواملو مناسب مقدار په ټاکلي وخت اماده او دتوليد دعمليي سره يې يوځای کړي، چې دغې عمليي ته تنظيم يا ادراه ويل کيږي اونومړي شخص يا ادارې ته

تنظیموونکی عامل(منجر) ویل کېږي. یانې هغه څوک چې د ټول کاروبار تنظیم او سازماندهی سنبالوي، نور عوامل یوځای کوي او په کار یې اچوی، د هغوی معاوضه ادا کوي او د تولید شوو اجناسو د خرڅلاو څخه نفع یا ګټه حاصلوي، هغه د شروع څخه تر پایه پورې د کاروبار د کامیابولو مسئول(ذمه وار) وي.
په معاصر وخت کې د صنعت په ساحه کې اداره چې (منجر)یا ناظم مهم رول لوبولی دی، ځکه چې هغه کار شروع کوي، د کاروبار ټول پلان جوړوي، د بانک یا د نورو منابعو څخه قرض اخلي، مزدوران او کارکوونکي د صنعتی تصدی د اهدافو خواته رهبری او سوق کوی، د تجارتي حالاتو سیالی ارزوي، مارکیټ پیدا کوي او په کاروبار کې د لوړوالي او ټیټوالي د وجې نه د پیدا کېدونکې خسارې او ریسک مسئولیت په غاړه اخلی. همدې ته مدیر وایی.
په لنډ ډول ناظم یا متشبث داسې یو شخص ده چې دتولید دعواملو ترمنځ لازمه رابطه پیدا کوي او تصمیم نیسي چې کوم عامل په کومه اندازه او دکوم هدف لپاره په کاروا چول شي.
متشبث یا ناظم او یاهم مدیر (Entrepreneur) دنوروفعالیتونو ترڅنګ د اجناسو د خرڅلاو انتظام، اشتهارونه اود خامومو ادو تدارک، دمطلوبیت معلومول، فرمایشونه تر لاسه کول او داسې نور فعالیتونه ترسره کوي او د مستهلک د خوښی او غوښتنې مطابق اجناس تولیدوي. غرض دا چې ناظم خدمت ترسره کوي، هغې ته تنظیم یا ترتیب یا منجمنت کول وایي. له دې امله چی د تصدی مدیریت او اداره یو جلا علم دی، نو دلته یی له توضیح او تشریح څخه صرف نظر کوو، هیله ده محصلان مربوطه مضمون کی دادارې او مدیریت موضوعات زده کړي.

**تمرینات**

۱.کار تعریف کړئ او ووایئ چی منجر په صنعت کې څه رول لری؟
۲.دکار ویش څه ګټې لري؟
۳.په صنعت کې کمکي وسایل کوم دي ؟ او سرمایه یا پانګه تعریف کړئ.
۴.دکارځانګړتیاوې تشریح او ووایاست چې دوه پوړیزه ودانی څه ډول صنایعو ته مناسبې دي؟

۵.دکار د مولدیت فرمول ولیکئ او دا هم وو ایاست چې د کار ابزار څه ته وایي؟
۶.دصنعت لپاره څو ډوله ودانۍ شته؟
۷.دکار خوځښت څو ډوله دی؟
۸.ماشینونه په څو ډوله دی؟
۹.دځمکې په رابطه د ځای ټاکنې کې کوم ټکي مهم دي؟
۱۰.صنعتی پروسې کې اوبو ته ولې اړتیا ده؟

# خلورم څپرکی

## د صنعتي توليداتو پاليسي او پلان

### د صنعتي اقتصاد پاليسي( سياست) يعني څه ؟

هدف ته د رسیدلو په خاطر یوی پالیسی ( policy)ته اړتیا وی، نو د هیواد دصنعتی کولو او د اقتصاد ښه کولو ته هم ځانګړی سیاست یا پالیسی ته اړتیا لرو. پالیسی ټول هغه اقدامات ،لاری- چاری او تدابیر دی چی په هغو سره موږ خپل هدف ته رسیږو. د صنعتی اقتصاد د پالیسی یا سیاست د پوهیدو لپاره باید د صنعت او د هغه د پرمختیا په ټولو ځانګړتیاوو باندنی و پوهیږو، دا ځکه چی پرته له پوره پوهی او معلوماتو څخه موږ هیڅ ډول سم تصمیم نشو نیولای.

صنعتی اقتصادی پالیسی ټول هغه تدابیر دی چی په یوه ټاکلی سیمه کی د اقتصادی پیښنو، حوادثو او جریاناتو د ټاکلو او تر نفوذ لاندی راوستلو او تنظیم په خاطر ترلاس لاندی نیول کیږی. پورتنی تعریف یو بشپړ تعریف نه دی، ځینو نورو توضیحاتو ته هم اړتیا لری : د صنعتی اقتصاد پالیسی د صنعت د ودی او پرمختیا د هدف د تحقق په خاطر په یوه سیمه کی د ټولو صنعتی-اقتصادی جریاناتو تر اداری او کنترول لاندی راوستل او تنظیمول دی . صنعتی اقتصادی پالیسی په بیلابیلو سطوحو او بیلابیلو سیمه ییزو کچو طرح او عملی کیږی لکه د یو ولایت په کچه، د یو هیواد په کچه او آن د څو هیوادونو په کچه. صنعتی اقتصادی سیاست ته سکتوری سیاست هم ویل کیږی، دا ځکه چی د یوه سکتور لپاره طرح او عملی کیږی. په خپله د صنعتی سیاست( Industrial policy )په چوکاټ کی دننه نور تر دی زیات تقسیمات هم کیدای شی ، لکه : د خوراکی توکیو د تولید پالیسی، دفلزی عناصرو د ذوب اوقالب بندی پالیسی، د انرژی د منبع د استعمال پالیسی، د لاسی صنعت په هکله پالیسی او داسی نور. البته سکتوری اقتصادی پالیسی( د صنعت د اقتصاد سیاست)د اقتصادی عمومی سیاست یوه برخه ده چی د هغی مرام په یوه سیمه کی د عمومی اقتصاد د جریان مرکزی رهبری یا تنظیمول دی. دغه ډول سیاست غوره کول دولت او نورو مراجعو پوری اړه لری ، چی ځانګړی شرایط به تحلیلوی او بیا به ځانګړی پالسی غوره کوی. دا باید په یاد وساتل شی چی سکتوری ساحه کی یا په یوه کوچنی برخه کی پالیسی

جوړول هم څه آسانه نه ده، بلکې پوره پوهه غواړي. که چیرې اقتصادي سیاست د یوې صنعتي تصدي په رابطه مطالعه شي، نوویل کیدای شي چې د تصدي د اقتصاد مرام په یوه تصدي کې د اقتصادي عملیې د رهبرۍ څخه عبارت دی. باید وویل شي چې د یوې لویې اقتصادي تصدي او یا لوی اقتصادي شرکت رهبري د یوې جامعې او ټولنې یا حکومت له رهبري سره دومره تفاوت نه لري.

په مجموع کې کله چې په یوه ټاکلې اقتصادي رشته او ځانګه کې د قیمتونو د ټاکلو، د مزدونودتحلیل، د تولید دطرز، سرمایګذاري، مدیریت کولو او داسې نورو تصامیمو او تدابیرو په واسطه اقتصادي امور تر سره کیږي، نو دا یو سکتوري اقتصادي سیاست بلل کیږي. البته دولت او د تصدیو مالکان باید عامه رایې او د کارګرانو او ټولنې نظریات د پالیسیو په جوړولو اوعملي کولو کې په کلکه په پام کې ونیسي. په دیموکراتیکو ټولنو کې حکومت د ټولنې او د ټولو اتباعو نظر ته درناوی کوي او دهغوی خوښه او موافقه د سیاستونو او پالیسیو په انتخاب او تطبیق کې رعایتوي.

د تولید او خرڅلاو پلان د تصدیو د مدیریت یوه برخه ده. تصدۍ د مخکنیو فرمایشونو، د بازار د وضعیت او اجناسو ته د ضرورت له مخې پلانونه جوړ او تطبیقوي. په پلانونو کې د هر تولیدي شاپ دنده، د اجرا مسئولین او وخت ښودل کیږي. اوس ګڼ شمیر پرمختیایي هیوادونه د هندوستان، ایران، پاکستان او نورو په ګډون د خپلو ملي صنایعو د ودې لپاره د اوږدې مودې، د منځنۍ مودې (پنځه کلن) او کلنۍ (جاري) پلانونه تطبیق کوي. افغانستان هم د لومړنیو پنځه کلونو پلانو په ترڅ کې (له ۱۳۳۵ تر ۱۳۶۹) پورې او بیا د ملي او پرمختیایي ستراتیژي (ANDS) د طرح پر مهال د صنعت د ودې لپاره تدابیر په پام کې نیولي وو. د هیواد زیات شمیر صنعتي تصدۍ له ۱۳۴۰ څخه وروسته تر ۱۳۵۰ کال پورې تاسیس شوي دي، د شپیتمې لسیزې په ترڅ کې هم ځینې صنعتي تصدۍ تاسیس شوې، خو له اویایمې لسیزې وروسته کوم پرمختګ ونشو د اتیایمې لسیزې په ترڅ کې د خدماتو د سکتور په تیره بیا د مخابراتو، هوټلونو، یو شمیر هوايي چلند، خصوصي بانکونو، د لوړو زده کړو خصوصي موسساتو او نورو په برخه کې یو څه کار وشو، خو د تولیدي تصدیو په برخه کې د یادونې وړ بیلګې د ودانیزو شرکتونو، فلز کارۍ، چرګانو روزنې، طباعتي صنایعو او د غالیو اوبدلو د صنایعو یادونه کولای شو. البته د ANDS د تطبیق او اجرا کره

راپوراو ارقام نشته، خو ځینی معلومات یی دکتاب پهوروستۍ برخه کې جدولونواو ارقامو کی ښودل شوی دی.
د صنایعو په برخه کی پلانونه لاندی مسایل احتوا کوی:
۱. تر ټولو مهم ټکی دا دی چی باید د صنایعو تولیدات عمومی او مجموعی اړتیاوی پوره کړی او د صنعتی پلان تطبیق باید تقاضا ته قانع کوونکی ځواب ووایی.
۲. د صنعتی پلان بل هدف او منځپانګه ټکی د دوام لرونکی تخنیکی پرمختګ ډاډمن کول وی ترڅو د ټولنیز کار د مولدیت د ګړندی او دوام لرونکی زیاتوالی لامل شی.
۳.د صنایعو د پلانونو طرح کول په دی موخه هم وی چی نوی صنعتی څانګی ایجاد شی او د صنعت بیلابیلی برخی په پرمختللو ماشینونو او تولیدی میتودونو سمبال شی. د صنعت پلانونه د متوازن پرمختګ ضمانت کوی او له نورو سکتورونو ، خصوصاً کرنی سره اړیکی تامینوی. دغه ډول پلانونه باید د صنعت او زراعت د تولیدی کړیو ترمنځ همغږی او خپل منځي اړیکی ټینګی کړی.
په پورته توګه د صنعت لپاره د پالیسی او پلان د جوړونی موخه د اقتصاد عصری کول او صنعتی کول دي. دغه عصری کول او صنعتی کول پرته له پلان جوړونی څخه امکان نه لری.
پلانونه د راتلونکو تصامیمو لارښودونه دي، چې موږ خپلو ټاکلو مقاصدو ته رسوي.

## د یوې تصدۍ دتولیداتو پلان

صنعتی مراکز او فابریکې دخپلو تېرو کلونو د تولیداتو د حجم، د فروشاتو او په ټولنه کې د تقاضا له مخې د خپل تولید راتلونکي حجم سنجوي. دوی باید د کال په ترڅ کې او د یا هر موسم لپاره تولیدی پلان ولري. مثلاً د وړینو ټوکرانو ، ژمنیو بوټانو او موزو ، دستکشو او دغاړې دسمالونو او تودې خولۍ د ژمي لپاره په پلان کې شاملوي.
د ډبرو دسکرو تولید د مني په موسم کې په پام کې نیسي او د ترکتور ترمیمات یا د تریشر عرضه کول ممکن په پسرلي او د غنمو د درمند پر مهال زیات ولیدل شي.
په دې توګه د هر صنعت د تولید حجم او اندازه فرق کوي. که چیرې په یوه برخه کې اشتباه وشي، لازم تولید ونشي ، د اقتصاد نورې برخې متضرر او زیانمنې کیږي.

د پلان جوړونې په واسطه د ټول اقتصاد ضرورتونه رفع کیږي. د ښه پلان په ترڅ کې په ترڅ کې *د خامو موادو مقدار، تولیدي ظرفیت او د کار ځواک* په پام کې نیول کیږي. که تصدۍ ونشي کولای چې د تولید د مقدار او مستهلکینو د تقاضا ترمنځ تناسب په نظر کې ونیسي، نو بیا مجبوره ده چې یو شمیر نور مصارف لکه د ګودام کولو او نورو لري سیمو ته د لیږد مصارف په غاړه واخلي. تولیدي او خدماتي تصدۍ او فابریکې د رقابتي شرایطو په ترڅ کې لاندې اجزا په نظر کې نیسي:

لومړی ) د خپلو تولیدیاتو د کیفیت ښه کول

د دې منظور لپاره تصدۍ د کیفیت مدیریت QM، د کیفیت کنترول او د کیفیت تضمین Q.A دتولید پلان په پام کې نیسي.

دویم )د تولید د حجم د ودې دوامداره ساتل

تجاربو ښودلې ده چې صنعتي تولیداتو ته تقاضا وار په وار په زیاتوالي ده، نو باید د تولید اندازه د ودې په حال کې وي. د صنعت پلان جوړوونکي دغه عمومي مسیر ۰ ) سنجوي او په پام کې یې نیسي. صنعتي پلان جوړونه د یو هیواد د اقتصادي استقلالیت خواته تګ آسانه کوي.

دصنعتي تولیداتو په پلان جوړونه کې د پورتنیو ټکیو رعایت د هېواد کورنۍ صنایع پیاوړي او شهرت یې ښه کوي. د صنعتي تولیداتو یو خصوصیت دا دی چې زیاتره یې یو بل سره تړلي دي د بېلګې په توګه د ډبرو سکرو تولید انرژیکي منبع ده، چې د فابریکو د تودولو او نورو اړتیاوو لپاره ضروري مواد دي، ترانسپورت دغه انرژیکي ماده بېلا بېلو محلاتو ته رسوي، د هېواد دننه د انرژیکي توکو تامین موږ له بهر څخه د انرژیکي منابعو له واردولو او بهر ته له اړتیا څخه خلاص او په خپل ځان متکي کوي له بلې خوا د صنعتي پلان په ترڅ کې باید د صنایعو رشتوي ترکیب هیر نه شي، د نن ورځې ملي صنایع د بېلابېلو رشتو (څانګو) او تصدیو څخه جوړې دي، چې یو بل سره متقابلې اړیکې لري خو د دغې تړلتیا سره سره بیا هم هره رشته د خامو توکو، تخنیکي اساساتو، د کارکوونکو او تکنالوژیکي پروسې له مخې یو بل سره توپیر لري.

صنعتي رشته په دې ډول تعريف کېداى شي: يوه صنعتي رشته (څانګه) د هغو صنعتي تصديو يوه مجموعه ده چې توليدي او اقتصادي واحد اهداف لري، سره يو شانته يو بل ته نژدې متجانس او مشابه خام مواد، يو بل سره ورته تخنيکي اساسات او د کار د شرايطو له مخې مشابه کادرونه او کارګران ولري، زموږ په هېواد کې د پورتني تعريف سره سم صنعتي مهمې څانګې دا دي:

۱. د برېښنا د انرژۍ د توليد صنايع (نغلو، درونټه، سروبی، ماهيپر، کجکی، سلما او نور...)

۲. د ارتزاقي موادو صنعت (پخوا کلونو کې د کابل مرکزي سيلو)

۳. د منسوجاتو صنايع (د بګرامو نساجي، د ګلبهار نساجي، د ۳۴ شاخوا خصوصي نساجي ګانې)

۴. د وړې اوبدلو نساجي (د کندهار، د کمپلو او نورشيمي منسوجاتو لويه فابريکه له ۱۳۷۰ کال وروسته له منځه ولاړه)

۵. د بوټانو صنايع (لکه د آهو بوټان، وطن پلاستيک، افغان بوټ او نور...)

۶. طباعتي صنايع (چې اوس د پرمختګ په حال کې دي.

۷. د درمل جوړولو صنايع.

۸. پلاستيکي صنايع.

۹. د چينې جوړولو صنايع.

۱۰. د صابون جوړولو صنايع.

۱۱. د سمنټو د توليد صنايع (خصوصاً په بغلان کې)

۱۲. حجاري او بخاري.

۱۳. جن او پرس.

۱۴. د کارتن جوړولو صنايع.

۱۵. د ډېرو د سکرو صنعت.

۱۶. د طبيعي ګازو د استخراج صنعت (چې پخوا ورسره يوځاى کيمياوي سره هم توليدېدله)

۱۷. د مالګې استخراج صنعت.

۱۸. د بورې د تولید صنعت.
۱۹. د میوې د کنسرو صنایع.
۲۰. د پایپ، پلونو، کور جوړولو تصدۍ (خانه سازي کابل)
۲۱. د بخار دیګونو صنعت.
۲۲. د حیواني محصولاتو د پروسس صنعت.
۲۳. د شربتونو تولید او پروسس.
۲۴. د ممیزو او وچې میوې صنایع.
۲۵. د لاسي اوبدلو او خامک ګنډلو صنعت.
۲٦. د کیمیاوي موادو صنعت.
۲۷. د کانکریټي موادو صنعت.
۲۸. دقیر (اسفلت)صنایع.
۲۹. د فلزي تولیداتو او تخنیک صنعت.
۳۰. نور لاسي صنایع لکه غالۍ، ټغر اوبدل، لمڅې جوړول، پوزې، ټوکرۍ جوړول، خورجین جوړول، کلالي، تنور جوړول او داسې نور...

په پرمختللو صنعتي هېوادونو کې اوس د صنعت په سلګونو څانګې کارکوي او رازراز محصولات تولیدوي په ځینو رشتو کې فرعي څانګې رامنځته شوي دي، چې د تکنالوژیکي پرمختیا او د کارګرو مهارت په اوچتېدو سره یې د تولید حجم شه پراخه شوی دی، پرمختللو صنعتي هېوادو د ارزښت له مخې صنعتي تولیدي څانګې په لاندنیو ګروپونو ویشلي دي:

A ګروپ هغه صنایع دي چې په خپله تولیدي وسایل لکه ماشینونه، ترکتورونه، جنراتورونه او نور تولیدوي، دغه تولید شوي وسایل د نورو صنعتي توکو د پروسس لپاره په کار راځي.

B ګروپ هغه صنایع دي چې استهلاکي اجناس لکه جامې، بوټان، راډیو، تلویزیون، غذایي مواد، یخچال او داسې نور تولیدوي، دغه اجناس د ژوند ضروري اړتیاوې دي.

A او B ګروپ پسې دوه نورې رشتې دي، چې يوه استخراجي ده لکه د نفتو، ګازو، فلزاتو، تعمراتي او قيمتي ډبرو او نورو استخراج او بله يې د A او B ترمنځ ځانګه ده.

اوس د دغو رشتو ترمنځ ارتباط ډېر نژدې او پياوړی شوی او داسې ځانګې هم شته چې له نورو ځانګو سره يوځای شوي مثلاً د راډيو په جوړولو کې فلز پلاستيک او شيشه په کار راځي، دغه ډول ځانګو ته کمپلکسي ځانګې ويل کېږي، چې د صنعتي پلان جوړونې په چارو کې ورته د کار او توليد ونډه ورکول کېږي.

## د صنعتي کارکوونکو د چمتو کولو پلان جوړونه

په صنعت کې پلان جوړونه يواځې د توليد د حجم او اندازې او مارکېټ په برخه کې ارزښت نه لري، بلکې مهمه داده چې د صنعت د پرمخ بيولو لپاره بشري ځواک او مهارتونه هم په پلان کې شامل شي. دا ځکه چې يوه عالم ويلي: (ممکن په يو هېواد کې يوه فابريکه په دوو کلونو کې تاسيس او جوړه شي، خو د هغې د کارګرانو د روزنې لپاره له سلو کالو زيات وخت ته ضرورت دی.)

پورتنۍ خبره ډېره له معنا ډکه ده، د صنعت د ترقۍ لپاره بايد د خلکو په ذهن، فکر او استعداد باندې کار وشي، بله مهمه خبره داده چې د پلان په واسطه موږ د هرې رشتې د ضرورت وړ شمېر کارګران روزلی شو، که پلان ونه لرو ممکن يو شېر ځانکو کې له ضرورت زيات کسان تربيه شي، خو يو شمېر ځانګو ته به روزل شوي کسان ونه لرو. په دې توګه د هرې ځانګې لپاره د کارګرو د روزنې پلان جوړېږي. په پلان کې د سپکو صنايعو او ثقليه (درنو) صنايعو، د ښځينه کار او نارينه کار، د متخصص او فني کارګر او عادي کارګر د فزيکي کار او دماغي کار لپاره شمېر او وخت په پام کې نيول کېږي، دا ځکه چې دغه کټګورۍ بېلابېل خواص لري، نن ورځ او چت او عالي استعدادونه د صنعت د پلان او مديريت په ځانګه کې جذب او ورته د تحصيل زمينه برابرېږي، د کارکوونکو شمېر د مربوط صنعتي ځانګې له فنه سره ناسيده ارتباط لري. يعنې:

د کاګرانو شمېر= $\frac{\sum NQ}{t}$

N- د تولید نورم

Q- د تولیدي پلان له مخې د محصولاتو مقدار

t- د هر کارګر لپاره په ټاکلي وخت کې فنډ.

په پلان کې وخت ډېر مهم دی، یو بریالی پلان جوړونکی په فابریکو کې د کار شفتونه (د ورځې وروسته له وخته او د شپې) او ټایمونه ډېر ښه جوړولی شي، چې د وخت د صنایع کېدو او د ماشینونو د توقف مخه نیسي، دغه مسایل د جارې او کلنیو پلانونو په ترخ کې مهم دی.

البته په پلان کې د کارګرو د شمېر ترڅنګ دا هم مهمه ده، چې دایمي او غیر دایمي کارګران په پام کې ونیول شي. دایمي کارګران هغه دي چې فني دي او د کار او کارګر د قانون له مخې استخدام کېږي او بېلابېل حقوق لکه اصلي معاش (د معاش بېلابېل ډولونه لکه مزد او نور) تقاعد، بیمه، د ترانسپورت مصرف او نور ورته په پام کې نیول کېږي، خو دایمي کارګران صرف د کال په ټاکلو وختونو کې د کار د ډېر زیاتوالي پرمهال مؤقتاً استخدام او ټاکلې اجوره ورکول کېږي، د بېلګې په توګه د بغلان د قند فابریکې په د چغندرو (لبلبو) د حاصلاتو پر مهال ډېر کارګر استخدامول خو چې د لبلبو (چغندرو) حاصل به پای ته ورسید د بورې تولید به دایمي کارګرو پرمخ بیوه او غیر دایمي کارګرانو به په خپله مخه تلل، د ننګرهار د پروژې حاصلاتو (نارنج، کینو، زیتونو...) پرمهال به هم یو شمېر غیر دایمي کراګران استخدامېدل، خو د کال په نورو موسمونو کې به چارې دایمي کارګرانو پرمخ بیولې، د کانال پروژې او د بغلان د بورې فابریکې د کابل جنګلک فابریکې، افسوتر او کاماز، خانه سازي او تهیه مسکن، د جوزجان د نفتو ګازو، کابل سیلو او دې ورته فابریکو د تولید، استخدام، ترینګ او د کارونو د روزنې لپاره ځانګړي دقیق او کره پلانونه درلودل د صنعت د منځنۍ (پنځه کلنو) او اوږدې مودې پلانونو په ترخ کې د صنعت د لابډاینې او په صنعت کې د تکنالوژۍ

پرمختګ، کاري ورتیا او تولیدي حجم او چټېدو او نویو ځانګو د ایجاد لپاره لاندني اهداف په پام کې نیول کېږي.
۱. د ټاکلې مودې (پنځو کلونو، پنځلسو کلونو، اوولس کلونو...) په ترڅ کې د تولید میکاینزه او اتوماتیزه کول.
۲. د نویو محصولاتو او موادو د پیدا کولو او د نویو ماشینونو تولیدي طرز انکشاف.
۳. په صنعت کې د تحقیق او تجربې اساسي چارې.
۴. د خامو توکو د نویو منابعو تدارک.
۵. د چارو لا زیات تخصصي کول او د کارګري اتحادیو استحکام.
۶. د زړو ماشینونو او پخوانۍ تکنالوژۍ پرځای د نوي د تعویض کولو پلان او د هغې مهالویش ټاکنه. په دې توګه په صنعتي پلان کې د تولید د حجم، فروشاتو او کارګر او فنډونو ترڅنګ د تکنالوژۍ پرمختګ تعمیم او تعویض مهم رول لري.

## د مادي تخنیکي تدارکاتو او تمویل پلان

په صنعت کې د مادي تدارکاتو د چمتو کولو لپاره هم جارې د منځنۍ او اوږدې مودې پلانونه معمول دي، دغه پلانونه هم په ملي کچه، هم د ځانګو په کچه هم د اقتصادي ناحیو (صنعتي پارکونو) او هم تر هغه په ټیټه کچه (هره تصدۍ او هره فابریکه) کې جوړ او اجرا کېږي، البته په تصدیو او فابریکو کې زیاتره جارې (کلنۍ) شپږ میاشتنۍ، ربع وار او میاشتني پلانونه معمول دي، خو په ملي کچه زیاتره ورته پنځه کلن پلانونه جوړېږي.
د صنعت د نورو برخو د پلانونو په پرتله د مادي- تخنیکي تدارکاتو پلان، محاسبې او سنجشونو ته ډېره اړتیا لري. د مادي- تخنیکي پلانونه جوړول دوه مراحل (پړاوونه) لري:
په لومړي پړاو کې یوازې د اړتیا وړ توکي، ماشین الات او کار ځواک او د هغو لګښتونه سنجول کېږي او دا یوازې د یوه فرمایش او پروپوزل شکل لري، خو دویم پړاو کې د هرې تصدۍ فنډونه تفکیک کېږي، په دې کې د تصدیو لپاره د موادو

بېلانس، د محصولاتو ویش او پلورل شامل وي، په لاندې جدول کې د دې ډول پلان یوه بېلګه ګورو:

لومړی جدول: د یوه فرضي پلان بېلګه:

| ګڼه | مراجع | په یوه کال کې ټول فنډ | د ربع وار فنډ اندازه | | | | اجراات | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | I | II | III | IV | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |

**د صنایعو د ایجاد، تاسیس او ځای پرځای کولو په پلان کې مهم پرنسپونه**

د هېواد په ساحه کې صنعتي تاسیسات او د فابریکو منطقوي ایجاد د پلان جوړونې او رهبرۍ یو مهم ټکی دی.

په هېواد کې د صنایعو د پرمختیا د پلان په طرح کولو کې د اوسېدو سیمې، د کرنیزو ځمکو موقیعت، انرژیکي منابع، د خامو موادو په ارتباط نژدیوالي او ډېر نور ټکي سنجول کېږي. که دغه ټکي په ښه ډول په پام کې ونیول شي، نو د صنعت د پرمختګ او په نهایت کې د اقتصاد د ترقۍ لامل کېږي، د صنعتي محلاتو په ټاکنه کې د ترانسپورت مصرف او د چاپېریال ساتنې مسایل هم لومړیتوب لري. صنعتي پارکونه او کارځایونه د دولتي پلان له مخې صورت نیسي، دا ځکه چې دولتي پلان هراړخیزه وي او د علمي پرنسیپونو پر اساس ولاړ وي.

## د صنايعو د تاسيس د محل د غوره کولو عوامل

الف) خامو موادو ته نژدېوالی:

تر هرڅه مخکې بايد وواېو چې د محل ټاکل د ځمکې غوره کولو سره چې په درېيم ځپرکي کې ولوستل شول فرق لري، دلته د دې لپاره چې د خامو توکو د لېږد مصارف اقل حد ته راټيټ شي، نو بايد صنعتي فعاليت ځای د خامو توکو محل ته نژدې وي، مثلاً د ماهيپر او تنګي غارو سيمه کې د مرمر او د خامو دخام د تېږو د موجوديت له امله د مرمر او د خامو فابريکه د پلچرغي سيمه کې جوړه شوې وه (دغه فابريکه د تنظيمي جګړو پر مهال لوټ شوه)

د دغه ټکي ضرورت هم وخت لا زيات وي چې خام توکي ډېر درانه، خو محصول سپک وي. مثلاً له غنمو او درنو لرګيو څخه سپک ميزونه او چوکۍ جوړېږي نو تر فابريکې پورې د درنو لرګيو او غنمو ونو راوړل ډېر مصرف غواړي حال دا چې د چوکيو او ميزونو لېږدول هغومره مصرف نه تمامېږي. له کورنيو جګړو څخه مخکې په کونړ کې د بخاري او کاغذ جوړولو د فابريکو تاسيس د همدې دليل له مخې و، خصوصاً يو شمېر خام توکي ارزانه، خو له هغو څخه پروسس شوي توکي ګرانبيه وي، نو ځکه د صنعت د محل په ټاکنه کې خامو توکو ته نژديوالی مهم عامل دی.

ب) د کار ځواک ته په کتنې سره د صنايعو د محل تاسيس:

دغه فکتور دويم درجه اهميت لري، په تېره بيا هغه صنايع چې نسبتاً زياتو کارګرانو ته ضرورت لري. د هغو په تاسيس کې بايد دغه عامل په نظر کې ونيول شي، دا ځکه چې له لرې سيمو څخه هره ورځ د کارګرانو رالېږدول او بېرته وړل فابريکې ته ګران پرېوځي، يعنې د کارګرانو د مزد ترڅنګ د هغوی د کار ځواک عرضه هم بايد وسنجول شي.

ج) مالیاتو ته په کتنې سره د صنایعو د محل تاسیس:
دولت په بېلابېلو سیمو کې له کاروبارونو او ځمکې څخه په بېلابېلو اندازه مالیات اخلي، نو غوره به وي چې د صنعتي محل په ټاکنه کې هغه محل غوره شي چې تر ټولو ټیټه مالیه لري (البته دا درېیمه درجه ارزښت لري.)

د) د انرژۍ منبع ته په کتنې سره د صنایعو د محل ټاکنه
د برېښنا، د ډبرو سکرو، ګازو او نفتو منابعو ته نژدېوالی یو بل هغه عامل دی چې د صنعتي مراکزو ټاکنه کې رول لري، د جوزجان د نفتو ګازو د فابریکو جوړول، ځکه په جوزجان کې وټاکل شوې چې هلته د ګازو ذخایر وو، په ټوله نړۍ کې، براعظمونو او هېوادونو کې هم دغه اصول په پام کې نیول کېږي.

ه) د لویو لارو او ترانسپورتي اسانتیاوو له مخې د صنعتي محل ټاکنه
صنعتي فعالیتونه د ترانسپورت، سرکونو او لویو لارو ته ضرورت لري، نو ځکه باید دغه عامل په اقتصادي توګه وسنجول شي.

و) د خرڅلاو بازار ته په کتنې سره د صنعتي مراکزو ټاکنه
د صنعتي تولیداتو د عمده او پرچون مارکېټ په پام کې نیول هم هغه عامل دی چې د صنعتي پلان جوړونې پرمهال باید په نظر کې ونیول شي، په تېره د خوراکي توکو صنایع باید مارکېټ ته نژدې وي، دا ځکه چې دغه توکي دوامداره او تل عرضه کېږي او اړتیا هم ورته زیاته او دوامداره وي، له بلې خوا له مارکېټ څخه د هغو لرېوالی د اوږدو لارو په صورت کې د هغه کیفیت ته زیان رسوي او د خرڅلاو بیه یې هم لوړه وي او دغه عامل د خلکو د ژوند په کچه منفي تاثیر کړي.

**پوښتنې**

۱. صنعتي اقتصادي پالیسي تعریف کړئ؟
۲. د صنایعو په برخه کې پلانونه کوم درې مهم مسایل احتوا کوي؟
۳. د یوه ښه پلان په ترڅ کې کوم درې ټکي په پام کې نیول کېږي.
۴. د یو څه مهمو صنعتي څانګو نومونه واخلئ چې تاسو لیدلي وي.
۵. A او B ګروپ صنایع ولیکئ.
٦. د صنعت د کادرونو پلان یعنې څه؟
۷. د منځنۍ مودې پلانونه کوم دي؟
۸. د صنعت اتوماتیزه کول یعنې څه؟
۹. د صنعت پالیسۍ ولې سکتورې انتقادي سیاست بلل کېږي؟
۱۰. دایمي او غیر دایمي کارګران څه توپیر لري؟

# پینځم څپرکی

## په صنعت کې مُزد

مُزد (wage )هغه عوض دی چې د کار په وړاندې ورکول کیږي، چې معادل یې اجوره او حق الزحمه ده. په بله وینا :

مُزد هغه ورکړې (پرداختونه) دي چې کارکوونکو ته د دوی د ترسره شویو خدماتو په وړاندې ورکول کیږی. مزد ته (Fee) هم ویل کیږی او دا هغه نغدې پیسې یا کومه بله غیر نغدي ګټورتیا ده چې د کار د ترسره کولو په وړاندې کارګر ته ورکول کیږي، د دې ډول مُزد ورکړه د یو شمیر میعیارونو له مخې وې لکه: د وخت له مخې مزد او د کار یا فعالیت د اندازې له مخې مزد.

د وخت مُزد هغه دی چې کارګر یا کارکوونکی ته د کار د ساعتونو د شمېر له مخې ورکول کیږي، خو دغه ساعتونه نه یوازې هغه ساعتونه دي چې رینښتیا هم په هغو کې کار او فعالیت شوی وی او کارګر په دنده بوخت وي، بلکې ټوله هغه موده او وخت را اخلي چې کارګر د فعالیت په ساحه یا کار ځای (فابریکه، کان، کرونده او نورو) کې حاضر وي، یا هم د کار فرما تر امر لاندې وي. دغه اصطلاح لومړی د کانونو د کارګرانو په هکله په کار تله، هغه مهال د کان خوله (کار ته د ننوتو دروازه) د کار پیل ځای و، خو د فابریکو ساحه او ودانۍ او نور ځایونه چې تړلې ساحه نه وه، د کار فرما امر لاندې راتلل پکې ټاکل کېدای نشول. په داسې حالاتو کې که کارګر ته امر وشي چې خپل سند ښکاره کړي، همدا یې د کار پیل ګڼل کیږي او د استخدام نېټه یې د سند او تصدیق د اخیستو له ورځې حسابیږي او د هرې ورځې مثلاً له اتو بجو تر څلورو د ده د کار وخت محاسبه کیږي.

د کار مُزد: دا د فعالیت له مخې مزد دی چې د تولید شویو اجناسو د واحداتو له مخې محاسبه کیږي. یعنې په دی ډول مزد کې د ترلاسه شوی یا تولید شوی محصول کیفیت او کمیت ته کتل کیږي او مُزد یې ورکول کیږي. د کار مزد په محاسبه کې د کارګر د ورځې مزد د تولید (محصول) هغه اندازه ده چې د هر واحد لپاره ټاکل شوی او د تولید شویو واحداتو په شمېر کې ضرب کیږي. د بیلګې په توګه: د یوه جوړه بوټانو لپاره ۲۰۰ افغانۍ مزد ټاکل شوی، که یو کارګر درې جوړې بوټان جوړ کړي، نو هغه ته ۶۰۰ افغانۍ مزد ورکول کیږي. د کار مُزد د وخت د مزد په پرتله سرچپه اغېزه لري، دا ځکه چې د کارګر ګټه د هر واحد له مخې ټاکل کیږي،

خو د وخت په مزد کې د ساعتونو له مخې ټاکل کیږي، نو که څومره چې د کار لپاره وخت لګول کیږي، هومره د یوه ساعت عواید زیاتیږي. د کار پایله په خپله د کارګر کار و زیار پورې اړه لري چې ستوماني او د کار ستونزې کارګر ته متوجه دي دا ځکه چې د کار مزد کې د وخت د مزد برخلاف، د مزد ورکړه تولیدي واحدونه دي (د وخت مزد کې ساعتونه دي) تجربې ښودلې ده چې د في واحد مزد پایله د وخت د مزد په پرتله ښه ده، دا ځکه چې کارګر غواړي چې لږ وخت کې زیات کار او ګټه وکړي. دغه ډول مزد پیژندنې ته د مزد سیستم ( Wage systems ) ویل کیږی
اوس په تصدیو او کارځایونو کې د مُزد بېلابېلې بڼې او طرزونه شته لکه د وخت له مخې، د تولید د یو واحد له مخې جایزه او نور. کوم طرز او سیستم چې د پام وړ وي، هغه ته د مزد اړوند سیستمونه( Wage systems ) ویل کېږي.
دمُزد حدود د یوه معقول لیمیت په حدودو کې وی، چی له هغه زیات کارفرما ته او له هغه څخه کم کارګرته د منلو وړ نه وی. دغو حدودو ته ( دمزد مقیاس یا دمزد اندازه Wage scale ) وایي. په صنعت کې د مزد اندازه داسې راپیژندل شوی ده:
په یوه کار ځای، ټولنه یا هېواد کې په یوه ټاکلي وخت کې د مزدونو څرنګوالی چې د هغه له مخې ټولنیز عدالت ، د ژوند کچه او نور مسایل تحلیل کېدای شي هغه ته د مزد اندازه ویل کیږي.
دپورته توضیحاتو په رڼا کی وایو چې: په صنعت کی د صنعتی کارځای د کارګرانو او نورو کارکوونکو د کار او زیار په وړاندی ورکړه مزد بلل کیږی. په صنعت کی کارکوونکی د خپل جسمی او دماغی فعالیت په وړاندی مُزد ترلاسه کوی. په صنعتی تصدی کی مزد په سیده توګه د کار ډول، ثقلت او خصوصیت پورې اړه لری. د کار دښه مثمریت لپاره مزدونه د فعالیت له مخی ورکول کیږی، یعنی د مزد د اندازی لپاره معیارونه موجود دی. د دغو معیارونو او پرنسیبونو له مخی د کراګرانو مزدونه په بیلابیلو کتګوریو ویشل کیږی چی په هغو کی د کارګر لیاقت، تجربه، په کار کی د بوختوالی وخت، د کار دروندوالی او پیچلتیا په پام کی نیول کیږی. څومره چی کاردروند او پیچلی وی، هومره زیات توان او قدرت ته اړتیا لری. ځینی کارونه د اختصاصی زده کړو، روزنی او اوچت استعداد غوښتنه کوی چی په دی ډول کار کی د فعالیت ارزښت لا اوچت وی، یعنی د مزد اندازه لوړه ټاکل کیږی. د کار پیچلتیا

او دروندوالي او د فعاليت کچه د يوه ټاکلي انډول په لرلو يو بل سره اړيکي لري. د کار د دروندوالي درجه يوائې جسمي او روحي توانايي پوري اړه نه لري، بلکي د چاپيريال، غږ (لوړ غږ)، ګرد او دوړو، لوګي، تودوخي او نورو پوري هم تړلي دي. د کارګرانو د کټګوريو د بيلولو لپاره دوه معيارونه په پام کي نيول کيږي:

الف) هغه جسمي او معنوي زيار او دقت چي د کار په ترسره کولو کي ورته اړتيا ده.

ب) د کار واقعي ثمره.

د کار پيچيلتيا او دروندوالي يو ضمني او نسبي معيار دی، خو اصلي معيار، د کار او فعاليت ثمر (توليد) دی. د تصديو د مالي مديرانو دنده دا ده چي د فعاليت جريان مطالعه کړي، د فعاليت دقت وګوري او بيا يي نتيجه هم وڅيړي. د همدغو دريو ارزونو په پايله کي مزد تثبيت کيدای شي. د کارګرانو په ارزونه کي د دوی د تحصيل درجه، تجربه، علاقمندي او احساس او په خپلواک ډول د دوی د کنترول د ځواک کتنه هم ضروري ده. دغه ټول صفتونه سره يو ځای کيږي او د يوی بريالي تصدي په شهرت او د هغي د توليد په کيفيت باندي اغيزه لري. د کارګر جسمي وړتيا او ځيني استعدادونه لکه د جسمي قوت ښه په کار اچول، زړورتوب، د توافق کولو توانايي، د کار د ستونزو او دروندوالي په وړاندي مقاومت، د روحي او عصبي فشار په وړاندي ټينګوالی، د مسئوليت پيژندنه، لږ ضايعات لرل، د ماشين ښه ساتنه او يو شمير نور هم د کارګر غوره صفتونه بلل کيږي.

د مزد ډولونه

د مزد ورکړه په دريو ډولونو ده:

الف) د وخت له مخي مُزد،

ب) د اکورد (توافق) له مخي مُزد (د يو واحد توليد په سر مُزد)،

ج) جايزه مُزد.

الف) د وخت له مخي مُزد: په دغه ډول مُزد کي په کار باندي د کارګر حاضروالی په پام کي نيول کيږي چي واحد يا معياريي ساعت وي. د ساعتونو له شمير سره په انډول کي مزدونه د بدلون په حال کي وي، خو د بدلون سره سره د کارګر د فعاليت او د مزد د اندازی ترمنځ کلکه رابطه موجوده وي. د هر ټاکلي فعاليت لپاره د وخت ټاکلي مزد په پام کي نيول کيږي، خو که چيری د توليد په اندازه کي د کارګر چټکوالی کومه اغيزه ونه لري، بلکي چټکوالی په ماشين

پوری اړه ولري، نو په دې حالت کې د وخت معیار په پام کې نه نیول کېږي. یعنی د وخت مزد صرف د صنایعو په هغو ځانګو کې مروج دی چې د کارګر چټکوالی پکې ارزښت ولري.
په هغه صورت کې چې د تولید اندازه او د کار سرعت او چټکوالی په ماشین پوری اړه ولري، د فعالیت او مزد ترمنځ صرف یوه ثابته رابطه ساتل کېږي. له دې امله چې په دغه ډول مزد ټاکنه کې د مزد اندازه د فعالیت له مخې نه وي، بلکې د ساعتونو د شمیر یا د وخت له مخې وي، نو ځکه د فعالیت له معیار سره مطابقت نه کوي د فعالیت په معیار کې د کارګر فعالوالی په پام کې وي، خو د وخت په معیار کې صرف د ساعتونو شمیر په پام کې وي. د دغه سیستم استعمال یوائې په هغو ځایونو کې وي چې هلته د فعالیت له مخې د مزد ورکول اقتصادي نه وي. د بېلګې په توګه په هغو حالاتو کې چې دقت، احتیاط، صداقت او نوښت د کار د چټکوالي په پرتله لړ ارزښت ولري. همدارنګه په هغو ځایونو کې چې هلته د فعالیت ثمر او د تولید اندازه د اندازه کولو وړ نه وي او یا هم د هغو اندازه کول ډېر لګښت ولري، نو هلته د مزد ورکړه د وخت له مخې مناسبه بلل کېږي. په هغو صنعتي ځانګو کې چې هلته کارونه، د تولیدي اجناسو ډول او نور مسایل یو بل سره توپیر لري او یا هم هغو ځانګو کې چې د کار برخې یو بل څخه جلا وي او په کار ځنډ او وقفه موجوده وي، نو هلته مزد د وخت له مخې محاسبه کېږي لکه کمکي چارې (ترانسپورتي چارې، بارول او تشول، ترمیم، ګودام کول او نور). له دې پرته د مزد وخت هغو چارو کې مناسب دی چې د کار په چټکتیا سره د کارګر روغتیا او جسم ته زیان پېښېدونکی وي، نو دلته ضروري ده چې وخت یعنې د کار د ساعتونو شمیر ته ارزښت ورکړل شي.
ب) اکورد مُزد
له (accord) یعنې توافق شوي څخه اخیستل شوی اصطلاح ده او دا هغه وخت محاسبه کېږي چې د ساعتونو شمیر په پام کې نه وي، بلکې د هر تولیدي واحد په مقابل کې له ترسره شوي توافق سره سم محاسبه شي. داسې ویل کېږي چې دا ډول مزد د کار او فعالیت په مقابل کې د کار مطابق په عادلانه توګه ورکول کېږي، حال دا چې په دې مزد کې هم د متصدي له نظره د ده ګټه مهمه ده. متصدیان ځکه دې مزد ته زړه ښه کوي په کار کې اغیزمنتوب رامنځته شي، لګښتونه اقل حد ته ورسېږي او په هر تولید شوي واحد کې مفاد زیات او اعظمي حد ته ورسېږي. د کارګرو اتحادیې او کارفرمایان ټول په یووالي سره د فی ساعت له معیار سره سم

د هر ساعت له مخې مزد باندې اتفاق کوي، خو بیا هم په دې کې توپیر شته. توپیر ځکه پیدا کیږي چې کارونه او تولیدي ساحات د کار د ثقلت له پلوه سره توپیر لري، یعني ځیني کارونه آسانه، خو ځیني نور ستونزمن وي، یعني د کار په ارزولو کې یو شمیر تاثیر لرونکي عوامل لکه ډیره ستومانۍ، لوړ غږ، لوګی، تخنیکي خطرونه او نور په پام کې نیول کیږي. فی واحد توافق شوی (accord) مزد په خپل وار په دوو ډولونو ویشل کیږي:

الف) د وخت له مخې اکورد،

ب) د پیسو له مخې اکورد.

د وخت په اکورد کې، د یوه ټاکلي کار په ترسره کولو کې یو ټاکلي وخت د پام وړ وي. که چیرې کار له دغه ټاکلي وخت څخه ژر بشپړ شي، نو د کارګر د هر ساعت عاید لوړیږي. په دې صورت کې د قیقه د مزد ټاکلو واحد وي (دا ځکه چې په دقیقي باندې یا د دقیقې د واحد په اساس د مزد محاسبه کول د ساعت په پرتله ښه په تفصیل سره کیدای شي). د پیسو په اکورد کې د یوه ټاکلي کار په ترسره کولو کې د یو واحد تولید په مقابل کې ټاکلي اندازه پیسې (مُزد) ورکول کیږي. د وخت د اکورد ښیګڼه دا ده چې د مزد په ټاکنه او ورکړه کې ټاکلي وخت له یوه پولي فکتور سره ضرب او بیا مجموعي مزد محاسبه او ورکول کیږي حال دا چې د پیسو په اکورد کې هر ځل له سره محاسبه کیږي.

د فی واحد (د وخت د اکورد مطابق) مزد ټاکنه کې د دې امکان شته چې د یو ساعت له مخې د عاید اندازه زیاته شي، خو په عین وخت کې د هر ساعت مقابل کې د عاید د کمیدو امکان هم شته. د بیلګې په توګه که چیرې کارګر د لازیات کارکولو اراده او توان ولري ډیر عاید ترلاسه کوي، که بعضې وخت لږ کار کوي، نو بیا یې عاید کم وي.

د فی واحد مزد له دوو برخو څخه جوړ دی:

۱. تضمین شوی حد اقل مُزد.

۲. اکورد اضافه مُزد (چې د اقل حد مُزد ۱۵ – ۲۰ فیصد جوړوي).

پورتني دوه برخې اصلي مزد جوړوي. دلته اصلي مزد د فعالیت له مخې د سنجش په پرتله د وخت له مخې په سنجش کولو سره ډیر وي. یعني د وخت له مخې سنجش د کارګر په ګټه دی. دا ځکه چې اکورد کارګر د وخت له مخې د مزد د ترلاسه کولو په موخه ډیره هڅه کوي چې ډیر

فعالیت وکړی. که چیری اصلی مزد په ۶۰ دقیقو باندی تقسیم کړو، نو د دقیقی فکتور minute factor ورڅخه ترلاسه کیږی.

مثال: که چیری اقل مزد ۲,۴۰ ډالره وی، نو د دغه مزد ٪۲۰ اکورد مزد ۰,۴۸ ډالره کیږی. د دواړو له مجموعی څخه اصلی مزد جوړیږی.

۲,۸۸ = ۰,۴۸ + ۲,۴۰

د دقیقی فکتور داسی سنجش او مطالعه کیږی:

$$\text{Minute factor} = \frac{\text{مزد اصلی}}{60\ min} = \frac{2{,}88}{60} = \$\ 0{,}048 \text{ or } 4{,}8 \text{ cent}$$

که چیری د یوه تولید یا یوه ځانګړی کار د تر سره کولو لپاره ټاکلی او تثبیت شوی وخت ۲۰ دقیقی وی، نو د دومره وخت مزد ۰,۹۶ ډالره کیږی یعنی

$$4{,}8 \times 20 = 96 \text{ cent}$$

او دا که په ډالر تبدیل کړو، لیکو:

$$\frac{96}{100}\$ = 0{,}96$$

که چیری په پورتنی وخت کی دري واحده تولید شی، نو د هغو مزد داسی سنجوو:

$$3 \times 0{,}96 = 2{,}889\ \$$$

که څلور واحده تولید شوی وی، نو داسی یی محاسبه کوو:

$$4 \times 0{,}96 = 3{,}84$$

۱. جدول

| | |
|---|---|
| اقل حد مزد ۲,۴۰ ډالره | د دقیقی فکتور = $\frac{\text{اصلی مزد}}{60}$<br>$\frac{2{,}88}{60} = 4{,}8$ یا $0{,}048$ |
| دلته د محاسبی له مخی د ۲,۴۰ ډالرو شل فیصده داسی محاسبه شوی دی<br>$20\%\ \text{Accord} = \frac{2{,}40 \times 20}{100} = 0{,}48$ | یعنی ۰,۰۴۸ په ډالرو باندی د بدلولو په خاطر د ۱۰۰ عدد سره ضرب شوی ورڅخه ۴,۸ سنته ترلاسه شول دا ځکه چی یو ډالر ۱۰۰ سنته کیږی. |

د یو واحد تولید (فی عدد) د مزد ښیګڼه دا ده چی کارګر زیات فعالیت ته هڅول کیږی. دا ځکه چی کارګر د خپل اضافی کار او فعالیت له امله نور هم اضافه مزد ترلاسه کوی. له دی امله چی په دی ډول سنجش کی د کار یا د فعالیت د پایلی (ثمر) له مخی ورکول کیږی، نو د فعالیتونو د کمیدو یا د کارګرانو د کار د اندازی د سستوالی کوم خطر پکی نشته او تصدی له دی پلوه کوم احتمالی زیان سره نه مخامخ کیږی، خو سره له دی ټولو بیا هم تصدی ډیره علاقه لری چی کارګر باید له نورمال حد څخه کم کار ونه کړی بلکه زیات هڅاند او فعال واوسی.

**تمرین**

که چیرې په یوه تصدۍ کې حد اقل مزد 5,25افغانۍ وي، نو تاسې د 15% اکورد اضافه مزد په پام کې نیولو سره لاندې برخو ته ځواب وواياست:

۱.د مزد ټوله مجموعه څو ده؟

۲.د دقیقې فکتور حل کړئ.

۳.د دوو واحدو کار اصلی مزد ؟

۴.د پنځو واحدو کار اصلی مزد سره له افغانۍ جایزه مزد؟

**حل:**

1. 5,25+0,787=6,037
2. 6,037/60=0,10 or 0,10*100=10
3. 0,10*20=2
4. 0,5*5+8,40=28

**ج) جایزه مُزد**

ځینی وخت د اصلی مزد تر څنګ د کارګر هڅونی او د تولید د زیاتولو په خاطر یو بل ډول مزد هم وی چی هغه ته جایزه مزد وایی. یعنی د کارګر د اضافی کار په مقابل کی د جایزی او بخشش په توګه ورکول کیږی. جایزه یوازی د تولید د کمیت د زیاتولو لپاره په پام کی نه نیول کیږی، بلکی د تولید د کیفیت ښه کول هم جایزه لری. دا د وخت له مزد څخه علاوه یو هڅوونکی پاداش دی. په دی کی لاندی ټکی هم په پام کی نیول کیږی:

- د بیځایه ضایعاتو او اضافی مصارفو څخه مخنیوی.

- له کارفرمایانو او نورو کارګرانو او د تصدۍ پرسونلو سره ښه چلند لرل او دوستانه اړیکی پالل.
- نظافت، نظم او د تولیدی پروسی په هکله ښه پوهه لرل د سپلین رعایتول او نور غوره صفات.

د جایزی مزد د تصدۍ لپاره یو ډول مصرف دی، خو په نهایت کی د مجموعی مصارفو د تقلیل او کمښت لامل کیږی. چی د صنعتی تصدۍ علم د مایکرو په بحث کی په مصرف کی د دغه ډول تنقیص سره علاقه لری.

که چیری داسی ویره او خطر موجود وی چی د زیات کار او فعالیت له امله ممکن له حده زیات فعالیت ترسره شی، د کارګر روغتیا ته زیان ورسیږی یا د ډیر ګړندی فعالیت له امله ماشینونو ته زیان واوړی، نو غوره به وی چی جایزه مزد فقط یوه ټاکلی برید پوری وساتل شی، تر څو کارګر له حد څخه زیات د کار د فعالیت ته اړ نشی.

## د صنایعو د کارګرانو او معاشاتو د پلانولو په هکله ځینی ټکي

د صنایعو د مزدونو او معاشاتو د ټاکنی او ورکړی د پلان په هکله لاندی موخی په پام کی وی:

۱. د هغو ټولو ارزښت لرونکو اشیاوو ټاکل (پیسی او غیر نقدی وسایل) چی د کار او فعالیت په وړاندی د تصدیو کارکوونکو ته ورکول کیږی.

۲. د کارګرانو د مهارت، کاری تجربی او نورو صفاتو په پام کی نیولو سره د دوی کتګوری کول او د تصدۍ د نورو کارکوونکو (اداری پرسونلو، محاسب، ډریور ...) د مزدونو او معاشونو ډیر ښه تناسب رعایتول او د کارونو د پیچلتیا او شرایطو تر منځ رابطه په پام کی نیول.

۳. د معاشونو په زیاتولو سره د کار په مولدیت کی د پرمختګ ترسترګو کیدل.

د پورتنیو دریو موضوعاتو په پام کی نیولو سره د معاشاتو او مزدونو منځنۍ اندازه فنډ په پلان کی په پام کی نیول کیږی.

د مزدونو او معاشاتو په پام کی نیول شوی فنډ ټول هغه پولی وسایل دی چی د اقتصادی تولید په محاسبه کولو او سنجش کی په پام کی وی او دغه پولی وسایل د کارګرانو او کارکوونکو بیلابیلو کتګوریو ته ورکول کیږی. کارګرانو او کارکوونکو ته ورکړی (پرداختونه payment) د کار د کمیت او کیفیت له مخی وی او په مالی پلان کی د ټاکلی مودی په ترڅ کی ورکول کیږی.

باید هیره نشی او څرګنده خبره ده چی د مزد او معاشاتو فنډ د تصدی تولیدی او غیر تولیدی دواړو کتګوریو کارکوونکو لپاره په مالی پلان کی شاملیږی.
د غیر دایمی کارکوونکو مزد او معاش: زیاتره وخت تصدی د لنډ وخت یا ډیر وخت لپاره غیر دایمی کارکوونکی استخداموی چی باید د هغوی مزد او معاش هم په مالی پلان کی شامل وی. د موقتی او وقفوی تولیداتو او غیر دایمی کارکوونکو ورکړی د دایمی مزدونو او معاشونو په فنډ کی نه شاملیږی، بلکی جلا فنډ کی په پام کی نیول کیږی.
په دی توګه د مزدونو او معاشونو فنډ د تصدی د یوه مالی پلان په توګه ترتیب کیږی چی بیلابیلی کتګوری لری.

## تمرینات

۱.مزد تعریف کړئ.
۲.د وخت له مخې مزد څه خصوصیت لری؟ او ولی ورته د وخت له مخې مزد وایی؟
۳.اکورډ مزد څه ډول سنجول کیږی؟
۴.جایزه مزد څه ګټې لري؟
۵.دصنایعو دکارګرانو او معاشاتو د پلانولو په هکله مهم ټکي کوم دي؟
۶.دفی واحد مزد له څو برخو جوړ دی او څه ډول محاسبه کیږی؟
۷.اکورډ په لغت کې څه معنا لری؟ دتصدی د معاشاتو پلان یعنې څه ؟
۸.دکارګرانو د کتګوریو په بیلولو کې معیارونه کوم دي؟
۹.دکارګر او کارفرما توپیر څه دی؟
۱۰.موږ ولی کار کوو ؟

## شپږم څپرکی

## په صنایعو کی د کار موثریت (اغیزمنتوب)

صنعت د کرنی د سکتور په پرتله یو بشپړ شوی او متکامل سکتور دی. په دغه سکتور کی تولنیز روابط پرمختللی او هرا ړخیزه دي او د وخت ارزښت، اړیکی هرا ړخیزی او د کار مهارت پکی لوړ دی. د کارکوونکو تشکیل پکی منظم، ټولنیز شعور پکی اوچت او د کارکوونکو روابط ډیر سره نژدی دی. په دی ډول شرایطو کی باید د تخنیک او جوړښت له پلوه د لګښتونو اقتصادی موثریت او د کار لګښتونه د اغیزمنتوب لوړ برید پوری ورسول شی. لکه د کرنی د سکتور په شان په صنعت کی هم د تولید هدف د هغو محصولاتو زیاتول دی. چی د خلکو اړتیاوی ورباندی پوره کیږی. د تولید په پروسه کی د لګښتونو له کمښت څخه موخه دا ده چی محصولات په اقتصادی بڼه ترلاسه شی. کله چی اجناس په اقتصادی بڼه ترلاسه شی، دی ته اقتصادی موثریت ویل کیږی. البته اقتصادی موثریت د ټولنیز کار په مولدیت کی راڅرګندیږی. یعنی مونږ په صنعت کی د ټولنیز کار موثریت ته ضرورت لرو. د ټولنیز کار د مولدیت اندازه د صنعتی ټولو تولیداتو د اقتصادی موثریت درجه ښکاره کوی. څومره چی د ټولنیز کار مولدیت اوچت وی او د تولیداتو لګښتونه کم وی، هومره د کار اقتصادی موثریت او د ټولنیزو هڅو اندازه اوچته وی. دلته په صنعت کی د کار په ټولنیز خصلت ډیر تاکید کیږی.

د ټولنیز کار د مولدیت لوړول د تولیداتو د اقتصادی موثریت لپاره یو معیار criteria شمیرل کیږی. په ډیرو هغو صنعتی ځانګو کی چی واحدالنوع تولیدات لری، هلته هڅه کیږی چی عین تکنالوژی او تخنیک څخه استفاده وشی، هغو صنعتی ځانګو کی چی مختلف النوع تولیدات لری، هلته هڅه کیږی چی تولید کی صرفه جویی وشی او د تکنالوژی او تخنیک طرز اقتصادی او لږ لګښت لرونکی وی. په دی توګه د کرنی د سکتور په پرتله په صنعت کی په بیلابیلو حالاتو کی د اقتصادی موثریت ټاکل او ترلاسه کول او د هغو میتودونه توپیر لری. د یوی ځانګی دننه د اقتصادی بچت کوونکو امکاناتو غوره کول او د بیلابیلو ځانګو ترمنځ د مساعدو او مطلوبو optimum فرصتونو ویشل یو بل سره نژدی اړیکی لری.د صنعتی ځانګو او صنعتی بیلابیلو تولیداتو ترمنځ د وسایلو د ویش او د مجدد تولید په خاطر د مساعد او مطلوب تناسب proportion د رامنځته کولو لپاره د مادی بیلانس (د

موادو په شکل) او ارزش ګذاری څخه کار اخیستل کیږی. په تیره بیا په بین الرشتوی صنعتونو کی هم مادی بیلانس (د موادو تناسب) او هم ارزشی بیلانس په کار ورل کیږی.
د صنعت د سکتور د اقتصادی موثریت سنجش او محاسبه کول او د پلان جوړونی خواته یی کلکه پاملرنه او له صنعت سره یو ځای د نورو اقتصادی سکتورونو پلانول د دی ډیر ښه امکان برابروی چی پانګونه ډیره ښه تنظیم شی او د تخنیکی، ساختمانی، کرنیزو، ټولنیزو او ټولو خدماتی چارو او پروژو ډیزاین ډیر ښه توازن ومومی. د ټولنیز کار د موثریت په سنجولو سره صرفه جویی، ټولنیزی هڅی او د نوی تخنیک پرمختیا ښه کیږی او پایله به یی داشی چی مطلق موثریت ته ورسیږو. مطلق موثریت په صنعت کی هغه حالت دی چی د تولیداتو (نتیجی) عمومی مقدار د لګښتونو په پرتله تر ټولو په اوچت حد کی وی، یعنی تر ټولو مساعد وریانتونه عملی شی. خو عملاً ځینی وخت د انکشافی او ټولنیزو ضمنی اهدافو په تحقق سره صورت ونیسی او موثریت هم د قناعت وړ ګرځیدای شی. نسبی موثریت هغه وخت د قناعت وړ دی چی چاپیریال ته ګواښ ټیټ حد کی او د تولید شویو اجناسو لپاره ټولنیزه اړتیا د تجارتی اړتیا په پرتله زیاته وی. یعنی د نسبی موثریت لپاره ممکن ټول وریانتونه مساعد نه وی، بلکی له دوو څخه زیات وریانتونه ورته په پام کی نیول شوی وی، یعنی اقلاً یو یا دوه وریانتونه تر نورو ښه مساعد وبلل شی. د مساعدو وریانتونو موندل، د نسبی اقتصادی موثریت سنجش او د هغو تطبیق د پلان پواسطه ممکن کیدای شی. په دی توګه د کار ټولنیز موثریت له اقتصادی موثریت سره نژدی رابطه لری. په مساعدو سیمو کی د تصدیو تمرکز، محل یابی او د صنعتی منطقو جوړول په پلان کی شامل موضوعات دی یعنی که د تصدیو د خامو موادو، ترانسپورت، د ماهرو کارګرو (مهارتونو) شتون ونه سنجول شی موفق صنعت نشی ایجادیدای. د صنعتی پلان جوړونی یو هدف باید د نفوسو اسکان هم وی. په دی توګه د صنعتی تصدیو تمرکز او محل یابی د ښارونو د انکشاف لامل کیږی.دصنعت او ماشین پرمختګ نه یوائې اقتصادی وضعیت ښه کړ او د انسان دهوساینې لامل شو، بلکې ژوند یې نوی او عصری کړ.
د اقتصادي سیستم عصری اونوی کول، نوی تکنالوژي دود کول، د مدیریت د طرز او دمهارتونو پیاوړي کول او دې ته ورته تدابیر د مُدرنیزه اوماشینی کېدو معنا لري. افغانستان یو ځل وروسته تر ۱۹۱۹ م . څخه دغه هڅې وکړي، چې په ترڅ کې یې فابریکې،

موټر، ریل ګاډی ، برېښنا ، د ښووني او روزنې عصري سیستم او نور سمونونه راوستل شول، خو له ۱۹۲۹ وروسته یې دوام ونه موند. بیا یې له ۱۳۳۵ل. (۱۹۵۳م.) وروسته د درېو پنځه کلنو پلانونو په ترڅ یو شمېر فابریکې ، سیلو ګانې، میکانېزه کرنیز فارمونه ، سوداګریزه حلقوي لاره، هوایي ډګرونه ( چې عمدتاً زیربنایي تاسیسات و ) پیل کړل او په بل ځل په شپېتمه لمریزه لسیزه کې دا هڅې وشوې لکه د برقي بسونو پروژه، د کوپراتیفي غورځنګ پیاوړتیا ، د تلویزیوني او راډیو یې شبکو پراختیا او داسې نور خو وروسته تر ۱۳۷۰ ل. (۱۹۹۰م. ) یې دوام ونه موند.

## دصنایعو د رامنځته کیدو او پراختیا مهم شرایط

د صنا یعو رامنځته کیدل او دهغو وده او پرمختیا په یو شمیر ټاکلو شرایطو او عواملو پوری تړلی ده، که چیری یوه سیمه دغه ډول مساعد شرایط ولری ، نو صنعت به یی وده وکړای شی. دغه عوامل او شرایط دادی :

۱.د خامو سرچینو او لومړنیو توکیو شتون : له نیکه مرغه زموږ ګران هیواد له دی پلوه ډیر داسې توکی لری چی صنعت ته ور باندی وده ورکولای شو لکه د مالداری محصولات، کرنیز خام توکي، کاني توکي، قیمتی عناصر، ګرانبیه فلزات، طبی بوټی او نور وګورئ لاندی صنعتی *نقشه. دهیواد صنایع او کانی توکی.*



۲.د انرژی تولیدوونکی توکی: نفت، گاز، دډبروسکاره، بریښنا، گاز او دروانو اوبو سیندونه هغه انرژیکی منابع دی چی زموږ هیواد یی پریمانه لری. دغه د سون توکی او دبریښنا د تولید لپاره کافی اندازه اوبه زموږ د صنعتی پرمختیا ډیر ښه ضمانت کوی. افغانستان د خپلو سیندونو له اوبو څخه ۲۲۰۰۰میگاواټه بریښنا تولیدولای شی، یوائې د کونړ سیند د ۱۰۰۰میگاواټه بریښنا د تولید ظرفیت لری. د افغانستان د گازو او د ډبرو د سکرو ذخایر نه یوائې د دې هیواد لپاره کافی دی، بلکې د صادرولو امکان یې هم لری.

۳. ښکاره خبره ده چی په یوه سیمه کی تولید شوی اجناس او محصولات باید مربوطه مارکیټونو اود تقاضا کوونکو محلاتو ته ولیږدول شی. په دی توگه د صنعت د پرا ختیا لپاره مواصلاتی کرښو ته اړتیا ده.

۴.ښکاره خبره ده چی هغه څه چی د صنعت په سکتور کی تولیدیږی، بازار ته د عرضه کیدو په خاطر وی. د مارکیت موجودیت د صنایعو د تشویق او هڅونی لامل کیږی.

## په ملي اقتصاد کی د بیلابیلو سکتورونو تر منځ اړیکې

ملي اقتصـاد د مختلفو اقتصـادي سـکتورونو د مجموعی څخه متشـکل دی چې یو بل سـره مسـتقیمې اړیکې لري د ملي اقتصــاد د پرمختـګ او پراختیـا لپـاره د ټولو اقتصــادي سـکتورونو د متوازن او هماهنګ انکشـاف ضروري کار دی. همدارنګه د دې سـکتورونو د هر یوه بېرته پاتېوالی د نورو سـکتورونو د ودې لپاره سـتونزې او موانع رامینځته کوي، د بیلګې په توګه د صنعت سکتور د کرنې سکتور ته تخنیکي وسیلې، زراعتي ماشیني الات، د افتونو ضد درمل، کیمیاوي سری او نور صنعتي مواد چې کرنه ورته ضرورت لري، چمتو کوي. همدارنګه د کرنې سکتور د صنعت د سکتور لپاره چې زراعتي محصولات پروسیس کوي، خام زراعتي مواد او د ټولو صـنعتي کارګرانو لپاره غذایي مواد او هم د صـنعت د انکشاف لپاره په ابتدایي مرحله کې سرمایه برابروي.




د صنعت د سکتور وده له یوې خوا د کرنې د سکتور د میکانیزه کولو لپاره شرایط او زمینه برابروي چې د کروندګرو فزیکي او سختو کارونو ته سرعت او سهولت ورکوي او له بلې خوا د کروندګر د کار د مولدیت او د عاید د لوړتیا سبب ګرځي، له دې کبله په پرمختللو هېوادونو کې په میکانیزه شوی تجارتي کرنې له برکته د نفوسو ډېره کمه فیصدي په کرنیزو فعالیتونو کې بوخت دي.
د کرنې د میکانیزه کولو په نتیجه کې یو شمېر زراعتي کارګران وزګاربږي چې هغوی باید د صنعت او نورو اقتصادي سکتورونو کې جذب شي، نو له دې امله د صنعت د پراختیا نه پرته د کرنې د سکتور وده او پراختیا مشکل کار دی او همدارنګه د صنعت سکتور کوم چې زراعتي محصولات پروسس کوي. پرمختللي کرنیز سکتور ته اړتیا لري.
په همدې ترتیب د تجارت او د ټرانسپورټ سکتور د کرنیزو محصولاتو د خرڅلاو په اړوند په داخلي او بین المللي بازارونو کې ډېر فعال نقش لوبوي او سیمه ییزو او نړیوالو بازارونو ته د دغو محصولاتو په لېږدونه کی فعاله ونډه لری .
د ساختماني سکتور او د انجینري خدمات د کرنې د سکتور د پرمختګ لپاره، د بندونو، کانالونو، ذخیره خانې او ګودامونو، سرکونو او نورو تاسیساتو په جوړولو کې مهم نقش لري او د کرنې سکتور د نورو ټولو سکتورونو د بشري ځواک لپاره غذایي مواد برابروي.
دملي اقتصاد ددغو ټولو سکتورونو د پرمختګ او متوازن انکشاف په نتیجه کې ملي اقتصاد پیاوړی کېږي.او دهر سکتور پرمختګ د خپلمنځی اغیزو په نتیجه کې دنورو

سکتورونو او بالاخره د ملی اقتصاد د پرمختیا سبب کیږی ، همدا راز له یاده باید ونه باسو چې د دغو سکتورونو یو پربل اتکا د دی سبب هم کیږی چې د یو سکتور وروسته پاتی والی د نورو سکتورونو او بلاخره یې وروستی تاثیرات په ملی اقتصاد راڅرګند شی د دې موضوع وضاحت په پورتنې چارت کې ښودل شوی ده.

## د کرنې او صنعت دسکتورونو ترمنځ اړیکې

Inter-relationship between agriculture & Industrial sectors

کرنه او صنعت د ملی اقتصاد دوه مهمی ستنی بلل کیږی او د یو سکتور پرمختګ دبل په پرمختګ تکیه لری ، څرنګه چې پرمختګ په لومړیو کی له کرنی څخه راپیل کیږی، خو وروسته بیا په خپله د کرنی پرمختګ مستقیماً د صنعت په سکتور تکیه لګوی او د کرنی په میکانیزه کولو او ماشینی کولو کی مهم رول لوبوی .

په یوه ترلي (بند) اقتصاد کی د صنعتی پراختیا لپاره کرنیز مولدیت زیاد ښت مخکینی شرط ګڼل کیږی او د کرنی پرمختګ هم د صنعت او هم دخوراکی موادو دخود کفایی سبب ګرځی او پایله کی د کلیوالی خلکو دخرید د قوت دلوړیدلو او د دواړو سکتورونو همزمان پرمختګ ته لاره هواروی .

په خلاص اقتصاد کی بیا نړیوال تجارت ته لاسرسی موجود وی او د وخت په تیریدو سره که څه هم د کرنی سکتور په مولدیت کی ډیرزیاتوالی نه وی، خو د صنعتی کیدلو بهیر د خلکو دژوند سطح لوړوی او دوباره په کرنه کی دفی واحد ځمکی د مولدیت د زیاتیدو امکانات پیدا کیږی . په ځانګړی ډول د شلمی پیړی په نیمایي کی بیا په اقتصادی پرمختیا کی د صنعتی پرمختګ رول باندی ډیر تاکید کید، خو عملی ثبوتونو بیا هم دا نظر تایید نکړاو کرنی ته یو ځل بیا پاملرنه واوښته .

د دی پرځای چی کرنیز پرمختګ د صنعتی پرمختګ په پرتله مطالعه شی، د نن ورځې اړتیا داده چی د دی دواړو سکتورنو یو له بل سره په ښی همغږی او خپلمنځی اړیکو باندی فکر وشی ځکه داسی انګیرل کیږی چی په راتلونکی اوږده موده کی دغه دواړه سکتورونه یو دبل په وړاندی سیال نه بلکی تکمیلوونکی رول لوبوی .نتیجه اخلو چی اقتصادی پرمختګ

او د سرې سرعايد زياتوالى په دواړو سکتورونو کې د همزمان انکشاف په صورت کې رامنځته کيږی .

د کرنيز پرمختګ اغېز په صنعت باندې :

صنعتي او کرنيزه څانګه يو د بل په ضد نه دي، بلکې د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې دواړه د يو د بل ملاتړي دي. په پرمختيايي هېوادونو کې د صنعتي او نورو څانګو په پرتله د هېواد د نفوسو لويه برخه د کرنې په څانګې کي مصروف دي. کرنيز پرمختګ له يوه طرفه د کرنيز او ناکرنيز زياتېدونکو نفوسو لپاره خوراک برابروي او له بله طرفه د کرنې پر اساس باندې د ايجاد شوو صنعتونو لپاره خام توکي برابروي، د کرنيز پرمختګ څخه د صنعتي اجناسو لپاره د تقاضا پيدا ايښت او سپما کې زياتوالى رامنځته کېږي. د حکومت په عوايدو کې زياتوالى کېږي، له بهر څخه اسعار حاصلېږي چې د هغې په مرسته د سرمايوي اجناسو واردېدل ممکن کيږي چې له دې څخه د صنعتي پرمختګ عمل پيل کيږي.او د کرنيز پرمختګ څخه د کوچنۍ او منځنۍ درجې صنعتونه پرمختګ کوي.

کله چې کرنيز پرمختګ پيل کيږي، نو د دې په نتيجه کې په کرنيزه څانګه کې توليدي قدرت زياتيږي، له دې څخه اضافي کرنيزعوايد رامنځته کيږي او دا اضافه شوي عايد په نتيجه کې غير زراعتي اشياوو ته تقاضا زياتيږي او دصنعتي شيانو دخرڅلاو په نتيجه کې دصنعت په سکتور کې عوايد زياتيږي او په دې ډول په صنعت کې هم دپرمختګ عمل شروع کيږي ، د صنعت سکتور د مصرفي شيانو پرته د کيمياوي سرو ، چينجي وژونکو او حشره ضد دواګانو ، مشينري ټراکټرونو او داسې نورو په توليد پيل کوي.

کله چې د زراعت په سکتور کې پرمختګ رامنځته شي، نو د زراعتي سکتور توليدي قدرت هم زياتيږي او زراعت له خپل ضرورت پرته، د نورو لپاره هم توليد کوي چې په نتيجه کې د عوايدو په وېش کې د کرنيزې څانګې برخه زياتېږي. د کرنيزو عوايدو د زياتېدو څخه له يوه طرفه حکومت ته د کرنيزو ټکسونو په صورت کې زيات عوايد حاصلېږي او له بله طرفه کرنيزه سپما کې زياتوالى کيږي او دا کرنيزه سپما دصنعت دسکتور دپرمختګ سبب ګرځي.

کله چې کرنيزه څانګه کې صادرېدونکو کرنيزو اجناسو کې توليدي قدرت زياتېږي، نو په کرنيزو صادراتو کې زياتوالى پيدا کيږي، له دې څخه د بهر څخه د اسعارو په شکل کې

عوايد زياتېږي، په نتيجه کې دصنعت او نورو سکتورونو لپاره هيواد ته سرمايوي اجناس، خام مواد او داسې نور واردېږي چې له دې څخه صنعتي پرمختګ ممکن کېداى شي. سربېره پر دې کله چې کرنيزه څانګه کې د خوراک توکي او توليد زياتېږي، نو خوراکي توکي به نه واردېږي.او په دې برخه کې واردات تعويض کيږي په پايله کې به اسعار سپما شي او دا به د سرمايوي اجناسو په وارېدولو باندې مصرف شي چې له دې څخه به د صنعتي پرمختګ سرعت ګړندى شي.




پر کرنيز پرمختګ باندې د صنعتي پرمختګ اغېزې :

1- د صنعتي پرمختګ له وجې نه د خلکو عوايد زياتېږي، له دې څخه د کرنيزو اجناسو لپاره تقاضا پيدا کېږي. څرنګه چې د دې اجناسو اړيکې د کار جذبوونکي تکنالوژۍ سره وي، د دې لپاره د دې اجناسو له تقاضا څخه په فارمونو باندې د کار په تقاضا کې زياتوالى کېږي چې له دې څخه د مزدورانو په مزدوريو او عوايدو کې زياتوالى کېږي.

2- د صنعتي پرمختګ له امله د کرنیزې څانګې لپاره سرمایه، مشنیري او داسې نور پیدا کېږي. له دې څخه کرنیزه څانګه کې تجارتي کرنه ممکن کېږي او د دې پر اساس باندې کرنیزه څانګه پرمختګ کوي او کرنیز تولید زیاتېږي.

3- د صنعتي پرمختګ له امله د ښارونو په تعداد کې زیاتوالی راځي چې په نتیجه کې د کار په لازم فرصت کې زیاتوالی رامنځ ته کېږي. همدارنګه اطرافي خلک چې په صنعتونو کې کار کوي خپلو کورنیو ته پیسې لېږي چې هغوی یې د تولید په عواملو، اهلي حیواناتو، چرګانو او داسې نورو په پېرودلو باندې مصرفوي. د صنعتي پرمختګ د وجې نه د حمل و نقل وسایل پرمختګ کوي چې له دې څخه مارکیټ پراخېږي او د کرنیزو اجناسو خرڅلاو ممکن کېدای شي د صنعتي پرمختګ د وجې نه هغه کرنیز خلک به هم ګټه اوچتوي، کوم چې په اطرافو کې اوسېږي، کوم چې د ښارونو سره نږدې دي. د صنعتي پرمختګ د وجې نه یو دا چې هغوی ته نږدې دندې او وظیفې ته موقع حاصلېږي او دوهم دا چې د هغوی د ځمکو نرخونه او قیمتونه اوچتېږي.

4- د صنعتي پرمختګ له وجې خلکو ته د تعلیم، تحقیق (څېړنې)، مسلکي ښوونې او روزنې د نویو افکارو او داسې نورې اسانتیاوې حاصلېږي چې له دې څخه کلیوالي خلکو ته هم ګټه رسېږي او هم د هغوی د ذهن او پوهې اندازه لوړوي.

د صنعتي پرمختګ له وجې نه د بې شمېره پایدارو جنسونو د تولید او مصرف ممکن کېدای شي په اطرافي خلکو کې د دې جنسونو د حاصلولو هیله پیدا کېږي او همدارنګه هغوی د زیات کار په وجه کرنیز جنسونه پیدا کوي او خپل عواید زیاتوي، ترڅو نوي جنسونه واخلي.

## دمتوازن پرمختګ اړتیا (Need for Balanced Development)

دپورتنیو معلوماتو په رڼا کی اوس نو پوښتنه دا نده چی د کرنیز اوصنعتی پرمختګ ترمنځ یو انتخاب کړو او باور لرو چی ددواړو سکتورونو ترمنځ کومه شخړه او تضاد وجود نلری، بلکی حقیقت داده چی ددی دواړو سکتورونو پرمختیایو پر بل تکیه لری اوهدف داده چی ددواړو سکتورونو د همزمان ودی لپاره تعادل وتاکل شی. پروفیسور لیوس وایی چی : د

پرمختیایی ستونزو یو راز په دی کی دی چی ددغو دواړو سکتورونو ترمنځ دمناسب تعادل ټکی پیدا شی .چي ددغه تعادل پیدا کول واقعاً یوه دبحث وړ موضوع ده او په عمل کی یی پیاده کول یوه عملی ستونزه ده چی بیلابیلو پوهانو د خپلو څیړنو په ترڅ کې ورته بیلابیلی عملی لاری وړاندی کړی.
یو نظر داده چی په لومړی سر کی باید خوراکی موادو ته د شدیدی تقاضا دپوره کولو په خاطر عرضه زیاته کړای شی په دی مانا چی دریښتینی، پایدار او دوام لرونکي پرمختګ لپاره باید چی په لومړی قدم کی د اقتصادپه ورسته پاتی برخه کی وده چمتو شی، دا پرمختګ یو مخکینی او اړین شرط ده چی باید رامنځته شی او په دی ډول نتیجه اخیستل کیږی چی دیو سکتور پاتی کیدل د بل سکتور د ودی په لار کی خنډ جوړیږی لکه کرنه د صنعت په وړاندی یا برعکس حالت .
پروفیسور هیګن د نتیجی په ډول وایي :
So far as industry versus agriculture is concerned, it is not a question of balanced or unbalanced growth but one of balanced growth or no growth at all.

## پوښتنې:

۱.دصنعت لپاره پلان جوړول له نورو سکتورونو سره دڅه شی امکان برابروی؟
۲.د ماشینی او مُدرنیزه کولو معنا څه ده؟
۳.د صنایعو د پراختیا مهم شرایط کوم دي؟
۴.د کرنې په میکانیزه کولو سره صنعت کی څه پیښیږي؟
۵.د کرنی او صنعت ترمنځ څه اړیکې شته ؟ تشریح یی کړئ.
۶.متوازن پرمختګ ته څه اړتیا لرو ؟

# اووم څپرکی

## صنایع په اوسني افغانستان کې

له ډیر پخوا څخه په بیلابیلو تاریخي دورو کې له لرغوني آریانا څخه نیولې بیا تر نن ورځې پورې په افغانستان کې لاسي صنایعو وجود درلود او مخ په ترقي روان و، له تاریخي آثارو څخه ښکاري چې زموږ نیکونو زرګونه کاله پخوا لاسي صنایع درلودل او آن دا چې د چین هیواد سره یې دصنایعو تجارت درلود، خو د لومړي ځل لپاره په عصري او ماشیني بڼه د صنایعو انکشاف د امیر شیرعلیخان له وخته راپیل شو

د صنعت او صنعتي فعالیتونو تاریخي مطالعه،خصوصاً په افغانستان کې یوه ډیره دلچسپه موضوع ده. متأسفانه د دغې موضوع په هکله چې هم اقتصادي او هم فرهنګي، اجتماعي، تاریخي او حتی سیاسي اهمیت لري، ژورې څیړنې نه دي شوې. دا باید په یاد وساتل شي چې په هیواد کې د صنعتي فعالیتونو د تاریخي سیر، د هیواد د ټول تاریخ سره په موازي توګه را روان دی. دلته د هیواد د تاریخ تشریح زموږ موضوع ډیره طولاني کوي، بر سیره پردې لمړنی څپرکی کې د هیواد تاریخ ته ځغلنده نظر شوی، نو دلته به د هغه په رڼا کې صرفاً د صنعتي فعالیتونو تاریخي پس منظر ته لنډ نظر اچوو. همدا چې د صنایعو یا صنعت نوم واخلو نو زموږ ذهن ته خامخا دا تعریف را تداعي کیږي چې صنعت د اشیاوو او موادو استحصال او د بڼې بدلون(تغییر شکل)دی چې لومړنی خام مواد د استفادې لپاره د بڼې په بدلون سره د استفادې ارزښ پیدا کوي. سره له دې چې نن ورځ هم په سپکو صنایعو او هم په درنو صنایعو کې پیچلې پر مختللې تکنالوژۍ په کار وړل کیږي، اما په پخوا وختونو کې لاسي صنایعو ساده بڼه درلوده. زموږ په هیواد کې د صنایعو تاریخ هماغه د لاسي صنعت دورې ته ورګرځي. د تاریخي جغرافیا د مطالعاتو له مخې په هغو وختونو کې چې اریائیانو د هندوکش شاوخوا پراخو شنو جلګو کې یو ستر مدنیت رامنځ ته کړ، نو د کرنې او مالدارۍ تر څنګ یې د ځینو شیانو په جوړولو بوخت شول، هغه څیړنې چې د ۱۹۶۱م. څخه تر ۱۹۶۵م. کال پورې د (هزار سم) بامیان او (آق کپروک) د مزار شریف جنوب کې شوې، نو ورڅخه د Paleolithic او Neolithicدورو د تیږو، هډوکو کودړو او لرګیو جوړ شوي جالب ابزار ترلاسه شوي او د ډبرو نوې دورې bronze age او د فلزاتو د دورې صنعتي جوړ شوي وسایل لکه برنجي ائینه، ګوتمۍ، بنګړي، وسلې، د آسونو قیزې او لاجوردي نګینونه په لاس راغلي، داسې با ارزښه تاریخي آثار په ټوله مرکزي آسیا کې نه دي موندل شوي. (۹۰۰۰)

کاله وړاندی زموږ ټاټوبی کی د فلزاتو دوره پیل شوی چی په هغی کی د مس او مفرغ (د مس او قلعی ګډ مرکب) اسبابو پر ځای د تیږی اسبابو ځای ونیو.




*۱۳-شکل: دافغانستان د لرغونی صنعت یو بیلګه*

د میلاد څخه ۳۰۰۰ کاله مخکی افغانستان د لاسی صنایعو مسکوکاتو، نساجی، سفالین صنعت او د فلزی ظروفو او آلاتو د صنعت لرونکی و. دغه راز د کوشانیانو په وخت کی د (ترمین) د ښار څخه د باندی د کلالی او پښګری بی ساری دستګاوی موجودی وي، دغه راز د بګرام د ښار کیندونو په نتیجه کی چی د دریم میلادی قرن پوری مربوط کوم تاریخی آثار تر لاسه شوی، هغو کی د کلالی، فلزی او طلایی ظروف لیدل کیږی. په دغه ځای کی کوم د هډوکو څخه جوړ شوی شیان چی لاسته راغلی، د بګرام د صنعتګرانو د لوړی هڅی څرګندوی دی.



*۱۴- شکل: د اسلام د مبارک دین له خپریدو وروسته د افغانستان د صنعت یوه بیلګه چی د قرانکریم د مبارکو آیاتو لیکنه لري*

په ۴۲۴ م. کال کې یوه ډله سوداګرو او صنعتګرانو چې چین ته لاړل او هلته یې موفقه تجربه سرته ورسوله، یعني په هغه وخت کې حتی صنعتي اجناس بهر ته وړل کېدل. دا وخت د ښېښې جوړولو صنعت باکتریا (د بلخ شاوخوا) د عقیقو څخه د جوړو شویو زیوراتو صنعت په نورو شمالي سیمو او د قیمتي فلزاتو صنایع د بګرام شاوخوا رونق درلود. د (میرزکي) څخه کشف شوي مسکوکات، د مرنجان د خزاني کشف او د کاپیسا کشف شوي د عاج زیورات په لرغوني افغانستان کې د صنعت د ارتقأ مدارج ښکاره کوي، دغه وخت زموږ نیکونو د هند، چین او ایران سره پراخ تجارتي مناسبات هم لرل. کله چې د اسلام مبارک دین افغانستان کې خپور شو، نو عربو د دې هیواد آبادي، کرنې، مالداري او صنعت ګوتې په غاښ کړه، مثلاً (مقدسي) لیکلي: د خراسان کلي د عراق له ښارونو څخه هم آباد دي. (ابن الغایه) لیکي: خراسانیان په صنعت او تجارت کې د روزګار مخکښان دي. دغه وخت زموږ نیکونو د کور لوښي، د جامو ټوکران، اسباب او وسایل په خپله د لاسي صنایعو په برکت جوړول، اما تر دې وخته پورې صنعت یو ابتدایي شکل درلود.

*۱۵-شکل: زموږ د نیکونو د لاسي صنعت یوه بېلګه*



په هره سیمه کې به یو ماهر صنعتي کسبګر موجود و او د سیمې ضروریات به یې رفع کول او د لاسي صنایعو مربوطه رشته کې به یې شاګردان روزل یا به هم صنعتي اجناس د مربوطه صنعتګر لخوا جوړېدل. متأسفانه زموږ ټاټوبي سره له دې چې اوږد لرغوني او ویاړلي تاریخ لري، مګر تر ډېره وخته د معاصر صنعت له مزایاوو بې برخې پاتې شوي، خصوصاً هغه وخت

چې په اروپا کې صنعتي انقلاب پيل شو، نو نورو هيوادونو کې د اقتصادي او صنعتي پيشرفت پروګرامونو سرعت وموند، مګر زموږ هيواد انزوا کې پاتې شو. دغه هيواد پوره يوه پيړۍ د دوو امپراتوريو يعنې انګليس او تزاريانو ترمنځ ځينې وخت حائل دولت buffer stateاو کله هم د منازعې او رقابت ډګر پاتې شو. تر څو چې په ۱۸۷۹ م (۱۲۵۸ ل) کې انګليسانو مستقيماً تر تسلط لاندې راوست. په دې توګه افغانستان تر ۱۹۱۹ م. کال پورې د پر مصرفه جګړو، داخلي هرج و مرج، سياسي عدم ثبات، د آزادۍ د ساتلو لپاره د مبارزو او بالاخره استعماري ناوړه ګونو تنايجو، توپوګرافيکي جوړښت، د لازمي پانګې نشتوالي او نړيوالو لومړۍ او دوهمو جګړو له امله ونشو کولای په غرب کې د تکنالوژيکي ترقۍ څخه استفاده وکړي.

په عمومي توګه د صنعتي فعاليتونو، ادارو او صنعتي موسساتو د تاريخي بهير په مطالعه کې کتل کيږي چې د معاصرو او ماشيني صنايعو ځوک د لومړي ځل لپاره د لاسي صنايعو د اوږدې سابقې په پيوست د امير دوست محمد خان په دوره کې تر سترګو کيږي. دا هغه وخت و چې د افغان – انګليس لومړۍ جګړه پای ته رسيدلې وه او په کابل کې د وسلې د جوړولو صنعت ډېره کېښودل شوه – د داخلي صنعتګرانو برعلاوه هندي او ايراني صنعت کاران هم پکې استخدام شول. فلز د داخلي ذغال سنګ په ذريعه ويلي کيدل او فولاد ورځنې جوړيدل او بيا د وسلو جوړولو کې استعماليدل. د امير شير عليخان دوره کې دغه صنعت نور هم عصري شو. لمړني فني ماهر کارګر همدا وخت پيښور کې وروزل شول. د ټوپکو تر څنګ مياشت کې ۳ – ۴ ميله لوی توپونه هم جوړيدل. د امير شير عليخان دوره کې د لومړي ځل لپاره د اسلحه سازۍ د صنعت تر څنګ د نساجۍ، دباغي بوټ جوړولو او چاپ صنعت هم رامنځته شو، خو په منظمه توګه د ماشيني صنايعو انکشاف د ۱۸۸۰ م. (۱۲۵۶ ل.) کال څخه وروسته پيل او کاملاً د دولت لخوا تمويل کيد. د امير عبد الرحمن خان په وخت کې د لومړي ځل لپاره لمړني مدرنه او عصري فابريکه چې د بخار په ذريعه يې فعاليت کاو د علم ګنج په سيمه کې د (ماشين خانه کابل) په نوم جوړه شوه. دغه سيمه وروسته تر ۱۸۸۷ م. (۱۲۶۵ ل.) په يوه پراخه صنعتي سيمه بدله شوه چې د دباغي، صابون جوړولو او شمع جوړولو صنايع هم همدلته متمرکز وو. په ۱۸۹۱ م. کال کې دغه سيمه کې له ۱۰۰ څخه زيات مجهزو ماشينونو

کار کاو چی مسکوکات، بوټ، وسلې، منسوجات، صابون، شمع او نور وسایل پکې جوړېدل. ویل کیږي چې دغو ماشین آلاتو په کال کې ۶۰۰ ټنه فلزات په صنعتي محصولاتو بدلول. دا وخت د یوه انګلیسي او څو هندي انجنیرانو او میخانیکو تر څنګ ۵۰۰ – ۵۰۰۰ داخلي صنعتکارانو دلته کار کاو. په ۱۸۹۵ م. کال کې ۶۰۰ نوي شاګردان هم د صنعت بیلابیلو برخو کې دلته تر روزنې لاندې ونیول شول. د دغې صنعتي منطقې تاثیر د هیواد په ملي اقتصاد ناچیزه و، ځکه چې د جنګي شرایطو له کبله یې صرف نظامي تجهیزات تولیدول. د هماغه پیل څخه د ماشیني صنعت ستر پرابلم دا و چې د ترانسپورتي مشکلاتو له مخې یې ماشیني وسایل ډیر په ستونزو کې رارسیدل او په دې توګه د ماشین آلاتو بیه ډیره غیر اقتصادي تمامیدله. د امیر حبیب الله خان په وخت کې د بریښنا لومړنی فابریکه جوړه شوه دا وخت په هیواد کې ۵۰۰۰ ټنه په ماشیني صنایعو کې په کار بوخت وو.

په ۱۹۱۹ م. کال کې د هیواد د استقلال له بیا ګټلو وروسته شاه آمان الله خان د اقتصادي، اجتماعي، سیاسي، حقوقي او نورو اصلاحاتو تر څنګ صنعت ته هم ډیره پاملرنه وکړه. دا وخت صنایعو د استهلاکي اموالو تولید او د تولیدي موادو تعویض ته پاملرنه وکړه. دغه وخت کې د نخي او پشمي نساجیو لپاره زیات شمیر ماشین آلات، د برق د تولید، د خشکه شویو، د مطبعو، د سمنټو د صنایعو، د بورې، ګوګړو، کاغذ جوړولو، ښیښې جوړولو، د پرزو د تولیدولو، د غوړ ایستلو او د میوو د کنسر کولو دستګاوو په کار اچولو ته اقدامات وشول او د جاپان، جرمني او شوروي سره قراردادونه وشول. همدا راز د ملي صنایعو نندارتون دائر شو او د وطني رختونو او صنعتي محصولاتو استفاده جویې وشوه، د دې په نتیجه کې د دولت عواید له ۸۰ میلیونو روپیو څخه ۱۸۰ میلیونو روپیو ته لوړ شول. دغه فابریکې عمدتاً په کابل، هرات، قندهار، مزارشریف، جلال آباد، پروان او ځینو نورو سیمو کې فعالې کړای شوې وې. د صنایعو دغه تشویق او پیشرفت د زراعت په برخه کې یو تحول، تشویق او تحرک رامنځته کړ وروسته تر ۱۳۱۱ ل. دغه فابریکې نوې رامنځته شوې:

| د فابریکې نوم او نوع | د ماشینونو شمیر | د تولید ظرفیت |
| --- | --- | --- |
| د صابون جوړولو فابریکه | ۱۲ | په ورځ کې ۳۰۰ قالبه صابون |

| | | |
|---|---|---|
| د موټرو د ترمیم فابریکه | ۱۸ | د ضرورت وړ ترمیم قابلیت |
| د میوو د کنسروو فابریکه | ۱۰ پایی ماشین او یو دیګ بخار | د مختلفو میوو او سبو د تولید په اندازه |
| د تیل کشی فابریکه | ۱۱ | نظر د دانه بابو تولید ته |
| د تنې جوړولو فابریکه | ۱۲ | د تولید ظرفیت یی معین نه و |
| د نجارۍ فابریکه | ۲۵ | تولید نظر مختلفو نیچرو ته فرق درلود |
| د نساجۍ او تار جوړولو او رنګآمیزی بیلابیلی فابریکی | ۱۳۸ | په بیلابیلو ظرفیتونو |
| د جورابو او بنیان جوړولو فابریکه | ۱۶۵ | په بیلابیلو ظرفیتونو |

وروسته تر دغو کلونو په ګران هیواد کی د لاسی ابتدایی او د عنعنوی صنعت په ادامه نوی معاصر او ماشینی صنعت ډیر پیشرفت وکړ.

د ۱۳۶۸ ل. کال په ترځ کی د یوه خپور شوی تحقیق له مخی او د مرکزی احصائیی او د پلان جوړولو د مخی د خصوصی سرمایه ګزاریو د ریاست د ارقامو له مخی په افغانستان کی بیلابیلو برخو کی لاندنی (۵۵۷) فابریکو د صنعت په برخه کی فعالیت درلود:

| د صنایعو بیلابیلی برخی | د فابریکو او موسساتو شمیر |
|---|---|
| د خوراکی موادو صنایع | ۱۲۰ |
| د پنبی، محلوج او نساجیو صنایع | ۱۳۴ |
| د څارویو د پوټکو د پیکل او پوستین جوړولو صنایع | ۹ |

| | |
|---|---|
| د بوټ جوړولو او کیمیاوی موادو صنایع | ۷۳ |
| د نجارۍ کاغذ او کارټن جوړولو صنایع | ۱۵ |
| د نشراتو او طباعتی چارو صنایع | ۲۵ |
| د معدنی او ساختمانی موادو صنایع | ۲۳ |
| د برق د انرژۍ او د فلزکارۍ صنایع | ۹۰ |
| د ادویه جاتو د تولید صنایع | ۳ |
| نور متفرقه صنعتی موسسی | ۶۵ |
| د ټولو فابریکو او موسساتو مجموعه | ۵۵۷ |

دلته باید د صنعت د برخی د تاریخی سیر د مطالعی په پای کی په ډیره لنډه توګه د دغه تاریخی پس منظر په دوو برخو پیل کړو:

الف – کله چی صنعت ابتدایی شکل درلود او زموږ نیکونو د خپلو ضروریاتو د پوره کولو لپاره لاسی صنایع لرل: دغه صنعت هغه کوچنۍ تولیدی اقتصادی څانګکی وی چی اکثره په مستقله توګه او صرفاً د یوه فنی شخص په واسطه چی کافی فنی مهارت به یی درلوده، ترسره کید. دغه صنایعو نظر مدرنو، عصري او ماشینی فابریکو، تصدیو، کانسرونو او کارتلونو ته بالکل فرق درلود. ورو دغه ډول صنایعو او حتی د هغو مفهوم او تعریف بدلون وموند او خپل ځنی مشخصات یی له لاسه ورکړل. مثلاً لاسی صنایعو ته د Hand Workاو ماشینی صنایعو ته د Industryنو مونه غوره شوه په لومړۍ حالت کی فقط خام یا نیم کاره مواد د پیشې (فن یا حرفې) د څښتن د لاس په ذریعه د مزد په مقابل کی جوړیږی او د ده لیاقت ډیر رول پکی لری، ساده وسایل د فنی شخص په خدمت کی وی. حال دا چی په دوهم حالت کی د آزادۍ او عادی کارکوونکو تر منځ تفاوت موجود دی او متصدی د تجارتی، تشکیلاتی او حتی اختراعی اساساتو له مخی په مراتبو پراختیا مومی او کارګر د ماشین خدمت کوی. لاسی صنایع سره ددی چی ابتدایی دی، مګر بیا هم په ملی اقتصاد کی ډیر رول لری، حتی ډیرو پرمختللو هیوادونو کی دغه ډول صنایع ډیر اهمیت لری، مثلاً د ځینو ارقامو له مخی په ۱۹۵۵ م. کال کی په آلمان کی د لاسی صنایعو فروشات د ۴۷,۷ میلیارد مارکو څخه هم لوړ وو. په ۱۹۵۶ م. کال کی په همدی هیواد کی ۷۵۰۰۰۰ د لاسی صنایعو دستګاوی موجودی

وی. زموږ په لرغونی هیواد کی دغه صنایع د اقتصادی اهمیت برعلاوه فوق العاده کلتوری او تاریخی اهمیت هم لری. د همدی اهمیت له مخی و چی ۱۳۵۴ ل. کال کی د کابل په نوی ښار کی د لاسی صنایعو امپوریم او د کابل ننداری په سیمه کی څلور لوی لوی نندارتونونه جوړ شوی وو.

ب –معاصر او ماشینی صنایع هغه پرمختللی صنعت دی چی خام او نیم کاره مواد د ماشین په ذریعه په فابریکو کی بازار ته د عرضه کیدو په منظور پرته له مخکنی فرمایش څخه په کار تمامو صنعتی محصولاتو تبدیلیږی. د دغه ډول صنایعو څرک لمړی ځل د امیر دوست محمد خان په وخت کی لیدل کیږی او ورو ورو یی تر نن پوری انکشاف کړی او زموږ په ملی اقتصاد کی مهم سکتور بلل کیږی. د صنعت یو اهمیت دا دی چی د کرنی د سکتور خام مواد په پخو موادو اړوی او کرنی ته تشویقی تحرک ورکوی چی د صنعتی بهیر تاریخ او تاریخی سیر کی یی مطالعه مهم اهمیت لری.

## په افغانستان کی د صنعت په سکتور کی د بوختو بشری ځواکونو نسبی سهم

د کرنی د سکتور برخلاف، په صنعت کی اکثراً ښهری نفوس بوختیا لری، دا ځکه چی نن ورځ صنعت برعلاوه د دی چی پوره میکانیزه شوی، اتوماتیزه او الکترونیزه شوی هم دی. صنعت فعال مکمل مارکیت، فعال ترانسپورت، د بریښنا شبکی، مخابراتی وسایلو، اداری دفترونو او ټولنیزو خدماتو ته اړتیاوی دغه امکانات صرفاً ښارونو کی مهیا دی. په هیواد کی د صنعت په سکتور کی د بوختو بشری ځواکونو نسبی سهم باید زیاتره د ښاری نفوس د دیموګرافی تحلیل څخه ترلاسه شی.

د یوه تحلیل له مخی چی ترسره شوی، د هیواد د ۱۷ میلیونو نفوسو څخه پنځه میلیونه یی (۳۱٪) بشری فعاله ځواکونه پیژندل شوی چی د دغو بشری ځواکونو څخه ۳۶۴۰ زره تنه یا ۸۱٪ په کرنه او مالدارۍ ۳۱۴ زره تنه یا ۶,۹٪ په صنایعو او پاتی ۶۶۴ زره تنه یا ۱۲,۱٪ یی په نورو برخو لکه صحت عامه، ښوونه او روزنه، سوداګرۍ، ترانسپورت مخابراتو او نورو ښاری او کلیوالی بیلابیلو ازادو حرفو او تشبثونو کی بوخت وو. د یوی ډیری نوی سروی له مخی چی په ۱۳۵۹ ل. کال کی ترسره شوه، ښیی چی د ټول ساکن نفوس یعنی ۱۶۱۲۰۵۰۰ له جملی څخه ۷۷۸۳۵۴۰ یی د کارو ړ نفوس دی چی له هغی جملی څخه ۶۱۲۰۹۴۰ هغه بشری

ځواکونه دي چې عملاً اقتصادي چارو کې بوخت وو چې له دې جملې څخه يې يوائې په صنعت کې ۴۵۴۴۰۰ تنه عملاً بوخت وګړي وو . په ۱۳۵۹ ل. کال کې د ديموګرافي تحليل څخه ځرګنديږي چې په هيواد کې بشري ځواکونو په اوسط ډول په کال کې ۲,۶ فيصده زياتيږي او د همدې کبله چې د ديموګرافي خصوصياتو له مخې د افغانستان نفوس ځوان دی، نو د بشري ځواکونو رشد به نور هم په سرعت دوام ومومي، نو دا خبره د دې غوښتنه کوي چې بايد توليدي سکتورونو او خصوصاً صنعت ته وده ورکړل شي او د کاريابۍ لپاره لازم تدابير ونيول شي.(ارقام زياتره له ۱۳۷۰ کال مخکې دي، چې صرف د صنعت د وضعيت يو عمومي انځور وړاندې کوي، له دغه کال وروسته موثق او معتبر ارقام په واک کې نه لرو).
په لنډه توګه دا چې فعلاً د هيواد د ټولو بشري ځواکونو څخه ۴۲ فيصده يې د صنايعو په برخه کې بوخت دي.

## د افغانستان په ملي اقتصاد کې د صنعت د سکتور ونډه

لکه څرنګه چې د دغې رسالې په مقدمه کې د ګران هيواد په موقعيت، توپوګرافي او حدود رڼا واچول شوه، زموږ هيواد له څلورو خواوو وچې احاطه کړی دی. د هيواد د ټول مساحت څخه ۱۲ – ۱۳ فيصدو ساحه يې د کرنې وړ ده چې هغه هم کافي اوبه نلري، دغه راز تر يوې اندازې په هيواد کې د ګرانبيه فلزاتو، د ډبرو د سکرو، مالګې، نفتو او ګازو او نورو کانونه شته دغه ذکر شوي ټول خصوصيات موږ مجبوروي چې د کرنې تر څنګ د صنعت سکتور ته هم توجه وشي. متاسفانه تر اوسه د نورو ممالکو په مقايسه زموږ هيواد کې په دې برخه کې وروسته پاتې والی ليدل کيږي.
لکه څرنګه چې پوهيږو د يو هيواد د اقتصادي پرمختيا په ډيرو عواملو پورې اړه لري، چې د هغې جملې څخه کولای شو طبيعي شرايط، اقتصادي او د دولت اقدامات وڅيړو زموږ په هيواد کې په دې هکله دري پنځه کلن پلانونه طرح او تطبيق شوي چې د دغو دريو لمړنيو اقتصادي – اجتماعي پلانونو په عملي کيدو سره کرنه او صنعت کې نسبي تحرک رامنځته شوي و. دغه راز دا هم د يادولو وړ ده چې موږ د هيواد دننه ۵۵۷ موفقي فابريکې او صنعتي مراکز درلودل. په دغو صنايعو کې لاسي مستظرفه صنايع، د غالۍ اوبدلو صنايع، نساجي، د خوراکي موادو صنايع، سمنت، کيمياوي سره او ځنې نور هغه صنايع وو چې تقريباً په

کامیابی پرمخ تللی وو، د افغانستان ځینو دغو محصولاتو حتی نړیوال بازار ته هم مخه کړې وه او خاص شهرت او مقبولیت یې حاصل کړی و. د هیواد په اقتصادی ملی مجموعی تولیداتو GNP کې صنعت ۲۲,۵٪ برخه تشکیلوله په دی توګه د دغی عمومی نظر اندازی څخه ښکاری چې په ملی اقتصاد کې صنعت وروسته تر کرنی دوهم مقام لری.




د ۱۳۵۹ کال د ځینو ارقامو له مخی د ۵۵۷ صنعتی موسساتو له جملی ۱۲ یی دولتی، ۱۲ مختلطی او ۲۲ نوری یی خصوصی دی. دلته ګورو چې په دولتی برخو کی صنایع د ظرفیت او استخدام له مخی اول ځای لری. د هیواد تولو صنایعو په پرتله په داخلی بازار کی نساجی ډیر اهمیت درلود، مثلاً یوائې په ۱۳۵۶ کال کی د ټولی سرمایه ګزاری څخه ۳۱ فیصده په هغو کی صورت نیولی او د ټولو صنعتی کارګرانو څخه ۴۳,۳ فیصده یی په دی کی جذب شوی وو ،اما په خارجی تجارت کی بیا مسئله بل ډول وه، ځکه د ګازو د صدور له امله یو زیات شمیر عاید د همدی قلم څخه ترلاسه کیده لکه څرنګه چې لیدل کیږی صنعتی تولیدات د هیواد په ملی اقتصاد کی یو صعودی او ارتفاعی سیر لری.

| د صنایعو بیلابیلی کټګورۍ | کلونه | | | | | | | | | | | | ملی عاید کی د کال په اساس زیاتوالی فیصدی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۱۳۵۱ | | | ۱۳۵۲ | | | ۱۳۵۳ | | | ۱۳۵۴ | | | |
| | تولید | مصارف | عواید | تولید | مصارف | عواید | تولید | مصارف | عواید | تولید | مصارف | عواید | |
| ټول صنایع | ۱۹,۷ | ۱۴,۴ | ۵,۳ | ۲۰,۴ | ۱۴,۸ | ۵,۵ | ۲۱,۷ | ۱۵,۸ | ۵,۹ | ۲۳,۵ | ۱۷,۴ | ۶,۵ | ۱۲۲,۳ |
| له هغې جملې: | | | | | | | | | | | | | |
| دولتی او مختلط صنایع | ۵,۸ | ۳,۷ | ۲,۱ | ۶,۳ | ۴,۱ | ۲,۲ | ۷,۵ | ۵ | ۲,۶ | ۹ | ۶ | ۳ | ۱۴۵,۲ |
| خصوصی صنایع | ۱,۶ | ۱,۳ | ۰,۳ | ۱,۸ | ۱,۵ | ۰,۳ | ۱,۷ | ۱,۴ | ۰,۳ | ۲ | ۱,۶ | ۰,۴ | ۱۳۲,۳ |
| لاسی صنایع | ۱۲ | ۹,۳ | ۲,۹ | ۱۲,۲ | ۹,۳ | ۳ | ۱۲,۲ | ۹,۴ | ۳ | ۱۲,۸ | ۹,۷ | ۳ | ۱۰۵,۱ |

**د کالیو او لاس مینځلو صابونونه، غیر الکولی مشروبات، څرمن او پلاستیکی پاپوش، منسوجات (نخی، پشمی او سندی)، پلاستیکی کڅوړی او لوښی، شیرینی باب، غوړ او تیل باب (له بیلابیلو نباتاتو څخه)، قالینی، اسفنج، د ودانیو رنګ او د حشراتو ضد ادویه، البسه او جورابی ، تار، بیلابیل خوراکی محصولات، بطرۍ، موزاییک او تراسو، طبی ادویه جات او یو زیات شمیر فلزکاری او تخنیکی خدمات چی شرح او تفصیل یی دلته ګنجایش نلری.**

**لاندنی جدول د هیواد د ټول نفوس په عایداتو کی هغه عاید چی د صنعت د سکتور څخه ترلاسه شوی دی، ښیی:**

| کلونه | د هیواد د ټول نفوس عواید له بیلابیلو مدارکو څخه | له هغی جملی د صنعتی فعالیتو له درکه مفاد |
|---|---|---|
| ۱۳۵۷ | ۹۹۱۴۱,۵۲ | ۳۲۸۰,۹۴ |
| ۱۳۵۶ | ۳۲۶۶۳,۲۷ | ۲۳۳۱,۰۰ |
| ۱۳۶۶ | ۳۷۲۸۷۱,۸۵ | ۴۵۵۹,۴۰ |
| ۱۳۶۷ | ۴۶۵۵۶۵,۶۷ | ۵۷۱۱,۶۰ |
| ۱۳۶۸ | ۷۰۲۴۰۵,۳۴ | ۵۰۰۲,۵۳ |

پورتني ارقام ښيي چې د هيواد ملي اقتصاد کې د صنايعو نقش ورځ په ورځ د لوړتيا موندلو په حال کې و. لاندني جدول د بيلګې په توګه پخو وروستيو کلونو کې د هيواد ملي عايد کې د صنايعو اندازه ښکاره کوي:

| د صنايعو بيلابيلي برخي | ۱۳۵۷ | ۱۳۶۵ | ۱۳۶۶ | ۱۳۶۷ | ۱۳۶۸ | د رشد فيصدي نظر ۵۷ کال ته |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دولتي او مختلط صنايع | ۱۳۴۳۲,۵ | ۱۸۲۰۵,۲ | ۱۷۹۹۵ | ۱۴۹۷۴,۶ | ۱۳۱۷۶,۳ | ۸۸ |
| خصوصي صنايع | ۱۹۱۵۹ | ۱۹۶۷,۲ | ۱۹۹۸۳ | ۱۷۷۹۸ | ۲۲۴۳۵,۱ | ۱۲۶,۱ |
| له هغې جملي: | | | | | | |
| الف – فابريکاتي صنايع | ۴۱۴۴ | ۴۶۹۰,۲ | ۴۵۵۳ | ۴۱۴۸ | ۳۶۲۵,۱ | ۸۷,۴ |
| ب – لاسي صنايع | ۱۵۰۱۵ | ۱۴۹۸۰ | ۱۵۴۳۰ | ۱۳۶۵۰ | ۱۸۸۱۰ | ۱۳۷,۸ |
| د صنايعو د ملي خالص تر لاسه شوي عايد مجموعه | ۳۲۵۹۱,۵ | ۳۷۷۸۹,۴ | ۳۷۹۷۷,۲ | ۳۲۷۷۲,۶ | ۳۵۶۱۱,۴ | ۱۰۸,۳ |

لکه چې پورته ليدل کيږي په ملي اقتصاد کې د صنعت سکتور مثلاً په ۱۳۶۶ کال کې ۳۷۹۷۷,۲ ميليونه افغانۍ خالص عايد لرې چې وروسته د کرنې د سکتور څخه دوهم قدم کې راځي، اما د جګړې د ناوړو شرايطو له امله په ۱۳۶۷ او ۱۳۶۸ کلونو کې نزولي حالت لرې. پورتني ارقام دا هم جوتوي چې د صنعت نظر نورو ټولو برخو ته خصوصي صنايع لوړ رقم ارائه کوي. لاسي صنايع هم خپل غوره ځای لرې.

## د افغانستان په بهرني تجارت کې د صنعتي محصولاتو ونډه

کله چې د هيواد بهرني تجارت کې د صنعتي محصولاتو ونډه مطالعه کيږي نو د هغو سهم مستقيماً په هيواد کې د فعالو صنعتي فابريکو، صنعتي موسساتو او مراکزو موجوديت پورې اړه لري. په هيواد کې د داسې موسساتو او مراکزو له ايجاد څخه نيولي بيا د شپږمې

لسیزی تر پیل پوری د هغو شمیر او فعالیت په ځنډ سره پرمختګ کاو. مثلاً د امیر دوست محمد خان د وخت څخه نیولی چې د مدرنو ماشینی صنایعو پیل ګڼل کیږی بیا تر ۱۳۵۶ کال پوری چې پوره (۷۰) کاله کیږی صرف ۲۲۰ صنعتی کوچنی مرکزونه د ۵۱۱۷ میلیونو افغانیو په ابتدایی سرمایه فعال شوی وو چې ۳۷۱۱۰ ذکورو او ۲۸۰۶ اناثو کارګرو پکی کار کاو، د کار شرایط ناوړه و، هیڅ کومه کارګری اتحادیی یا قانون موجود نه و چې د هغوی د حقوقو څخه دفاع وکړی. دغه راز سره د دی چې د دولت لخوا د معادنو او انرژی د صنایعو په برخه کی په میلیاردونو افغانۍ (په دقیقه توګه ۳۶,۷۸۹ میلیارده افغانۍ) لګول شوی، مګر د هیواد اقتصادی حالت او د بهرنی تجارت بیلانس کوم پیشرفت نه وه کړی او که لږ ترقی یی هم کړی وه نو د توریزم انکشاف له برکته وه. دغه راز د لازمو برنامو د نشتوالی برعلاوه ترانسپورتی مشکلات او د لارو نا مساعد والی هم د بهرنی تجارت په برخه کی یو پرابلم ګڼل شوی. د دی تر څنګ د کافی سرمایی نشتوالی هم د صنایعو د ځنډنی او ټکنی کیدو لامل ګرځیدلی. مثلاً سره د دی چې هیواد کی د پشمی صنایعو لپاره کافی خام مواد میسر و او حتی زیات شمیر وړی په ارزانه بیه د هیواد څخه بهر وتلی، مګر د ارقامو له مخی په ۱۳۵۶ کال کی ۵۰,۰۵ فیصده پشمی منسوجات، غوړی او بوره د بهر څخه وارد شوی. شواهد ښکاره کوی چې د دولتی او خصوصی پانګو څخه د داخلی صنایعو د انکشاف لپاره ښه استفاده نه ده شوی، داخلی صنایع ځنی وختونه د دولت له خوا رهنمایی او حمایه شوی نه دی او حتی بعضی وخت د سقوط سره مخامخ شوی مثلا د شاکر چینی جوړول، وطنی ټوکران او نور. د هیڅ صنعت د اعظمی ظرفیت څخه استفاده نه ده شوی. مثلاً کید ای شی چې د هیواد شمالی سیمو او د هیواد ختیځو ولایتونو کی د کافی پنبی، جغندرو او لمرګلی په تولید سره د بوری او غوړیو تولید زیات شوی وای او په بهرنی تجارت کی پورته ذکر شوی بیلانس تر یو حده برقراره شوی وای.




*د افغانستان د صنعت لپاره د کاني توکو زېرمې او کانونه*

یو بل عامل چې د افغانستان د صنعتي اقلامو رول یې بهرنی تجارت کې کم کړی هغه د ګاونډیو هیوادونو له خوا د مشابهو اجناسو (صابون، پاپوش، منسوجات، چیني، غوړی او ځیني نور اقلام) تولیدول دي چې په پای کې داخلي محصولاتو دغه رقابت کې شکست وخوړ مګر دا خبره د مایوسۍ وړ نه ده ځکه چې د صنایعو انکشاف د هیواد دننه مارکیټونو کې د صنعتي اقلامو او محصولاتو د عرضي پوري هم اړه لري. له نیکه مرغه زیاترو صنعتي محصولاتو په ښه بیه په داخل کې خام مواد مهیا دي او د عرضي مارکیټ یې هم شته.

| اقلام | د صادراتي اقلامو ارزش په میلیون ډالرو | | | د ۱۳۵۲ کال پر اساس د اقلامو د ارزش د زیاتوالی فیصدی |
|---|---|---|---|---|
| | ۱۳۵۲ | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | |
| غالي او ګلیم | ۱۴,۴۲ | ۱۹,۹۰ | ۱۶,۹۷ | ۱۱۷,۲ |
| طبیعي ګاز | ۱۸,۰۰ | ۳۲,۱۰ | ۴۱,۰۷ | ۲۳۱,۶ |

پورتني جدول په واضحه توګه د هيواد بهرني تجارت کې د صنعتي اقلامو نقش ښکاره کوي. که چيرې دغه ارقام د تير بحث د (۱۱) جدول سره مقايسه شي نو د کرنيزو محصولاتو په مقايسه د صنعتي محصولاتو ونډه بالکل ناچيزه ده. مګر څرنګه چې ليدل کيږي ورو ورو د هيواد بهرني تجارت کې ځيني اقلامو لکه پوستينچې، طبيعي ګاز او کيمياوي سرې ښه نقش ولوباو.

| عمده اقلام | واحدات | ۱۳۵۷ | ۱۳۶۵ | ۱۳۶۶ | ۱۳۶۷ | ۱۳۶۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| غالي او ګليمونه | زره متره مربع | ۵۲۹ | ۷۶۹ | ۱۰۳۳ | ۸۲۳ | ۸۳۶ |
| پوستينچې | زره ټوټه | ۲۹ | ۲ | ۱ | ۱ | ۱ |
| کيمياوي سرې | ټنه | – | ۳۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ | ۱۲۷۰۰ |
| طبيعي ګاز | متر مکعبه | – | ۲۷۰۰۰۰۰۰ | – | – | – |

| عمده اقلام | بيلابيلو کلونو کې عوايد په زرو ډالرو | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ۱۳۵۷ | ۱۳۶۵ | ۱۳۶۶ | ۱۳۶۷ | ۱۳۶۸ |
| غالي او ګليمونه | ۳۶۵۷۵ | ۳۹۵۲۴ | ۴۸۹۰۰ | ۳۹۰۰۰ | ۳۸۰۰۰ |
| پوستينچې | ۴۷۳ | ۱۱۸ | ۱۰۳۰ | ۶۸ | ۷۳ |
| کيمياوي سره | – | ۵۴۰۰ | ۳۰۰۰ | ۳۷۸۰ | ۲۸۰۰ |
| طبيعي ګاز | ۵۳۰۱۸ | ۲۵۹۵۷۹ | ۲۰۴۵۳۸ | ۹۳۲۳۰ | صادرات نشته |
| مجموعي عوايد په زرو ډالرو | ۹۰۰۶۶ | ۳۰۴۶۲۱ | ۲۵۶۵۴۱ | ۱۳۶۰۷۸ | ۴۰۷۸۳ |

لکه څرنګه چې ارقامي تحليل ښيي د صنعت ونډه د هيواد ملي اقتصاد کې مخ په زياتيدو ښکاري. د دې بحث په پاى کې بايد په خلاصه توګه وواېو چې هيواد کې د لاسي صنعت د اوږدې مودې په ادامه په ۱۳۱۱ کال کې په افغانستان کې (۸) د ماشيني صنعت مراکز رامنځته شول، وروسته دغه صنعتي تاسيسات او مراکز تر ۱۳۶۵ پورې ۲۲۰ او بالاخره ۱۳۶۸ کې ۵۵۷ ته ورسيدل. د صنعت سکتور کې د بوختو بشري ځواکونو رشد ۲,۶ فيصده

دی چی د نور استخدام ظرفیت هم ښکاره کوی. په بهرنی تجارت کی د صنعتی اقلامو ارزش ۲۵۶۵۴۱۰۰۰ ډالرو ته هم رسیدلی.

د افغانستان اوسنی وضعیت او صنایع

د افغانستان منځنی وده د ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې ۹،۴ سلنه وه. ددی ودې زیاته برخه کیدای شی په لوړه مرستي واوسي چی افغانستان په تیره لسیزه کی تر لاسه کړې. چی دا مرستې په ټولیزه توګه د اجناسو څخه د توقعاتو د اندازې ، خدمتونه او بیارغونه یی پورته بوتله. د بیارغونې په ډګر کې رسمي مرستې او همدارنګه پوځی مرستي په ثابته توګه ۴۰۴ میلیون امریکایی ډالر په ۲۰۰۲ کال کی ۱۵،۷ میلیارد ډالر په ۲۰۱۰ کال کی ( چی ۹۸ سلنه ناخالص داخلی تولید دی) زیات شول. ددی مرستو دریمه برخه د ملکی بنسټونو د جوړولو ، د پوهنی په سکتور ، روغتیا ، بریښنا ، او د واټونو په جوړولو لګیدلی دی . په دې وروستیو پینځلسو کلونو کی د ساختمان(ودانۍ جوړولو ) سکتور تر ټولو زیاته برخه نیولی، دا ځکه چی یو خو د کورنیو جګړو له امله دلویوښارونو ټولې ودانۍ ونړیدی او له بلې خوا په میلیونونو مهاجر هیوادوال بیرته هیواد ته را ستانه شول، نوځکه د ودانیو جوړولو ته لومړیتوب ورکړل شو.

د انکشافي مرستو پایلې ډیرې د لیدنې وړ او مهمی دي. د د ۲۰۰۳/۲۰۰۲او ۲۰۱۲/۲۰۱۱ میلادی کلونو کې ناخالص داخلی تولید د هر وګړي ۱۸۶ امریکایی ډالرو څخه ۶۸۸ ډالر امریکایی ته ورسیدل . په لومړنیو ښوونځیو کی شمولیت ۱۹ سلنه څخه ۴، ۷۲ سلنه ته لوړ شو . د اوبو منابعو ( روغتیا ) ته لاسرسی له ۲۲ سلنه څخه ۵، ۴۵ سلنه ته زیات شوی دی. د میندو مړینه نږدې ۵۰ سلنه ټیټه شوه. د عمر منځنی اندازه د ۴۵ کلونو څخه تر ۷، ۴۸ کلونو ته زیات شو.

د صنعت لپاره خام توکی له کرنی څخه ترلاسه کیږی، باید د کرنی محصولاتو ته پاملرنه وشی.

ګواښ دا دی چی دا لاسته راوړنې په راتلونکي لسیزه کې وساتل شی. د افغانستان وده او پرمختګ اوس هم ماتیدونکی دی او دوامدار دی. اګر چی د طالبانو د لویدلو څخه وروسته انکشافی پرمختګونه یوه اندازه هیله من کونکي و ، مګر وروستی شرایط د لوړې په لوړه اندازه او د ګواښونو په زیاتیدو سره د کارکولو سره مخامخ وی. د فقر اندازه د لیدنی وړ

زياته شوي ده لکه چې په ۲۰۰۸/۲۰۰۷ میلادی ۳۶ سلنه د هیواد نفوس د لوږې تر کرښې لاندی ژوند کوي او د پنځوس سلنه څخه زيات د هیواد نفوس د فقر د خطر سره مخامخ دي. نوي ارقام او شمیر دا په ډاګه کوي چې د ۲۰۰۸/۲۰۰۷ او ۲۰۱۲/۲۰۱۱ کلونو کی د چټکې ودې سره بیا هم ددی کلونو په منځ کې لوږه کمه نه شوه. لکه چې د Gini موسسې په واسطه ارزیابی شوي ده په عوایدو کی ډیر د لیدني وړ توپیر موجود دی. په ادارو کی لږ کار کول ډیر جدي ده. که څه هم د وزګارتیا اندازه نسبتا ټیټه ده. (۸،۲ سلنه په ۲۰۱۲/۲۰۱۱ کلونو کې )، د ۸،۱۶ سلنه افراد ګومارل شوی دی چې په اونی کی ۴۰ ساعتونو څخه کم کار کوي. په همدی وخت کې، د کار بازار کی د ګډون اندازه د ۶۰ سلنه چې ډیر ټیټ دی او د هغه اساسی دلیل د ښځو د کار په بازار د ښځو ګډون ډیر کم دی. د ۱۳۹۴ ل. کال احصائیوی کالنۍ وایی چې په دغه کال کې د افغانستان د صنایعو عاید ۲۷۴۲۶۲ افغانی و، البته هغه اندازه کلنۍ وده چې له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۰ (۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۹۰ ل. پورې) په صنعت کې لیدل کیده، ورو ورو مخ په کمیدو ښکاري.




*د هیواد استخراجی صنعت*

د لیږد بهیر (د نړیوالو سوله ساتو وتل) دا پوښتنه را پیدا کوي چې د کمیدو اغیزه په نظر کې نیول شی او مرستې څه ډول ددی هیواد په اقتصاد باندی دا مرستی اغیزه وکړی. د اقتصاد مودل په هکله وړاندوینه کیږی چې د مرستو د کمولو اندازه اوس د تمویل کونکو له خوا تر لاس لاندی نیول شوی دی.کیدای شی د افغانستان اقتصادی وده پنځوس سلنه را ټیټه کړی۱. که په خوشبینانه توګه ورته وګورو دا خوشبینی د امنیت په ساحه کی د ورو پرمختګ او د استخراجی صنایعو کی شامل کیږی. داسی لیدل کیږی چې افغانستان وکولی شی تر ۲۰۲۵میلادی کال پورې په منځنی توګه ۸،۴سلنه خپل روشد وساتي. تر څو افغانستان وکولی شی د یوه وګړي ناخالص د تولید اندازه داسی ځای ته ورسوی چی اوسمهال یی نور هیوادونه د اسیا په جنوب کې لري . لوړې د اوسنی د لوړې کچې کمول او د بیکارانو او کم کار لرونکو په هکله به لږ پرمختګ وشی .د کار پیدا کیدو ته به ګوابن زیات شی دا ځکه چی په کال کی د ۴۰۰۰۰ څخه تر ۵۰۰۰۰ پورې د کار قوه د کار بازار ته داخلیږی .او همدارنګه په دې دلیل چی نړیوال کمکونه د کار په پیدا کیدو په سکتور باندی اغیزه لري . راتلونکی اقتصاد باید دکرنی تر څنګ په صنها باندی ودرول شی. یعنی زموږ صنعت اوس په لومړنیو ګامون کی دی باید اوچت او پیاوړی سی.

د قدرت د لیږد بهیر هیواد د یوه اندازه احتمالی خطرونو سره مخامخ کوی بهرنی مرستی ،د دولت لوړه اندازه لګښتونه او همدارنګه د بهرنیو اسعارو د تبادلی معاملات په دی شامل دی چې دواړه به د لیږد د بهیر په کلونو کې د ګوابن سره مخامخ شی اګر چی داخلی عواید په بی ساری توګه ۴،۱۱ سلنه په ۲۰۱۱ کال کی ناخالص تولید په ډاګه کاوه ، دی عوایدو یوازی څلویښت سلنه د دولت مصارف تامین کول.

په دی برسیره ، هیله کیږی چی لګښتونه زیات شی دا ځکه چی دولت د کورنی امنیت ډیر مسوولیتونه او د هغه پراختیا ،د عامه شتمنیو ساتل و څارل په غاړه اخلی .دا شتمنی تر اوسه د بهر څخه د مالی وجوه په توګه د بودجه څخه خارج ، د انکشافی پروژو او د تمویل کونکو په واسطه تمویل کیده . وړاندوینه کیږی چی د دولت په واسطه د مالی وجوه د لاسته راوړلو د پاره دولت به تر ۲۰۲۵ میلادی کال پورې ۲۰ سلنه نا خالصو داخلی عوایدو ته ورسیږی. په نړیوالو مرستو کی کمیدل د افغانستان د دولت د پرداخت توان به هم د ګوابن سره مخامخ کړی. په افغانستان کی د تمویل کونکو ځواکمن حضور د افغانستان د انکشاف د پاره ډیر

مهم دی مګر د پالیسیو اړتیا دوام او د اقتصادي پانګونو احساس کیږی. تر څو وکولی شی د صادراتو عواید زیات کړی د دولت عواید پورته یوسی. او بهرنی مستقیمه پانګونه په بهرنیو مرستو کی د کموالی اغیزه کم کړی دا ټول هغه مهال ممکن دي چی د دولت مالی توانمندي ډیره قوي شی.

که څه هم په هیواد کې د سړکونو بنسټ ښه شوی دی ، وړل او راوړل د ټیټ کیفیت لرونکی او لګښت ورباندې راځي. او هم یخچال لرونکي وسایط وجود نلري. په ډیرو کلیوالو کورنیو کې ، د سړکونو سره تړل کیدل محدود دي او د فصلونو د نوساناتو څخه ډیر اغیزمن کیږي. منځنی واټن د سړک سره په ټول هیواد کې نږدې دري کیلومتره ده او هر کال وړل او راوړل د سړکونو څخه نږدې یوه میاشت غوځ کیږي. د ناامنی او د امنیتی ځواکونو او نورو وسله والو ډلو په واسطه د روپیو اخیستل ( په غیر قانوني توګه د سړک حق اخیستل کیږي) د وړلو او راوړلو لګښت او احتمالی خطرونه زیاتوي .

په دې برسیره ، لکه چې پورته وویل شول هیواد د سړو خونو له امله د ډیر محدود ظرفیت لرونکی دی . د سړو خونو نشتوالی په دې مانا دی چې فصلي تولیدات یوازی هغه مهال بازار ته راځی چې فصل یې وي. او ټول تولیدات په یوه وخت کې بازار ته راځي چی د تولیداتو نرخ را ټیټوي ۲۹. هغه تولیدات چې د لوړ کیفیت او ارځښت لرونکی دی په څو وارو سره لوړه بیه لری (د ساری په توګه ، د زردالو نرخ په دوبۍ کې دري وار د پاکستان د نرخ سره دی چې هلته پلورل کیږی) .مګر د میوو صادر کول نوموړو بازارونو ته د یخچا ل لرونکو وسایطو او سړو خونو ته اړتیا لری . د بدیل په توګه ، د هوا له لارې د تولیداتو لیږل دوبۍ ته څو واره لګښت په راځي.

د ترانسپورتي بنسټونو او سړو خونو نشتوالی ،د باغداری تازه محصولاتو ته د باور نه ورکول ( سرټیفیکیټ ) او همدارنګه په ګمرکونو د کراچۍ په بندر کې ستونزې – هلته چې معمولا کانتینرونه ودرول کیږي ، بازارونو ته لاسرسی باندې اغیزه کوي. د افغانستان په ګمرکونو کې غیر ضروري مقرارت ، افغانستان ډیر کمزورو اجراتو بیانونکی د (( سرحدونو څخه د باندې سوداګری )) ساحه کې دی. لکه چې د سوداګری شاخص په مجموع کې ۱۸۹ هیوادونو کې افغانستان ۱۸۴ قرار لری . د ساري په توګه ۸۱ ورځې وخت نیسي او ۵۰۰۰ ډالر باید ولګول شی تر څو یو ۲۰ فټه کانتینر له کابل څخه د کراچي بندر ته ولیږدول شی ۲۹.

بازارونو ته د لاسرسی د پاره وړاندیزونه:

- د دوهمه او دریمه درجه سړکونو ایجادول
- د پاکستان او هندوستان سره د توافقنامو باندې بحث او د هغه نافذ کول، د باغداری د لوړ ارځښت محصولاتو صادرولو د پاره د اسانتیا و د برابرولو د پاره د هندوستان او پاکستان له لارې
- د لارو چارو ساده کول او د ګمرکونو ساده کول (اتوماتیک کول) د غیر ضروری مقرراتو او اداری فساد د کمولو د پاره
- د ارځښت لرونکو تولیداتو د صادراتو او وارداتو د پاره د کیفیت د کنترول او اعتبار ورکولو طرزالعملونو ایجاد، او د افغانستان د کرنیزو تولیداتو د پروژې (AAIP) له لارې د کیفیت د کنترول او باور ورکولو د پاره د بنسټونو ایجاد کولو د پاره د هڅو زیاتول.
- د سړو خونو د بنسټونو د پاره د خصوصي د پانګونو څخه ملاتړ

## د صنعتی ځمکو ته لاسرسی کې ستونزی چې خدمتونه وړاندې کوي

د ځمکو کمزوری بازار او د صنعتی سیمې نه شتوالی په دې مانا دی چې د سوداګری د پاره د ځمکو تر لاسه کول د وخت ضایع کول او ستونزمن دي. د ساري په ډول، بالقوه پانګوالان د کرنیزې سوداګری په ډګر کې، په سړو خونو باندې د پانګونو په ګډون، باید یو میلیون ډالر د یوه هکتار ځمکې په وړاندې ورکړي او دوه کاله منتظر و اوسي او نورې ستونزې وګالي، د لګښت لرونکی ملکیت (د ټول جایداد پنځه سلنه ارځښت لګښت پرې راځي) او د (۲۵ ورځو په حدود کې) دی چې دا امر د دې سبب شوی دی چې افغانستان د سوداګری د شاخص سره سم ((د جایداد د ثبت)) له ټولو ۱۸۹ هیوادونو څخه ۱۷۵ هیواد په توګه ځانته اختصاص کړی دی. د یوه صنعتی ساختمان د پاره د جواز د تر لاسه کولو د پاره، یوه اوږده او د لګښت لرونکی پروسې (۳۳۰ ورځې د شاخص په بنسټ(( د ساختمانی جواز تر لاسه کول)) دي. امنیتی ستونزې د صنعتي ځمکو د بیو د لوړوالی سبب ګرځي. د ساري په توګه، امنیتي دیوال د صنعتی ساحې ۳۰۰۰ متر مربع – چې د زیاترو ساختمانونو د پاره یو حتمي کار دی– د ۱۵۰۰۰ امریکایی ډالرو لګښت پرې راځي. د صنعتی ځمکو د تر لاسه کولو د پاره احتمالي

خطرونه د قرارداد په تر سره کولو کې د ستونزو له امله زیاتیږي. په دې برخه کې د سوداګرۍ د شاخص د ټولو ۱۸۹ هیوادونو کې په ۶۸۱ درجه کې دی.

نوموړو ستونزو ته په کتو سره ، دولت صنعتي پارکونو د جوړولو څخه (په ډیرو وختونو کې، د انکشافي شریکانو په ملاتړ سره) ملاتړ یې کړی دی. دا پارکونه عامه ملکیت دی او فعالیت کوي . له دې امله د بریالیتوب د مختلفو درجو لرونکی دی. په وختونو کې لکه حصارشاهي ( د جلال اباد سره نیږدې ) ، د امنیتي ستونزو له امله د ناکامی سره مخامخ شو. په ځینو ساحاتو کې ، د مقرراتی ضعیف طرزالعمل شتوالی ددی سبب شوی دی چې د پارکونو څخه غیر صنعتي ګټه پورته کړل شي. ځینې پارکونه محدود مګر لاسته راوړنې یې ښې دي چې کیدای شی د بګرامي د صنعتي پارک څخه چې د کابل سره نږدې دی یادونه وکړو.

په دې وروستیو کې دولت تصمیم نیولی دی تر څو ایسا (( په افغانستان کې د پانګو څخه د ملاتړ اداره)) باید د صنعتي پارکونو مسوولیت په غاړه واخلی. او په دې ډګر کې باید لارښوونکي نقش ، د ډاډ د ترلاسه کولو د پاره په غاړه ولري تر څو اوسنی او پلان شوي صنعتي پارکونه په افغانستان کې په اغیزمنه او رښه توګه د خصوصي سکتور اړتیاو ته ځواب ووایي.

د ایسا د نویو مسوولیتونو تر سره کول ، باید نړیوالې تجربې د بریالیو صنعتي پارکونو په جوړولو کې په نظر کې ولري او دا تجربی عبارت دي له:

- صنعتي ساحې باید د مقایسوي ګټو په محور کې واوسي.
- باید صبر وکړل شی کله وار دا بهیر کلونه دوام مومي .
- په بنسټونو باندې باور د هڅونکو څخه ډیر زیات مهم دی.
- زیاتره وخت ، خصوصی سکتور د صنعتی پارکونو په انکشاف کې ښه نقش لوبولی شی: خصوصی بنسټونه هغه مهال خپل رضایت په ډاګه کوي چې دا ټکي ووینې: (الف) : مناسب موقعیت: (ب) : بازار موجود وي . (ج): د دوی هر ډول بنسټیزې اړتیاوې پوره کړل شوي وي. د صنعتی ساحاتو د انکشاف د پاره هڅې کیدای شی د دولت او د خصوصی سکتور د همکاریو په توګه وبلل شی.

- که څه هم سیاسي ملاتړ ډېر مهم دی ، خو د ساحه په انتخاب او مدیریت کې سیاسي مداخله اغیزمنه نه لیدل کیږي.
- د ملي اقتصاد عمومي سیالي د پانګوالي د فضا د پاره ډېر مهم دی.
- د صنعتي پارکونو د پاره د حقوقي او مقرراتي واضح او روڼ چوکاټ د مقرراتي او تطبیقي وړتیا د پاره اړین دي.

د صنعتي ساحاتو د اړیکو تامین د پاره ، کلیدي بنسټونو کې لکه د سړکونو او اورګاډي کرښو د پانګونو د لاری د سیالی د پاره قوي عامل ګڼل کیدای شي.

په تیرو لسو – دولسو کلونو کی دافغانستان د پرمختیایی ستراتیژی په رڼا کی د صنعت ودی ته څه ناڅه پاملرنه شوی ده او یو څو وصنعتي پارکونه جوړ شوی دی و خو بیا هم د کورني جګړی له پیل څخه مخکی وضعیت ته نه یو رسیدلی. سره له دی چی د صنعهت دودی لپاره ډیر دولتی ملکیتونه خصوصی سکتور ته ورکړل شول او پخوانی دولتی تصدی او فابریکی د خصوصی کول تر نامنه‌لاندی و پلورل شوی خو له یو څخه هم د صنعتی انکشاف لپاره کار ندی اخیستل شوی بلکی تولی پخوانی فابریکی یا هوټلونه جوړ شول یا د مخابراتو شرکتونه شول او یا هم د تلویزینو لپاره ورکړل شول یعنی صنعتی تولید له‌لاسه ووت،

همدا راز پورتنیو معلوماتو ته په پامنرنې سره لیدل کیږي چی د صنعت سکتور په دې دوره کې تل تر نورو لږ وده کړی ده، او اوس په ملي عاید کې تر نورو ټولو کمه سلنه جوړوي مهم علت یې د پالیسیو او کارنده پلانونو نه موجودیت و. ارقام څرګندوی چی زیاتره پانګوالو په داسې کاروبارونو کې پا نګونه ګړی وه چې سرمایه ژر راوګرځوي او په لوړه پیمانه لنډ مهاله ګټه ولري ، یعنی د لنډی مودی پروژوته اولویت ورکول شوی و ، حال دا چی دوو مولدو مهمو سکتورونو یعنی صنعت او کرنی ته پاملر نه ده شوی، آن دا چی ددغو دوو سکتورنو په برخه کی ثابتی شتمنی تهدید سره مخامخ شوی دی . دبیلګی په توګه ډیرو سیموکی کانی توکی په خپل سر د محلی قاچاقچیانو په لاس کی دی او په غیر فنی شکل له ډیرو زیاتو ضایعاتو سره په غلا ایستل کیږی ، چی دا ډول کیندنی چاپیریال ته هم لوی زیان اړوی او دا کړنی د زریزی د اهدافو سره په شدید مخالفت کی دی، له‌بلی خوا ډیری ښی کرنیزی ځمکی تر غیر زراعتی استعمال لاندی راغلی او عامه زراعتی ملکیتونه، دولتی فارمونه اوشنی

ساحی تر غصب لاندی راغلی دی. سره له دې چې د صنعت سکتور ونډه په ملي عوایدو کې دومره په زړه پورې نه وه خو بیا هم ویل کیږي چې له څو لسیزو ستونزمنو حالاتو راوروسته په افغانستان کې اوس اوس یوه اندازه کوچنی او منځنی صنایع نوې رامنځته شوي او ګڼ تولیدات لري چې آن په ځینو برخو کې دغه صنایع توانیدلي چې واردات تعویض او داخلي




تقاضا په خپلو داخلي تولیداتو رفع کړي . لاندې جدول په افغانستان کې نوې راټوکیدلې صنایع د کلونو او کټګوریو په تفکیک سره څرګندوي .

***د خصوصي سکتور د صنایعو تولیدات***

*Source: Compiled from Afghanistan statistical yearbooks (2008 to 2012)*

له هغه وروسته چې د۱۳۸۲ل. کال د نوي اساسي قانون له مخی، د بازار اقتصاد د ټولو اقتصادي فعالیتونو لپاره اساس وګرځول شو دافغانستان د صنایعو په سکتور کې د خصوصي سکتور ونډه ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو ده . له یوې خوا د خصوصي کولو د پروسې په نتیجه کې یو زیات شمیر دولتي تشبثات خصوصي او نیمه خصوصي ملکیت او کمپنیو ته انتقال شول او له بلې خوا په هیواد کې د مخ پر زیاتیدونکې تقاضا د رفع کولو په موخه د خصوصي متشبیثینو له خوا په ګڼو صنایعو کې پانګه واچول شوه . لاندې جدول ددولتی ګزارشونو له مخی د صنایعو په سکتور کې د خصوصي او عامه سکتور ونډه د کلونو په تفکیک سره ښکاره کوي :

*په داخلي صنايعو کې د خصوصي او عامه سکتورونو ونډه*




*Source: Compiled from Afghanistan statistical yearbooks (2007 to 2012)*

## پانګه‌اچونه :

په ټولیزډول په‌افغانستان‌کې دپانګې اچونې بهیرپه لاندې شکل کې ښکاره کوي چې دپانګې اچونې کچه‌نظراقتصادي شرایطوته‌دبدلون‌په‌حال‌کې وه.

*ټوله پانګه اچونه د ۲۰۰۳ – ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ (ارقام په میلیون ډالرو)*




| | 2003 | 2004 | 2005 | 2006 | 2007 | 2008 | 2009 | 2010 | 2011 | 2012 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Foreign | 239 | 209 | 177 | 327 | 201 | 79 | 41 | 164 | 58 | 65 |
| Total Initial Capital | 886 | 687 | 592 | 1,19 | 651 | 406 | 1,02 | 636 | 514 | 627 |
| Domestic | 647 | 478 | 414 | 866 | 450 | 327 | 985 | 472 | 457 | 562 |

*سرچینه : د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداري ډاټابیس .*

### دخصوصي پانګې اچونې په مټ رامنځته شوی سکتوري استخدام




*Source: AISA (2012), Research and Policy Department (RPD) data base.*

په افغانستان کې دنوې اقتصادي سیستم په راتګ سره دخصوصي پانګوالو پام ګڼو صنایعو ته را واوښت ، چې لاندې جدول په اتو کټګوریو کې دخصوصي صنایعو ارزښت ښکاره کوي او ارقام ښئي چې د دغو صنایعو ارزښت په تیرو پینځو کلونو کې د ډیر لږ پر مختګ سره په مارکیټ کې ځان ساتلی .

**۳۱ جدول : د خصوصي ستکتور صنعتي تولیدات (میلیون افغانۍ د ۱۳۸۵ کال په قیمت)**

| دصنایعو کتګوری | 2006-07 | 2007-08 | 2008-09 | 2009-10 | 2010-11 | 2011-12 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کیمیاوي او پلاستیکی تولیدات | 715.5 | 817.1 | 877.8 | 888.6 | 899.2 | 909.7 |
| سپک صنایع | 964.2 | 997.4 | 1038.1 | 1065.9 | 1098.4 | 1104.9 |
| خوراکي توکي | 1418.8 | 1803.5 | 1790.9 | 1870.3 | 2268.8 | 2333.1 |
| فلزي صنایع | 354 | 392.1 | 390.5 | 382.4 | 407.5 | 1656.2 |
| درمل | 190 | 240 | 252 | 256 | 259 | 261 |
| ساختماني مواد | 1669.8 | 1742.5 | 1762 | 1787.3 | 1808.8 | 1825.6 |
| ترکاڼي او کاغذي صنایع | 382 | 392.3 | 366 | 371 | 375.7 | 378.7 |
| نور | 1338 | 1447.6 | 1468 | 1519 | 1537.5 | 1532 |

سرچینه : د افغانستان احصائیوی کالنی ۲۰۰۷ - ۲۰۱۲

## تمرینات

۱.په افغانستان کې د صنعت د لرغونتوب په هکله شل کرښې معلومات ورکړئ.
۲.ولې په بهرنۍ سوداګرۍ کې زموږ د صنعتی تولیداتو ونډه لږ ده؟
۳.له۲۰۰۱م.کال څخه وروسته ولې د هیواد صنعت ترقی و نه کړه؟
۴.زموږ صنعتی پارکونه ولې بریالی نه دی؟
۵.ملی پرمختیایی ستراتیژۍ (ANDS) د صنعت برخه کی څه لرل؟
۶.خصوصی پانګونی صنعت ته څومره اهمیت ورکړی دی؟
۷.شاکر چینی جوړول ولی له ماتی سره مخ شول؟
۸.موږ کوم مهم کانونه لرو؟
۹.خامک ګنډل کوم ډول صنعت دی؟
۱۰.غنم کرل او ډودۍ پخول کومو دوو بیلابیلو سکتورونو پورې اړه لری؟

# اتم څپرکی

## محلی شوی صنایع

(Localized industry)

افغانستان او په مجوع کې پرمختیایي هېوادو ته یوه په زړه پورې موضوع د دوی محلي شوی صنعت دی، سره له دې چې پرمختللو هېوادو ته هم دا موضوع صدق کوي. دا هغه صنعت دی چې په یوه جغرافیایي سیمه کې نامتو او خپور او د همدې سیمې نوم پورې تړلی وي. د افغانستان د اقچې، تاشقرغان او هرات غالۍ، دستالف کاشی، د خوست د مزرو اوبدل شوی لاسی صنعت، دکندهار لاسی اوبدل ، د کونړ نجاری، د غزنی پوستین ګنډل او داسې نورصنایع د دې ډول صنعت بېلګه کېدای شي. دغه ډول صنایع په یوه سیمه کې متمرکزې وي.د درنو ماشینی صنایعو په هکله باید وویل شی چې په المان کې یو شمېر درانه ماشیني صنایع دا خصوصیت لري.

## محلي صنایع اود فعالیتونو مناسب ځای پرځای کول (Appropriate Location)

په اقتصاد کې د نورو نظریاتو ترڅنګ یوه هم د محل ټاکنه ده ، ځمکه او محل د اوچت ارزښت لرونکې ده . د دې نظریې له مخې ځمکه باید د یوه عامل په توګه په ډېر ښه ډول تشخیص شي. دا نظریه د اوږدو کلونو په ترڅ کې بشپړه شوه، چې د کارځایونو او تولیدوونکو ځای پرځای کېدو سره تړاو لري. دغه نظریه د کرنیزو سیمو ، ښاري سیمو او د ځمکې د نورو استعمالونو په هکله توضیحات ورکوي. په دې برخه کې تر ټولو زیات، نامتو عالم وان تونن ( J. H.VonThunen) په ۱۸۲۶ م .کال کې کار وکړ. هغه له مرکزي مارکېټ څخه د لرې والي په اندول د ځمکو ارزښت وښود. د وان تونن نظریه وروسته بیا د امریکې د متحده ایالاتو او ډېرو اروپایي هېوادو لپاره ګټوره واقع شوه او د دغو هېوادو د ځمکو زراعتي استعمال یې داسې عیار کړ، چې مرکزي مارکېټ ته یې محصولات په ښه ډول او مناسبه بیه ورسېږي. د ځمکې دغه نظریه وایي : هغه محصولات چې نازک اولېږدول یې باید ژر ترسره شي لکه سابه او میوې باید ښارونو او مرکزي مارکېټ ته نژدې تولید شي، خو مالداري او غلې دانې

کېدای شي په لرې پرتو سيمو کې توليد شي. دغه نظريه اوس هم د افغانستان په شان يوه پرمختيايي هېواد ته ډېره مهمه ده، ترڅو د ځمکو استعمال هم اقتصادي بڼه غوره کړي او ګټه هم اعظمي حد ته اوچته شي، په دې توګه د محصول په ارزښت کې د هغه د کيفيت څخه پرته د سيمې ټاکنې او د ترانسپورت لګښت هم ځای و موند.

وروسته بيا د شلمې پېړۍ په پيل کې A.weber دغه نظر د صنعتي تاسيساتو د ځای ټاکنې لپاره وکاروله. نوموړی د يوه صنعت لپاره هغه سيمه مناسبه وبلله چې هلته د دغه صنعت لپاره خام توکي په لنډ واټن کې موجود وي، او د بشپړ رقابت د شرايطو په فرضيې سره يې دا هم وڅېړله چې که دغه صنعتي سيمې بازار څخه لري پروت وي، بايد څه وشي. ويبر د صنعتي کارځای څخه د مارکېټ د خامو توکيو د موجوديت او د مرکزي مارکېټ د فاصلې په تحليل سره د ګټې اعظمي کول وښودل. ويبر دا هم وڅېړله چې که چېرې نور عوامل ثابت فرض شي، نو په څه ډول سره بايد د صنعتي کار ځای لپاره يوه داسې سيمه غوره شي چې د لېږدولو او ترانسپورت لګښت تر ټولو په ټيټ بريد کې وي. ده وويل چې که خام توکي تر توليد شويو اجناسو درانه وي،غوره به وي چې کارځای د مارکېټ په پرتله د خامو توکو خواته نږدې وي، خو که وضعيت د دې سرچپه وي، بيا نو غوره ده چې کارځای مارکېټ ته لنډ وي، يعنې د بارولو او تشولو عمليه بايد يا د خامو توکو د عرضې سيمې يا مارکېټ ته نږدې نه د دواړو ترمنځ. ويبر له ۱۸۲٦ م. کاله څخه تر اوسه پورې يعنې د وان تونن له مهاله تر شلمې پېړۍ پورې د شرايطو پيچلتيا په پام کې ونيوله او د څو ګونو بازارونو مسئله يې هم حل کړه. ده د څو ګونو مارکېټونو، د کار ځواک، ترانسپورت، د ځمکې دارزښت او د انحصار مسئله يو ځای حل کړه او په اوسنيو رقابتي شرايطو کې يې د محل تيوري location theory توضيح کړه.وروسې په ۱۹٦٦ م. کال کې Christaller د سيمې او ځمکې دغوره کولو مسئله د کارځای د فعاليت د ځای له مخې نه، بلکې د مارکېټ له مخې يعنې د بازارونو له پلوه وڅېړله، د سيمې ټاکنې نظريه په دې ټولو حالاتو کې او وختونو کې د مفاد اعظمي کولو ته متوجه وه.

لاسي او محلي شوی صنايع، دهغه هيواد د خلکو د فکر، هنر، ستونزو او خواريو او آرمانونو سمبول او نښه ده چې د تاريخ په اوږدو کې يې په کلکه توګه د توليدوونکو د نوښت د راوستلو د غوښتنې له احساس څخه اغيزمن دی. د غالۍ اوبدلو صنعت له ډېرو زياتو

لوړو – ژورو سره مخامخ شوی دی. کله چې د هنرمندو ګوتو د کار لپاره ډګر پرانیستی و، د غه هنر د غوړیدو او پرمختګ په لوري تللی دی. د دغې بیلګې ښه شاهد هغه ارزښت لرونکي آثار دي، چې د نړۍ په نامتو موزیمونو کې د خراسان د غالیو په نوم ساتل کیږي. ځینې وخت د غه هنر ته د طبیعي او نا طبیعي ناوړه پیښو له امله زیان رسیدلی دی. د غالیو او د غالیو د هنرمند نکل د دوی د اوږد تاریخ په اندازې سره له مینې، ستونزو او ښکلاوو سره یو ځای و.

مثلاً : افغاني غالۍ نه یوازې دا چې یو مصرفي توکی (جنس) دی، بلکې یو کلتوري عنصر هم دی. د غه ګرانبیه جنس، د افغانانو د تمدن د هنري ښکلا، جغرافیې، باورونو، آدابو او دود – دستور او ټولنیزو کړو – وړو ښکارندویه هم ده چې له هیواد څخه بهر یې د افغانانو د هویت د روند بار هم په اوږه دی. همدارنګه د تاریخي شواهدو له مخې، د افغاني غالیو جوړول په دغه هیواد کې ډیر لرغونی تاریخ لري. په افغانستان کې د غه صنعت، په سیده او اټکلي توګه له یو میلیون غالی اوبدونکو سره تړاو لري چې په سیده او ناسیده توګه د ټولنې د وګړو په کارموندنه او روزګار چلولو کې د اهمیت وړ دی. د ټولنې بیوزلو وګړو، د ښځو لپاره د کارموندلو او د کلیوالي اقتصاد اهمیت ته په کتلو سره، د غالیو صنعت په افغانستان کې ډیر اوچت ارزښت لري. په دې وروستیو لسیزو کې غالۍ د افغانستان یو ډیر مهم صادراتي جنس دی. په ټولنه کې د وروستیو سیاسي او ټولنیزو بدلونو څخه وروسته داسې هیله کیده چې د غه صنعت ته به ډیره پاملرنه وشي او په کورنیو بازارونو کې به د د غه جنس لپاره بازارونه پراختیا و مومي، خو له بده مرغه په تیره یوه لسیزه کې، سره له دې چې دې برخه کې ډیرې هڅې وشوې، خو بیا هم ستونزې موجودې دي، لکه د بازار موندنې په برخه کې ستونزې او د تولیدوونکو څخه د نه ملاتړ ستونزه.

د د غه صنعت د اهمیت او په افغانستان کې د هغو د تولیدوونکو د ستونزو په هکله ډیره لږ څیړنه شوې ده. د دغه کتاب لیکلو کې یوه لویه ستونزه د تولیدونکو په هکله د شمیرو نشتوالی او د دوې په وړاندې د پرتو خنډونو په هکله د روښانه انځور نشتوالی و. ښکاره خبره ده چې پورتني عوامل د راتلونکي لپاره د د غه صنعت په هکله له تصمیم نیوونکو او پلان جوړوونکو سره مرسته کوي.

له دې ټولو سره سره، د دغې ځېړنې د ليکلو موخه، په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو د صنعت د درېځ او ارزښت ارزونه ، د دغه صنعت لا زياته پيژندنه او په دې برخه کې د پرمختګ په لاره کې د خنډونو پيژندنه ده. هيله لرو چې دا کوچنی ګام چې ممکن تيروتنې به هم ولري، دې برخه کې د لا زياتو ځېړنو لپاره لاره هواره کړي

## په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو په موضوع د ځېړنې اړتيا

په ۱۹۹۶–۲۰۰۰م. کلونو کې په لاس د اوبدل شويو غاليو د نړيوالو وارداتو ارزښت تر ۷،۷۱ ميليارده ډالرو پورې رسيدلی و،چې په منځنۍ توګه په يو کال کې ۱،۵۴ ميليارده ډالره کيږي. يعنې يوه کال کې دغه جنس ته د ۱،۵۴ ميليارده ډالرو په ارزښت تقاضا موجوده ده. په ۱۹۹۶م. کال کې غاليو ته تقاضا له ۱،۶۷ ميليارده ډالرو څخه ۱،۴۵۶ ميليارده ډالرو ته په ۲۰۰۰ م. کال کې ورسيده، چې له بده مرغه د ۴،۲۵ ميليون ډالرو په اندازه کمښت ښکاره کوي. په نړيوال بازار کې د ۸۷ هيوادونو په لاس اوبدل شوې غالۍ ليدل کيږي چې امريکا ، ايټاليا او انګلستان هغه څلور لوی هيوادونه دي چې د غاليو واردوونکي بلل کيږي. په دوی کې امريکا او ايټاليا غالۍ د خپلو کورنيو استفادې لپاره واردوي، خو دوه نور هيوادونه يې بيا بيرته صادروي. د واردوونکو هيوادونو د شمير زياتيدو د دغه جنس په نړيوالو وارداتو کې کوم ځانګړی بدلون نه دی راوستی، بلکې نړيوال واردات يې لا انحصاري کړي دي. په بله وينا : په ۱۹۹۶م. کال کې چې د ۱، ۲ او ۴ تصديو (کارځايونو) د تمرکز نسبت د غاليو نړيوالو وارداتو کې په ترتيب سره په سلو کې ۴۲ر۴۴ ، ۵۷ر۵۵ او ۶۸ر۴۶ و او په ۲۰۰۰ م. کال کې په ترتيب سره په سلو کې ۳۸ر۲۹، ۶۵ر۹۷ او ۶۸ر۴۶ ته ورسيد، نو ځکه له ۱۹۹۶م. څخه تر ۲۰۰۰م. کال پورې د نړيوالو واردوونکو په انحصاري ځواک کې زياتوالی راغلی دی.

د يادونې وړ ده چې د نړيوالې تقاضا له جملې څخه د امريکې برخه له ۱۲،۱۵ سلنې (دوهمې درجې) څخه ۲۹،۳۸ سلنې (لومړۍ درجې) ته پورته شو. دغه هيواد له آلمان سره يوځای هغه لوی واردوونکي هيوادونه دي چې د نړۍ د ټولې تقاضا په سلو کې ۶۰ جوړوي او په اوسني وخت کې امريکا په نړيوال بازار کې د لاسي غاليو تر ټولو لوی تقاضا کوونکی

هیواد دی. پورتني ارقام ښکاره کوي چې په نړۍ کې د ماشیني غالیو له زیاتوالي سره سره بیا هم په لاس اوبدل شوي غالۍ د لوړ ارزښت او اهمیت لرونکی دي. نو په دې توګه د اسې ښکاري چې زمونږ د غالیو تولیدوونکي کولای شي چې د دغه صنعت د اهمیت په پوهیدو سره او د بازار په پیژندنې سره او د هغه بدلون په پوهیدو سره چې د مصرفوونکو په سلیقه او ذوق کې راغلی، خپل ځانته ځانګړی د ریځ ترلاسه کړي. نو د لاسي غالیو د اهمیت په پوهیدو او خبریدو سره دوی کولای شي غالۍ اوبدونکي د دغه محصول کمي او کیفي زیاتوالي ته وهڅوي او د افغاني غالیو اوچت کیفیت ته په پاملرنې سره او د هیواد په صادراتو کې د هغو رول، په نړیوال بازار کې یې غوره شهرت او د کار موندنې په برخه کې د ارزښت په پوهیدو سره، لازمه ده چې د دغه صنعت په برخه کې تخصصي څیړنه وشي.

په دې هکله باید د اوبدونکو ستونزې، د بازار موندنې ستونزې او نور خنډونه په کره توګه وارزول شي، ترڅو دغه ستونزې او خنډونه له منځه لرې شي. خو که چیرې لکه د تیرو کلونو په شان له دغه صنعت څخه غافل پاتې شو، نو د هیواد او غالۍ اوبدونکو اقتصاد ته به نه جبران کیدونکي زیانونه واړوي. له همدې امله د موجودو ستونزو پیژندنه په دغه برخه کې کولای شي د هیواد خوار او بیوزله اقصاد سره مرسته وکړي.

## د افغانستان لاسي صنایع او د هغو اهمیت

لاسي صنایع یا لاسي صنعت هغې اقتصادي څانګې ته ویل کیږي چې د اجناسو تولید په کوچنیو کارځایونو کې چې زیاتره یې په ځانګري او خپلواک ډول کار کوي، ترسره کیږي او دغه ډول کارځای (تصدي) د یوه فني شخص له خوا اداره کیږي چې د کار په وسایلو او اوبدلو په چارو کې پوره مهارت لري. دا په مجموع کې د صنعت د سکتور یوه برخه ده.

یو شمیر پوهان وایي چې لاسي صنعت هغه انفرادي تشبثات (کاروبارونه) دي چې د کارځواک، وسایلو او له خامو توکو څخه په کار اخیستو کې د تصدۍ د کفایت او مهارت تابع دي. او د وخت په تیریدو سره خپل اصطلاحي مشخصات له لاسه ورکوي. ځینو دورو کې پیشه وران او د لاسي صنعت کاروباریان هغه کسان وو چې خام او نیم کاره توکي به یې په خپلواکه توګه په تولید کې کارول.

لاسي صنعت دوه ډوله دي:

- یو ډول يې پېژندنه او نظامنامه لري
- دوهم ډول يې هغو صنايعو ته ويل کيږي چې له اساسنامې او نظامنامې پرته کار کوي.
- لومړی ډول يې بيا په دوو برخو باندې ويشل کيږي :

١.هغه تړلي صنايع چې په هغو کې د شاګردانو شمير لږ وي او د شاګرد او وستاکار د کار پرېښودل پکې نه ليدل کيږي.

٢. هغه پرانيستي صنايع چې په هغو کې د کار پرېښودل کوم بنديز نه لري او د شاګردانو روزنه هم پکې محدوده ده.

د لاسي صنعت اصطلاح په بيلابيلو هيوادونو کې په نورو ډولونو سره تعبير کيږي، په يو شمير هيوادونو کې چې صنعت پرمختګ کړی دی، په هغو کې لا اوس هم د لاسي صنعت نښې د پخوا په شان ليدل کيږي، خو ځينو سيمو کې له منځه تللي دي.

## لاسي صنعت؛ او له هغه سره ورته نورو اصطلاحاتو سره يې توپير

له کورنيو حرفو سره د لاسي صنعت توپير په دې کې دی چې د لاسي صنعت يوه خپلواکه تصدۍ (کارځای) خپل توليدات په بازار کې پلوري او توليدوونکي له بازار سره سيده اړيکه لري، حال دا چې په کورنيو کې صنعتګر يا پيشه ور له بازار سره سيده اړيکه نه لري، بلکې د دغه حرفو لرونکي خپل توليدات د دلال او سوداګرو په لاسونو پلوري. د دغو حرفو پيشه وران ممکن د خپلو کاروبارونو تکړه استادان و ماهر خلک وي، خو له اقتصادي پلوه به نا خپلواک وي او د پلورلو له يوه مرکز سره به تړلي وي.



*د لاسي صنعت يوه بيلګه*

## له لاسي دوديز کارځای سره د لاسي صنعت توپير

په کورنيو کارځايونو کې مصـرف کوونکي او توليد کوونکي (مولد او مسـتهلک) دواړه يو واحد دی، چې توليد د خپلو اړتياوو لپاره ترسره کوي. په لاسي صنعت کې زياتره وختونه کارځای د وسـتاکار د اوسـيدلو کور يا د هغه کورته نژدې يو ځای وي چې د نورو خلکو د اړتياوو د پوره کولو لپاره کار کوي، يعنې توليدوونکي او مصرفوونکي يو بل څخه جلا وي، خو د توليد په طرز او تخنيک کې د دوديز کارځايونو او د لاسي صنعت د کارځای ترمنځ ډير زيات توپير نه ليدل کيږي.

## له ماشيني صنايعو سره د لاسي صنعت توپير

په لا سي صنعت کې زياتره د وګړي مهارت ډير مهم وي او ما شين يو اځې د کار د تر سره کولو دنده لري.

په بله وينا : ماشـين د پيشـه ور په خدمت کې وي، حال دا چې په ماشـيني صـنعت کې، کارګر د ماشـين په خدمت کې وي او د ماشـينونو ځای پر ځای کيدنه د توليد په جريان کې مهم رول لري او د فرمايش له مخې ډير لږ توليد لري. په ماشـيني صـنعت کې توليد کتلوي وي او د کوم فرمايش له مخې نه تر سره کيږي.

له حقوقي پلوه، لاسـي صـنايع انفرادي بڼه لري، خو ماشـيني صـنايع زياتره سـرمايوي (پانګه ييز) او شراکتي بڼه لري.[۱]

صـنعتي فعاليتونه او د موادو د بڼې بدلون، اړينو وسـايلو او سـامان ته اړتيا لري چې صنعت له تاريخي پلوه د انسان دوهم شغل دی. د انسان لومړنی شغل کرنه او څاروي روزنه وه. يعنې له هغه مهاله چې انسان د کرکيلې په جريان کې کرنيزو و سايلو ته اړتيا ومونده، نو دساده وسايلو په جوړولو يې پيل وکړ. ورو ورو انسـانانو د وسپنې ويلې کول زده کړل او له تيږې او هډوکي څخه يې هم د کار وسـايل جوړ کړل او بيا يې د مسـو او قلعي مخلوط کشـف کړ ترڅو چې له وسپنې څخه يې بيلابيل فلزي وسايل او دفاعي سامانونه جوړ کړل.

---

۱محمد عالم فرهاد (1380)، صـنايع دستی افغانستـان، د اريک د ګرځنده کتابونو خپرونه پيبنـور، ۳، ۴، ۵ مخونه.

لومړی صـنعتګران د آزادو پیشـه ورانو په توګه د هغه مهال په کلیو او ښـارونو کې رامنځته شـول چې د کار ځواک یې خپل متږو. د تولید دغې ښې ته د "مونو فکتور" نوم ورکړل شـو چې کوچني عوامل یې لرل. ترهغو پورې چې ماشـین نه و اختراع شـوي، په ټوله نړۍ کې صـنعتګرانو په همدې بڼه له خامو توکو څخه وسـایل او د کار سـامانونه جوړول او ټول کار په لاس سره ترسره کید. په لرغونو وختونو کې دلاسي صنعت تولیدات ساده لوښي او د کار لومړني سامانونه وو لکه: چاقو، غشي، یوم، لور، ګاڼې، د ښکار وسایل او نور.

باید هیره نشي چې همدا اوس هم لاسي صنایع آن په پرمختللو هیوادونو کې شته، آن دا چې د لاسي صنعت ځینې محصولات د ماشیني صنعت په پرتله ډیر ښایسته او د لوړې بیې لرونکي وي.

## لاسي صنایع او د افغانستان اقتصاد

په افغانستان کې د لاسي صنایعو هنر خورا پخوانۍ تاریخچه لري چې د افغانستان د فرهنګي میراثونو تاریخ پاڼو کې په زرینو کرښو ثبت دي.

د دې ځای هرمندان او صنعتګران د تاریخ په بېلا بېلو پړاوونو کې له اسلام وړاندې او له هغې راوروسته د افغانستان د اقتصاد، فرهنګ او هنر اساس ایښودونکي وو او دا غني میراث یې سینه په سینه له پخوانیو نسلونو نه تر اوسنیو نسلونو رارسولی دی.

موږ که کله هم د افغانستان د ظریفو هنرونو تاریخ ته ورګرځو، د افغانستان لاسي صنایع او هنري اثار په څرګندو ټکو په یو جلا ځپرکي کې وینو او دا په کې مومو چې د بشري ژوندانه په ټولنیزه برخه کې دا صنایع په کومه کومه کچه له ارزښت نه برخمن وو.

زموږ هنرمندان او صنعتګران د خپل تاریخ په اوږدو کې نه یوازې د تولیدي نوښت او خلاقیت خلک وو، بلکې د دې تر څنګ یې په اقتصادي سکټور کې د کورنیو، کلیو، ولسونو، ولایتونو او د هیواد د ټولنیز ژوند په سکښت کې یې څرګند رول ادا کړی دی.

دغه راز د صنعت په تولیدي پروسه کې خورا زیات د صنعتګرۍ پرمختګونه شوي او ګڼ نور صنفونه په کې رامنځته شوي او دا بیا د دودیزو بازارونو په وده او جوړېدنه تمامه شوې ده.

د افغانستان په ملي اقتصاد کې له معنوي او مادي غنا له پلوه لاسي صنایع د خورا ارزښت او قدرادنۍ وړ دي.
ځکه همدا لاسي صنایع او هنري اثار د دې سبب شوي چې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو، ولسوالیو او کلیو کې د تولید او توزیع لپاره خاص سیستمونه رامنځته شي او که له یوه پلوه یې د تولید په مرسته هنرمندان او صنعتګران خپلې اړتیاوې پوره کوي، نو له بله پلوه پرې د مصرفوونکو او اخستونکو اړتیاوې هم پوره شي.
په افغانستان کې په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې به د وخت په تېرېدو ځایي تولیدات یا د صنعتګرانو په خپلو کورونو کې یا به یې په بازارونو، بازارګوتو کې په خپلو دوکانونو، پخپله د صنعتګرانو یاد هغوی د کورنۍ د غړیو په واسطه تولیدېدل.
د بازارونو په اړه چې هنري تاریخونو کوم انځور وړاندې کړی نو هغه به داسې وو چې دیوال به ترې راچاپېر و (لکه کلاوې یا پخواني ښارونه). بازارونه به عموما د کلا یا ښار په زړه کې رغېدلي وو تر څو ځایي خلک ورته اسانه لاسرسی ولري.
کله چې ښارونه پراخه او نفوس زیات شو، نو خلک له کلاګانو راووتل او د همدې کلاګانو شاوخوا ته د صنعتګرانو پراخې کوڅې او محلې جوړې شوې.
صنعتګرانو به مارکیټ او پیرودونکو ته د لاسرسۍ لپاره په معلومو ورځو کې توکي را ایستل، تر څو له یو اړخه د خلکو د اړتیا وړ فرمایشونو په اړه معلومات ټول کړي او له بله پلوه د ځانګړو او انفرادي مهارتونو د ودې لپاره د اخستونکو له اړتیاو سره سم کار وکړي.
د مارکیټ دا ډول ارزونې او تحقیق به د صنعتګرانو ښه ژوند لپاره زمینه برابروله.
په وروستیو پېړیو کېد صنعت وده، د نفوس زیاتوالی د ښارونو پراختیا او د خلکو د اړتیاو او غوښتنو د کچې لوړوالی د دې سبب شو چې تر څو ورسره د تولید او د هغې د پلور مرکزونه هم زیات شي او دا مرکزونه په لویو او سترو بازارونو بدل شي.
د ښارونو تر منځ مواصلاتي لارې، د هېوادونو ترمنځ سوداګریزې لارې، د ښارونو د جغرافیوي بڼې په تغییر و تبدیل کې ډېرې مهمې او مؤثرې وې.
د تاشقرغان ښار چې د افغانستان په شمال کې یې شمالي ولایتونه لکه بلخ، بغلان، کندوز، تخار، سویل ډډې ته یې کابل، کندهار، په مرکز کې یې بامیان او هزاره جات او د وریښمو د لارې یوه برخه پرته وه د افغانستان په دودیز اقتصاد کې یې مهمه ونډه لرله.

دا هغه ښار و چې د تاریخ په اوږدو په ځانګړي ډول تېرو دریو پېړیو کې د افغانستان د تولیداتي او لاسي صنایعو د توزیع په برخه کې د مهمو مرکزونو په صف کې تر ټولو وړاندې و او د تولیداتو تداوم له همدې ځایه د ظریفو صنایعو تاریخ پر ټنډه د غنا مندۍ مهر وهلی دی.
دلته د راکړې ورکړې او مراوداتو تشکیل شوی سیستم په دودیز ډول ځکه و چې د اړتیاو په اساس رامنځته شوی و.
د دې سیستم په رغښت کې د واکمنو رول کمرنګه خو د بازار موندنې او د سیلانیانو په جلبولو کې بیا دا رول په محسوس ډول ترسترګو کېده، په داسې حال کې چې په نورو پرمختللو هیوادونو کې د خامو موادو او تولیدي صنایعو د تدارکاتو په اړه د دولتونو مداخله زیاته وه.
د افغانستان په سویل کې د کندهار سرپټی بازار هم له اوږدې زمانې راهیسې د صنعتګرانو او مصرفوونکو تر منځ د راکړې ورکړې مرکز و، چې دا هم د افغانستان د لاسي صنایعو او دودیزو شیانو په جوړېدو او د صنعت په پراختیا کې مهم ځای لري.
د دې ښار سوق الجیشي او جغرافیوي موقعیت د دې سبب شوی و چې د سویلي زون د مرکز په توګه د سویلي ولایتونو د لاسي صنایعو په جوړښت، وده او پراختیا کې مهم رول په غاړه واخلي.
د کابل په شمال کې د استالف بازارګوټی او د هرات زوړ بازار دوه نور هغه ځایونه دي چې په دودیز ډول د هیواد د اړتیا وړ تولیداتي امتعې مهم مرکزونه وو او هر اړخیزه مطالعه یې دا ښیي چې دلته نه یوازې د کار وسایل تولیدېدل بلکې د تولید نیرو یعنې د صنعتکارانو یوه لویه ډله دلته په کار بوخته وه.
د ښارونو او کوڅو د اوسېدونکو په ټولنیز ژوند کې د صنایعو اهمیت له دې هم معلومولی شو چې زیاتره کوڅې او واټونه د صنعت د یوې ځانګړې ډلې د خلکو په نوم نومول کېدې.
اوس چې موږ د هېواد په اکثره ځایونو کې د کولالانو کلي، د مسګرۍ کوڅې، زرګرۍ کوڅه، د مالوچو کوڅې، د جلدسازانو کوڅې، د اهنګرانو کوڅې او کولالانو سرای په څېر نومونو سره مخ کېږو، چې هره یوه کوڅه یا کلی یې تر شا خپل تاریخ لري. یو بل مهم ټکی دا چې اکثره

صنعتگرانو به چې د ښار په منځ یا د باندې په ځانګړو بازارونو کې فعالیت کاوه، نو د همدې ښار د اقتصادي سیستم په وده کې به له مهم رول نه برخمن وو.
د افغانستان د لاسي صنایعو په اړه د لا زیاتې پوهې لپاره مناسبه ده چې د لاسي صنایعو د تولید پروسه او د خلکو فرهنګ ورته له بېلابېلو اړخونو وارزول شي او سرسري نظر پرې واچول شي، ځکه نو یې موږ هم په اجمالي ډول دلته یادونه لازمه بولو. د تولید اوزار به هم اکثره پخپله صنعتکارانو جوړول، دوی به دا شیان خپل اړتیا ته په کتو ځانته برابرول، دې کار به صنعتګر ته دا موقع په لاس ورکوله تر څو پلټنه وکړي چې پېرودونکي یې کومو کومو شیانو ته اړتیا لري، بیا به یې هماغه توکي جوړول.
په لومړي ګام کې به اوزار طراحي کېدل او د الستیکیت موادو په مرسته به یې موډل جوړېده، بیا به یې له اصلي موادو نه د اړتیا سره سم اوزار تولیدول.
کله کله به تولیدوونکي د ټولنو صنعتکارانو لپاره د هغوی د اړتیا وړ اوزارو طرحه برابروله او بیا به یې ورته جوړول. په دې به ځینې صنعتګران داسې هم وو چې د ډیزاین او اوزارو د جوړولو په برخه کې د نوښت له پلوه له ځانګړې شهرته برخمن وو.
دوکانونه او کورونه ((هغه کورونه چې تولیدات به په کې کېدل) په ډېر ساده او لومړني ډول ډیزاینېدل.
دا بحث بیا د ځایي خلکو د ښکلا پېژندنې په فرهنګ او منځنۍ اقتصادي کچې پورې تړاو لري.
په افغانستان کې زیاتره خلک په کاري چاپېریال او ژوند کې له ډېر تجمل نه ځان ساتي او په خورا سادګۍ ژوند کوي.
دلته خلک زیاتره په دې باور دي چې ښکلا په ساده ګۍ کې ده. دوکانونه به زیاتره واړه وو او په خورا سختۍ به درې، څلور کسان په کې ځایېدل، خو د صنعتکارانو په کورونو کې به چې زیاتره ښځې هم د تولید په پروسه کې شریکې وې، نو له معمول سره سم به د اوسېدو له خونو څخه یوه کوټه د تولیدي کارونو لپاره ځانګړې کېدله. د تولید پروسه به څو پړاوه او په مرحلو ویشل شوې وه او په هغه برخو کې چې باید ښځو یې کار پر مخ وړی وای، نو فزیکي کار به په کې دومره نه و.

د افغانستان خلکو د نورو هېوادونو د خلکو په څېر د توکو یا شیانو په بیا ترمیم باور درلود او هغه شیان چې به زاړه شوي وو، تر لږ کار او ترمیم وروسته به یو ځل بیا په نوې بڼه د ګټې اخیستلو لپاره چمتو کېدل، ترڅو د ژوند اقتصادي وضعیت په دې برخه کې د امکان تر بریده پر ځای وساتل شي. نو د دې لپاره به مسې لوښي، پاپوشې او د کورنیو د کارولو وړ ځینې نور شیان به د دوهم ځل لپاره پاکېدل، ترمیمېدل او د بیا ځل لپاره به د کارونې وړ ګرځول کېدل.

**تولید او ډیزاین:** ځینې شیان به له هیواده بهر طراحي شوي او تولیدېدل، خو زموږ صنعتګرانو به هغې ته په کتو هغه طرحې له ځان سره په ذهن کې اخستې او د دې ځای د خلکو له غوښتنو سره سم به یې په لږ بدلون او توپیر طرحه ورته جوړوله او بیا به یې تولیدول.

## په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو تاریخچه

په لاس د جوړو شویو غالیو (هغه چې له وړیو، وریښمو او مالوچو څخه جوړې شوي) ټغرونو او وریښمینو غالیو اوبدل او جوړول د یوه لرغوني دود په توګه له ډیر پخوا څخه په افغانستان کې تر ستر ګو کیږي. له یو میلیون څخه زیات افغانان په سیده توګه د غالیو په اوبدلو بوخت دي او سلګونه زره تنه نور په غالیو اوبدلو پورې په تړلیو نورو صنایعو لکه د وړیو تولید، د وړیو پرې کولو، سکڼلو او مینځلو او ډیزاین کولو په چارو کې بوخت دي.

په سلو کې ۹۵ افغاني غالۍ په کورونو کې جوړیږي چې د یوې کورنۍ څو تنه غړي د غالۍ اوبدلو په یوه کارځای کې په کار بوخت وي. د افغاني غالیو صنعت سلګونه کاله لرغونتوب او نړیوال نوم لري. له جګړې وروسته د خوار اقتصاد او بیوزلي سره سره افغاني غالۍ اوبدونکو په نړیوالو بازارونو کې په سیالي پیل کړې دی چې دا د افغاني غالۍ اوبدلونکو یو اوچت مهارت بلل کیږي. د افغانستان حکومت د دغه صنعت وده او پرمختګ د کلیوالو او په تیره بیا د میرمنو لپاره د عاید یوه غوره سرچینه بولي. دا په دې دلیل چې د غالیو اوبدلو سکتور د هیواد د اقتصاد یوه دودیزه برخه ده او له کلیوالي کاروبارونو سره تړاو لري. له همدې امله د حکومت او خصوصي سکتور ډیره پاملرنه د غالیو اوبدلو د صنعت بیا راژوندي کولو او د نساجي د سکتور پیاوړي کولو ته ده.

د غالیو د اوبدلو او د نساجی د سکتورونو ارزونه یو شمیر مهم ټکي څرګندوي:

- دودیز مهارتونه: د غالۍ اوبدلو صنعت د افغانستان یو دودیز محصول دی چې د جګړو په ترڅ کې هم په دې برخه کې کاروباریانو په دې برخه کې خپل اوچت مهارت ساتلی دی.
- نړیوال بازارونه دغه محصول ته خپل ارزښت ثابت ساتي: سره له دې چې غالۍ ډیرو نورو هیوادو کې هم تولیدېږي، خو بیا هم افغاني غالۍ په نړیوالو بازارونو کې خپل ارزښت او لازم ځای لري او د ټولو د خوښې او پام وړ دی. له دې امله چې افغانۍ غالۍ د لوړ کیفیت او غوره ډیزاین لرونکی او د بډای تاریخ لرونکي دي، نو دغه نیک شهرت او ښه انځور کولای شي چې افغاني غالیو ته د بازار موندنې وضعیت نور هم ښه کړي.
- ترجیحي لاسرسی: په لاس اوبدل شوی افغاني غالۍ د یوې ترجیحي معاملې له مخې صادرېږي او پرته د کومو ګمرکي مالیاتو څخه د امریکې او اروپایي اتحادیې هیوادونو ته رسیږي. دغه ډول لاسرسی د دې امکان برابروي چې افغاني غالۍ د نورو هیوادونو په پرتله یوه ښیګڼه ترلاسه کوي.
- د محصول نه خرابیدل: سره له دې چې غالۍ د لمدبل په وړاندې حساس جنس دی، خو بیا هم په آسانۍ سره ساتل کیدای شي او د ډیر وخت لپاره په بهرنیو هیوادو کې په مشتریانو باندې د پلورلو لپاره ساتل کیدای شي. دغه راز دغه ځانګړتیا سوداګرو ته یوه ترانسپورتي ګټه هم لري. دا ځکه چې په افغانستان کې ترانسپورتي سیستم او د صادراتو لپاره د خرابیدونکو اجناسو د زیرمتونونو وضعیت مناسب نه دی.

د افغاني غالیو صنعت د پانګونې لپاره یو بالقوه فرصت دی. داسې اټکل کیږي چې د غالیو د صادراتو ارزښت به دوه یا پنځه ځله نور هم لوړ شي. که چیرې افغانۍ غالۍ په سیده توګه او پرته له واسطې په بهرنیو بازارونو کې وپلورل شي، د ګټې اندازه یې هم همدومره زیاتیدونکي ده.

## د هېواد د غالیو زیات تولیدوونکي

د هیواد زیاتې غالۍ د افغانستان په شمال کې تولیدیږي چې دودیزې او د لرګي په رنګ غالۍ هلته موندل کیږي، البته په دې وروستیو کې کابل هم د غالیو د تولید یو نوی مرکز باندې بدل شوی دی چې زیاتره د لرګي په رنګ غالۍ دلته او بدل کیږي. د افغاني غالیو وده له ۲۰۰۰م. څخه تر ۲۰۱۲م. کال پورې په سلو کې دوه وه. د ۲۰۰۸–۲۰۱۰م. کلونو په ترڅ کې د ډېرو ستونزو سره سره او د مستهلکینو د ډېر زیات کمښت سره سره، بیا هم کارپوهان په دې باور دي چې په لاس د اوبدل شویو غالیو صنعت به راتلونکو پنځو کلونو کې ښه وده وکړي. د افغانستان غالۍ په نړیوال مارکیټ کې د یو شمیر هیوادونو له تولیداتو سره په سیالۍ کې دي لکه د ایران، هند، نیپال، او پاکستان تولیداتو سره په سیالۍ کې دي. دا نه ده معلومه چې د پاکستان صادرات څومره یې افغاني غالۍ دي، چې د غه افغاني غالۍ دلته تولیدیږي، بیا هلته پروسس کیږي او بیا د پاکستان غالۍ په نوم نړیوالو بازارونو کې پلورل کیږي.

**عواید او د ارزښت کړۍ**

افغانستان هر کال ۱۰۶ میلیونه تختې غالۍ تولیدوي. د غالیو سکتور د هیواد د صادراتو زیاته برخه جوړوي چې عواید یې په کال کې تر ۱۵۰ میلیون ډالرو پورې رسیږي چې د ټولې نړۍ په کچه د غالیو د صادراتو په سلو کې ۱۵ جوړوي.

## د وړیو مینځل اوسنۍ کول

د عالي کیفیت غالۍ اوبدل، د لوړ کیفیت لرونکو سنیو او وړیو ته اړتیا لري. په اوسني وخت کې د خامو توکو بیه د غالیو د ټول لګښت په سلو کې ۵–۲۱ جوړوي. د غالۍ کیفیت د وړیو کیفیت پورې اړه لري (د بیلګې په توګه آسترالیایي، نیوزیلانډي او بیلجیمي وړۍ د کیفیت له پلوه زمونږ د سیمه ییزو په پرتله لوړه بیه لري). سره له دې چې زیاتره تولیدوونکي هڅه کوي چې له سیمه ییزو وړیو څخه کار واخلي او د لوړ کیفیت جنس تولید کړي، خو بیا یې هم عرضه یو څه کمه ده او تقاضا ته ځواب نشي ویلای او د کورنې تولید سره سره بیا هم له دری برخو څخه دوه برخې وړۍ له بهر څخه واردیږي. له کورنیو یا بهرنیو وړیو څخه د لوړ کیفیت لرونکې سنۍ کول د پانګونې لپاره یو ډېر ښه فرصت برابروي.

## د غالیو سکښل او مینځل

د افغانستان تولید شوي په سلو کې ۸۵-۹۰ غالۍ د رنګولو او غوړې ورکولو (غوړولو) په موخه پاکستان ته صادرېږي او بیا له هغه ځایه د پاکستاني غالیو په نوم بهرنیو بازارونو ته عرضه کېږي. د دولتي او خصوصي سکتورونو په ګډون ټول بنسټونه او تمویل کوونکي ټینګار کوي چې د سکښلو او مینځلو آسانتیاوې باید په افغانستان کې دننه د لاسرسي وړ وګرځي. د دغې چارې لپاره یو شمېر ګامونه هم پورته شوي دي. که چېرې وروستۍ چارې هم د هیواد دننه ترسره شي، نو د سکښلو او مینځلو په برخه کې به نورو ۷۰۰۰ تنو ته هم د کار زمینه برابره شي او له دغه درکه به په عوایدو کې په سلو کې ۳۰ نور زیاتوالی هم راشي. په دې وروستیو کې یو اندازه سکښل او مینځل دلته پیل شوي دي چې ښه ګټور ښکاري.

## د غالیو د بازار موندنې او سوداګرۍ ستونزې او خنډونه

له دې امله چې د غالیو د چمتو کېدو تر ټولو وروستۍ چارې په پاکستان کې ترسره کېږي، نو دغه هیواد د سوداګرۍ چارې هم پخپل کنټرول کې راوستې دي او افغاني غالۍ په پاکستاني لیبل پېرودونکو ته وړاندې کوي. که چېرې صادرات په سیده توګه له افغانستان څخه وي، نو افغانستان به په بیو ټاکلو او بهرنیو بازارونو ښه کنټرول ولري او غالۍ به هم په افغاني مارک بهر ته عرضه شي او افغانستان به په سیده توګه بهرنیو بازارونو سره ونښلي.

## وروستۍ پرمختګونه

دا چې ارزښت لرونکې فعالیتونه له ګاونډیو هیوادو څخه افغانستان ته راتلونکي دي په دې وروستیو کې په کابل، مزارشریف او هرات کې د غالیو د سکښلو او مینځلو مرکزونه جوړ شوي دي او هغه غالۍ چې پخوا به د پاکستان په نوم او مارک بهر ته صادریدلې، اوس له افغانستان څخه او د افغانستان په نوم صادرېږي. د غالیو د صادرونکو اتحادیې هڅه کړې ده چې افغاني غالیو ته مارک لګول نوي کړي او په نړیواله کچه یې او چته کړي. افغاني غالۍ پلورونکي په ۲۰۱۰ م. کال کې د Domotex په نوم د غالیو په نړیوال نندارتون کې چې په

جرمني کې جوړ شوي و، ګڼون وکړ چې ۱۲۱۱۶۵۰۰ ډالره پلورنه یې لرله چې د ۲۰۰۹ م. کال په پرتله په سلو کې ۴۰۰ زیاتوالی ښکاره کوي.
افغاني غالۍ نړیوال نوم لري او د هیواد په صادراتو کې لویه برخه جوړوي. دغه محصول ته تقاضا په ټوله نړۍ کې شته، خو بازار موندنه ورته چندان نه ده شوي. د جګړو په دوران کې به غالۍ د نورو چارو د پرمخ بیولو لپاره ګاونډیو هیوادو ته لیږل کیدې، چې اوس دغه چارې هم د هیواد دننه رالیږدیدلې دي او د دې په پایله کې د لوړې ګټې لرونکې پانګونې ته لاره هواره شوې ده لکه:
الف) اوس د سکڼلو او مینځلو مراکز جوړ شوي دي،
ب) د صادراتو زیاتیدل،
ج) د ډیزاین سمون پیل شوی، او د صادراتو او بازار موندنې چارې ښې شوي دي.
له درې: هنري، کارموندنې او سوداګریز پلوه د غالیو د ارزښت ارزونه
۱. له سوداګریزه پلوه: په افغانستان کې د هغو وګړو د شمیر په هکله کره معلومات نشته چې له سوداګریز او اقتصادي پلوه په دغه صنعت کې بوخت دي، خو د اټکلي ارقامو له مخې یو میلیون تنه په دغه صنعت کې بوخت دي. د افغانانو له بیوزلۍ سره سره دغه شمیره وګړي کولای شي د هیواد له اقتصاد سره لویه مرسته وکړي. د دغه صنعت لویه ستونزه دا ده چې په افغانستان کې اوبدل شوي غالۍ د وروستۍ پروسس لپاره پاکستان او ایران ته استول کیږي او له هغه ځایه د پاکستان او نورو ګاونډیو هیوادونو په نوم او مارک صادر او پلورل کیږي. که چیرې مونږ وکولای شو چې د هغو سکڼل او مینځل دلته په خپل هیواد کې ترسره کړو، نو د هغو کسانو په شمیر کې به زیاتوالی راشي چې په دغه سکتور کې بوخت دي.
هغه شمیر سوداګر چې د غالیو په سوداګرۍ بوخت دي، دا شکایت کوي چې دولت د دوی پوره ملاتړ نه کوي او دغه نه ملاتړ په دې برخه کې یوه ستونزه بولي. زمونږ سوداګر له بده مرغه د غالیو د نړیوال مارکیټ په هکله چندان معلومات نه لري او د دغه محصول لپاره په تبلیغاتو او د هغه لپاره د بازار موندنې په چارو نه پوهیږي، خو له دې ټولو سره سره بیا هم هغه کمه اندازه تولیدات چې کله نړیوال بازار ته ځي، هلته ډیر اوچت ارزښت لري. په دغه برخه

۲ فرصت های سرمایه ګذاری در افغانستان به ګذارش وزارت تجارت و صنایع، د ۲۰۱۴ م. کال اکتوبر.

کې د پرمختګ لپاره باید نوي بازارونه ولټول شي او د بازار موندنې په برخه کې باید ژور بدلون راوستل شي.

۲. د غالۍ اوبدلو هنري دریځ: غالۍ نه یوازې په افغانستان کې، بلکې د نړۍ په ټولو هیوادونو کې یو هنري محصول پېژندل شوی دی. افغاني غالۍ د هغو ښځو او نارینه وو د ذوق ښودنه کوي چې د هیواد په ډېرو لرې کلیو کې تر ټولو ښکلې نقشونه د غالیو پر مخونو انځوروي. دغه صنعت د دغه هیواد د ښځو، ماشومانو او نارینه وو د ذوق، احساس او روح ښودونکی دی. د دوی غمونه، هیلې او دردونه د دغه محصول له هر تار سره تړلې دي، له همدې امله د افغانستان د غالۍ اوبدونکو هنر د نړۍ د شتمنو هیوادونو د درناوي وړ دی.

۳. افغانستان وروسته تر ۲۰۱۴ م. کال څخه یو ځل بیا له یوه اقتصادي ډب سره مخامخ شوی دی. له همدغه کال څخه وروسته یو ځل بیا ګڼ شمیر مهاجر بهر ته روان دي. دا ستونزه له بیکارۍ او بیوزلۍ څخه راپیدا شوې ده. د اقتصاد د کارپوهانو په اند، د اقتصادي ډبوالي په حالت کې باید دولتونه کوچنیو کاروبارونو ته ډېره پاملرنه وکړي، دا ځکه چې دغه کاروبارونه لږ پانګې ته اړتیا لري او کولای شي د اقتصادي اکر په په بیرته رغولو کې ښه ونډه واخلي.

لکه څرنګه چې مخکې وویل شول، د اټکلي ارقامو له مخې زمونږ یو میلیون هیوادوال په سیده او ناسیده توګه په دغه صنعت کې بوخت دي او دې ټکي ته په پاملرنې سره چې د غالیو خام توکي وړیا دي او هغه د هیواد دننه تولیدیږي، نو دغه صنعت په ډېر ښه ډول سره د کارموندنې لامل کیږي او کلیوالي سیمو کې بیوزلي له منځه وړای شي. له بده مرغه دې برخې ته د نه پاملرنې له امله، زیات شمیر غالۍ اوبدونکي اوس په کاذب کاروبار لکه د سړکونو تر غاړې د شیانو په پلورلو او نورو لږ ګټه لرونکو کارونو پیل کړي دي.

## په افغانستان کې د غالیو د اوبدلو مهم مرکزونه

غالۍ اوبدل په هیواد کې د لاسي صنعت یو لوړ ارزښت لرونکې تولید دی چې د هیواد په ملي اقتصاد کې مهم ځای لري. دغه تولیدات په بهرنۍ سوداګرۍ کې د پام وړ ده. څه چې د تاریخ په پاڼو کې تر سترګو کیږي، له هغو څخه ښکاري چې غالۍ اوبدل په افغانستان کې ډېر زیات لرغونتوب لري او په بهرنیو بازارونو کې ښه نوم لري. زمونږ د دې خبرې شاهد غوره او

ښايسته پخواني غالۍ دي چې د نړۍ په نامتو موزيمونو کې ساتل کيږي. زمونږ په هيواد کې غالۍ په بيلابيلو اندازو او رنګونو توليديږي. د دغو غاليو انځورونه د کليوالي ميرمنو په ګوتو په ډير دقت او ظرافت اوبدل کيږي. د غاليو اوبدلو کې زياتره د وطني پسونو له وړيو څخه کار اخيستل کيږي. د پسرلنيو وړيو غالۍ ډيرې اعلي درجه وي، خو د منۍ د وړيو غالۍ دوهمه درجه کې راځي. په دې توګه زمونږ د هيواد يوه اندازه، وړۍ د هيواد دننه پروسس کيږي او بيا نړيوالو بازارونو ته ځي. د غاليو د توليد مهم مرکزونه آقچه، اندخوی، دولت آباد، فارياب، بلخ، قزل ايماق، شبرغان، ميمنه، زال، خماب، مورچاق، چکش، قرقين، بلوچې، هرات او نور ځايونه دي. دغه هره سيمه او کلي خپلې ځانګړې غالۍ لري. د غاليو کيفيت او دوام د اوبدونکو په مهارت او د وړيو په کيفيت پورې اړه لري.

## په هېواد کې د غالۍ اوبدلو د دستګاه ډولونه

زمونږ په هيواد کې غالۍ په هغو لرګينو دستګاوو کې اوبدل کيږي چې له کلک لرګي څخه د فني کسانو په لاس جوړ شوي وي. دغه ساده دستګاه له داسې يوه لرګي څخه جوړيږي چې زخې او کوږوالې ونه لري، دا ځکه چې د اوبدلو پر مهال لاندني تارونه او د رنګينو وهلو پرمهال پاسني تارونه کش کيږي او د هغو د شليدلو لامل کيږي او د سنيو شليدل د غاليو کيفيت ته لوی زيان رسوي.

هغه مهم ټکي چې د غالۍ اوبدلو پرمهال بايد ورته پام وشي:
په دغه صنعت کې له بيلابيلو وړيو څخه کار اخيستل کيږي چې په هغو کې دوه ډوله يې د غوره کولو وړ دي: (پسرلنۍ وړۍ او د منۍ وړۍ).
له هر ډول وړۍ څخه چې د غاليو د کيفيت جنسيب د ښه کولو لپاره کار اخيستل کيږي، بايد يو شمير ټکي په پام کې ونيول شي:
دغه وړۍ بايد ښې وڅنډل شي چې اضافي مواد (خاورې، خځلې او اغزی) ورڅخه ولويږي او وروسته دي درې ځله په تودو اوبو ومينځل شي او لمر ته دي وچې شي. وروسته تر وچيدو څخه دغه وړۍ، يو ځل بيا څنډل کيږي او له رنځې څخه تيريږي چې ښې پاکې شي لکه د خالص وريښمو په شان د سنۍ کوونکو ګوتو ته ورشي.

وړې دوه ډوله سنې کیږي:
د غالۍ لومړنۍ یا د بنسټ سنې کلکې او پخې سنې کیږي، دوهم تارونه چې پود بلل کیږي په خام ډول وي. په ځینو برخو کې د اوبن وړې هم د رنګ شویو وړیو په عوض په کار تلای شي چې د هغو رنګ غالۍ ته نوره هم ښکلا ورکوي.
یو بل ټکی هم د یادونې وړ دی چې د غالیو د اوبدونکو روغتیا هم یو مهم شرط دی یعنی د غالۍ کلکوالی د هغې د اوبدونکې په روغتیا پورې اړه لري. اوبدونکې باید په ښه ډول سنې او پود یو بل کې ورولي او د غالۍ درنه ږمنځ ښه ووهل شي.

د رنګ له مخې غالۍ:
الف) عادي غالۍ چې عموماً په معمولي پوډري رنګونو باندې رنګ کیږي او بیا اوبدل کیږي چې د جنس له پلوه بیلابیل ډولونه لري.
ب) هغه غالۍ چې په پخو رنګونو رنګ کیږي چې یو اځی یو ډول لري.
ج) هغه غالۍ چې په طبیعي رنګونو رنګ کیږي او دا بیا دوه ډوله دي:

- د لرګي په رنګ غالۍ: دا ډول غالۍ عموماً په پاکستان کې دود دي خو اوبدل یې د افغانانو په لاس کیږي.
- هغه غالۍ چې د هغو د رنګ لپاره طبیعي توکي لکه د غوزانو پوستکي، د انارو پوستکي، سپانده او نور کارول کیږي. دغه ډول غالۍ په افغانستان کې اوبدل او رنګ کیږي چې یو ډول لري.

افغاني ټولې غالۍ ښه شهرت لري چې نومونه یې دا دي:

- ✓ سرې (کار سلیمان) غالۍ: د فیل پای انځور لرونکې په نوم هم یادیږي چې زیاتره د کندز ولایت مربوطاتو کې اوبدل کیږي.
- ✓ یو خال لرونکې موري غالۍ: د خلم د ولسوالۍ د بابه صدیق په سیمه کې اوبدل کیږي.
- ✓ مروګل غالۍ چې د اندخوی د التی بولک په سیمو کې اوبدل کیږي.

---

۳ محمد بشیر دودیال (۱۳۸۳) صنایع در افغانستان و نقش آن در اقتصاد ملی. انتشارات کتابخانه های سیار اریک – پشاور ۲۸، ۲۹ مخونه.

- ✓ موری ګل غالۍ چې د فاریاب د شیرین تګاب ولسوالۍ کې اوبدل کیږي.
- ✓ کارګاهي وریښمنی غالۍ چې یو شمیر نورو ولایتونو لکه کابل او بلخ کې اوبدل کیږي.

یو شمیر هغه ناروغۍ چې اوبدونکي د غالۍ اوبدلو پرمهال ورباندې اخته کیږي:

ښځې او ماشومان یا ټول هغه کسان چې غالۍ اوبي، له دې امله چې د ورځې ډیره موده په کار باندې بوخت وي، له یو شمیر روغتیایي ستونزو سره مخامخ کیږي. لکه چې هغوی په دوو پښو ناست وي او په کړو په ملا په کار باندې بوخت وي، نو زیاتره یا د پښو په درد یا د ملا په خوږو اخته کیږي.

همدارنګه په دې وروستیو کې د لرګي رنګه غالیو اوبدل چې اوس له پاکستان څخه دود شوی دی یو شمیر ښځې د توبر کلوز په ناروغۍ اخته کړې دي. که چیرې ځینې کسان ټول عمر په دې کار بوخت وي د ژوند په پای کې د دوی د سترګو د ضعیف کیدو لامل کیدای شي. هغه ماشومان چې په کوچنیتوب کې په دې کار بوختیږي، ممکن د دوی بدني ودې ته زیان ورسیږي. له پورته ټکیو څخه پرته له دې امله چې یو شمیر کارځایونه په ژورو، تیاره، سیوري او لمدبل لرونکو ځایونو کې جوړیږي نو لمدبل او دلمرد وړانګو نشتوالي هم روغتیا ته زیان لري. سره له دې چې غالۍ له ډیر پخوا څخه د افغانستان یو صادراتي (جنس) دی او د اقتصاد په وده کې یې مهم رول ترسره کړی دی، خو تر اوسه پورې دولتونو دغې برخې ته ډیره پاملرنه نه ده کړې. د بیلګې په توګه کارکوونکو ته د کار د ساعتونو د خطرناکوالي په اړه خبرتیا نه ورکول کیږي، د غالیو د صنعت پرمختیا ورکولو ته پاملرنه نشته، په ارزانه بیه د ماشیني غالیو تولیدولو او بازار ته عرضه کولو د لاسي غالیو صنعت ته زیان اړولی او د دې ترڅنګ غالۍ اوبدونکو سره کومه مرسته نه ده شوې. د بیلګې په توګه له هیواد څخه بهر د غالیو د بازار موندنې په برخه کې لازمه هڅه نه ده شوې. [4]

په نوره نړۍ کې کارګرو ته د کار ایمني (دخوندیتوب) شرایط مهیا کیږي، د کار فضا ارامه،مستریح، فرحت ښونکې او له ستومانۍ پرته وي، چې کارګران او حرفوی صنعتګران د ناروغۍ، ستوماني او تکلیف احساس نه کوي. د صنعتي اقتصاد او صنعتي

[4] سروری، عارف (۱۳۸۴) زندگی زنان قالین باف در شمال افغانستان، اداره حمایت و تقویه ماتهای ابتکاری بلخ ۵ او ۶ مخونه.

پلان جوړوني يوه دنده اومسئوليت همدا دی چی کارکوونکو او صنعتی ماهرينو او صنعتگرو ته لازم شرايط، روغتيايی ماحول، مناسبه رڼا، دکيناستو لازم وضعيت ښودل، د استراحت او د کار ويش او مهال او داسې نور سهولتونه په پام کې ونيسی او لاسی صنعت د کيفيت او پايلو له لحاظه لوړحد ته ورسوي.

**د افغانی غاليو د انځور او نقشی ډول، د غاليو د کيفيت د اوچتولو يو عامل:**
د نقشی او انځور ځرنگوالی د فرش په ښايست باندی ډيره اغيزه لری. څومره چی انځورونه اصيل او ښکلی وی، د پلورلو اندازه لوړيږی. غير تکراری او بيلابيل ډولونه انځور جوړول او د ښکلی کوونکو بيلابيلو عناصرو سره گډول چی يو بل سره ښه توافق ولری، د توليد شوی محصول بيه لوړوی.
د نقشی رنگ کول هغه مهم عامل دی چی په لومړی ځل کتلو سره مشتری او ليدونکی ځانته راکاږی. له رنگونو څخه غوره کار اخيستل او يو بل سره د هغو ښه ځنگ په ځنگ ايښودل د فرش ښکلا او ځلا زياتوی. دغی موخی ته د رسيدلو لپاره، انځورگر اړ کيږی چی د رنگونو د پيژندنی او د هغو د روحی تاثيراتو په هکله پوهه ترلاسه کړی.
د نقشی ډکول او يو بل سره خوا پر خوا د انځورونو راوستل د غالی د ښکلا يو اغيزمن عامل دی. ډير فرشونه په ساده او آسانه انځورونو جوړ شوی دی، خو يو شمير نورچی ډير پيچلی او ستونزمن ډيزاينونه لری، اوچت مهارت او زيات کار ته اړتيا لری. دغه دوهم ډول يی لوړه بيه لری.[5]

## د افغانستان په اقتصاد کې د غاليو د اوبدلو ارزښت

اقتصادی پرمختيا د هيواد د پرمختگ په لاره کی د دولت يو مهم پلان دی. د دی موخی لپاره دولت په اقتصادی، ټولنيزو او سياسی برخو کی بيلابيل پروگرامونه لری. د اقتصاد په برخه

5 دری ار، نيوفر (۱۳۸۴) زنگی زنان قالين باف و شمال افغانستان، اداره حفظ و تقويه ماهای اربعه بل خی ببل خ ۵ او ۶ مخونه.

کې د دولت تر ټولو مهم اهداف د ملي عاید او چتول، د کورنیو تولیداتو زیاتول او د وزګارتیا له منځه وړل دي. د دې موخو لپاره بیلابیل پروګرامونه تر کار لاندې دي.
اقتصادي پرمختیا ته رسیدل د خلکو د ژوند په بیلابیلو ډګرونو لکه د دوی روغتیا، ښوونه او روزنه، هوساینه او د مهارتونو لوړیدو باندې اغیزه لري. زیاتره پرمختیایي هیوادونه، خپلو پرمختیایي موخو ته د رسیدلو په خاطر لویو ستونزو سره مخامخ دي. د بیلګې په توګه د نفوسو ګړندي زیاتوالی، له کلیو څخه ښارونو ته مهاجرتونه، جرمونه د خلکو ناپوهي او داسې نور. په افغانستان کې دغه ستونزې تر نورو هیوادو زیاتې دي. افغانستان داسې یو هیواد دی چې څلویښت کاله په کورني جګړه کې و او لا اوس هم د جګړې سیوري د خلکو پر ژوند وزرونه غوړولي دي.
په دې وروستیو کلونو کې د اقتصادي پرمختیا په هکله یوه مهمه تیوري، د کوچنیو کاروبارونو پرمختیا ده چې ډیرې پانګې ته اړتیا نه لري. د دغو کاروبارونو او کوچنیو لاسي صنایعو ځانګړتیا دا ده چې اوچت تخصص او فني مهارت ته ډیره اړتیا نه لري. معمولاً دغه ډول صنایع د لنډې مودې روزنیزې دورې په تیرولو سره زده کیږي. دې ټکي ته په کتو سره چې د افغانستان ډیر خلک کلیوالي ژوند لري، نو د کورنیو د اقتصاد د ښه کیدو یوه غوره لاره همدا د کوچنیو کاروبارونو پرمختګ دی. په کلیوالي سیمو کې غالۍ اوبدل د یوه بشپړوونکي شغل او کاروبار په توګه د کلیوالو له ژوند سره مرسته وکړي. په هغو ځایونو کې چې کرنیز تولیدات د ژوند ټول ضرورتونه نشي پوره کولای، غالۍ اوبدل کولای شي له کلیوالي کورنۍ سره مرسته وکړي.

## په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو د صنعت مخکې پراته خنډونه

د صنعتي اقتصاد دنده دا چې محلي شوي صنایع د کمزوي کیدو او هیریدو څخه بچ شي، دغه ډول صنایع باید نور هم وده وکړي. یو مثال د غزني د پوستین جوړولو صنعت دی چې تر پخوا ډیر وروسته شوی او مارکیټ یې د پخوا په اندازه نه دی. د کولالي صنعت هم د

٦ سور اسرافیلي، شیرین (١٣٧٤)، آشنایی با طراحی فرش ایران و جهان (٢) تهران، انتشارات موسسه فرهنگی هنری، م ٥٧

زوال په لوري روان دی. همدارنګه په هیواد کې داسې سیمې شته چې د غالۍ اوبدلو مرکز يې ګڼلای شو، خو له بده مرغه د نه پاملرنی له امله د له منځه تلو په حال کی دی.
مثلاً د هرات د جنوب په ۸۰ کیلو متری کی د ادرسکن ولسوالۍ چی د هیواد په لویدیځ کی د غالیو د اوبدلو یو مرکز دی. که چیری په دغه سیمه کی د پروسس مرکز جوړ شی، نو دغه سیمه به بیرته د پرمختګ په لوری ولاړه شی. ښاغلی نوری وایی: سږ کال له هرات څخه تر لسو زرو مربع مترو پوری غالۍ بهر ته صادری شوی دی. چی د تیر کال په پرتله په سلو کی څلور زیاتوالی ښکاره کوی، خو دغه اندازه د هرات لپاره د غالیو د تولید یوه مهمه سیمه ده، لږ ده باید صادرات تر دی لا زیات وای.
د غالیو په تولید کی د ښځو ونډه زیاته ده. د افغانستان په زیاترو سیمو کی د غالیو اصلی اوبدونکی ښځی دی. سره له دی چی د اوسنیو عصری کارځایونو په جوړیدو سره اوس نارینه هم په دغو ځایو کی کار کوی، خو بیا هم ښځی په دی کار کی ډیری لاسبری دی.
زیاتره غالۍ له اصلی وړیو څخه په کلیوالی سیمو کی اوبدل کیږی. هغه وویل: سره له دی چی اوس له خارجی سنیو او تارونو څخه هم کار اخیستل پیل شوی دی او یو شمیر غالی چی له خارجی مصنوعی تارونو څخه جوړیږی، د هغو بیه اوس ټیټه شوی ده، خو له ښارونو څخه لری په کلیوالی سیمو کی اوس هم غالۍ په هماغه پخوانی دود سره له سنیو څخه جوړیږی او ښکلی غالۍ تولیدوی. هغه وایی: په ښارونو کی د غالیو جوړیدل د دی لامل شول چی د کلیوالی سیمو د غالیو پیرودونکی کم شی، که پیدا هم شی په داسی بیه یی پیری چی کلیوالی اوبدونکو ته چندان ګټه نه لری، نو د غوره او ښایسته اصلی غالیو تولید کم شوی دی. دوی د لګښت د کمښت لپاره له مصنوعی تارونو څخه کار اخلی او دا د غالۍ په کیفیت بده اغیزه لری. ده وویل که چیری بهر ته د غالیو لیږل او صادرات پیاوړی شی، د دوی په لاس باندی اوبدل شوی غالۍ به وپلورل شی او د دوی ګټه به زیاته شی.
له دی څخه ښکاري چې مونږ باید د غالیو د وضیعت د ښه کولو لپاره اوږده لاره ووهو. د بیلګی په توګه مونږ د بازار موندنی، پلورنی، لیږد او پروسس برخو کی خنډونه لرو. که چیری

---

۷د هشت صبح ورځپاڼه یکشنبه د لړم اتمه، ۱۳۹۰. فریدون آژند (وروستۍ کتنه ۱۳۹۵/۱۰/۲۵)

د مسئولينو او دولت لخوا دی برخی ته پاملرنه ونشی، مونږ نشو کولای چی په نړیوالو مارکیټونو کی له نورو تولیدوونکو سره سیالی وکړو.

## د غالیو د پلورلو لپاره ضعیفه بازار موندنه

نه یوائې لاسی صنعت، بلکې هر کاروبار کې مارکیټنګ او بازار موندنه مهم عامل دی. دافغانستان غالۍ اوبدونکی وایی چی د دغه صنعت وده د دولت ملاتړ ته اړتیا لری. سره له دی هم زیاتره غالۍ اوبدونکی شکایت کوی چی دولت پاملرنه نه کوی. د بیلګی په توګه امین نادم وایی: زیات شمیر مسلکی غالۍ اوبدونکو غالۍ اوبدل پریښی دی. نادم وایی: د پلورلو لپاره بازار موندنه ډیره ضعیفه ده او اصلی ګټه د ګاونډیو هیوادونو د سوداګرو جیب ته لویږی، له دغو پیسو څخه د هیواد دننه غالۍ اوبدونکو ته ګټه نه رسیږی. د سړکونو تر غاړی زیاتره لاس پلورونکی او کارګران هماغه پخوانی مسلکی غالۍ اوبدونکی دی چی د مجبوریت له مخی یې خپل کار پریښی او د ورځنی مزد په تمه د سړکونو تر غاړی ولاړ وی. د افغانستان دولت خپل منځ کی اخته دی او د غالیو اوبدلو صنعت یی هیر کړی دی.
د افغانستان چارواکی وایی: په دی وروستیو کلونو کی یی هڅه کړی ده چی د لاسی صنایعو د نندارتونونو په جوړولو سره او د اوبدونکو له اتحادیی سره د خبرو له لاری د دوی غوښتنو ته ځواب ومومی، خو زیات شمیر غالۍ اوبدونکی دغه اقدامات بس نه بولی.
د غالیو د اوبدونکو او صادروونکو د اتحادیی مسئولین وایی چی اوسنی وخت کی د افغانستان په سلو کی نوی غالۍ په قاچاقی توګه پاکستان او ایران ته ځي او هلته بیا د همدغو هیوادونو په نوم بهر ته صادریږی.[۹]
د ۱۳۹۱کال یوه سروی ښیي: سره له دی چی په خپله د هیواد صادرات د تیر وکلونو په پرتله په سلو کی څلور زیات شوی دی، خو په سلو کی ۹۵ زمونږ غالۍ زمونږ د ګاونډیو هیوادونو په نوم نړیوالو مارکیټونو ته ځي، دا ځکه چی مونږ د نه د پروسس مرکزونه لرو او نه هم ښه پیریدونکی لرو.

---

۸ یعقوبی، عارف، سایت فارسی BBC، جمعه دسمبر ۳۰ مه ۲۰۰۹ – ۲۰۱۱ – ۱۳۹۰ مرغومی.
۹ د هشت صبح ورځپاڼه یکشنبه د لړم اتمه، ۱۳۹۰. فریدون آژند (وروستۍ کتنه ۱۳۹۵/۱۰/۲۵)

د ارقامو مقایسه ښکاره کوي چې: که د پاکستان له خاوری یو کیلو غالۍ صادره شي په هغې باندې ۸۰ کلداري یا هم ۴۰ افغانۍ لګښت راځي، خو که له افغانستان څخه یې صادري کړو نو په هغو باندې ۱۱۰۰ افغانۍ محصول راځي.
دې برخه کې ډیرې ستونزې شته چې له بده مرغه په لوړه کچه دولت او په ټیټه کچه خلک ورته پاملرنه نه کوي. دغه نه پاملرنه د پورتنیو ستونزو شمیره نوره هم زیاتوي. نو په لنډ ډول به ځینې ننګونه او ستونزې ذکر کړو:

## د هیواد د غالۍ اوبدلو یو شمیر مهمې ستونزې او ننګونه:

۱. د غالیو د تولیدوونکو هیوادونو د شمیر زیاتیدل: اوس هم په ډیرو نورو هیوادو کې د غالیو د اوبدلو صنعت دود شوی او پیژندل شوی دی چې په هر یوه کې یې تولید ځانګړی ځانګړتیاوې لري. د چین هیواد ډیر زیات زیار باسي چې د غالیو بازار خپل لاس کې واخلي. له دې سره یو ځای څو نور هیوادونه لکه ترکیه او ایران هم زموږ د غالیو دودیز سیالان دي. یو شمیر نور لکه پاکستان، مصر، هندوستان، مراکش، نیپال، رومانیا، البانیا او بلغاریا هم هڅه کوي چې په دغه صنعت کې ځانته غوره ځای ترلاسه کړي.
۲. د افغاني غالیو د ډیزاینونو غلا کول: سیال هیوادونه، په تیره بیا پاکستان او چین په ټول قوت سره هڅه کوي چې د افغاني غالیو د ډیزاین او انځورونو څخه په کار اخیستلو سره، افغاني غالیو ته ورته تولیدات ولري. دغه ستونزې او د چارواکو نه پاملرنه د دې لامل شوی ده چې د افغانستان د غالیو د اوبدلو صنعت له ماتې سره مخامخ شي او زموږ هنرمندان دې برخه کې زیان وګالي.
۳. د بازار له اړتیا سره زموږ د تولید نه همغږي: په هیواد کې چې د بازار موندنې په هکله کوم لږ شمیر ارزونې شوې دي، له هغو څخه ښکاري چې په دې وروستیو کلونو کې په بیلابیلو هیوادو کې د پلورونکو ذوق بدل شوی دی. ستونزه له دې ځایه پیدا کیږي چې زموږ تولیدوونکي لا اوس هم د هماغو پخوانیو انځورونو او نقشونو په جوړولو بوخت دي، چې ډیر پخواني دي، نو ځکه دوی په نړۍ کې د نورو سیالي کوونکو سره ستونزو سره مخامخ کیږي، نو په دغه صنعت کې د بریالیتوب لپاره باید د پیریدونکو او مشتریانو اړتیا او خوښې ته وکتل شي او هڅه دې وشي چې په دغه هنر کې د نغښتي ارزښت او دود سره یو ځای

نویوالی راوستل شی. د بیلګی په توګه د هیواد دننه د نندارتون په پرانیستلو سره د مینه والو ذوق او خوښه ځانته معلومه کړو.

۴. نیمګړی بازار موندنه او تبلیغات: په بازار کی یو مهم ټکی، سم تبلیغات او د خرڅلاو لپاره اغیزمن اعلانونه دی. په دی کی هیڅ شک نشته چی زمونږ تولیدوونکی د خپلو غالیو د ښکلا او کیفیت په خاطر ډیره زیاته هڅه کوی او ستومانی ګالی، یو ائحی همدا زړه چاودون او هڅی کافی نه دی، بلکی په صنعت کی هغه هیواد بریالی کیږی چی سم تبلیغات ولری او د مشتریانو پاملرنه خپلو محصولاتو ته راواړوی. د غالیو په صنعت کی زمونږ تولیدوونکی له بده مرغه د نویو تبلیغاتی وسایلو سره آشنایی نه لری. انترنت او رسنۍ د نن ورځی مهم تبلیغاتی وسایل دی. له بده مرغه د محصولاتو د پلورلو په هکله زمونږ پوهه ډیره زړه او کمه ده. که چیری مونږ وغواړو چی په دی صنعت کی بریالی شو، باید د غوره تولید تر څنګ، غوره تبلیغات هم ولرو او د خپلو مشتریانو اړتیاوی او حساسیتونه ښه وپیژنو او د خپلو سیالانو وسایل او لاری چاری هم وپیژنو. باید بازار موندنه له زاړه او دودیز حالت څخه راوکاږو او دغی چاری ته د یوه علم په توګه وګورو. د بازار موندنی زړی لاری چاری اوس اغیزمنی نه دی.

۵. د نړیوال اقتصاد ډبوالی: غالۍ د لوړی بیی لرونکی جنس دی او هغو ته تقاضا د پیریدونکو له لوړ عاید سره تړلی. نړیوال اقتصاد ته په کتو سره، لیدل کیږی چی په دی برخه کی رکود شته، خو بیا هم کیدای شی چی د خپلو مخاطبانو د خوښۍ او ذوق په پیژندنی سره یوه ښه بازار موندنه ولرو او په نړیوال بازار کی زیاته ونډه ترلاسه کړو.

۶. له بی کیفیته خامو توکو کار اخیستل: له نیکه مرغه زمونږ هیواد په خپله په ډیر ښه ډول سره کولای شی خام توکی تولید او د نورو په واک کی یی ورکړی، خو یو شمیر ناوړه ګټه خوښوونکی د دی لپاره چی لږ لګښت وکړی، هڅه کوی چی ارزانه او بی کیفیته وړیو څخه غالۍ جوړی کړی. دغه ډول چلند د غالیو صنعت ته لوی زیان اړوی. افغانی غالۍ یوه پانګه ده چی د اوږدو کلونو په ترڅ کی یی د دغه هیواد د زیار ګالونکو او پتمنو ولسونو ظریف هنر او بډای کلتور نړۍ ته وروپیژندلی دی او د خلکو د سپیڅلو احساساتو ترجمانی یی کړی ده. هر ډول چی وی باید د دغه ډول ګټه خوښوونکو وګړو مخه ونیول شی چی زمونږ دغه ملی پانګه زیانمنه نشی.

۷. ډیزاینونو، انځورونو او نقشونو کی د تنوع نشتوالی: زمونږ د وطنی لاسی صنعت یو مهم سیال ماشینی صنعت (غالۍ) دی. دغه ډول غالۍ د تکنالوژی په مرسته له راز راز انځورونو، ډیزاینونو او رنګونو څخه کار اخلی. سره له دی چی مشتریان او پیریدونکی په لاس اوبدل شویو غالیو ته لومړیتوب او اصالت ورکوی، خو له دی څخه هم انکار نشی کیدای چی د ماشینی غالیو رازراز رنګونه، نقشونه او انځورونه په پیریدونکو او مشتریانو اغیزه کوی، نو ضروری ده چی په رنګونو، ډیزاین او انځورونو کی نوښت او رازراز والی راوستل شی.

۸. د تولیدوونکو نه ملاتړ: د اوبدونکو ډیر لږ مزد (معاش) هغه لویه ستونزه ده چی غالۍ اوبدل یی ستونزو سره مخ کړی دی. د غالیو له خرڅلاو څخه زیاته ګټه د تولیدوونکو پر ځای د نورو خلکو (جلابانو) لاس ته ورځي. دغی موضوع د اوبدونکو زړونه مات کړی دی.

## د غالیو اوبدلو د صنعت د ښه کیدو لپاره وړاندیزونه او لاری چاری

**۱. د دولت ملاتړ:**

په اقتصاد، صادراتو او د کار ځواک په برخه کی د مناسبی بیخبنا د نشتوالی له امله باید دولت خپلو پالیسو کی بدلون راولی. د دغو تولیدوونکو د ملاتړ لپاره لومړنی ګام دا دی چی د هیواد دننه دوی ته یو څه آسانتیاوی راوستل شی او د غالیو د پروسس امکان برابر شی. بل ګام باید دا وی چی د هیواد د تولیدوونکو اجناس په ښه ډول صادر شی یعنی د صادراتو شرایط اصلاح شی. لکه مخکی چی وویل شول زمونږ په هیواد کی د غالیو د صادراتو لګښت د ګاونډیو په پرتله ډیر زیات دی. همدارنګه باید دولت په نړیواله کچه د وطنی لاسی صنایعو د معرفی او تبلیغ لپاره لاس په کار شی.

**۲. په رنګ، ډیزاین او راجستر کولو کی نوښت:**

باید دا ومنو چی یوازی کیفیت لرونکی تولید او له عالی توکو څخه کار اخیستل د غالیو د صنعت د بریالیتوب لپاره کافی نه ده. دولت باید د پیریدونکو او مشتریانو د ذوق او خوښی په مطالعه کولو سره او د هغوی د ذوق سره سم په پلان جوړونی سره، تولیدوونکی وهڅوی چی د پیریدونکو د ذوق مطابق ډیزاینونه نوی کړی تر څو په نړیوالو مارکیټونو کی له خپلو سیالانو څخه وروسته پاتی نشو. باید دا ومنو چی د مشتریانو او پیریدونکو ذوق او سلیقه د

بدلون په حال کې ده او مونږ نشو کولای چې پرته له بدلون څخه په راتلونکې کې ښه پرمختګ وکړو.
همدارنګه باید دا ټکی هم هېر نشي چې زمونږ د تولید ډېره برخه د نورو هیوادونو، په تیره بیا د پاکستان په نوم نورو هیوادو ته ځي، باید داسې یو وضیعت اټکل شي په راتلونکې کې داسې پیښ نشي بلکې باید افغاني غالۍ ته خپل هویت او ځانګړې پیژندنه ورپه برخه شي او ګاوڼدیان ونشي کولای چې هغه له مونږ څخه غلا کړي.

**۳. د افغانستان د غالیو د پیژندنې لپاره د ننداړتونونو او یو شمیر پروګرامونو دایرول:**

د کال په بیلابیلو وختونو کې کیدای شي پیریدونکو ته محصولات وروپیژندل شي او د تشویقي پروګرامونو او د غالیو د اوبدلو د مرکزونو معرفي کول تولیدوونکې او صادروونکې دواړه هڅوي. د یوه کال په ترڅ کې که بریالي او مخکښ تولیدوونکې معرفي شي او د دوی تجربه نورو ګډونوالو ته ولیږدول شي د دغه صنعت له ترقۍ سره مرسته کولای شي.

**۴. پیریدونکو او مشتریانو ته درناوی:**

افغاني غالۍ یوازې یو مصرفي جنس نه دی، بلکې دا د افغانانو د هنر یو ښکلې او له ارزښت څخه ډک کلتوري سمبول دی چې په ډېر زیار، صبر، حوصلې او پوره دقت سره اوبدل کیږي، نو باید د مشتریانو سلیقه رعایت او د هغوی درناوی وشي چې دغه تولید په ښه توګه وپیري او ترلاسه یې کړي. نن ورځ غالۍ یوازې د کوټې غولي او مهم مرکزونه نه ښکلې کوي، بلکې د ښایست لپاره د هغو استعمال ډېر پراخ شوی دی. باید زمونږ تولیدوونکې په دغه ضرورت باندې پوه شي او د دغه جنس هنري او کلتوري اړخ هم په پام کې وساتي.

**۵. د پام وړ تولیداتو او صادراتو لپاره روزنه:**

د دې لپاره چې نړیوال بازار کې بریالي اوسو او ګاونډیو سره سیالي وکولای شو، په دې برخه کې باید لازمه زده کړه او روزنه ترلاسه کړو. باید تولیدوونکې او صادروونکې دواړو ته روزنه ورکړل شي. تولیدوونکې باید پوه شي چې څه ډول غالۍ ښکلې ده او په څه ډول کولای شي خپل تولید د پام وړ وګرځوي. صادروونکې هم باید د بازار له پیچلتیا، سیالۍ او بیو او بازار موندنې څخه ښه خبر وي. د بیلګې په توګه اغیزمن تبلیغات د بازار موندنې لپاره یو ښه عامل دی چې مونږ ورڅخه غافل یاستو، حال دا چې زمونږ ګاونډیان له دغې وسیلې څخه

پوره استفاده کوی، نو لازمه ده چې د تبلیغاتو سیستم بازار موندنه له زاړه او دودیز شکل څخه راووځي او په عصری بڼه واوړي.

**۶. د سیالی کوونکو د نفوذ مخنیوی:**

ځینی سیالی کوونکی په تیره بیا پاکستانیان په پوره توګه زمونږ د تولید له وضیعت څخه خبر دی او د غالیو په صنعت لاسبری دی او زموږ د غالیو بازار یې هم ترلاسه کړی دی. که یو شمیر ستونزی او خنډونه زموږ د خپل غفلت له امله دی، نوری ستونزی د هغوی د واک او نفوذ له کبله دی.

پاکستانیان نه غواړی چې دغه لویه ګټه چې زمونږ د ماشومانو، بیوزله او خواریکښو ښځو او نارینه وو له ستومانی څخه یې ترلاسه کوی، له لاسه ورکړی. نو مونږ باید د خپلو غالیو پر صنعت او د غالیو اوبدونکو په کار باندی د پاکستانیانو دروند سیوری کم کړو.

یو ډیر مهم افغانی محصول چې هر کال پاکستان ته قاچاق کیږی، هغه غالۍ دی. زیات شمیر غالۍ د مینځلو او سکښت لپاره او بیا د پلورلو لپاره پاکستان ته ځي، خو د دولت د نه پاملرنی له امله هلته د پاکستانی جنس په نوم نړیوالو مارکیټونو ته عرضه کیږی.

## د سیمه ییزو صنایعود دودیزو بازارونو معرفي او لنډه تاریخچه

د افغانستان دودیز بازارونه دجوړښت له مخې ډېر ورته والی نه سره لري، بلکې د صنعتکارۍ او راکړې ورکړې د پیچلي والی له مخې ورته د همغه کسب د نوم اړوند بازار نوم اخستل کیږي. لکه د کابل څلورچته بازار چې خاصه ځانګړنه لري، چې د تاشقرغان بازار بیا دا ځانګړنه نه لري خو د کندهار په سرپټې بازار کې بیا د کابل د څلور چته بازار ځینې ځانګړنې تر سترګو کیږي او د هرات زوړښار بیا ورسره شاید له بله پلوه اړخ ولګوي.

دا توپیرونه د نفوس، د بازار پراختیا، د اصنافو د ویش، د ښاریانو د اقتصاد او جغرافیایی موقعیت نه تر تاثیر لاندې راځي چې د لویې لارې په اوږدو کې راځي ، حتی سیاسی حاکم وضعیت او سیستم هم تاثیر پرې کوي.

دا وریاتونه د بازارونو په تشکیل باندې مستقیم او غیر مستقیم اثر لری، مؤقتي بازارونه (چې کوچي بازار، یا د بازاروځ په نوم هم یادیږي، زیاتره ښنې یې د افغانستان په مرکزي او هزاره جاتو سیمو کې لیدل کیږي) یا هم اوږدمهاله بازارونه (د سرپټو او سرلوڅو بازارونو په

بڼه وي، عموما دوه بڼې لري چې لومړی شکل يې په ګڼ نفوسه مراکزو کې په دايمي ډول خلاص وي.)
دوهمه بڼه بازارونه يې په اوونۍ کې يوه ورځ، دوه يا درې ورځې فعاليت لري. دا ډول يې اکثره په کليوالي او لرو پرتو، کم نفوسه سيمو کې د ځايي خلکو اړتياوو د پوره کېدو لپاره جوړېږي او رنګېږي.
دا بازارونه د بازارورځ يا مېلو مشهور وي چې زياتره د افغانستان په مرکزي او شمالي سيمو (د هندوکش درو) کې دود دي. د بدخشان اشکاشم کې اوس هم دغسې بازارونه شته چې د مشترک بازار (نوی نوم يې دی) په نوم يادېږي. دې بازار ته په اوونۍ کې يوه ورځ کوچني سوداګر، د لاسي او سيمه ييزو صنايعو توليدوونکي، او د امو سيند له دواړو غاړو (افغانستان او تاجکستان څخه د اجناسو او صنايعو واردوونکي مالونه راوړي او خرڅوي يې. د بلخ دولت اباد بيا بل ځايي ورځ بازار دی چې د شاوخوا علاقه داريو او کليو خلک ورته د ورځنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره راځي.
دا بازار له تېرو پنځوسو کلونو د پراختيا له پلوه تر شبرغان بازار وړوکی و، خو بيا يې هم د قشلاقانو په کليو کې يو لړ توليدات کېدل، له همدې توليداتي پلوه يې له شبرغان بازار سره ورته والی هم درلود.
د قشلاقانو او شاوخوا کليو ځايي محصولات به اکثره وړين، لرګين صنعتي شيان، قره قل، غذايي او لبنياتي مواد، پالان يا کتې، نعلونه وو چې په بازار کې به يې توده راکړه ورکړه کېده.
د بازارونو يوه بله بڼه د ګرځنده بازارونو ده چې په معاصر تاريخ کې يې ننبې زياتې ليدل شوي (دا بازارونه د هغو پلورونکو له خوا جوړېږي چې يوازې د اخستونکو د اړتيا وړ توکي برابروي، دا بازارونه دوه ډوله دي، يو يې دا چې صنعتکاران خپل مالونه او توليدات په ډله ييز ډول پر ښارونو تر کليو وړي او خرڅوي يې ځينې بيا داسې دي چې دريو نه تر پنځو پورې سوداګر يو څو قلمه مختلف توليدات کلي په کلي ګرځوي او پلوري يې. په دې ډول بازار کې يوازې د مصرفوونکي او پلورونکي تر منځ د راکړې ورکړې رابطه ټينګه وي صنعتګر يې تر منځه نه وي.
پورته ذکر شوي بازارونه عموما په درې ډوله برابرېدل، د پلور بازار، د توليد بازار او د توليد و پلور ګډ بازار.

دغه دوه ډوله بازارونه د هېواد په اکثره برخو کې لیدل شوي، د مالوچو کوڅه، میوند واټ کې د قالینو پلورنې بازار او کتاب د پلور بازارونه وو، په داسې حال کې چې په ده افغانانو کې د کابل دېوال(اوس له منځه تللی) شاته د سپینو زرو بازار، په میوند واټ کې د مسګرۍ بازار(اوس نشته) د تولید او پلور بازارونه وو چې په کابل کې موجود و. د تولید بازار بیا په تاشقرغان کې و، خو اوس له بده مرغه له منځه تللي دي.

## د تاشقرغان بازار

د خلم ولسوالي د کابل – بلخ په لویه لار پرته او په سمنګان ولایت پورې تړلې چې تاشقرغان یې د مرکز په توګه اوس هم شته.
د افغانستان د معاصر تاریخ په اساس خلم یا تاشقرغان د هېواد وروستی سوداګریز مرکز و چې د سوداګریزو اړیکو، راکړې ورکړې او د افغانستان د زیاتره سنتي بازارونو دود یې د شلمې پېړۍ تر نیمایي پورې ساتلی و، خو کورنۍ ۳۰ کلنې جګړې یې نښې هم له منځه یوړې.
دا بازار له دوه اړخونو ډېر مهم و، یو دا چې د ځایي صنعتي توکو د تولید د څرنګوالي او ښکلاییز هنر له پلوه او بل د معمارۍ د ځایي سبک له ځانګړیتوب له پلوه.
دلته د ښار ودانۍ په ځایي سبک ګنبذۍ ته ورته جوړ شوي، چې په دېوالونو کې یې خامې خښتې، په ګنبدو کې یې پخې خښتې کارول شوي، بامونه یې اخبړ شوي، بېروني دېوالونه یې په ساده ډول کاګل شوي او دننه یې په سیمګیل (شګه، خټه او بهګال ګډېږي یا ترې خټه جوړېږي) ډول اواربدل.
په تېرو څلویښت یا پنځوس کلونو کې د تاشقرغان په ټول ښار کې یوازې څلور یا پنځه نوې ودانۍ وې، چې هغه هم له پخواني نوي طرز (سیمټ او ګاډر په کې کارول شوي وو) سره جوړ شوي وو او دا هم یا د روغتون ودانۍ وې، یا دولتي ادارې په کې وې یا هم عسکرۍ چوڼۍ په کې وو.
د ښار دا برخه چې له اسلام څخه مخکې حتی د کاڼي په دوره کې هم د انسانانو نه وړاندې پرته وه د وخت په تېرېدو یې ښه بیخي اوښتې وه او د ځینو پخوانیو اثارو لکه د هزار سم بالا حصار، جهان نما بڼ لرونکی شوه، دا ځایونه د عبدالرحمن خان په وخت کې په کې اباد شول.

خلم ولسوالي چې د امو سيند پر غاړه پرته ده د کرنې، بڼوالی او مالداری لپاره مناسب موقعيت لري، کله چې د تاشقرغان بازار ودان و، نو د بېلا بېلو هېوادونو او ښارونو سوداګرو به يې له کرنيزو او لبني محصولاتو څخه برخه وړله.

د تاشقرغان اقتصادي وضعيت پر دريو سکتورونو ولاړ و. هغه داسې چې مخکې مو هم وويل چې کرنه، بڼ پالنه، مالداري او لاسي صنايع  او نور. کرنه- باغداري او مالداري به خلکو د تاشقرغان په لرې پرتو علاقه داريو او کليو کې ترسره کوله، هغه يو بېل بحث ته اړتيا لري چې دلته ترې تېرېږو او مازې يوه يادونه يې ضروري بولو. مګر د تاشقرغان لاسي صنايعو په اړه يو جلا او ژور بحث ته اړتيا ده، تر څو له بېلا بېلو اړخونو يې مطالعه وشي، د فرهنګي ميراثونو په عينکو کې ورته وکتل شي او د تاريخ په اوږدو کې يې پر ملي اقتصاد د مثبت اغېز پټ اړخونه راښکاره کړای شي. دا بازار دوه برخې و، د ښار منځ (مرکزي برخه) چې ۸۳۷ دوکانونه يې د توک او پرچون يو ځای لرل او د باندې ښار چې د ښار په حاشيه کې پروت و، دلته ۵۰۰ دوکانونه وو. مرکزي ښار داسې بازار و چې دواړو غاړو ته يې نری پياده رو او دواړو غاړو ته يو بل ته مخامخ دوکانونه جوړ وو، دوکانونه له خامو خښتو او خټو رغېدلي، بامونه يې يو شان اوار او د لرګيو چتونه يې لرل.

دا بازار د ښار په زړه کې و، په داسې حال کې چې بهرنی ښار يې په څنډو کې او دوکانونه يې خورا نامنظم وو، دا دوکانونه به ځای ځای لرې پراته او ځای ځای يو په بل پسې نښتي وو.( *د سي جي شارپيټهر له څېړنې اخستنه*)

د واټونو غاړې ته د اوسېدو کورونه په يو کتار پراته او ټول يو منزله وو، چې د بازار خواته يې مخه خلاصه او د دوکان په توګه به ترې استفاده کېده، د تاشقرغان بازار چې په سرپټي بازار مشهور او په لرګيو پوښلی و خو وروسته د ځايي حاکم په امر يې سر لوڅ کړای شو، تر څو غټې لارې وکولی شي له دې ځايه تېرې راتېرې شي. سرپټي بازارونه پخوا په افغانستان کې ډېر زيات وو، د کندهار سرپټی بازار، د کابل څلور چته سرپټی بازار او د هرات زوړ بازار يې د بيلګو په توګه يادولی شو. سي جي شارپيټهاير په ۱۹۷۲ کال کې د تاشقرغان بازار په اړه په خپله څېړنه کې وايي: ((تاشقرغان د منځنۍ اسيا يوازنی سرپټی بازار نه و، بلکې دا ډول بېلګې په تاشکند، کوکند، مارغيلان، بخارا، بلخ، اندخوی، چاريکارو او نورو ګڼو سيمو کې کولی شو پيدا کړو. دا ډول بازارونه چې د ښاري پرمختيا له دورې راپيل شوي، د

کلاگانو په اخره بهرنۍ برخه کې به جوړېدل، پخوا به دې بازارونو لويه دروازه لرله، د شپې به ورته قلف اچول کېده تر څو يې له دوکانونو څخه د غلا مخه ونيول شي. د تاشقرغان بازار د سيمې په کچه يو ستر او منلى بازار و د ځانګړو مشخصاتو درلودونکى او له دوه اړخونو څخه پرې بحث کېداى شواى.
لومړى- د ښاري تشکيلاتو له پلوه
دوهم- د پېروپلور د څرنګوالي له پلوه

لومړى- د ښاري تشکيلاتو له پلوه لاندې ځانګړنې په کې مشاهده کولى شو:

- دا بازار د منځنۍ اسيا د هېوادونو په کچه يو بشپړ بازار و.
- د يوې مرکزي ودانۍ درلودونکى و.
- د ۱۲ کوڅو درلودونکى و، چې هره کوڅه يې په سيمه کې د دود شوي صنعتي کاروبار په نامه مشهوره وه.
- تاشقرغان ۲۸ سرايونه لرل، چې ځينې يې د کاروان سراى په توګه کارېدل او ځينې يې بيا د عمده مالونو لکه د غنمو، مالګې، وريجو، ترکاريو او سکرو د سوداګرۍ مرکزونه وو.
- دولتي ودانۍ لکه زندان، دولتي دفترونه او نور د ښار په څنډه کې پراته وو، داسې چې د ښار بازار يې له بهرني بازار سره تاړه.

دوهم- د توليد او پلور د سيستم له پلوه يې لاندې ځانګړنې په ګوته کولى شو.

- د ښار اصلي بازار چې د کوڅو، سرايونو او دولتي ودانيو درلودونکى و، هرې خواته يې د توليد شويو مالونو په پېرو پلور سوداګر بوخت وو.
- د ښار دوهمه برخه چې له مرکزي بازاره د باندې پرته وه، اکثره په کې د انفرادي توليداتو او ورکشاپونو دوکانونه وو.
- توليدي برخه اکثره په کورونو کې وه او زياتره يې له عمده پلورونکو سره په تماس کې وو.

هغه څه چې پورته ذکر شول او هغه څه چې د تاشقرغان بازار په اړه د ښاغلي شارپينتر په راپور کې راغلي له مخې يې دا بازار په لاندې ډول تشريح کولى شو:

تاشقرغان داسې بازار و چې سرپټې واټونه، سرلوڅې واټونه او سرايونه يې د فعاليت د څرنګوالي له پلوه په همغه اړوندو نومونو يادېدل.
يعنې صنعتي او د سوداګرۍ کوڅې، همدا راز صنعتي او سوداګريز سرايونه په خپل خپل ځای کې يو خاص صنف ته اړوند ګڼل کېدل او همغه نومونه پرې ايښودل شوي وو.
د بازار اصلي واټ ۲۴۰ متره اوږد او دواړو غاړو ته يې ۱۴۶ دوکانونه پراته وو، ښاغلی شارپينټر وايي، په دې دوکانونو کې د مساپرو، سوداګرو، ځايي خلکو او حتی د دوکاندارانو ټولې ورځنۍ اړتياوې پوره کېدای شوې. دلته حمام، رسټورانټ او چای خانې موجودې وې چې د اهنګرۍ، پړې جوړونې، مسګرۍ، څرمنې کوڅې او نورو سرايونو سره دا شيان تړلي پراته وو.



*د اهنګرۍ او نجارۍ کوڅه*

په دې کوڅه کې دوه ډوله کسبګر پراته وو، دا کوڅه ۱۴۰ متره اوږده وه ۲۰ دوکانونه په کې د نجارۍ او ۵۳ نور د اهنګرۍ او وسپنې پلورنې هغه وو.
دې نجارانو به اکثره د ځايي خلکو د استعمال وړ شيان جوړول، لکه دروازې، کړکۍ، د خوب تختونه، کټونه او نور. ځينو به بيا د کورونو لپاره زينتي شيان لکه ميز، چوکۍ، د خونو د

ډيکور شيان، کتيبې او ښايسته پر کاشيو ښکلي شوي لرګين توکي جوړول، دا شيان به اکثره ځايي خلکو کارول او اخستل. اهنګرانو به همه زياتره کرنيز وسايل، د دروازو دستګيرونه، د دروازو چپراسونه، د دروازو زنځيرونه، زينتي ميخونه، د اس نعلونه، لورونه، د طبيلې ميږوي او نور ګڼ د کارولو وړ وسپينز اوزار به يې جوړول او بيا به يې په يوه لويه کوره کې په اور جوړ شوي دا شيان سړول او بازار ته به يې وړاندې کول.



مسګرۍ کوڅه

د مسګرانو کوڅه له اصلي واټ سره تړلې وه، د پړي جوړولو او اهنګرۍ کوڅې له همدې څخه بېلې شوې وې، او دا کوڅه د خلم تر سينده رسېده. د تاشقرغان مسګرانو به د خپل کسب تر څنګ تجارتي هم کوله چې د خلکو د اړتيا وړ ګڼ مسي لوښي به يې توليدول. د مسګرانو کسب دوه برخې لرلې، يو دا چې نوي مسي توکي او لوښي به يې جوړول، دوهم دا چې زړو مسي توکو او شيانو ته به يې تازه رنګ و شکل ورکاوه.
مسي توکي به دوی د ځايي طراحۍ او طرز له مخې ډيزاينول او ښکلا به يې وربخښله



د پړي خرڅولو کوڅه (ريسمان فروشها)

خلم د سمنګانو يوه ولسوالي ده چې کرنه او بڼوالي يې د خلکو مهمې عايداتي او اقتصادي سرچينې دي.
ځکه نو د زراعتي مالونو، بڼوالۍ او مالدارۍ اړوند صنايع چې په لاس به جوړېدل د سيمې د خلکو په ژوند کې يې مهم اقتصادي رول درلود. لويې ټوکرۍ (پچۍ) چې خلکو به ورته کجاوې هم ويل، په سيمه کې د تجارتي مالونو، کرنيزو توليداتو، د بڼونو د مېوو د انتقال تر ټولو ښې وسيلې وې. ځکه مالونه به په کجاوو کې ډېر روغ او سلامت تر ښاره رارسول کېدل نو همدا وجه وه چې يوه ډله دوکانداران د همدې کجاوو په توليد هم د يوې مرۍ ډوډۍ ګټلو لپاره په کار بوخت وو.
کجاوې به دوه ډوله جوړېدې، يو ډول به يې د بېد د ونې له نريو لښتو او څانګو نه جوړېدې او بل ډول به يې له لوخو څخه د پوزکيو په ډول جوړېدې. د کجاوو د جوړوونکو دا کارهم پرغاړه وو چې يو ډول پړې او نور اړوند شيان هم توليد او بازارته وړاندې کړي.
زرګري: د تاشقرغان د بازار جغرافيايي موقعيت داسې و چې د کابل- مزار په لويه لاره پروت او ګڼ سوداګريز کاروانونه به ترې د ورځې په اوږدو کې تېرېدل راتېرېدل. دا چاره نه يوازې د خلکو د اقتصاد د ښه کېدو لامل شوه بلکې د دې سبب هم شوه چې ځايي خلک د ژوند ښکلاييز او تجملي اړخ ته هم پام واړوي، ځکه نو په تاشقرغان بازار کې د سپينو زرو، سرو زرو او نورو نجيبه توکو پېرو پلور هم خورا زيات و. په تاشقرغان کې د زرګرۍ ځانګړې کوڅه وه چې سر يې پټ او ۲۶ متره اوږده او ۲۲ د زرګرۍ دوکانونه په کې و په افغانستان کې د زرګرۍ تاريخچه له اسلام د مخه هم پراخ څرګونه لري، دا به نو دوه ډوله وه چې د سپينو زرو او سرو زرو له مخې يې ويشلی شو. په شمالي ولايتونو کې باختري سبک، ترکمني او سلجوقي سبکونه د زرګرۍ مشهور سبکونه وو. د دغه لاسي صنعت(ښکلي هنر) دا برخه يې ځانګړی بحث غواړي چې دلته ترې د موضوع د اوږدېدو له وجې تېرېږو.
نو وايو چې په تاشقرغان کې د سپينو زرو توکي د خلکو له اړتيا سره سم توليديدل او خام زر به ورته معمولاً د سوداګرو لخوا واردېدل.

## د څرمنو کوڅه

د څرمنو کوڅه ۴۶ متره اوږده او ۱۷ دوکانونه په کې وو، دلته به کسبګرو له څرمنو نه اکثره چرمي اجناس او توکي تولیدول، چې ځایي خلکو او سوداګرو به یې غوښتنه ترې لرله.
دلته کمربندونه، ماسۍ (څرمني جرابې دي چې د سړو سیمو خلکو به اغوستې)) د اس د زین څرمني تسمې، د اس زینونه، څرمني دستکولونه او بکسې او نور ګڼ څرمنیز توکي د ځایي صنعتګرو له لاسه وتل.
د هېواد شمالي ولایتونه د شنو درو، دښتو، لوړو غرو او څړځایونو له کبله د مالدارۍ لپاره غوره ځایونه و، چې بیا به یې له برکته ډېر مالونه ساتل کېدل او څرمنې به یې د خامو محصولاتو په توګه لومړۍ د څرمنو د کسب خاوندانو ته په لاس ورتلې او بیا به یې ترې ښایسته او نفیس شیان جوړول.

## د رخت کوڅه

دا سرپټې کوڅه ۶۰ متره اوږده وه چې د رخت، تیارو جامو، چپنو، خیاطۍ او بزازۍ ۳۷ دوکانونه یې لرل. دلته به په پرچون ډول رختونه خرڅېدل، چې اکثره به یې یا ځایي تولیدات وو او یا به هم په وارداتي ډول بازار ته له نورو ځایونو راوړل شوي وو.
ددې ځای چپنې د ځایي اوزبکانو جامې وې چې په ټول شمال کې دود او مشهور و.



*د بنجارګانو کوڅه*

د بنجارګانو کوڅه هم د تاشقرغان د بازار یوه سرپټې کوڅه وه چې سقف یا سر یې د ځايي، عربي او دري ژبې د شاعرۍ په خطاطۍ ښایسته شوی و، دا کوڅه ۳۶ متره اوږده او د بنجارۍ د وارداتي مالونو په ۳۱ دوکانونو ډکه وه.

دا بازار د یو لړ سرایونو او کاروان سرایونو ځای هم و، چې توکي به په کې په عمده او پرچون ډول پلورل کېدل. د دې ځای کاروان سرایونه به اکثره د سوداګرو دمه ځایونه وو.
سرایونه به د خپلو څښتنانو له خوا یا دوکاندارانو ته په کرایه ورکول کېدل او یا به هم په اجاره ... خو له دې دواړو څخه به په هر ډول معامله کې د سرای څښتن یا هم اجاره دار مجبور و چې ښې ډېرې پیسې ښاروالۍ ته هم ورکړي.
دا پیسې به یو کال پس ورکول کېدې او په مقابل کې به یې چې کوم سند لاسته راوړ دا به په همدې دوکان کې د هغه د کار د ادامې جواز و. هغه پیسې به چې ښاروالۍ ته ورکول کېدې، کله کله به د دوکانونو له کرایې نه دوه چنده زیاتې وې، خو ښاروالۍ به بیا په بدل کې ځایي دوکاندارانو، سوداګرو او د ښار خلکو ته یو لړ خدمتونه ترسره کول.

**د تاشقرغان د وریجو کوڅه:** دا سرای د یوې لنډې کوڅې درلودونکی او د شلمې پېړۍ په دوهمه نیمایي پورې یې کوڅه هم سرپټې وه، پرچون دوکانونه په کې زیات وو او یو سر یې له اصلي واټ سره او بل سر یې د وریجو له کوڅې سره تړلی و.
په دې کوڅه کې ۱۵ د وریجو د پلورنې پرچون دوکانونه وو، په داسې حال کې چې دننه په سرای کې یې هم د عمده او پرچون وریجو ۱۲ دوکانونه وو. عمده پلورونکي به زیاتره له ځایي او له شا او خوا راغلیو سوداګرو سره په راکړه ورکړه کې اخته وو، په داسې حال کې چې د پرچون سوداګرۍ خاوندان به له ځایي خلکو سره د هغوی د اړتیا وړ راکړه ورکړه باندې بوخت وو.
وریجې د شمال له مهمو محصولاتو څخه وې، چې د سوداګرو تر منځ یې کیفیت هم خاص شهرت درلود، وریجې به تاشقرغان ته زیاتره له بغلان او کندوزنه راوړل کېدې.

**دسبو پلورلو کوڅه :** سبزۍ کوڅه د وریجو کوڅې په دوام پرته وه، یو سر یې اصلي جادې پورې هم نښتی و، په دې سر کې یې د سبزۍ یوازې دری دوکانونه وو او دننه یې زیات وو، خو هغه به د کال په څلورو فصلونو کې یا د شمېر له مخې کمېدل او یا به هم ډېرېدل. ځایي سواګرو به د تاشقرغان د شاوخوا سبزۍ او محصولات سرای ته راوړل او بیا به یې په عمده ډول د سرای په انګړ کې په سبزۍ پلورونکو خرڅول.

## د اوړو سرای

د اوړو د پلور سرای چې په یو خلاص ځای کې پروت وو، یو اړخ ته یې د کلالۍ سرای، بل اړخ ته د کالیو خرڅلاو، بل اړخ ته د بقالۍ، همدا شان یو اړخ ته له زندان او بل اړخ ته د بازار له مرکز سره تړلی وو.

په دې سرای کې د اوړو د پلور ۳۵ دوکانونه دغه راز یو شمېر د چایو سماوارونه او هوټلونه هم وو.

د اوړو په کوڅه ختمې شوې کوڅې داسې اوږدې او پراخې نه وې.

اوړه او غنم د افغاني ترکستان ((د هندوکش غره شمال ته پراته ولایتونه لکه کندوز، بغلان، سمنګان او بلخ)) بل ورمهم کرنیز محصولات وو.

په دې سرای کې به په عمده او پرچون ډول پېر و پلور کېده، د تاشقرغان دې سرای ته به زیاتره غنم د کلیو او درو په ژرندو کې له پروسس وروسته د عمده پلورونکو او دلالانو لخوا رالېږدول کېدل، خو غنم به هم په دې سرای کې ترلاسه کېدل.

**د کلالانو سرای:** دا سرای سرخلاصی او په یو غیر منظم ځای کې پروت وو، چې یو طرف ته یې د اوړو کوڅه او بل اړخ ته یې د څرمنو د خرڅلاو بازار و چې ټول ټال ۱۸ دوکانونه په کې وو. کلالان هنرمند خلک دي، چې دخپلو لاسی صنایعو په ښکلی کولو کی ځانګړی مهارت لري. کلالانو به د پلور لپاره توکي په خپلو شخصي ځایونو کې جوړول او دې بازار ته به یې رارسول، ځینې توکي داسې هم وو چې کلالانو به په همدې سرای کې تولیدول، چې د تنور جوړولو برخه یې زیاته د یادولو وړ ده. د کلالي توکو زیات پېرودونکي د هندوکش د غرونو شمالي برخه کې د پرتو ولایتونو اوسېدونکي وو. د کلالۍ صنعت چې له تاریخي پلوه د

افغانستان مهمو صنعتونو کې راځي، د هېواد په مختلفو برخو کې یې ځایي صنعتګران د تولیدي او مصرفي بازار په زنځیر سره تړلي وو.



د څرمنو سرای: پوستین جوړول د افغانستان یو ځانګړی هنر او صنعت و، چې د کابل ښار د نوي ښار د مرغفروشی کوڅه کې یې د توریزم لوی بازار و. دهیواد شمال کې د پوستینونو دغه سرای هم د دې بازار یوه برخه وه چې زیاتره سوداګرو به دلته د قرقل پوستکي پلورل او اخیستل، قرقل د ترکستان د مالداری له مهمو محصولاتو څخه و چې په هېواد دننه او بهر کې یې ډېر زیات اخستونکي لرل.
قرقل هغه محصول و چې نه یوازې په شمالي ولایتونو کې یې تولید دود و بلکې په خپل وخت د شوروي ترکستان (ازبکستان، قزاقستان، قرغیزستان او ترکمنستان) نه هم د تاشقرغان بازار ته واردېده او دلته به خرڅېده.

## د پسونو د پلور سرای

دا سرای د ښار په اصلي واټ پورې تړلې وو، دلته څاروي پلورل کېدل او د تاشقرغان ځايي خلکو به خپل څاروي د پيرو پلور لپاره همدلته راوستل. ځايي خلکو به د خپل ورځني ژوند پر مخ وړلو لپاره ورکي ((د مېږو بچيان)) او د نورو څارويو بچيان تريو کاله پورې ساتل او بيا به يې دلته خرڅول، د قرقل لپاره به هم واړه وري (کوچني پسونه)) همدلته د خرڅلاو لپاره راوړل کېدل.

په تاشقرغان ښار کې يو بل سرای هم وو، چې ځايي خلکو به ورته لرګي، پوستکي، غوړي، او غوښه د خرڅلاو لپاره راوړل، دا يو سرخلاصی بازار غوندې و.

د ډبرو د سکرو سرای د تاشقرغان ښار يوه برخه وه چې ځايي خلکو به په ژمي کې له همدې ځايه سکاره رانيول او د کورونو د تودولو لپاره به يې ترې ګټه اخيسته.

صندلۍ د اوسېدلو د ځای تودولو مهمه وسيله وه، سکاره به يې په اور تازه کړل، تر صندلۍ لاندې به يې کېښودل او خلکو به ځانونه ورته تودول.

د تاشقرغان بازار په کوڅو، برخو او نومونو ځکه ويشل شوی و چې هره برخه يې د يو ځانګړي کسب و صنعت خلکو ته بېله شوې او په نوم يې يادېده، لکه د نجارانو کوڅه، د زرګرانو کوڅه، د کلالانو سرای، د اوستاکارانو کوڅه، د مسګرۍ کوڅه او د حکاکانو کوڅه...

د دې بازار زياتره صنايع به له ښاره بهر په کورونو، او د تاشقرغان ښار په شاتنيو کوڅو کې د ځايي کسبه کارانو لخوا جوړېدل او زياتره خام مواد به يې هم له ځايي سرچينو ورته ترلاسه کول.

پنبه، لرګي، مس، سپين زر، وريښم، قيمتي (ګرانبيه) ډبرې او نيمه قيمتي ډبرې يا ځينې نور خام مواد به له هندوستان، چين او ايرانه ورته راواردېدل.

د دې ښار کسبه و به زياتره لاسي صنايع د کور په غړو جوړول، د بېلګې په ډول، د کولالۍ په کاروبار کې به نارينه و ختهه جوړوله، لوښي به يې ترې جوړول خو ښځو به بيا د لوښو د طراحۍ، ډيزاين او ورته د رنګ جوړولو چاره پر مخ وړله.

دغه راز په جولاګرۍ کې هم له بازاره د خامو موادو برابرول د نارينه و پر غاړه وو، خو د توليد، اوبدنې او رخت بافۍ کار به ښځو ترسره کاوه.

د نارينه او ښځو تر منځ دغې کاري همغږۍ د صنايعو د توليد په برخه کې دا کومک کاوه چې کسبه ګرې کورنۍ د ښار او هېواد په اقتصادي کړۍ کې له ځانګړي اهميته برخمنې کړي.

د صنعتي توکو تولید به اکثره په کوچنیو کار ځایونو او یا هم د استاذانو په ځانګړو کورونو کې ترسره کېده، د لاسي صنایعو زیاتره استاذانو به خپل اولادونه یا هم ډېر نږدې خپلوان ((وربرونه، خوریونه)) ځان سره د کار زده کړې ته کېنول، تر څو یې کور ته په اسانۍ تګ راتګ وکړای شي.

همدا وجه وه چې د صنایعو تولید میراثي او کورنی شوی و او ډېر کم به داسې شاګردان پیدا کېدل چې د استاد کوم نږدې خپلوان به نه و خو د هغه کور ته به یې تګ راتګ درلود.

بله خبره دا وه چې کوم شاګردان به چې د استاد د کورنۍ غړي یا خپلوان نه وو، د هغوی د زده کړې موده به اوږده وه، کله کله خو به داسې هم وشول چې خپل ټول کاري مهارتونه به داسې شاګرد ته چا نه ورزده کول.

د لاسي صنایعو د تولید په پروسه کې د کسبګر مهارت ځانګړی اهمیت لري ځکه د همدې مهارت له برکته د ظریفو اثارو د تولید په اړه هغه ښکلا پېژندنه چې اخستونکی یې لري، د بازار اړتیاوې براورد کولی شي.

د خامو موادو کیفیت، ځانګړې پېژندنه او د اخستونکو اړتیاوې، د تاشقرغان د لاسي صنایعو هغه ځانګړنې او بعدونه وو، چې نه یوازې یې د ښار شاوخوا خلک، بلکې د لرې پرتو ښارونو او لهنورو ګاونډیو هېوادونو یې وګړي تر دې ځایه راکشول.

# د هرات زوړ بازار



هرات د تاریخ په اوږدو کې د تمدنونو خورا لوړې ژورې لیدلي او په هر تاریخي پړاو کې له یو ځانګړي مقامه برخمنه خاوره ده.
له میلادي کلونو مخته د هخامنشیانو، یونانیانو او ترې وروسته د ساسانیانو او د اسلامي دور د تیموریانو، غوریانو او غزنویانو.... په وختونو کې هرات کله د لویدیځې دروازې په توګه کله د پایتخت، کله د هنري مکتبونو د سرچینې او کله یې د یو معتبر ښار په توګه د هېواد د سرنوشت په ټاکلو کې مهم رول لرلی دی.
د هرات زوړ بازار هم چې د اختیارالدین د کلا څنګ ته پروت دی له خپل ځانګړي اهمیته برخمن دی.
دا بازار چې څلور محلې لري د قطبیچاقو، درانیانو، مومندو او خواجه عبدالله مصري په نومونو سره ویشل شوی. په زوړ بازار کې یې د اوسېدو برخه بېله، د سوداګرو د اوسېدو لپاره کاروان سرایونه بېل او د د راکړې ورکړې برخه په کې جلا ځای کې وه چې ټول ټال (یونیم زر متره اوږدوالی او یونیم زر متره سور)) یې درلود.
د هرات د پېرو پلور زوړ بازار دلته لویه ځمکه نیولې وه چې څلور اصلي واټونه یا جادې یې لرلې چې هره یوه یې د ښار دروازې ته وتلې وه.
بلې خوا ته دا جادې د ښار د مرکز پر خوا غځېدلې وې چې د چار سوق په نوم یادېده، هلته به هم دا جادې یو تر بله سره یو ځای کېدې.

د هرات زوړ بازار سرپټې و چې ګڼ دوکانونه، ګودامونه، کاروانسرایونه او د ځایي تولیداتو ګڼې فابریکې په کې موجودې وې.
د چهار سوق او د هرات د سرپټي بازار یوه لویه برخه په ۱۳۰۴ هجري شمسي کال کې چې د هرات ښار لپاره نوې نقشه جوړه شوه، له منځه یوړل شوه او ښار د شمال او ختیځ پر خوا پراخ کړای شو.
چهارسوق ته به یې چهار سو هم ویله چې کومه خاصه تېروتنه په کې نه وه، ځکه سوق په عربي کې بازار ته وایي او د چهار سوق معنا همغه څلور بازارونه وو چې په یوه نقطه کې سره یو ځای کېدل.
په دې بازارونو کې اکثره فرعي کوڅې او سرایونه د ځانګړیو سکټوري صنعتونو په نوم، یا هم د خپلو څښتنانو په نوم یادېدې او اوس په همغه نوم مشهورې دي.
د هرات مشهور او په میراث پاتې صنایع اوس هم په خپل خاص نوم مشهور دي.
د هرات په زوړ بازار کې د زرګرۍ، مسګرۍ، اهنګرۍ، وریښم بافۍ او شیشه سازۍ صنایع د خپل ځانګړي هنري سبک او جوړښت له پلوه لا هم بې ساري دي.
که څه هم دغه صنعتي تولیدات اوس لږ دي او زیاتره له وارداتي مصنوعاتو استفاده کېږي خو بیا هم د ژوند په یوه یا څو برخو کې دغو اصلي صنایعو نه ګټه اوس هم پورته کېږي.
شیشه سازي د هرات مشهور صنعت و چې اوس یې هم یو دوه کارې د هرات د جامع جومات په خوا کې فعالیت کوي او د هرات د فرهنګي میراثونو د ژوندي ساتلو لپاره کار کوي. هراتۍ شیشه په اوس وخت کې د زیاتره کورونو، مارکیټونو په ډیکور او سینګارولو کې کارېږي چې په کورنۍ او نړیواله کچه خاص شهرت لري، دا په داسې حال کې چې په تېرو څو لسیزو کې له هراتۍ شیشې نه یوازې د ټولنیزو اړتیاو لپاره کار اخستل کېده.
د هرات د زرګرانو بازار چې د هرات د زوړ بازار په زړه کې پروت دی، یوه غني تاریخچه لري او زرګري په کې له ډېرو وختونو راهیسې روانه ده. د هرات زرګران د تاریخ په اوږدو کې د یو ځانګړي تولیداتي هنري سبک خاوندان دي چې د افغانستان د هنر په تاریخ کې مهم ځای لري.
د هرات د ګاڼې جوړونې سبک ته هراتي سبک یا ملیله کاري وایي، هنري ځانګړنې یې فردي وړتیاو پورې تړلې دي، چې په لنډه توګه یې یادونه ضروري بولو.

د ملیله کاري یا رواله یې ګاڼې په خورا ظرافت جوړېږي، په دې سبک کې له سیمانو کار اخستل کېږي او د سرو زرو سکې پرې ډیزاینېږي، دا سبک په هېواد کې د زرګرۍ له مروجو سبکونو خورا متفاوت دی، ځکه ډیزاینونه یې په مومو کېږي.
اکثره ګاڼو کې اتلس قیراطه سره زر کارېږي او د فیروزې، زمروت، بیروجو په څېر عجیب و قیمتي کاڼي په کې کارېږي. د ملیله کاري یا رواله سبک په هرات کې خاص شهرت لري.
د ملیله کارۍ په سبک زیاتره زرګران سکه لرونکي لاکټونه، کندمکي ګوتمۍ، سکه لرونکې ملیله یي غوږ والۍ، کړې، لاسبندونه، پازیبونه، غاړبندونه، مریمي ګوتمۍ او د غوږ چسپکونه جوړوي.

د هرات د زرګرۍ لپاره کارېدونکي وسایل به هم پخپله هراتي صنعتګرو تولیدول، د تېږو ماتول، تراشل او حتی د ګاڼو د پالش چاره به هم دلته په ډېرو لومړنیو ځایي وسایلو ترسره کېده هغه چې ځایي کسبګرو به خپله جوړول.



د قیمتي او نیمه قیمتي فلزاتو لکه د سرو زرو، سپینو زرو، مسو او نورو د ویلې کولو چاره به هم د زرګرۍ د مروجو او د ذوب په ساده کارو کورو کې چې ځایي صنعتګرانو به جوړې کړې وې، ترسره کېده.

زرگرانو به دلته عموما دوه ډوله کورې کارولې، يو ډول کورو سره به خاص بالون (بنې) وچې د څاروي له پوستکي به جوړ او يوې دستې ته به يې حرکت ورکول کېده. په دې سره به د کورې په داخل کې هوا په ډېر فشار خپرېده او د سکرو کوره کې به يې فلزات پرې ويلې کول.
دوهم ډول يې ميخانيکي دستگا وه چې د هوا د څرخ په تاوولو به يې د اړتيا وړ هوا يې د سکرو نغرى ته ورکوله څو اور تېز شي او فلزات ويلې کړي.



*په هرات کې د سرو زرو او مسو د ذوب سنتي کوره*



*د هرات په سرپټي بازار کې دننه يو کاروان سراى*

## د کاشي کارۍ صنعت:

هرات هغه ښار دی چې له ډېر پخوا نه د (کاشی) صنایعو زانګو هم ده. د هرات زوړ بازار همدغې تاریخي بنا ته په زړه کې ځای ورکړی چې د پیړیو په تېرېدو هم وکولای شي له ګریوانه سر راپورته کړي.

د هرات جامع جومات نه یوازې د عبادت ځای و، بلکې په یوه څنډه کې یې د کاشي کارۍ د زوړ صنعت د زده کړې او تولید مرکز هم و، هغه وخت دلته د غوریانو او تیموریانو په سبک کاشي کارۍ کېدې.د کاشي کارۍ کسبګر د دغې تاریخي سرمایې د خوندیتوب لپاره په کارځایونو کې عمرونه کېناستل او دا صنعت یې له نسلونو څخه نسلونو ته انتقال کړ. په هرات کې د کاشي کاریو صنعت په دوه ډوله دی چې ځایي خلک او س هم پرې بوخت دي. یو ته یې اووه قلمي کاشي وایي بل ته یې معرقه کاشي وایي

### اووه قلمه یا هفت قلم کاشي:

دا هغه ډول کاشي ده چې صنعتګر ورته خټه جوړوي او په ګچي یا لرګینو قالبونو کې یې اچوي، بیا یې له وچېدو وروسته سپین رنګ کوري ((د کاشي د پخولو لپاره په دودیز ډول باندې جوړې شوې کورې کارول کېږي او زیاتره یې د سپیدارو د لرګیو وي.)) منځ ته ور اچوي او تر خولې پورې یې پرې شیندي، بیا د کورې خوله یا دروازه ګل تړي او اور ورته ځای پرځای کوي.

دا اور نه ډېر کم وي نه ډېر زیات، اندازه یې استاذ ته معلومه وي او تر ډېره بل وي، تر هغې چې استاذ د امتحاني سوریو په ازمایلو په دې نه وي پوه شوی چې کاشي پخه شوې دا اور لګېدلی وي.

کله چې کاشي پخه شوه اور هم پسې مړ کېږي، خو بیا هم تر هغې ورته انتظار کېږي چې کوره سړه شي.

کله چې کاشي له کورې وایستل شوه، نو هغه ډیزاینونه چې مخکې له مخکې په ترس کاغذ کښل شوي وي د کاشي پر مخ ترې کښل کېږي.

په اخره کې د تور رنګه ځانګړو بورسونو په مرسته رنګ ورکول کېږي او دوهم پوخت ته چمتو کېږي.

له رنګ وروسته کاشي د بشپړتيا د پړاو وهلو لپاره يو ځل بيا کوره کې ايښودل کېږي او د رنګونو د تعدد پر اساس تر يو مناسب وخته حرارت ور رسول کېږي.
دا وار چې کاشي پخه او له کورې وايستل شي نو په کورونو او نورو اماکنو کې د لګولو لپاره چمتو شوې وي.

## معرقه کاشي

معرقې کاشيانې هغې ته وايي چې په يو رنګ پخې شوې وي، بيا پرې د چکش په مرسته رسمونه نقش او نګار شوی وي، غاړې يې ډيزاين شوې او يو له بلې څخه په متفاوت ډول جوړې شوې وي.
بيا يې ورته د ګلانو پاڼې غوندې جوړې کړې وي، هغې ته کاشي له منځه خالي او دا په کې ايښودل کېږي او نصبېږي. د کاشي جوړونې دا سبک د هرات د کاشي سازۍ ځانګړنه ده چې د تيموريانو په وخت کې يې دود درلود.



*په هرات کې د معرقې کاشي سازۍ يوه صحنه*



د معرقې تیموري کاشۍ د کاپي ایستلو مرحله



په معرقو کاشیانو کې د ګلانو او ګلپاڼو ځایولو یوه صحنه



*د هرات د زوړ بازار چت چې ښایسته هندسي شکلونه په کې جوړ شوي*

## د لرګي صنعت

د هرات ښار د هیواد له ترټولو زړو ښارونو څخه یو دی، چې په خپل تاریخي سفر کې یې د تمدنونو مختلفې لوړې ژورې تجربه کړي.

له اسلامه وړاندې او له اسلام وروسته وخته هغه تاریخي دورې دي چې په کې ګڼو پاچاهانو د هرات ښار ته خپل یادګارونه پریښي او اوس د افغانستان د هنر په تاریخ کې ځانګړی ارزښت لري.

د اسلام له راتګ وروسته، په تیره بیا د تیموریانو په وخت کې چې هرات د دوی اداري مرکز و، هنرونو او صنایعو خاصه وده په کې وکړه.

د لرګي صنعت او ظریف هنر هغه څه وو چې د تیموریانو په دوره کې یې خاص مقام درلود او بیا یې له هغې وروسته تر ډیره وخته لرګینو صنعتي او هنري تولیداتو ته دوام وکړ.

خاتم کاري او منبت کاري د هرات هغه ظریف هنرونه دي چې په هرات کې یې د خلاقیت په برخه کې زیات پرمختګ وشو او اوس هم کولی شو چې د دغه هنر ګڼ اثار په مختلفو ځایونو کې مشاهده کړو.

د منبت کارۍ هنر چې کاشي ګانې په کې له منځه سورۍ سورۍ کېږي د تیموریانو په سبک جوړېږي، په دې سوریو کې په ډېر ظرافت جوړېدونکي ځینې رسمونه لکه ګلان، ګل پاڼې،

ترنج،اسلمي خطونه اود مار خوله ... د هرات د میناتورۍ په هنر دود او د هیواد د هنر په تاریخ کې خورا لویه برخه ده.

اوس که هر څه میکانیزه شوي او د هرات د لاسي صنعت هنر یې تت کړی خو د ښار داخلي بازار اوس هم د ځینو صنعتي او هنري ظریفو توکو د پېرو پلور پر مخ خلاص دی او له هره ځایه ځانته پېرودونکي راکاږي.

د لرګي د هنر او صنعت په برخه کې خاتمکاري د هرات د لاسي صنایعو یوه ښیله ځانګه ده، چې له مخې یې د لرګیو وړې وړې ټوټې یو تر بله یو ځای کېږي یو ښایسته ډیزاین ترې جوړوي او په میزونو یا نورو تزییني شیانو کې کارول کېږي.

دا هم د تیموریانو له وخته راپاتې ظریف هنر دی، د تاریخي پېښو او سیاسي حالاتو له اثره اوس په افغانستان کې دومره دود نه لري خو په ایران کې چې له هرات سره ګډه پوله لري د همدې هنر پر هراتي سبک اوس هم کار کېږي.

د هراتي سبک د تداوم یو مهم صنعتي مرکز اصفهان دی او دا یې د تداوم مرکز ګڼل کېږي، اوس اوس په دې وروستیو کې دغو لاسي صنایعو خورا بازار پیدا کړی او هنرمندان یې په ځان راټول کړي دي.

دمګړی د هرات په سرپټي بازار کې یو څه صنعتګران او هنرمندان شته چې د خپلو تخلیقي اثارو او تولیداتو په هنري صنعت بوخت دي.

د شیشه سازۍ صنعت:

شیشه جوړونه هم د هرات پخوانی صنعت دی، اوس مهال ډېر کم داسې خلک شته چې د هرات جامع جومات شمالي ډډې ته د شیشه سازۍ د صنعت او تولید په مرسته خپل ژوند مخته وړي.

د شیشه سازۍ لپاره یوه ساده کوره چې له خښتو او خټو جوړه وي، ماتې ښیښې په کې ویلې کوي او بیرته ترې ګیلاسونه، ګلدانونه، د اوبو جامونه، د شیرینۍ نعلبکي او کله کله ترې د کاشي ګانو په ډول تزییني ټوټې جوړېږي.

د هرات د صنعتګرانو اوس زیاتره ښیښه یي تولیدات په تزییني شیانو راڅرخي، دا شیان زیاتره وخت هغه کسان اخلي چې له نورو ولایتونو هرات ته راغلي وي.

د شیشه سازۍ د صنعت لپاره دا مهال په هرات کې د کورې د لرلو تر څنګ د ښیښې د میده کورو ګراد او یو شمېر نور اوزار او تجهیزات کارول کېږي.

## څادر اوبدنه:

د هرات ژمی خورا سوړ او وچه هوا لري، پټو یا ګرم څادر هغه څه دي چې له ډېر پخوا نه کارول کېږي، نو د هرات د سړې او وچې هوا نه د بچ کېدو لپاره ځايي صنتعګرانو د یو ډول پشمي مشهورو هراتي پټوانو اوبدلو ته مخه کړه.
د څادر اوبدلو کارګاه هم په ډېر دودیز ډول ډیزاین او لګول کېږي، یو ډول ګیراړۍ یې لګولې وي د تار ګوټونه په کې راځوړند وي او په میخانیک ډول پرې څادرونه اوبدل کېږي.
سنۍ او د مالوچو تارونه هم د څادر اوبدنې د فابریکې په شاوخوا کې تولیدېږي دا بیا بېل ځايي صنعت دی، د تارونو جوړوونکي همغومره تار تولیدوي چې د څادرونو فابریکو ته په کار وي.
د هرات پټوان زیاتره له هېواده بهر ګاونډي هېواد ایران ته صادرېږي او په هېواد دننه سړې هوا لرونکو ولایتونو لکه بلخ، کابل، بدخشان او ان تر نورستانه رسول کېږي.
د هرات پټوان ځانګړی نوم، نښان او ځانګړي اخستونکي لري.

## د مسګرۍ صنعت:

د هرات د زوړ بازار کوڅه د مسګرانو په نوم یادېږي، دلته به تکړه د مسینو لوښو تټاران ناست وو او په هراتي سبک به یې لوښي تولیدول او له ډېرو لرو پرتو سیمو څخه ورته پېرودونکي راتلل.
مسي لوښي به دوه ډوله وو، یو هغه لوښي چې تازه به جوړېدل او بازار ته به وړاندې کېدل، بل یې داسې وو چې کارېدلي به وو، رنګ به یې اوښتی و، قلعي کارۍ ته به یې اړتیا وه تر څو بېرته د کارېدنې وړ وګرځي، هغه به هم دلته ترمیمېدل.

د همدې لپاره د هرات په زوړ بازار کې د مسګرۍ لپاره یوه ځانګړې کوڅه پربښودل شوې وه تر څو د هراتیانو او نورو سیلانیانو اړتیاوې ترې پوره شي.

د کابل زوړ بازار (څلور چته بازار)

کابل په خپل وخت کې د وریښمو پر لاره د خپل ستراتیژیک موقعیت له پلوه د ځانګړي اهمیت درلودونکی او همدې جغرافیوي موقعیت یې د شاهانو مخ د ځان پر لور راګرځولی و.

له شمالي پلوه په کې د اریایانو نفوذ، له لویدیځ لوري د هخامنشیانو، له سویل او ختیځه د موریایانو نفوذ ترلاسه کول هغه څه وو چې دا ښېرازه نقطه یې وخت ناوخت په خپل ځانګړي ساخت و ساز بدله کړې رابدله کړې ده.

دلته د لومړنیو پیړیو بېلابېل معبدونه او د اسلام د لومړیو وختونو د بېلابېلو دورو تاریخي یادګارونه لا هم د کابل په سینه کې خوندي دي.

دلته د کوشانیانو د دورې له سقوط وروسته یفتلیانو د نفوس د زیاتوالي په دلیل د ښار بڼه تر پخوا بدله کړه، ښارونه له کلاګانو راووتل او د همدې کلاګانو شاوخوا ته یې خلکو واړول.

د کابل د ښار پراختیا او د تاریخي بالاحصار له دېوالونو نه د خلکو د راوتو په وجه د کلا شاوخوا د ښاریانو په کوڅو او جادو بدله شوه.

د غره شمالي ډډو ته د شیر دروازې د بالا حصار په ګاونډ کې د ښاري پراختیا لپاره یو مناسبه زمینه برابره کړې وه او د وخت په تېرېدو یې ځانګړې شهرت ترلاسه کړ.

په وروستیو پېړیو کې افغانستان د ښارونو، ښارګوټو او بازارونو د تداوم او پراختیا زیات شاهد دی چې د بېلګې په ډول یې ځینې مهم ښارونه د هیواد په شمال، جنوب، ختیځ او لویدیځ کې د یادونې وړ بللی شو، دا ښارونه د هیواد په ستراتیژیکو برخو کې د وریښمو د لویې لارې په مسیر پراته او د هیواد د اقتصادي زنځیر مهمې کړۍ یې تشکیل کړې دي.

د کابل چارچته بازار چې د دې ښار یوه زړه برخه ګڼل کېږي په خپل وخت یو ډېر مهم سوداګریز مرکز هم و چې د هند پر خوا د غځېدلې لارې په سوق الجیشي پړاو کې پروت و.

د دې بازار بنسټ د شاه جهان په وخت کې د علي مردان خان دصوبه دارۍ پر مهال کېښودل شو،

چې په خپل وخت کې یې د افغانستان د نورو بازارونو او منځنۍ اسیا له لویو بازارونو سره ځینې وختلړ څه ورته والی هم درلود خو ډېرې زیاتې ځانګړنې او ښکلاوې یې هم لرلې.

دا بازار د یو چت یا سقف لرونکی و ، په چت کې یې ښیښې لګول شوې وې تر څو کافي اندازه لمر په کې راننوځي.
دیوالونه یې په ګچو ښایسته شوي وو او پر ستنو یې هم د تیموري سبک د هنرمندانو لخوا ګلکاري شوې وه.
دا بازار په داسې ډول ډیزاین او ودان شوی و چې د ژمي په وخت کې به له یخ نه خوندي و ، او په اوړي کې له ګرمۍ، خو رڼا به په کې هم داخلېده چې ټول کاریې په خورا ظرافت ترسره شوی و.
دا بازار په خپل وخت کې دومره عصري جوړ شوی و چې کابل ښار ته یې خورا لوړ فرهنګي ارزښت هم ورپه برخه کړی و.
د کابل د بازار د دغې ودانۍ لومړۍ درې چتې چې په لومړۍ چته کې یې دوکانونه وو ، په دویمه او دریمه کې به یې سوداګر او دوکانداران اوسېدل.
په څلور چته بازار کې یوه چارسو یا څلور لارې هم وه چې په هر اړخ کې یې د ښارنې لپاره یو ځانګړی ځای هم جوړ شوی و ، دلته ناستو ساتونکو به د بازار ساتنې دنده پر غاړه لرله.
په دې څلورلارې کې د صرافۍ دوکانونه هم و چې د کابل هندوانو به په کې کار کاوه او دا څلورلارې پل خشتي ته نږدې پرته وه.



*د ډاکټر محمد یوسف یوسفي په لاس د کابل څلور چته بازار کنبلی انځور*

په دو همه څلور لارې کې چې په دو همه چته کې و د تو کر پلورنې دوکانونه وو، په دې ځای کې یو سرای هم وو، په درې وا ړه پوړونو کې یې د ږمنځو یا شانه جوړونې کسبګر پراته وو، ځکه یې نو دغه څلور لارې ته د شانه فروشانو چوک ویل.
په درېیمه چته او دریمه څلور لارې کې د پوستین پلورونکو او پوستین ګنډونکو دوکانونه وو، دلته به رنګریزي هم کېده، و اسکتونه هم ګنډل کېدل او خرڅېدل او خولۍ هم په کې ګنډل کېدې.
په اخره او څلورمه چته کې د وسلو دوکانونه وو، دبورې دوکانونه وو او بوټان به هم په کې ګنډل کېدل، خو متاسفانه چې اوس یې یو څه د معمارۍ، د ګچ کارۍ، رنګینو ښیښو او د جشن د شپو ورځو لپاره مخصوصو څراغونو پرته بله نښه نه ده پاتې.
دا بازار چې د ځایي تولیداتو د پېرو پلور مرکز و د وارداتي امتعې مرکز هم و. سرپټې ودانۍ یې د مغلي تیموري سبک په هنر ښکلې شوې وې، د بازار په دې برخه کې د کابل د خلکو لخوا ځانګړې صنایع او تولیدات د پیر و پلور لپاره د ځایي راکړې ورکړې د اصولو له مخې ((په نغدو او جنس)) وړاندې کېدل.
د کابل بازار د صنایعو د ځانګړتیاو له مخې په کوڅو او واټونو ویشل شوی و چې ډېر زیات کسبه خلک په کې پراته وو او د ځایي خلکو د اړتیا وړ توکي به یې تولیدول، په دې کوڅو کې یې د مشهورې کوڅې د سراجي کوڅه، علیرضا خان کوڅه، چهار چته، مسګرۍ کوڅه، د وښو کوڅه، د کتابونو کوڅه، د کوتر فروشۍ کوڅه، د کلالۍ کوڅه او د مالوچو کوڅه یې ډېرې مشهورې او مهمې وې.
د کابل سرپټی بازار د افغان- انګلیس د لومړۍ جګړې پر مهال د انګریزانو له ماتې وروسته وسوځول شو. ( انګریزي قواو چې په ۱۸۴۱ کې کابل پرېښوده او هند ته تللې، نو د افغان خپلواکۍ غوښتونکو لخوا یې سخت زیانونه ولیدل او له افغانستانه وویستل شوې، دا قواوې په همدې کال د بدل اخستلو په نیت بیرته کابل ته رانښوتې او کابل کې یې د یوې اوونۍ له تېرولو وروسته د بالا حصار ماڼۍ او څلور چته بازار وسوځول، دغه راز یې د بالاحصار شاوخوا اوسېدونکي هم له خپلو ځایونو وشړل.) چې درانه زیانونه یې ولیدل او له جګړې وروسته کلونو کې یې هم د بیا رغولو لپاره هېڅوک لاس په کار نه شول، تر دې چې د شلمې پېړۍ په نوي یمه لسیزه کې دا بازار له یوې مخې له منځه ولاړ.



د کابل ځلور چته بازار

## د مسګرۍ کوڅه:

دا کوڅه چې له نومه يې څرګندېږي، زياتره به په کې مسګران راټول وو، تر څو د کابل د اوسېدونکو د اړتيا وړ توليدات وکړي او د هيواد په اقتصادي زنځير کې د يوې مهمې کړۍ ونډه ادا کړي.
د مسګرۍ کوڅه چې د بالاحصار يا لاهورۍ دروازې شمال ډډې ته مخامخ پرته وه او په عمودي ډول د جادې پر سړک د ځلور چته بازار له درېيمې او ځلورمې چتې سره (د ځلور چته بازار په منځ عمودي ډول ختمه وه.) په ګاونډ کې پرته وه. مسګرانو به په دودېزو کورو کې د مسو په ويلي کولو، مس حلاجۍ ته چمتو کول، بيا به يې هوارول او پاڼه کول.له هغې وروسته به يې به صندان د مسو پانه اچوله په څټک به يې وهله، نيم مني لوی، يو مني، دوه مني او ان پنځه مني ديګونه به يې ترې جوړول، د وريجو خوړولو غوري ګان، لګونونه، پتنوسونه او زينتي شيان لکه ګلدانونه، کوزې او نور ګڼ لوښي به يې ترې جوړول.



د پخواني کابل کاروانسرای



د کابل د اهنګرانو د کوڅې یو انځور

## د علی رضا خان کوڅه (د ترکانۍ کوڅه)

د علیرضا خان کوڅه په ۱۸مه پېړۍ کې د کابل مهمه برخه وه چې زیاتره به نجارانو په کې خپل کار کاوه. یعنې دا کوڅه په بشپړه ډول د لرګي پر مخ کاریدونکو هنرونو ته ځانګړې وه.

دلته به دروازې، پنجرې، میزونه، چوکۍ، صندلۍ، کړکۍ ګانې جوړېدې او همدا راز به په کابلي سبک د لرګیو منبت کاري هم په کې کېده، په دغه کوڅه کې اوس هم زیاتره نجاران او د دروازو پر مخ نقش و نګار کښونکي هنرمندان شته.



*د لرګي پر مخ د هنري میناتورۍ یوه بېلګه*

**د کابل د کولالانو کوڅه :** دا کوڅه چې د جادې د سړک په ختیځه برخه کې اخر سر ته پرته وه، یو لوی شمېر کولالان په کې راټول او د ورځې به یې سلګونه قلمه د کولالۍ لوښي تولیدول بیا به یې بازار ته وړاندې کول.
د کولالانو تر څنګه یو شمېر تنور سازان هم وو چې په دودیزه ډول به یې د کابل د خلکو لپاره د اړتیا وړ تنورونه جوړول.
د ښار له پراختیا وروسته له دغه ځایه کولالانو خپلې کډې وتړلې او د شهر ارا غونډۍ خواته وکوچېدل. په دې اړه به وروسته بحث هم ولرو.

د مالوچو کوځه چې د نومورکي سرتېري څلورلارې (چوک سپاهی گمنام) ته نږدې پرته ده لا هم په کې د مالوچو دوکانونه شته او خلک یې مالوچ پلوري.
دې کوځې ته به د خرڅلاو لپاره د هېواد له شماله محصولات راتلل او خلکو به اخیستل، د دې کوځې شاوخوا ته ډېر زیات کورونه وو او د مالوچو د کوځې جومات چې په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې د کابل په سترو جوماتونو کې شمېرل کېده، همدلته دی.
په دې کوځه کې جوړ دوکانونه او کورونه په ډېر دودیز ډول جوړ شوي چې د کابل د اصلي معمارۍ په اړه ډېرې ناویلې کیسې وایي.

د کتابونو کوځه: دغه کوځه په حقیقت کې د کابل د معنوی صنعت یوه بیلگه ده. پخوا زیاتره دینی ، طبی ، ادبی او نور کتابونه همدلته صحافی او عرضه کیدل. یو شمیر یې د یونانی طب کتابونه هم و ، چې اوس ډیر نه موندل کیږی، دغو کتابو کی دافغانستان دطبی بوټو ارزښت موندلای شو. دا کوځه چې د پل خشتي جومات سویل لویدیځ ډډې ته پرته ده، د کابل په زړو کوڅو کې شمېرل کېږي چې زیاتره د علم و فرهنگ پورې تړلي خلک به ورته راتلل. دا کوځه په اتلسمه او نولسمه پیړۍ کې له خپل ځانگړي ارزښت څخه برخمنه وه، ځکه دلته به له هندوستان، عربي هېوادونو او روسي ترکستان نه کتابونه راوړل کېدل او د فرهنگیانو په شمول گڼو نورو مینه والو به اخیستل.

# د استالف بازار



*،د استالف بازار یوه څنډه*

د استالف ولسوالي د کلالۍ د لاسي صنعت تر څنګ په پوستین ګنډنه او څادر اوبدنه کې هم خورا شهرت لري، خو متاسفانه چې د دې ځای صنایع هم د هېواد د نورو هغو په څېر له یوه سره ورک شوي او اوس یې تولیدي فعالیتونه نه ترسترګو کېږي.
لکه څرنګه چې استالف د ازادې هوا پراخو ځمکو او سرسبزه غرونو درلودونکې سیمه ده، په کورونو کې به یې څاروي زیات ساتل کېدل، چې له وړیو نه به یې پوستینونه او تاوده څادرونه اوبدل کېدل.
د دې ځای د پشمي تولیداتو نه به زیاته استفاده د شاوخوا ولسوالیو خلکو او د کابل و پروان ولایتونو اوسېدونکو کوله.
دا ولسوالي له کابله ۶۰ کېلو متره لرې پرته غرنۍ، ښېرازه او شنه سیمه ده.
په دې ولسوالۍ کې د کلالانو کلی خورا زیات مشهور و، د کلالۍ صنعت له استالف سره نه پرې کېدونکې اړیکه لري.
که څه هم د کلالۍ صنعت د هېواد په ځینو برخو کې لسګونه پیړۍ تاریخ لري خو دلته د کلالۍ تاریخچه ۴۰۰ کاله پخوا زمانې ته ستنېږي.
د کولالۍ استادان په خپل کلي کې د کورنیو په کچه په دغه کسب مصروف وو او د اقتصاد ستنې به یې په همدې ولاړې وې. د کولالۍ لپاره خام مواد به په همدې ځای کې برابرېدل

خلکو به د استالف له شاوخوا اوارو ځمکو یا پروان- بامیان پر لاره د غوربند خاوره سره خاوره ورته راوړله. د کولالي لوښو د تولید پروسه کې به د کورنۍ ټولو غړو ونډه اخسته، چا به یو کار کاوه چا بل خو د لوښو د ډیزاین چاره به د ښځو پر غاړه وه. د کولالۍ د صنعت زیات تولیدات به د پنډیانو په مرسته د هیواد له مختلفو سیمو د استالف بازار ته راوړل کېدل، دلته به په عمده او پرچون ډول له پلور وروسته غزني، پروان، لوګر، تخار او بدخشان ته استول کېدل. هلته به هم پنډیانو کولالۍ لوښي کلي په کلي او ولس په ولس ګرځول او پلورل به یې، دوی به خپل توکي زیاتره په جنس پلورل او د خلکو د اړتیا وړ لوښي به یې ورسره په غنمو، اوړو، وریجو او کله کله په زړو جامو بدلول، دا شیان به یې اخره کې رابارول او په نغدو به یې بدلول، په دې کې به یې د کولال یا تولیدوونکي برخه بیرته ورکوله او پاتې پیسې به یې د خپلې ګټې په توګه جیب کې ایښودې.
چاوه دار د دې ځای بله یوه اصطلاح ده، چې د دې صنعت د تولید او مصرف په برخه کې د سوداګرو لخوا کارول کېده.
چاوه دارانو به د پسرلي او دوبي په موسمونو کې چې کله به مواصلاتي لارې د سوداګرو او خلکو پر مخ خلاصې شوې، په استالف به رامات شول او د کولالۍ د لاسي صنعت بازارونه به یې خورا تاوده کړل.
چاوه دارانو به مالداره او علاقه مند خلک دې ته راضي کول چې د کولالۍ د توکو ثو ناپخې شوې کورې مخکې له مخکې په بیه واخلي.
د سوداګرۍ دې ډول به له کسبه و سره مرسته کوله چې د ډیرو پیسو په ترلاسه کولو په خپلو کارځایونو زیاته پانګونه وکړي او زیات تولیدات ولري.
صنعت ګرانو ته به ځایي خلکو د مصرفي موادو په توګه د وسپنې او مسو، د لاجوردو او کروم ډبرو دغه راز د چقماق ډبرو، شیشې او اشقارو اکسایدونه په خپلو شخصي کارځایونو کې پروسس او برابرول او بیا به کارول کېدل.
د لوښو د رنګ د برابرولو دنده به د سړیو په غاړه وه او ښځو به یې د تولید شویو توکو د سینګار او ډیزاین دنده پر غاړه لرله.
هغه ماشین الات او اوزار چې به د کولالۍ شیانو د جوړولو لپاره کارول کېدل هغه به هم ځایي خلکو له خوا تولید او جوړېدل.



*د پنځوسمې او شپېتمې لسیزې د کلالانو یو انځور*

د استالف بازار د هیواد یو له سیمه ییزو بازارونو څخه دی، چې د وخت په تېرېدو د دریو لسیزو جګړو له کبله یې په سکښت ژور اثر ښندلی، همدا راز یې مصنوعات، د راکړې ورکړې ترسره کوونکو اړیکې او د حتی د معمارۍ ډول یې ژور تغییر کړی دی.
دلته اوس د پخواني ښار تنګ واټ په پراخه او کچه واټ بدل شوی.
دا بازار دوه برخې (بر بازار او کوز بازار) لري، د استالف په بر بازار کې په دې وروستیو کې ۱۲۰ دوکانونه پرانیستل شوي وو، اوس پرې ۳۰ دوکانونه نور هم زیات شوي، خو کوز بازار یې لا هم په هماغه پخواني تعمیراتي بڼه ولاړ او ودان دی.
د استالف بر بازار د انګلیسي د ایل (L) د توري په څېر بڼه لري، له ۱۴۰ په کې زیات دوکانونه دي چې د مختلفو توکو او شیانو راکړه ورکړه په کې کېږي، زیاتره دوکاندارانو یې دوه دوه دوکانونه سره یو کړي او خپل تولیداتي مالونه یې په کې د خرڅلاو لپاره ایښي.
د بازار عمودي برخه چې شمال او سویل ډډې ته جغرافیوي بڼه لري زیاتره دوکانونه په کې د بازاري توکو د پیروپلور لپاره پرانیستي وي. دغه بازار د سیمې اقتصاد باندې غوره اغېزه کړې چې پخوا په کې ټول ټال ۷۵ دوکانونه وو، زیاتره دوکانونه په کې یا د کولالۍ د

تولیداتو یا هم د ځایي اوبدل شویو څادرونو د پلور لپاره ځانګړي وو، خو اوس دلته د څادر اوبدلو صنعت په بشپړ ډول له منځه تللی دی.
د علاقه داری په کوڅه کې ۲۱ دوکانونو نور هم انکشاف کړی دی. په دې سربېره استالف ولسوالي ګڼ نور کوچني او ځایي بازارګي هم لري چې د ولسوالۍ له مرکز نه لرې او د ځایي خلکو د اړتیا وړ توکي په کې پلورل کېږي. له دې جملې یې د ځینو نومونه اخلو چې د اسم الله، سرمسجد ، میانه تنګي ، د کلا سعادتاو خواجه حسن په نومونو مشهور او په دودیز ډول راکړه ورکړه په کې کېږي. په بر بازار کې د ځایي تولیداتو تر څنګ له کابل او ان بهر نه د راوارد شویو توکو اخستونکي هم وي.
د دې ځای خپل تولیدات وړې او غټې پچې، د انګورو او نورو میوو د لېږد لپاره لویې کجاوې، شیري ټوکرۍ او مرتبانونه لکه د ارغوان د ونې له څانګو چې جوړ وي، دغه راز په مختلفو ډولونو او سایزونو جوړ د کولالۍ لوښي ، ګچي ګلدانۍ، له ګچو جوړې مرغکۍ او نور. هغه چې له کابله وارديږي هغه یې د اوبو وارداتي جامونه یا کټوري دي همدا راز هغه څه چې له پاکستانه راوارديږي په دوی کې ډبرین او تزییني لوښي او پاکستاني ګچي ګلدانۍ شاملې دي.

## د کندهار زوړ بازار



دا د کندهار د سرپټي بازار تر ټولو پخوانی لاسي کښل شوی انځور دی چې په ۱۸۴۱ کال جیمز رټري جوړ کړی دی.
په دې لاسي کښل شوي انځور کې د کندهار د سرپټي بازار یوه داخلي برخه ښکاري او بله یې ورسره په څنګ کې پرته کاروانسرای هم را اخیستې ده.

د کندهار بازار چې د هند، فارس، چین، یونان او روم د سوداګریزې لارې پر سر پروت و، د افکارو د ابلاغ، د تمدنونو او فکري حرکتونو ښار و، دا افکار لړ هنرونه به دهیوادونو سوداګرو دلته رارسول او دلته یې د اراکوزیا د لویې برخې د هنرونو او ظریفه صنایعو په وده کې خورا رول لوباوه.
د کندهار بازار د تاریخ په اوږدو کې خورا زیات بدلونونه ولیدل او په کې د وخت له غوښتنو سره سره هم مختلفو هنرونو تبارز وکړ.
دلته له نادر افشار وروسته، احمد شاه ابدالي چې د افشار د دوریو مهم جنرال و، لویه جرګه راوبلله او د خراسان په تخت یې تکیه ووهله، خو لږ وخت به تیر نه وو چې سمدواره یې په ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او نورو برخو کې خورا مهم بدلونونه راوستل.
د دې هڅو په لړ کې یې یو کار دا هم و چې ګڼ معماران، کسبګر، صنعتګران او هنرمندان یې له هند او پارس نه راوستل او په نوي پایتخت کې یې د یو نوي ښار د جوړولو بنسټ پرې کېښود.
ویل کېږي چې د کندهار د نوي ښار نقشه هغه وخت د قزلباشو د قبیلې مراد خان جوړه کړه.
دا ښار چې چارسو یې مرکز و څلورو خوا ته یې دروازې خلاصې وې چې ختیځه دروازه یې د کابل پر لور وه، لویدیځ ته یې هرات و، سویل ته یې شکارپور و او شمال ډډې ته د پاچا تر ارګه غځېدلی و.
د ښار مرکز یا چارسو ته نږدې سرپټی بازار هم پروت دی، چې د کندهار د زوړ بازار زړه ګڼل کېږي، دې بازار ته یوه دروازه هم وه چې کوټوالانو یاساتونکو به یې پهره کوله، ترڅو سوداګر، خلک او دوکانداران په کې په خورا ارامه زړه راکړه ورکړه وکړي.
دا ښار چې په خپل وخت کې د احمد شاهي ام البلاد په نوم هم یاد شوی، خورا زیات صنعتګر یې په خپله غیږه کې رانغښتي وو، دلته په نوې بڼه د سیمې د نورو هیوادونو د معمارۍ سبک وکارېد او دا ښار یې لا پسې په نوې بڼه ودراوه.
دلته د ښار په جوړولو کې د ګڼو هندي، پارسیانو او کندهاري معمارانو نظرونه واخستل شو ترڅو یو نوی او متمدن ښار ودان کړای شي.
داسې ویل کېږي چې د کندهار یو معمار په هند کې اوسېده، چې احمد نومېده او د کندهار د ښار جوړولو ټول کریډټ په همده پسې حسابېږي.

په وروستيو پېړيو کې (په ځانګړي ډول هغه وخت چې کندهار د پلازمينې په ډول انتخاب شو) د هيواد د سياسي شرايطو له پلوه، يو پياوړی اقتصادي، سياسي او ټولنيز مرکز و چې د معمارۍ هنر، نقاشۍ او د نورو ظريفو توکو توليداتو يوه ځانګړې بڼکلا ورکړې وه.
د هيواد له دوديزو ډلې کندهار هغه ښار و چې د سويلي او منځنۍ اسيا د معمارۍ د هنر له اثره رغېدلی و د چينايي، هندي او پارسي سوداګرو د پاملرنې وړ ګرځېدلی او له يو ځانګړي رونقه برخمن و.
د کندهار سرپټۍ بازار چې د هيواد له فرهنګي ميراثونو ګڼل کېږي، له سيمه ييزو ځانګړتياو هم خورا برخمن و خو زياته برخه يې د اتلسمې او نولسمې پېړۍ د سياسي پېښو له کبله يا بيخي ولاړه او يا هم هغسې روغه پاتې نه شوه چې اوس يو څه مکث او څېړنې ته اړتيا لري.
دلته د اوسېدنې لپاره کاروان سرايونه، کرايي چاپار خانې چې د سر پټي بازار شاوخوا ته پرتې او دوه دوه منزله جوړې شوې وې يوازې د سوداګرو لپاره وې او دا يې په ډاګه کوله چې دلته د هغه دور هنرمندانو او معمارانو څومره لوړ ذوق او ښکلاييز اند درلود.
سرپټۍ بازار د کندهار په زړه کې ودان او دوه پوړيزه بازار و. دلته پر ديوالونو د ګچو په مرسته په دننني او بهرنيو تاقونو ګلکاري شوې وه، بازار ته د رڼا د رسولو دريڅې يې هم په چت کې جوړې شوې وې چې د کندهار د دوديزې معمارۍ څرګندويي به يې کوله، خو داسې ښکارېده چې د کندهار د خلکو هنر هم د تيمورشاهانو د معمارۍ له هنره متاثره شوې وه.
د دې بازار زياتره دوکاندارانو د اوبدنې او ګنډنې د صنايعو په کورنيو پورې تړاو درلود، د کندهار سرپټي بازار په ګنبذي بڼه چتونه درلودل، چې په ګچکارۍ ښکلي شويو ستنو باندې به ولاړ وو او بازار ته يې فوق العاده اهميت وربخښلی و، ترڅو د اتلسمې او نولسمې پېړۍ د خلکو ملي هويت او هنر وروستيو نسلونو ته ټينګ او روغ ورسولی شي.
د کندهار په لاسي صنايعو کې خامک کاري ډېره مشهوره او له ډېر پخوا وخته دلته دود وه، حتی خلکو به د کندهار خامک ته کنداري غاړې ويل او لا يې هم دا نوم مشهور دی.
کندهارۍ غاړې به د دې ځای ښځو جوړولې او د کندهار د توليداتي اقلامو مهمه برخه وه.
اوس که څه هم په وروستيو کلونو کې خامک هم په لويو صنعتي دستګاګانو کې ترسره کېږي، د خامک لاسي صنعت يې کمرنګه کړی خو لا هم د کندهارۍ غاړو لاسي صنعت د سيمه ييز اقتصاد په پياوړتيا کې مهم رول لري. په دې صنعت کې چې پر ښځينه او نارينه کاليو، جيبي

دسمالونو او نورو لسکونه تولیدي شیانو کوم خامک کېږي، دا د کندهاریو ښځو د ښکلا پېژندنې د لوړ ذوق ښکارندویې کوي چې نه یوازې په کندهار بلکې په ټول افغانستان کې د خلکو د خوښې وړ ګرځي.
د کندهار ګنډونکو به خپل لاسي تولیدات او محصولات په سرپټي بازار کې پخوا هم نندارې ته ایښودل او کورنیو – بهرنیو سوداګرو به د خلکو د اړتیا وړ شیان ترې په لوړه بیه اخستل.
په کندهار کې ډېر زیات صنایع جوړېدل، له همدې کبله دا ښار په کوڅو ویشل شوی او زیاتره کوڅې یې د کابل، هرات او تاشقرغان د بازارونو په څېر د صنعتونو په نوم نومول شوې وې.
اوس که څه هم د دې بازار بڼه په بشپړه ډول بدله شوې ده خو کوڅې یې په همغو نومونو یادېږي، لکه د مسګرۍ، اهنګرۍ، د زرګرانو کوڅې او داسې نور. د کندهار د بازار ختیځ ډډې ته واټ چې چارسو ته نږدې و د زرګرۍ په نوم یادېده او د ځانګړي نوم درلودونکی و.
د کندهار زرګرانو به له مشهد او هندوستان نه راغلیو سپینو زرو نه شیان جوړول او د ځایي خلکو تر څنګ به یې سوداګرو باندې هم پلورل، چې په کلنۍ ډول به یې له دې کسبه خورا زیاته ګټه کوله.
په دې بازار کې سره زر ډېر کم کارېدل یعنې یوازې د کندهار خانانو به په فرمایشي ډول د سرو زرو ګاڼې په زرګرانو جوړولې.
کندهار له شمالي ولایتونو نه چې ځمکني منرالونه او غمي به په کې ډېر پیدا کېدل او بیا به یې په ګاڼو کې هم کارول، ډېر لرې و، نو له همدې کبله دلته په ګاڼو کې غمي زیات نه کارېدل.
د ملیله زرګرۍ سبک چې د غزنویانو د وخت ځانګړی هنر او کندهار ته ډېر نږدې و. نو دلته هم په ځایي هنر کې له ملیله یې سبکي ظرافت نه ډېره ګټه پورته کېده.
د مسګرۍ کوڅې دوه دروازې لرلې چې یوه یې لویدیځ ډډې ته وه بله یې ختیځ ډډې ته وه چې د چارسو بازار پورې نښتې وه. د دې ځای د مسګرانو د صندانو، ټټکونو او مسو د پاڼه کولو غږ به تر ډیرو لرو ځایونو اورېدل کېده. مسګرانو به دلته د زړو مسي لوښو نه ګټه اخستنه نوي مسي لوښي تولیدول تر څو د ځایي خلکو اړتیاوې پرې پوره کړي.
ګڼ مسي لوښي، لوټې، لګنونه، پتنوسونه، واړه او غټ د مختلفو سایزونو دیګونه، ارایشي وسایل او لسکونه ډول نور توکي دلته جوړېدل او پلور ته وړاندې کېدل.

دلته مسګري داسې وه چې د تولید او پلور ځای یې یو و او زیاتره مسي لوښي به د پیرودونکي په فرمایش ځای په ځای جوړېدل. خو اوس دلته د دغو مسي لوښو ځای پلاسکو لوښو، المونیمي دیګونو او د چیني او ناشکن لوښو د تولید فابریکو نیولی دی.



د کندهار د سرپټي بازار یوه ښکاره

## دپکتیا او خوست مدمزری او پوزي جوړولو صنعت:




*پوزی یا بوریا دافغانانو یو عنعنوی فرش چې جوماتووکې ډیره ورڅخه استفاده کیده*

د وخت په تېرېدو د دغو شيانو خلاقيت او هنري جذاييت ښودلې چې افغان هنرمندانو پرې په خورا ظرافت ښکلی کار کړی، حتی زموږ ځينې هنري سبکونه شاوخوا نورو هېوادونو ته لېږدېدلي دي.

**خام مواد:** زموږ صنعتګرانو به له معمول سره سم د توليد په پروسه کې د ځايي، سيمه ييزو او وارداتي خام مواد کارول.

دغه خام مواد چې زياتره به يې په طبيعي ډول افغانستان کې پيدا کېدل، له ډېر لږ کار وروسته به ګټې اخستنې ته چمتو کېدل، خو ځينې نور خام مواد لکه وړی، پنبه، طبيعي منرالونه او نور به تر هر څه لومړی د ځايي دوديزو وسايلو په مرسته پروسس کېدل.

خو ځينې خام مواد به داسې وو چې توليد ته د چمتو کولو لپاره به يې تجهيزاتو ته اړتيا وه او دا کار به په افغانستان کې نه شو ترسره کېدی، نو ځکه به يې ورته له ګاونډيو هېوادونو نه تهجيزات را واردول.

يو څه چې موږ يې د لاسي صنايعو له تعريفه ترلاسه کوو، هغه پر توليدي کار اطلاق کوي چې د افرادو په مرسته يا د کوچنيو او لويو تصديو په مرسته د عمل جامه ور اغوستل کېږي.

دغه توليدات چې د وګړو او تصديو اقتصادي اړتياوې د فردي يا وړو ټولنيزو (لکه کورنۍ) مهارتونو پر اساس رامنځته کېږي، نه يوازې د کور بلکې د هيواد د اقتصاد يوه لويه برخه جوړوي. په دې معنا چې د يوې ټولنې انفرادي تشبثات که د توليدي مهارتونو او وړتياو لرونکي وي، نو د توليد له وسايلو نه په ګټې اخستنې توليد يږي.

موږ که په هېواد کې د لاسي صنايعو صنعت ته په ځانګړي ډول هغو سيمو او ځايونو کې چې لاسي صنايع يې په جزي ډول د هيواد په ملي اقتصاد کې اثر ښندونکي وو، وګورو نو راته معلومه به شي چې دا وړ صنايع د هيواد د فرهنګي ميراثونو په بڼه اينه کې ځانګړی اهميت لري.

د دې صنعتونو زده کړه او شاګردي، استاذي، خليفه توب يا استاکاري، د صنعتګرانو خپل دوديز د ورزده کولو اصول، رساله (د کارځای يا دوکان لپاره وضع شوي اصول)، د شاګرد او خليفه اړيکه، د کار له زده کړې وروسته د کار جواز، د استاکار لخوا د زده کوونکو منل او دا ډول لسګونه اصطلاحات او مفاهيم هغه څه دي چې د تشريح لپاره جلا بحث ته اړتيا لري.

که موږ او تاسې په دې برخه کې د تاشقرغان بازار په اړه معلومات ولولو ،نو په وروستيو دوه پېړيو کې د لاسي صنايعو دغه ستر سوداګريز مرکز په اړه مطالعه به د لاسي صنايعو د توليد په شېوه او د هغې د ارزښت پېژندنې په برخه کې راسره خورا مرسته وکړي.

د هنرونو او صنايعو د زده کړې په برخه کې د رسالې اصطلاح عموما د شخص يا استاد په اصولو پورې منحصره وي.

رساله به يې هغه سند ته ويل چې د استاد لخوا به زده کوونکي ته ور کول کېده او دننه به په کې د زده کوونکي ورځني مسووليتونه، د دوکان يا کارځای داخلي مقررات، د کار وختونه او حتی شاګرد ته د کار د زده کړې نوعيت به هم په کې ذکر شوی و.( دا سند به داسې و چې کله به مسجل و او کله به په شفاهي ډول لوظ غوندې ورکول کېده.)

همدا رنګه به رسالې شاګرد ته لارښوونه کوله چې د استاد لخوا د منل کېدو په صورت کې به خپل استاد ته د زنګنونو پر سر کښني، ګوره به يې مخې ته ږدي او د هغه صنعت په اړه چې ده به يې زده کول غوښته، خپله ليوالتيا استاکار ته بيانوي تر څو يې هغه په خپل حضور کې د شاګرد په توګه ومني.

په رساله کې دا هم راغلي وو چې د زده کړې د دورې په پايته رسولو ، څه ډول ځانته کار پيل کړي او د خليفه نوم خپل کړي؟

هغه لاسي صنايع چې د شاګرد او خليفه تر منځ د ګوړې اېښودلو او منلو د مراسمو، د رسالې او لومړنيو اوزارو له ورکړې وروسته شاګرد پېلول، دې ته به يې له اساسنامې سره لاسي صنايع ويل، او هغه صنايع چې په پيل کې به يې د رسالې له راکړې ورکړې سره کار نه و نو دې ته به يې بې اساسنامې لاسي صنايع ويل.

په افغانستان کې له دې کبله چې يو سنتي مخ پر ودې هېواد و، خو ماشيني صنايع په کې کمرنګه دي، دا اړينه وه چې د لاسي صنايعو له موقفه يې يو خاص اقتصادي ځای نيولی وای.

ځکه نو له دريو لسيزو جګړو د مخه افغانستان د ملي عايد يوه لويه برخه د ننه او يا له بهره د لاسي صنايعو له لارې چې په نړيوالو بازارونو کې به افغاني توليدات پلورل کېدل، ترلاسه کېدل.

په دې کې به له توليده نيولې تر مصرفوونکي پړاوه پورې د صنعت ګر کورنۍ، دلالانو او سوداګرو هم خپله ګټه اخسته او د هيواد کلنۍ بودجه به هم ورسره مخ پر لوړه تله.

کله کله د صنعتګرانو د کورنيو اقتصاد په انفرادي ډول د بازار د سوړوالي له کبله خرابېږي، بيا دوی خپل ياد کړی کسب خوشې کوي او بل کسب و صنعت ته مخه کوي، چې دا بيا د صنعتګرو کورنيو په بېلابېلو برخو مثبت اغېز کولای شي.

دا که څه هم اکثره وخت د کورنۍ په اقتصادي وده کې کوم ثبات نه راولي خو مرسته ورسره کوي تر څو کورنۍ له اقتصادي بدلونونو سره ځان عيار کړي.

لاسي صنايع د کورنيو د ژوندانه تېرولو لپاره ښه وسيله وي، تر څو خپله اقتصادي وضع د وخت له غوښتنو او اقتصادي اړتياو سره برابره کړي او په مرسته يې د خپلې کورنۍ اقتصادي ستونزې اوارې کړي.

دا خصوصيات به د اکثره صنعت ګرو کورنيو په ژوندانه پورې د ناڅاپي پېښو، وچکالۍ او طبيعي پېښو پر وخت تړلې خبره وه.

په المان، انګلستان، جاپان او هندوستان غوندې هېوادونو کې لاسي صنايع له فوق العاده اهميت نه برخمن وي، ځکه چې د هغوی د ملي اقتصاد د ودې او صدور په برخه کې خورا مهم رول لري.

اوس که څه هم دا هېوادونه صنعتي شوي او لاسي صنعت په کې کمرنګه شوی خو په بې ارزښته سترګه ورته لا هم نه ليدل کېږي. همدا اوس د برېتانيا په لندن کې يو کوچنی ښارګوټی د لاسي صنايعو په نوم مشهور او دولت خاصه پاملرنه ورته کوي.

د دې بشار ګوټي مديريت صنعتګرانو ته په دې اړه د ناستو زمينه برابره کړې چې يو تر بله خپلې د بازار موندنې تجربې شريکې کړي او د ورکو شويو دوديزو لاسي صنايعو د بيا احيا لپاره کار وکړي او توليداتو ته هڅوونکي ګامونه پورته کړي.
په هند او جاپان کې دولتي بنسټونه همدا اوس د لاسي صنايعو د زده کړيزو مرکزونو، د توليداتو د پېرو پلور د ودې او په دې برخه کې د لا زياتو کورنيو- بهرنيو سيلانيانو د راجلبولو لپاره هڅې کوي.
په دغو هيوادونو کې چې د نفوسو يوه لويه برخه يې د لاسي صنايعو د توليد په چاره بوخته ده، د دولت لخوا دوی ته د بانکي، مالياتي او ټرانسپورټي اسانتياو برابرولو تر څنګ خام مواد هم چمتو کېږي، تر څو خپل د لاسي صنعت توليدات له ورکېدو څخه وژغوري.
سره له دې چې ماشيني توليدات په ډېره کمه بيه پلورل کېږي او د هيوادونو ټول بازارونه يې نيولي، خو له دې سره سره هم لاسي صنايعو ته د خلکو ليوالتيا زياته ده، بلکې يو زيات شمېر خلک اوس هم غواړي چې د ژوند په هره برخه کې له همدغو توليداتو ګټه پورته کړي.
د صنعت ماشيني کېدلو د لاسي صنعت زياتې برخې زيانمنې کړې، ځينې خو يې بيخي له منځه وړي دي. دا يو داسې اصل دی چې له بده مرغه په ټولو پرمختللو يا مخ پر ودې هيوادونو کې تحميل شوی دی.
زموږ په هيوادکې هم ځينې لاسي صنايع لکه د پړو جوړول، څادر جوړولو، بوټ ګنډلو، مسګري اونور. په بشپړ ډول له منځه تللي خو ځينې صنايع لکه غالۍ اوبدنه، حکاکي او د لرګي پر مخ ګلکاري کولو هنرونه لا هم ژوندي دي.

## په افغانستان کې د يوويشتمې پېړۍ سيمه ييز نامتو لاسي صنايع:

- د کولالۍ صنايع
- ډبرين صنايع
- لرګين صنايع
- کاشي کارۍ صنايع
- د اهنګرۍ صنايع

- زرګري صنايع
- د ټټاري صنايع
- د غالۍ اوبدلو صنايع
- د ټغر اوبدنې صنايع
- د مالونو د وړيو ليمڅي
- د تار جوړولو صنعت
- ندافي

## د کولالۍ صنعت

افغانستان له جغرافيوي پلوه د وريښمو د لويې لارې پر سر چې تاريخ يې تر قبل الميلاد پورې رسيږي په سراميکي صنعت کې له نهه زره کلونو تر ۱۳ زرو کلونو پورې تاريخچه لري، له همدغه وخته يې کولالان او د سراميکي صنعت کارګران په توليد بوخت وو.
کابل ښار، استالف ولسوالي، کندوز، د سمنګانو تاشقرغان، بلخ، هرات، غزني او لوګر هغه مرکزونه دي چې د تاريخ په اوږدو کې د سراميکي توليداتو له پلوه خاص ځای لري او ځينې دغو مرکزونو کې خو د سراميکي اثارو توليد لا هم کيږي او د هيواد د اقتصاد يوه لويه برخه جوړوي.
د کولالۍ صنعت چې کار يې ډله ييز وي په وروستيو څلورو پنځو کلونو کې د افغانستان د اقتصاد مهمه ستن وه. د کولالانو کورنۍ به په ټولييز او ګډ ډول د توليد په کار اخته وې. داسې چې د خټې له جوړېدو وروسته به يې د ميخانيکي دستګاه په مرسته د خوړو لوښي، د چايو لوښي، ګلدانۍ، کوزې، لوټې، لګنونه، ديګونه او نور زينتي شيان ترې جوړول، بيا به يې تر يوې مودې په معتدله هوا کې کوټه کې ايښودل، په يوه تاري ټوټه کې به يې نغښتل تر څو ښه سم وچ شي. بيا به يې ورته رنګ تيار کړی و، يو لاس رنګ به يې ورکړ، بيا به يې تر يو وخته کېښودل تر څو وچ شي. تر هغې وروسته به دا لوښي د ډيزاينرانو لخوا ډيزاين کېدل، دا ډيزاين به په لاس او هندسي وسايلو (پرکار او دايره کش) کېده.

له هغې وروسته به ډيزاينر د يو خاص بورس په مرسته چې پخوا به د هنرمندانو اوصنعتکارانو لخوا له تاريا وړيو نه جوړېده، رنګ کېده او د اور داش کې به يې ايښودلو ته لوښي چمتو کول.
کوره يا داش به هم پخپله کولالانو جوړاوه چې د چينار يا نورو ونو لرګي به يې په کې د لوښو د پخولو لپاره پکې سوځول چې د حرارت درجه به يې له اړتيا سره سمه له ۶۰۰ څخه تر ۱۴۵۰ درجو پورې لوړه ساتل کېده.



دا اور به د داش له دريځې نه ساعت په ساعت چک او کنترولېده، کله به چې لوښي ښه سم پاخه شول، نو تر ۱۲ ساعتونو به يې همدلته په داش کې پريښودل چې له سړېدو وروسته به لوښي تيار او د توزيع لپاره را ايستل کېدل.
د کولالۍ لوښو د توليد لپاره به داسې اوزارو او موادو ته اړتيا وه چې په سيمه کې به ورته خلکو اسانه لاسرسی درلود چې په لاندې ډول يې يادولی شو.

# مصرفي مواد

**خاوره:** ( د کولالۍ خاوره په لوګر، غوربند، دولت اباد، هرات، بلخ، بدخشان، غزني او نور ټولو ولایتونو کې په اسانۍ پیدا کېدلای شوه.)
د کولالۍ د صنعت لپاره کارېدونکې خاوره باید ډېره مټینه، پاکه، له اهکي موادو، شګو او مالګې څخه خالصه وه تر څو لوښي یې د خوړو په وخت محفوظ وي.
د کولالۍ خټه زیاتره د ځمکې په بیخ کې پیدا کېږي او د پیدا کولو لپاره یې اړینه ده چې له یو متر نه تر دریو مترو پورې ځمکه ورته باید وکیندل شي او د اړتیا وړ خاوره ترې را وایستل شي.
**اشقار:** دا یو ډول بوټی دی چې د هېواد په شمال کې د بلخ په حیرتانو کې په طبیعي ډول پیدا کېږي، د ځایي خلکو په مرسته راټولېږي او ریښې یې د سوځولو لپاره کارول کېږي.
د دې بوټي ریښه له سون وروسته په یوه سخته توره ماده تبدیلېږي او بیا له پوډر کولو وروسته د کارونې وړ ګرځي.
**د فلزاتو اوکساید:** د بېلا بېلو فلزاتو اوکسایدونه د سرامیکي کولالي صنایعو د رنګولو لپاره کارېږي ( مس، منګنیز مس ، زنګ، وسپنه، کروم، المونیم هغه فلزات دي چې ډېر ښه رنګونه ترې ترلاسه کېدا ی شي.)

**چقماق یا کوارتز ډبرې:** دا ډبرې چې غره ته نږدې په سیندونو کې موندل کېږي، زیاتره د کولالۍ لوښو په استحکام او کلکوالي لپاره کارول کېږي چې زیاتره کانونه یې په پروان او نورو غریزو ولایتونو کې دي.
**د ډبرواوکسایډ:** دلاجوردو، فیروزې او جوهري ډبرې اوکسایډونه (جوهر داسې کانۍ دی چې په پروان، غوربند، لولنج کې پیدا کېږي او د رنجو کاڼی هم ورته وایي.) به د رنګ په جوړولو کې کارېدل.
د کولالۍ صنعت اړوند اوزار او ماشین الات

**ژرنده یا څرخک:** د کولالۍ لپاره کارېدونکې خټه باید تر هر څه وړاندې ښه سمه میده او له ژرندې وویستل شي او د پوډرو په شکل بدله شي، تر څو د لوښو د جوړولو پر مهال کوچنۍ تیږې میده شوې او د ظرافت د له منځه وړلو سبب نه شي، اوس وخت کې د دې کار لپاره د دودیزو وسایلو پر ځای ګرینډر کارول کېږي.

**د خټې لوی لګن:** پخوا به یې خاوره له ژرندې کولو او چڼ وروسته په یو لوی تشت یا لګن کې اچوله او خټه به یې ترې جوړوله، اوس دا کار د پکمل دستګاه په مرسته ترسره کېږي.

**څرخک دستګاه،** دا یوه دستګاه ده چې لاندې د پښو په مرسته حرکت ورکول کېږي او بره یې په یوه پاڼه (چې پخوا به لرګینه وه اوس له پولادو جوړه وي.) خټه اچولې وي چې د حرکت او څرخولو په وخت کې ورته د هر ډول لوښي شکل او ښه په لاس ورکول کېږي.

**دست تاز ( میچن) :** دا یوه وسیله ده چې اکسایدونه او نور کیمیاوي دست تاز شوي مواد په پوډرو بدلوي او د رنګ لپاره پکارېږي چې د کاڼي له ګردو ټوټو جوړ او د لرګي لاستی لري.

**لیسه، تراشونکي یا چاکو :** دا هغه وسیله ده چې د خټې جوړولو پر مهال د میز پر مخ کارول کېږي.

**د اندازې اخستلو اوزار:** دا د لوښو په تولید کې کارېږي تر څو یې اندازیو ډول وي.

**ماله:** دا وسیله د لرګینو هنرونو د استاکارانو لخوا جوړېږي او د کولال له خوا فرمایش شوې اندازه باندې جوړېږي. دا نو ډېرې بڼې لري، عمودي، افقي او ګردې بیضوي.

**تراشونکی یا موډلر:** دا وسیله د لوښو د پایو تراشلو لپاره کارېږي.

**برنده یا ګروونکی:** دا د لوښو د کندنکارۍ وسیله ده.

**چاکو یا کاردک:** دا وسیله د کولالۍ لوښو د تراشلو لپاره په کارېږي.

**خټین تیک:** دا د کلالانو لخوا له خټو جوړېږي چې یو لاستی هم لري او په بیخ کې بیضوي شکل لري دا کټ مټ د اونګ یا لنګرۍ د لاستي غوندې وي، دا نو د کاسو او قابونو د اوارولو لپاره کارېږي.

**شصتک:** دا وسیله له ربړ نه جوړه او د لوښو د تراشنې یا پاکولو لپاره کارېږي.

**لرګین ګز:** دا په میز د خټې د اوارولو لپاره پکارېږي.

**هندسي پرکار:** د لوښو د جوړولو پر مهال د اندازې اخستلو لپاره پکارېږي.

**لب ګیر:** دا د لوښو د غاړو یا خولې د پاکولو لپاره کارېږي چې له پوستکي جوړ وي.

**ظرف ګیر یا خلاص انبور:** په دې وسیله لوښی رنګ ته داخلېږي تر څو لاسونه له ککړوالي وساتل شي.
**آغوربا ډبره له لاستي سره:** دا یوه دوديزه وسیله ده چې د صنعتګرانو لخوا د اکسایډونو د پوډر کولو لپاره کارول کېږي او له خارا ډبرې جوړ وي.
**ایلک:** اکسایډونه، چقماق ډبرې او اشقار له همدې وسیلې تېرېږي تر څو یې په وسیله خالص پوډر جلا او میده کاڼي یې بلخوا ته جلا کړای شي.
دغه میده شګې یا تیږې بیا د دوهم ځل لپاره په آغور کې ټکول کېږي تر څو په بشپړه توګه پوډر ترې جوړ شي.
**اسفنج:** دا د جوړېدو په وخت کې د لوښو پاکولو لپاره کارېږي، په پخوا زمانو کې به یې د دې کار لپاره د مالوچو ټوټه کاروله.
**د نقاشۍ بورس:** د لوښو پر مخ تورقلمي او نقاشي د بورس په مرسته کېږي چې پخوا زمانو کې به دا بورس د څارویو له ویښتانو جوړېده.
**لرګین ډبلی:** دا هم په دوديز ډول جوړېږي او صنعتګران خاوره پرې وهي، بیا یې د ایلک په مرسته چڼ کوي تر څو یې پوډر ژرندې ته تیار شي.
**پرک:** د دې په مرسته د لوښو خولې ډیزاینېږي.
**داش یا کوره:** دا له پخو خښتو جوړېږي او د تنور په څېر وي. په دې کې دننه یو سوری تعبیه شوی وي چې د حرارت د کنټرول لپاره وي، په بیخ کې یوه موری یا دریڅه هم لري، کولال له همدې لارې کورې ته ورننوځي او رنګ شوي لوښي په کې د پخېدو لپاره ږدي.

په سرامیکي صنعت کې د رنګ جوړولو جدول (کلالي او کاشي)

| د اړتیا وړ رنګ | د اشقار اندازه | د چقماق اندازه | د اوکسایډونو اندازه |
|---|---|---|---|
| ژېړ رنګ | اووه کیلو اشقار | یو نیم کیلو چقماق | د ګوهر سنګ ۶ سوه ګرامه اوکسایډ |
| تیز سور رنګ (جیګري) | اووه کیلو اشقار | یو نیم کیلو چقماق | ۶ ګرامه د مګنیزیم اکسایډ |
| سپین رنګ | اووه کیلو اشقار | یو نیم کیلو چقماق | د اړتیا وړ اتله |
| لاجوردي رنګ | اووه کیلو اشقار | یو کیلو چقماق | 50 ګرام اکساید لاجورد |
| شین رنګ | اووه کیلو اشقار | یو نیم کیلو چقماق | ۴۵۰ ګرامه د مسو اکسایډ او ۶ سوه ګرامه ګوهر سنګ |

## د کولالي لوښو جوړول:

خاوره له چاڼولو وروسته له اوبو سره ګډېږي او په ډبرین میز له کیمنډلو (سوک کولو یا په پښو لاسونو د ختې له وهلو) وروسته پخېږي او یوه اندازه خټه ترې د میخانیکي څرخ په مرسته تر کار لاندې نیول کېږي.
تر څرخ لاندې تختې د پښو په مرسته په حرکت راوړل کېږي او د لاس د ورغوي او ګوتو په مرسته ورته کولال د خپلې خوښې له مخې شکل او بڼه ورکوي.
کله چې لوښی خپله بڼه واخلي نو د لب ګیر او اسفنج په مرسته د لوښي خوله پاکېږي او بیا د نخ په مرسته بېلېږي او کار د میز پر مخ ایښودل کېږي تر څو وچ شي.
له وچېدو وروسته لوښی رنګېږي او کوټه کې ایښودل کېږي تر څو لوښی ښه سم وچ شي.
له وچېدو وروسته یې د ډیزاین او طرحې کار پیلېږي او پخېدو ته چمتو کېږي. ډیزاین شوي لوښي په کوره کې ایښودل کېږي او اور ورته بلېږي.
د سون د ځایي موادو لکه چینار، ولې یا ګازو د اور په مرسته لوښي له ۸۰۰ څخه تر ۱۲۰۰ سانتي ګراډ درجې حرارت کې ساتل کېږي تر څو هغه پاخه شي. د پورتني جدول له مخې یې د لوښي رنګ برابر او ګټې اخستنې ته چمتو کېږی.
په کولالي صنعت کې تنور جوړونه یوه مهمه برخه ده (ځینې کارګران په دې باور دي چې کولای شو تنور جوړونه د یو بېل صنعت په توګه تر مطالعې لاندې ونیسو. خو د دغه صنعت له څرنګوالي معلومېږي چې دا د سرامیک کولالي صنعت په لیست کې د څېړنې او مطالعې) وړ کسب دی.

## د تنور سازۍ صنعت

تنورونه، ډیر پخوا نه بلکې دا اوس هم د هیواد په ټولو کلیو او درو کې په ځانګړي ډول حتی کابل کې هم د خلکو لخوا (د د ښځو او نارینه و لخوا) د ډوډۍ پخولو لپاره کارېږي، دغه راز په ژمي کې ترې د کوټې د تودولو لپاره چې د تابه خانې په بڼه په خونو کې جوړ شوي وو، ګټه هم اخستل کېده.

په لویو ښارونو کې به د خلکو د اړتیا په اساس یو شمیر دوکانونه یا کوڅې د تنور سازۍ په نوم مشهورې وې. په کابل کې د تنور سازۍ کوڅه چې په شهر ارا سیمه کې پرته ده په وروستیو پیړیو کې د ټولو لپاره د خاص ارزښت وړ او د شهر ارا له برج سره له یوې خوا په ګاونډ کې وه له بلې خوا په نولسمه او شلمه پیړۍ کې د امان الله خان لخوا خادمانو ته د جوړې کړې کلا بلې ډډې ته پرته وه.

دلته یو لوی شمېر صنعتګران راټول شوي وو، دا کوڅه چې د شهرارا برج ته مخامخ تېره شوې وه د برکي تپې اخر سر ته ختمېده، چې د دې کوڅې یوه برخه د جراب اوبدونکو په نوم هم یادېده، دا هغه جاده وه چې کابل یې له خیرخانې سره تړلی و.

**د تنور جوړونې وسایل، او اړتیا وړ مواد**

**خاوره:** د تنور جوړونې لپاره اصلي ماده ده، د تنورونو لپاره ځانګړې خاوره سور ته مایل رنګ لري، خټه یې غوړه او سریښناکه وي او تر وچېدو وروسته له حرارت سره مقاومت هم کولی شي.

**واښه او بوس:** دا په طبعیي ډول کېږي او ځایي محصولات وي، چې له خاورې سره ګډېږي او د تنور د دیوال پیاوړتیا لپاره ګټه کوي.

**یوم یا بیلچه:** د خاورې د لمدولو په وخت کې کارېږي.

ایلک یا چاڼوونکی، په دې باندې د تنور جوړونې لپاره خاوره چڼېږي، تر څو یې کوچنۍ ډبرې له خاورې جلا شي او خاوره د تنور جوړولو لپاره چمتو شي.

**تراشک:** دا یوه لرګینه وسیله ده چې د جوړېدو په وخت کې تنور پرې پاک او صافېږي او د تنور خوله پرې برابرېږي.

**تیپک او کنیره:** دا دواړه لرګینې وسیلې دي چې د تنور د پاک کارۍ لپاره کارېږي.

**د تنور جوړولو پروسه**

هغه ځمکه چې خټه پرې باید جوړه شي، لومړی جارو کېږي تر څو د خټې جوړولو لپاره په بشپړ ډول چمتو شي، چې شوې خاوره چې له کوچنیو کاڼو او شګو پاکه شوې وي (ځکه دا د تنور

جوړولو کې تاوان کوي) په ځمکه اوارېږي، وابښه یا بوس او اوبه ورسره ګډېږي او بیا د پښو په مرسته اغږي تر څو خټه ښه پخه شي.

خټه د پخولو پر مهال څو ځل په لاسونو راټولېږي او څو څو ځله پرې ښېږي. د خټې له پخېدو وروسته د تنور د جوړولو عملي پړاو پيلېږي. دا پړاو د کولالانو په ځانګړې دعا پيلېږي چې لومړۍ په کې د خدای نوم اخلي او بیا د سید میر کولال اروا ښاده غواړي، تر څو تنور د جوړېدو پر وخت خراب نه شي. د تنور خټه له اندازې سره سم په اتو چمونو یا ګلولو، ۱۴ چمونو او یا له دې زیاتو باندې تقسیمېږي، د خټې هر چم لومړی په یوه تاري بوجۍ له څلورو تر اووه سانتي مترو اوارېږي، په همدې ترتیب هلته نوره خټه درول شوې وي، دا هم په هغې برابره ایښودل کېږي او ورسره نښلول کېږي، تر څو د تنور لومړۍ حلقه په ځمکه ودرېږي. په بل پړاو کې بیا اواره شوې خټه د همدې درول شوې خټې پر سر درول کېږي تر څو د تنور ارتفاع ورو ورو لوړه شي او بالاخره کیسه د تنور تر کوچنۍ خولې ورسېږي، داسې چې د تنور د بیخ دایره د سر له دایرې یا خولې غټه وي. بیا نو تنور د تپک او کنییرې په مرسته له دننه او دباندې څخه ورو ورو وهل کېږي تر څو تنور صاف او اوار راشي، بیا نو تنور د کار ځای یوې څنډې ته ایښودل کېږي تر څو وچ شي.



د ډبرې صنعت (ګرانبیه او نیمه ګرانبیه ډبرې)

افغانستان یو غرني هیواد دی چې د ګرانبیه او نیمه ګرانبیه ډبرینو منابعو په لرلو یې د دودیز اقتصاد د یوې لویې برخې وده په ډبرینو صنایعو ولاړه ده.
که څه هم د وروستیو کلونو کورنیو جګړو د نورو هغو په څېر د افغانستان د صنایعو دا برخه هم متاثره کړې او اوس صنعتګر نه شي کولای خپلو مسلکي فعالیتونو ته ادامه ورکړي او له دې لارې د هیواد کانونه له هیواده بهر پروسس کړي او زیاته ګټه ترې یوسي.
بدخشان، پنجشېر، نورستان، کونړ، جلال اباد، کابل، وردګ، هرات، کندهار او هلمند هغه ولایتونه دي چې د منرالونو او قیمتي یا نیمه قیمتي ډبرو بډایې زېرمې لري، په دغو زېرمو کې زمرد، یاقوت، لاجورد، شاه مقصودي کاڼی، کنزایډ، فلورایډ، نیلم، مرمر، رخام ډبرې، کوارتز، او لسګونه نورې ډبرې و طبیعي منرالونه هغه غرني مواد دي چې کولای شو په ډېره کمه پاملرنه او پانګونه ترې د کار په حساب زیاته ګټه ترلاسه کړو.
د کاڼو صنعت اکثره د کورونو په ښکلي کولو او د غمیو په بڼه ګټه ترې اخستل کېږي، چې د تاریخ په اوږدو کې د هیواد د ګټې وټې مهم عناصر ګڼل کېدل، څکه دا به په طبعیي یا هم تولیدي ډول پروسس کېدل او په کورنیو-بهرنیو مارکیټونو کې به پېر و پلور ته ایښودل کېدل.
د هرات، بدخشان، کونړ، نورستان او کابل صنعتګرانو د لویو سوداګریزو، تولیدي او د غمیو د پېرو پلور د مرکزونو په جوړولو د دې صنعت په وده او شهرت کې خورا رول لوبولی.
تعمیراتي ډبرې لکه مرمر، رخام، ګرانیټ او نور.... چې نیمه قیمتي ډبرې دي، اکثره د تولید په لویو دستګاګانو کې په بېلابېلو اندازو ایستل کېږي او بیا په تعمیراتو کې ګټه ترې اخستل کېږي، په داسې حال کې چې قیمتي ډبرې بیا په ورو کارځایونو کې د ډېرو هنرمنده کارګرانو په مرسته د کورونو د داخلي تزیین، کورونو او پارکونو د ښکلي کولو لپاره همدا راز د سینګاري ګاڼو په توګه په مختلفو ډولونو تولیدېږي.
د ډبرې د صنعت وسایل او اوزار

موټور یا ډاینامو، دا یوه برقي وسیله ده چې پیچدار سیم لري، پلتې او تاوېدونکی څرخک لري، دا څرخک په یو محور تاوېږي، چې د فولادي پلونو یا بلیډونو په مرسته یې ډبرې غوڅېږي تراشل کېږي او بڼه ورکول کېږي.

**د کار میز:** دا دوه متره اوږدوالی، یو متر پلنوالی او ۹۰ سانتی متره ارتفاع لري چې استاکار پرې د ډبرو د غوڅولو او پالش دستګاه لګوي، او قیمتي یا نیمه قیمتي ډبرې د ګوتمۍ، مجسمو او موزایکونو په ډول پرېکوي او ډیزاینوي.
**د کاڼو غوڅولو څرخونه:** له دې وسیلې نه څو کاره اخستل کېږي، یعني صنعتګر پرې له خپلې خوښې سره سم کاڼي غوڅوي او د یو څو تیغونو په وربدلولو ترې د غمیو یا کاڼو د پالش کار هم اخلي.
**کمپاس:** دا یوه وسیله ده چې تولید شوي غمي پرې اندازه کیږي تر څو یې د پرې شویو برخو زاویې یو شان راشي.
**کاني قلم:** دا وسیله له ۱۰ تر **۱۵** سانتي مترو پورې ارتفاع لري، غمی پرې ایښودل کېږي او بیا د غمي پرېکولو دستګاه خواته نږدې وړل کېږي.
سوري جوړوونکې دستګاه، دا برقي وسیله ده چې د غمیو په منځ کې سوري پرې کوي.
**د کاڼي تراشلو دودیزه دستګاه:** دا ډول دستګاوې د حکاکۍ د استادانو لخوا د طراحۍ لپاره همدا راز له نجارانو او تېارانو سره د کومک په خاطر رامنځته شوي، دا دستګاه یو ډول متحرک محور او څرخ لري چې په دوه لرګینو پایو ولاړه وي، په دې څرخ پورې به هر ډول پل لګول کېده، تر څو یې په مرسته حکاکان وکولی شي هم پرې کاڼي غوڅ کړي او هم یې پالش کړي، البته دا بلیډونه یا پلونه یې وارداتي دي.
دا ډول دستګاګانې د کمزوري اقتصاد لرونکو حکاکانو سره مرسته کوي تر څو په ډیره کمه پانګونه خپله کوچنۍ کارخانه وچلوي، خو دا دستګاوې یو مشکل لري او هغه دا چې سرعت یې ډېر کم دی.

## د کاڼي د صنعت مصرفي مواد

**شنه پوډر:** دا ماده د غمي د ښویه کولو او پالش پر مهال کارېږي چې کرومونیم او کسایډ هم ورته وایي.
بېلابېل قسمه ډبرې، د افغانستان طبیعي سرچینې دي چې د قیمتي ډبرو، نیمه قیمتي ډبرو او ساختماني ډبرو په بڼه ترلاسه کېدای شي.

## د کاڼي پر مخ ظریف هنرونه

د طبیعي مادې په توګه ډبرې د نرمۍ، پرې کېدو او پالش قابلیت لري، ځکه نو د کورونو د تزیین او ښکلي کولو په خاطر د لاسي صنایعو په برخه کې خاص اهمیت لري.
پر ډبرو ځانګړي کارونه کېږي او هر یو یې له خاصې ځانګړنې برخمن وي.
مرۍ جوړونه، دا ظریف هنر د ترکمني زرګرۍ په سبک کې کارول کېږي چې ګڼ ډول مرۍ جوړېږي لکه اته مخې، لس مخې، شپاړس مخې، اتلس مخې، شل مخه، استوانه یي، ګرده مرۍ او نور...
**موزایک جوړونه:** دا د ډبرې د هنر یو بل ډول دی، چې د ډبرو د مختلفو ډولونو د کوچنیو ټوټو په یو ځای کولو به یې نوی ډیزاین ترې جوړ اوه.
**غمي جوړونه:** د ډبرې په صنعت کې غمي جوړونه یوه مهمه څانګه ده او د زرګرۍ په ټولو برخو کې هغه که په هیواد دننه وي یا دباندې د ګټې اخستنې وړ هنر دی ځکه غمي په ګوتمیو، غوږوالۍ، غاړکۍ، کړې او لاسبندونه یا نور له غمیو پرته نیمګړي وي.
غمي هم بېلابېل ډولونه لري چې الماس ډوله، بیضوي، څلور کونجه، مستطیل او لسګونه نور ډولونه لري.
**مجسمه جوړونه:** په دې هنر کې د ډبرې پر مخ ګلان او پاڼې رسمېږي، د انسان مجسمې، څناور، الوتونکي ترې جوړېږي او د طبعیت انځورګري پرې کېږي، په دې برخه کې ځانګړي کاڼي او ډبرې پېژندل کېږي او بیا دا هنر پرې پلی کېږي.

**د ډبرې پر مخ حکاکي:** د ډبرې پر مخ حکاکۍ کې د ځانګړو اوزارو اووسایلو په مرسته د ډبرې پر مخ خطاطي، کندنکاري، انځورونه، د حیواناتو، الوتونکو او طبیعیت انځورونه کېندل راځي چې د هنرمندانو زیاته پاملرنه ورته ده په دې هنر کې خورا برجستګۍ او دقت ته ځای وي.

## د لرګي هنر

په افغانستان کې د لرګیو د تولید سرچینې زیاتې دي، ځکه نو یو لوی شمېر خلک یې د لرګي د صنعت په برخه کې له روزنې وروسته د تولید لړۍ ته ورداخلېږي تر څو د هېواد په خالص او ناخالص دودیز اقتصاد کې مهم رول ادا کړي په تیره بیا د کونړ ولایت کی د دغه ولایت هنرمن نجاران له لرګیو ډیر قیمتی وسایل جوړوی چی ټوله سیمه کې نوم او شهرت لري. .
د هېواد ختیځو، سویل ختیځو او شمالي ولایتونو ځنګلونه چې د ونو د مختلفو ډولونو لرونکي دي د لرګي د صنعت لپاره د اصلي خامو موادو سرچینه ګڼل کېږي.
میوه لرونکې یا شنډې ونې لکه د غوز ونه، توت، زردالو، ارچه ونه، چینار او نور د پنجرو، الماریو، د ژمي د صندلیو، د پخلنځي د لرګینو وسایلو او الماریو، چوکیو، میزونو او د کورونو د پټولو لپاره غوره خام مواد دي چې د هېواد په هره برخه کې شته.
د پورته ذکر شویو ونو لرګي د کلکوالي، نرمښت، مقاومت او غوړلرلو له پلوه د صنعتګرانو لخوا ویشل کېږي او بیا ترې ګټه اخستل کېږي.
د لرګیو صنعت په دوه برخو کې ښه چلېږي یو دا چې په ساختماني چارو کې او بل دا چې په فرنیچري او موبل شیانو کې، خو په دواړو برخو کې یې تزییني کارونه د لوړې هنري او ښکلا پېژندنې مایې لرونکو کاریګرو لخوا کېږي.
فرنیچري شیان هم اکثره د اخستونکو لخوا چې په کندنکارۍ ښکلي شوي وي خوښېږي او ساختماني هغه یې هم دغسې در واخلئ.
د موبل فرنیچرو جوړوونکي کاریګر د کړکیو، دروازو، میز او چوکیو، صندلیو، د پخلنځي او لباس الماریۍ او نورو توکو په جوړولو د خلکو اړتیاوې پوره کوي، خو د لرګي د صنعت کاریګران بیا د همدې میز او چوکیو، دروازو او پنجرو، د خونو مسطح ګانې، د چت ستنې، الماریۍ، د جومات ممبرونه او نور د کارېدنې وړ شیان د لرګي د صنعت په مرسته ښکلي کوي، تزیین ورکوي، کندکاري پرې کوي، ګلکاري پرې کوي او د هېواد په دودیز اقتصاد کې لویه برخه اخلي.

## د لرګي د صنعت مصرفي مواد

د لرګي د صنعت مصرفي مواد اکثره په هېواد دننه د کاريګرو په لاس کارول کېږي.

لرګي، دا د لرګي د صنعت لومړنۍ ماده ده چې په هېواد دننه ښه ډېره پيدا کېږي.

د ارچه يا څېړۍ لرګي چې ونې يې په کونړې غرونو، نورستان، پکتيا او خوست کې زياې راکېږي، د روښانه کريمي رنګ لرونکی لري او خاص غوړ هم لري.

دغه لرګي د اوړي د ګرمۍ او د ژمي د يخنۍ په مقابل کې خورا مقاومت لري، ځکه نو په کورونو کې زيات کارول کېږي.

پخوا وختونو کې به د کابل په بازارونو، جلال اباد ښار، نورستان او نورو ښارونو کې له همدې لرګي نه د کورونو په جوړولو کې زياته ګټه اخستل کېده.

ارچه لرګي په نورستان غوندې غرني ولايت کې زيات کېږي او د نورو ولايتونو په نسبت هلته زياته ګټه هم ترې اخستل کېږي، د غوزانو ونې بيا په پروان، بدخشان، تخار، کندوز او سمنګانو کې خورا زياتې دي، د غوزانو ونې چې کله وچې شي نو هله يې له لرګي کار اخستل کېږي، د غوز لرګی تېز رنګ لري، خو که ونه په ځوانۍ کې پرې کړای شي نو لرګی يې تک سپين وي.

د غوز لرګی زياتره د موبل او فرنيچري شيانو د جوړولو لپاره ښه لرګی دی، غوړ دی، کلک او مقاوم دی او دوه تېز تور چکی او راښه رنګونه لري.

د توت لرګی چې زياتره په سړه هوا لرونکو ولايتونو کې پيدا کېږي، رنګ يې ژېړ دی، کلک لرګی لري او اکثره د ميزونو، چوکيو او د ژمي صندليو جوړولو کې کارېږي، د سپېدار او چينار لرګی بيا د سپين رنګ لرونکی وزن يې کم او د مېوې د لېږد په کارتنونو يا کريټونو په جوړولو کې ترې ګټه اخستل کېږي.

**سرېښ:** سرېښ يا سريښت چې د وښو او کمانګرۍ سريښو ډولونه يې مهم دي، چې د لرګي د صنعت په برخه کې له پخوا راهيسې زيات کارېږي، په نجارۍ کې زياتره د لرګيو نښلونې عمل د همدې سريښو په مرسته ترسره کېږي.

**د پالش غوړي:** روغني پالش هغه مواد دي چې کله له لرګيو څخه يو شی جوړ کړای شي دا پرې وهل کېږي او ترڅو د زياتې مودې لپاره له بوسه توب، چينجيو او نورو تخريبوونکو عواملو خوندي وي.

دا غوړ به پخوا د استاکارانو لخوا له غوزانو ایستل کېدل، خو اوس په لویو فابریکو کې د پالش غوړ په ځانګړي ډول تولیدیږي.
**میخونه او پیچونه:** دا مواد پخوا له وسپنې او پولادو جوړېدل، خو اوس له لرګینو او پلاستیکي موادو هم جوړیږي.
**د ترس کاغذ:** ترس کاغذونه پخوا زموږ په هېواد کې نه کارېدل خو په اوسني عصر کې بیا د صنعتکارانو لخوا د لرګي پر مخ د اسانه، ښکلې طراحۍ او ډیزاین کوزولو لپاره کاریږي.
د تزیین هغه چارې چې د لرګي د کندنکارۍ لپاره په کې اړتیا وي، لومړی د ترس کاغذ پر مخ ترسیمیږي او بیا د لرګي پر مخ له ترس څخه ایستل کیږي تر څو طرحه اسانه تطبیق شي.
د کار مېز، دا د کار لپاره مهمو اوزارو کې راځي چې له ۱۰۰ ان ۱۱۰سانتي مترو پورې ارتفاع، ۲ متره اوږدوالی او ۱۲۰ سانتي پراخوالی لري.
پر دغه مېزو نجاري، کندنکاري، خاتمکاري او کړکیو جوړونې عمل ترسره کیږي. د مېز زیاتره وخت له ارچه یا د خار وارداتي لرګیو نه جوړیږي، د مېز پر غاړو ګیراګانې هم د نجارۍ د فعالیت لپاره نصب شوې وي.
**کچ:** دا د نجارۍ په تخنیکي وسایلو کې راځي چې د لرګینو شیانو د جوړولو پر مهال د کونجونو د برابرولو او اندازې لپاره کاریږي تر څو دوه لرګي په کونجونو کې سم سره یو ځای کړای شي، پخوا به کاریګرو له لرګي څخه جوړ شوي کچونه کارول خو اوس وخت کې فلزي کچونه هم راوارديږي او په بازار کې په اسانۍ پیدا کیږي.
**اره:** دوه برخې لري (د ارې خوله او لاستی) چې د لرګیو د غوڅولو چاره پرې ترسره کیږي، ارې د مختلفو کارونو ترسره کولو لپاره کاریږي او بېلا بېل ډولونه لري، د میده غاښو لرونکې اره د ظریفو او نازکو کارونو لپاره د لرګي پرې کولو دنده ترسره کوي، لکه کړکۍ (پنجره) او خاتم کارۍ کې.
د غټو غاښو لرونکې اره بیا د لرګیو د لویو ټوټو نیمولو او غوڅولو لپاره کاریږي، په دې وروستیو کې د تخنیکي وسایلو تولیدي شرکتونو برقي ارې هم جوړې کړې دي چې خورا تېز کار کوي او لرګی هم په ډېره اسانۍ غوڅوي.
**تېشۍ یا ترخځه:** دا هم دوه برخې لري (تېغ او لاستی) دا د لرګیو د وړو وړو ټوټو کولو لپاره کاریږي او له اړتیا سره سم د لرګي د اندازې برابرولو ګټه ترې اخستل کیږي.

**څټک:** څټک هم دوه برخې لري (لاستی او د سر غوټه) چې بېلا بېل ډولونه لري، فلزي څټک، ربړي څټک او لرګين څټک چې د ګڼو کارونو لپاره کارېږي.

**ګیرا:** یوه فلزي وسیله ده چې د لرګي د غټو ټوټو د کلکولو او محکم نیولو لپاره د میز په شاوخوا کې لګېدلي وي.

**پانه، یا سکنه:** دا دوه برخې (لاستی او تېره تېغ) لري، دا په لرګي کې د کونجونو د وسلولو لپاره سوري کوي، دا وسیله چې په نجارۍ کې زیاته کارېږي، د نورستاني سبک کندنکارۍ کې به هم ترې ګټه اخستل کېده، دا وسیله به پخوا د صنعتګرانو لخوا له اړتیا سره تولېدېده خو اوس د تخنیکي وسایلو د تولیدي شرکتونو لخوا جوړېږي او بازار ته وړاندې کېږي چې بېلابېل ډولونه، سایزونه او اندازې لري.

د پانې اندازه د میلی متر له مخې تعریفولی شو.

**چورسۍ:** دا وسیله د کابلي او هراتي سبکونو کندنکارۍ کې کارېږي، بېلابېل ډولونه او اندازې لري او د نجارۍ د کار په بېلابېلو برخو کې کارېږي.

دا به د صنعتګرانو او کندنکارانو لخوا تولېدېده، خو اوس یې تخنیکي شرکتونه په مختلفو اندازو او سایزونو جوړوي.

بلوري کاڼی، دا کاڼی د نجارۍ او کندنکارۍ د اوزارو لکه پانې، چورسۍ او ترخڅې د تېره کولو لپاره کارېږي، خو اوس د دغو وسایلو او اوزارو د تېره کولو لپاره برقي نور وسایل هم راوتلي دي.

**برمه:** دا د لرګیو د سوري کولو لپاره په کارېږي چې پخوا به دا برمې په مختلفو سایزونو او اندازو جوړېدې خو اوس د تخنیکي وسایلو د شرکتونو لخوا بازار ته وړاندې کېږي.

رنده: دا وسیله د لرګیو د ټولو د پاکولو لپاره کارېږي تر څو یې د لرګینو تولیداتو جوړېدو لپاره چمتو کړي.

د ترکاڼۍ په صنعت کې نښلونکي، پیوندونه یا جاینټونه

نښلونې، جاینټونه یا اتصالات د نجارۍ د صنعت اساسي برخه ده، چې له ګټې اخستنې څخه یې وسایل تولیدېږي، لاندې د نجارۍ په صنعت کې د څو دود شویو جاینټونو نمونه اخستل

شوي، چې هر یو یې په ځانګړي ډول د تجربه لرونکو اوستاکارانو لخوا د نجاري تولیداتو لپاره کارول کیږي.
**چول او وفاق:** دا وصلوونکي دي چې د چوکۍ، کړکۍ، دروازو، میز، پردو، مسطح، چپرکټونو او زینو کې کارول کیږي.
**ډوبل کول:** دا جاینټ په چوکیو او زینو کې کارول کیږي.
**کشتي بند، ښی کشتي بند، زاویه لرونکي کشتي بندونه، نیم وده او مداني ګونیا بورش:** هغه نښلونې دي چې په دروازو، میزونو، کړکیو او زینو کې ترسره کیږي.
**کچالک:** دا جاینټونه په دروازو، کړکیو، میزونو، درپردو، قیچي پوښ، مسطح، چپرکټونو او زینو کې کارول کیږي.
**جري او نري:** دا جاینټ هم په الماریو، درپردو، قیچي پوښو مسطح او چپرکټ کې کارول کیږي.

**نیم وده، منځنۍ نیم وده، نیم وده ګونیا دار**، دا جاینټونه بیا په الماریو او چپرکټونو کې کارول کیږي.
**جوړه کول:** دا په الماریو، دروازو، کړکیو، میزونو، قیچي پوښ، مسطح، چپرکټونو او زینه کې کارول کیږي.
**چپراس:** دا په الماریو کې کارول کیږي.
رنده کول، دا هم په الماریو کې کارول کیږي.
**د پانې په مرسته کشمیري نښلول:** دا جاینټ په اوږده لرګي کې ((کله چې دوه لرګي یو ځای کیږي په منځ کې سره نښلول کیږي.)) په غاړو، کوجونو، صندوقو او بکسونو کې کارول کیږي چې د وصل ځایونو کې یې جاینټ ښکاره نه شي، په ځانګړي ډول کړکیو کې چې دوه لرګي یې پنډوالی کم او نازکه وي او جاینټ د چول او وفاق قابلیت هم ونه لري؟

## د لرګي د مخ ظریف هنرونه

**نورستاني کندنکاري:** نورستان د هېواد په ختیځو ولایتونو کې راځي، چې د لرګي صنعت د سرچینو له پلوه ځانګړې شهرت لري.

د دې ځای لرګي نه یوازې په تعمیراتو کې بلکې د کوټې د ستنو، قبرونو د ښکلې کندنکارۍ لپاره پکارېږي.
نورستاني کندنکاري په تېرو سلو کلونو کې د محتوا او ښکلاییز اړخه په یو دم له سترو بدلونونو سره مخ شوه ځکه دلته پخوا د نورستان د پخوانیو ادیانو د وختونو هنر دود و خو له تېرې یوې پېړۍ راهیسې په کې اسلامي هنر وده کړې ده.
نورستاني کندنکاري اوس زیاتره په هندسي بڼو وي، چې اسلامي مبنا لري او هره ټوټه یې د خاصو مفاهیمو لېږدوونکې ده چې د نورستان له فرهنګه اخستل شوي دي.
د نورستان زیاتره ډیزاینونه دلته د اسلام له رسېدو وړاندې د بودیزم او اریایانو په طرز وو، ځکه دلته دا شیان له ډېر پخوا نه په ځایي خلکو کې دود وو، خو له نولسمې پېړۍ وروسته چې نورستان ته د اسلام دین ورغی هرڅه د اسلامي هنر تر تاثیر لاندې په کې راغلل.
د کارغه پنجه، ریسمان تاب، ستوري، نورستاني ګل او پاڼې، نورستاني سمبولونه، هندسي او دایروي شکلونه، مثلثي رسمونه، مستطیلي، مربعي، مکعبي او درې بعدي طراحۍ د نورستاني کندنکارۍ مهم هغه دي، چې په مشخص ډول د چایو پر میز، چوکیو، د کوټې ستنو، د خوب پر تخت، د فرشي او دیوالي الماریو او د کوټې د دروازو په مختلفو برخو کې کارول کېږي.
**کلاسیکه کابلي کندنکاري:** له دې کبله چې کابل د هېواد د سویل ختیځ او ختیځ د لرګیو سرچینو ته خورا نږدې و، نو هنرمندان او استاکاران یې اړ کړل چې لرګی د ساختماني چارو لپاره د یو مهم عنصر په توګه وکاروي او د کورونو د تزیین د چارې د لرګي په هنر پورې وتړي.
ګلونه او پاڼې، اسلمي خطونه، اسلامي کتیبې، کمانونه او ستنې د کابل د کلاسیکې کندنکارۍ ځانګړنې وې، چې په متقارن ډول به د ساختمان پر مخ له دغې هنره استفاده کېده.
د اوسېدنو د کورونو، درې پټه کړکۍ او د جوماتونو منبرونه چې وړه وړه شیشه هم په کې کارېدلي وي د کلاسیکې کندنکارۍ اصلي ځانګړنې وي، چې په پخواني کابل او ختیځه سیمه کې یې کاریدنه عامه وه.
**پنجرې:** دا د کونړ د ظریفو هنرونو یوه خاصه برخه وه، چې په جوماتونو، زیارتونو او مذهبي آبدو کې به د ښکلا او تزیین لپاره ګټه ترې پورته کېږي، د پنجرو د جوړولو لپاره د غوز او څېړۍ یا ارچه لرګي کارول کېږي.

پنجرې چې تزييني اثار هم دي په مختلفو سايزونو او اندازو کله کله له نورستاني او کلاسيکې کندنکارۍ له سبک په اختلاط جوړېږي، درپردې، درشلونه، د زيارتونو شاوخوا جنګلې او د چاى د خوړولو هندسي څلور کونجه او مستطيلي بڼې هغه شيان دي چې په جوړښت کې يې پنجره په کارېږي.

**خاتم کاري**: د خاتم کارۍ هنر ډېر پخواني او د تيموريانو په متمدنې تاريخي دوره پورې تړاو لري چې په پخواني هرات کې رامنځته او د وخت په تېرېدو ورته د لوى کابل حوزې هم غېږه پرانيسته.

خاتم کاري چې په مختلفو هندسي طرحو عملي کېږي، د لرګي څو رنګونه ورته په کار وي، د توت ژېړ لرګى او زرک، د ارچې او تند سور رنګه لرګى هغه ډولونه دي چې په دې هنر کې ترې استفاده کېږي.

د خاتم کارۍ ډيزاينونه اکثره وخت درې، څلور، شپږ، اته او ۱۲ ضلعي وي چې د چفتيو په لرلو په مختلفو رنګونو مخکې له مخکې چمتو شوي وي، توليدېږي.

همدا راز مستطيلي، څلورضلعي جالۍ، د چايو ميزونه او د شطرنج تختې هغه شيان دي چې د خاتمکارۍ هنر په کې کارول کېږي.

## د لرګينو اثارو جوړونه

کونړ د افغانستان هغه لرغونى ولايت دى چې غيرتي او خواريکښ خلک يې د کار او زيار ګالنني په برخه کې نوم لري. دوى د مالدراى او کر-کيلى تر څنګ يو شمير محلى شوى صنايع هم لرى، لکه، سنۍ او ټغر اوبدل، کولالى، لمڅي جوړول، پکول او واسکټ جوړول، ترکاڼي او نور، خو تر ټولو مهم محلى شوى صنعت او کاربارىى ترکاڼي او دلرګيو هنرمندانه کاروبارونه دى. په کونړ کى پاخه او تجربه لرونکى ترکاڼ ته وستاکار وايى. اوستاکاران يا صنعګران د فرمايش له اخستلو يا د وړ ډيزاين له بشپړولو وروسته د توليد عملي کار پيلوي. د توليد په مرحله کې کله کله اړتيا پېښېږي چې مخکې له مخکې په چمتو شوي ډيزاين کې بدلون هم راشي او دا د يو شي د جوړولو وخت هم اوږدوي.

يو نجار د توليد په پروسه کې درې پړاوونه وهي لومړى پړاو ډيزاين، دوهم يې جوړونه او دريم يې د توليد کړي اثر پاکول او صافول.

د ډیزاین پر مهال یو اوستاکار ته پکار ده چې خپل فکر په کاغذ ترسیم کړي او له ترس کاغذ نه یې د لرګي پر مخ ښکته کړي. په دې مرحله کې هغه څه چې استثنایي اهمیت لري د تولیدوونکي اثر په اړه محاسبه ده، چې په دې برخه کې مصرفي مواد، د ماشین الاتو او اوزارو استهلاک، د لرګي انتخاب او د اثر د تولید لپاره ټاکلې موده تر حساب لاندې نیول کېږي تر څو په اقتصادي برخه کې کوم مشکل رامنځته نه شي.
په دې مرحله کې د لرګي پر مخ د ډیزاین انتقال، د لرګي پر مخ یې اندازه اخستنه، له اړتیا سره سم د لرګیو ټوټه کول، ګیرا کول، د پیوندونو یا جاینټونو ډیزاین هم شامل دي.
د اثر د جوړولو په پړاو کې لومړني عملي فعالیتونو ته اړتیا وي چې په پوره کولو سره یې اثر د جوړېدو وړ ګرځي، د پیوندونو یا جاینټونو چمتو کول، د جاینټونو سرېښ کول، دوهم ځل ګیرا اخستل، چوکاټ بندي کول او د اثر د فرعي پرخو جوړونه په دې مرحله کې شامله ده.
د صفایي او پاکولو په پړاو کې اوستاکار په خپله اثر ارزوي، په دې مرحله کې جاینټونو ته بیا کتنه، د لرګي پر مخ د ډیزاین د تطبیق ارزونه، د جاینټونو، کندنکارۍ، ریګمال او پالش د ظرافت ارزونه د دې مرحلې برخه ده.

## په افغانستان کې د زرګرۍ صنعت

د زرګرۍ صنعت په افغانستان کې ډېره اوږده تاریخچه لري چې په مختلفو تاریخي دورو کې دا هنر د بېلابېلو هنري سبکونو تر اثر لاندې ژوندی پاتې شوی او د افغانستان په جغرافیوي چاپېریال کې د واک د مختلفو تاریخي دورو لخوا یې ځانګړی هویت ترلاسه کړی چې دا هره دوره یې بیا ځانګړې شرحې ته اړتیا لري.
د افغانستان د زرګرۍ شپږګوني سبکونه لکه ترکمني زرګري، سلجوقي، کوچیاني، هزارګي زرګري، غزنیچي، هراتي او کابلي سبک هغه ډولونه دي چې د سیمه ییز، قومي او ملیتي فرهنګ له کبله یې وده کړې او د افغانستان مهم سبکونه هم شمېرل کېږي په بېلا بېلو وختونو کې رامنځته شوي سبکونه دي.

ترکمني او سلجوقي زرګري: د دې سبک له مخې جوړو شویو ګاڼو به ځانګړی ډیزاین درلود چې زیاتره برخو کې یې له باختریانو او ترکمنستانه الهام اخیست چې دا هم بیا په خپلو کې هم

په څو سبکونو ویشل شوې زرګري وه، لکه ترکمني، یموتي، سلجوقي او سارق سبک... دا د ترکمنو په قومونو پورې تړلي هغه وو.
د ترکمني ګاڼو په سکښت کې اکثره نري تاو لرونکي سیمان، ټاپه دارې ټوټې، نقش شوې او ډیزاین شوې پرچې همدا راز زرکوب نه هم استفاده کېږي.
د ترکمني ګاڼو د جوړولو اوزار ډېر ځانګړي او د سیمه ییزو زرګرانو په لاس جوړ وي او په ګاڼو جوړولو کې له نقرې زیاته استفاده کوي، ویلی شو چې یوه ترکمنه ناوې له پنځو نیولې تر شپږو کېلو ګرامو پورې ګاڼې کاروي.
ګوتی، د سرتاج، شانه بند، مټ بند، کمربند، بغل بند، شرشره، بلچه لاکټ یا غاړکۍ ترکمني مهمې ګاڼې دي دغه راز ترکمن وګړي په کالیو کې هم ګاڼې کاروي.
**کوچیانۍ زرګري:** دپښتنو کوچیانو زرګري هم ځانګړی سبک او ځانګړي ډیزاینونه لري، دا خلک رنګه غمي او درنې ګاڼې زیاتې کاروي، د کوچیانو د ګاڼو سبک له شاهي او هندي مغلي ګاڼو له سبکه په الهام اخستل شوی چې د پښتنو د فرهنګي پیاوړتیا او قوت ښکارونديي کوي.
د افغانستان پښتانه په ګاڼو کې له سپینو زرو، سرو زرو، ګلیټو، زمردي شیشه یي غمیو، یاقوتو، فیروزې، ګنکارۍ او مینا کارۍ نه زیاته ګټه پورته کوي.
د پښتنو ګاڼې ګوتۍ، چارګل، ټیکه، لمن دار، چمکلۍ، کړې، پازیبونه، بازو بند، پیزوان، غاړبند، غوږوالۍ، چوکړې او نورې ګاڼې زیاتې مشهورې دي.

**هزاره ګۍ زرګري:** په هزارګي زرګرۍ کې ډېر باریک ډیزاینونه کارېږي چې اوزایه ګاڼې، د تعویذ پوښونه او ټاپه کاري یې په ډیزاینونو کې شمېرل کېږي.
د زرګرۍ په دې سبک کې کندنکاري، ګڼ کاري او صوات کاري خورا دود ده او د دې سبک اساس پرې ولاړ دی. په سبک جوړېدونکو ګاڼو کې له سپینو زرو، ګلیټو، رودګل، کله کله له سرو زرو، همدا راز له عقیقو او فیروزې څخه ګټه اخستل کېږي.
په هزارګي ګاڼو کې ګوتۍ، دروازه دارې غوږوالۍ، غوزه یي، د تعویذونو پوښونه، بازوبند، قلف لرونکې کړې، سکه دارې غاړکۍ، ټاپه دارې او سکه لرونکې خولۍ د یادونې وړ ګاڼې دي.

**هراتۍ زرګري:** د هرات ملیله کاري شوې ګاڼې ډېرې ښایسته او ظریفې دي، چې له رواله یې تاب لرونکو سیمونو او د سرو زرو له سکو ډیزاین جوړېږي.
د زرګرۍ دا سبک او د کار شیوه د زرګرۍ له نورو سبکونو په ځانګړي ډول د غزني له سبک سره خاص توپیر لري او د لیم په مرسته موم کاري او ډیزاینېږي.
اکثره د ملیله کارۍ پر مهال له اتلس قیراطه سرو زرو کار اخستل کېږي او د یاقوتو، زمردو، پیروجو یا نور مهم کاڼي یې په ښکلا کې کارېږي چې دا بیا د رواله و ملیله کارۍ په نوم د هرات د ظریف سبک په نوم شهرت لري.
د ملیله کارۍ ګاڼې لکه سکه دارې غاړکۍ، کندمکي ګوتۍ، سکه دارې ملیله غوږوالۍ، کړې، لاس بند، پازیب، غاړبند، مریمي ګوتۍ، چسپک او نورې یې د یادونې وړ دي.

**غزنیچۍ زرګري:** د کلاسیکو ګاڼو د جوړولو هنر په نړۍ کې د علاقې، شوق او نوښتونو له مخې ترسره کېږي او تل په لاس جوړو شویو ګاڼو خلاقیت څرګند وي، همدا راز زرګران هر وخت په دې هڅه کې وي چې جوړ کړي زرګري اثار یې له نورو ښه او بدل وی، تر څو یې د خلکو غوښتنو ته سم ځواب ویلی وي.
د زرګرۍ دا ډول په اکثره برخو کې د کوشانیانو له سبک نه متاثره ښه ده.
په غزنیچي سبک جوړو شویو ګاڼو کې اکثره د ښارویو رسمونه، ټاپه کارۍ او د طبعیت نور رسمونه لیدل شوي، همدا راز په غزنیچي زرګرۍ کې ویلی شو چې سره زر، سپین زر او د رودګل ترکیبي فلز او قیمتي کاڼي کارېږي.
**کابلۍ زرګري:** موډرن او عصري ګاڼې د وخت او خلکو د اړتیا له مخې چمتو او ډیزاینېږي.
په دې برخه کې زرګر تل هڅه کوي څو داسې ښکلا ییز شیان جوړ کړي چې د اخستونکو پام ښه ور واوړي.
د دې تر څنګ چې ځینې موډرنې ګاڼې په لاسي ډول جوړېږي ځینې وخت یې د جوړولو لپاره له ماشینونو هم استفاده کېږي او ځینې قیمتي کاڼي یا فلزات لکه سره زر، سپین زر، پلاټین، یاقوت، زمرد، الماس او نور په کابلي موډرن سبک کې چې د هیواد د سیمه ییزو سبکونو یو ګډ ترکیب دی، کارول کېږي.

د کابل په موډرن سبک زرګرۍ کې زینتي غمي هم کارول کېږي، د موډرنو ګاڼو یوه ځانګړنه دا ده چې په خورا ظرافت او شفافیت د ګوتۍ، غاړکیو، غوږوالیو، چسپکونو، پنسینه، د نکټایي پنونه، لاس بند، زنځیرک او نور مهم زرګري اثار تولیدوي او ځلا وربخښي.
د زرګرۍ په صنعت کې هغه څه چې ډیر اهمیت لري، په تولیدي شیانو کې له مهارتونو او ډیزاینونو نه په ګټه اخستنې ورته والی او توپیرونو ته پام دی چې په پورته سبکونو کې ذکر شوي دي.
په ترکمني سبک جوړه ګوتۍ، په غزنیچي ملیله سبک جوړه ګوتۍ، د هراتي سبک ګوتۍ، په کوچیاني سبک جوړه ګوتۍ، د هزاره ګي سبک ګوتۍ او په کابلي سبک جوړه ګوتۍ د ډیزاین له مخې له ورایه پېژندل کېږي او معلومېږي.

## د زرګرۍ مواد

**سره زر:** سره زر داسې یو فلز دی چې په هېواد کې په موډرنه اونوې زرګرۍ کې خورا زیات کارول کېږي او خښتې یې افغانستان ته راواردېږي.
سرو زرو ته په بازار کې طلاپاسه هم وايي او ګرام، توله، مثقال پېرو پلور لري. یوه توله ۱۲ اعشاریه ۱۵ ګرامه کېږي او هر مثقال څلور نیم ګرامه خیژي. لکه څنګه چې سره زر یو نرم فلز دی په زرګرۍ کې له میسو سره ګډ کارول کېږي خو د دې ترکیب عیارول بیا درجې لري. د زرګرۍ په اوسني وخت کې د عیار لوړه درجه ۲۴ ده او ټیټه یې څوارلس.

**نقره یا سپین زر:** سپین زر دوهم درجه قیمتي فلز دی چې په زرګرۍ کې کارېږي.
سپین زر د زرګرۍ په تاریخ کې تر ټولو زیاته کارول شوي او دا خبره د لرغونې پوهنې په برخه کې کیندنو هم ثابته کړې ده. سپین زر د هیواد په تاریخ کې د واکمنو لخوا د سکې په ډول هم کارېدلي چې نمونې یې له اسلام د مخه او له اسلام وروسته اکثره مواردو کې لیدل شوي او د کابل موزیم یې هم یو شمېر نمونې خوندي ساتلې دي.

**برونز:** دا فلز په ډیرو پخوانیو وختونو کې زرګرانو زیات کارولی، خو کله چې زرګرۍ زیاته وده وکړه نو د برونزو کارونه هم کمه شوه او اوس زیاتره په ترکیبونو کې کارول کېږي.
**مس:** دا هم په ترکیبونو او د سرو زرو په عیارۍ کې، د توکو په تزیین او ګاو کې کارول کېږي.
**جست:** جست هم د زرګرۍ یو اړین فلز دی چې د لیم کارۍ په برخه کې زیات کارول کېږي.

**کدیم:** دا فلز هم د لیم کارۍ په ترکیبونو کې کارول کېږي او په عمومي ډول له بهرنیو بازارونو زموږ هیواد ته راوارد یږي.
د لیم کارۍ مواد (سپین زر، جست او کیدیم) ، لیم کاري د زرګرۍ په ټولو برخو کې د سپینو زرو، جستو او کیدیمو د ګډ ترکیب په مرسته ترسره کېږي او په زرګرۍ کې یې کارېدنه تر تولو زیاته ده.
**کاڼي یا منرالونه (د کاڼو او منرالونو ټول ډولونه چې د هیواد په کانونو او ټولو هیوادونو کې پیدا کېږي.)**، کاڼي هم د زرګرۍ په صنعت کې د یوې برخې په توګه شامل دي او له ډیر پخوا راهیسې زرګران د ګاڼو په تولید کې له قیمتي کاڼو ګټه اخلي.

## د تولید اوزار او وسایل

د زرګرۍ اوزار او وسایل په تېرو څو لسیزو کې په هیواد دننه تولید او کارېدل خو اوس د زرګرۍ وسایل لکه کمپاس، د اور کوره، دم هوا، حلاجۍ دستګاه، سوان، ګاز، شبکه، انبور، **څټک**، سندان، ساه پایه، **ستېل** او ګیرا ورته له بهرنیو بازارونو راوارد یږي او زرګران خپلې اړتیاوې پرې پوره کوي

## د تولید طریقه

**غالۍ اوبدنه یا ټغر اوبدنه**:

غالۍ هم د افغانستان په مهمو لاسي صنایعو کې راځي چې په نړیوالو بازارونو کې ځانګړی نوم لري. په افغانستان کې دود مصرفي مواد، دودیز ډیزاینونه، د تولید دودیزه طریقه یې

هغه ځانګړنې دي چې افغاني غالۍ پرې پېژندل کېږي او په نړيوالو بازارونو کې خورا زيات اخستونکي لري.
په شمالي ولايتونو او هيواد په لويديځ کې خلک له دې صنعت سره خاصه مينه لري. غالۍ چې د افغانستان د ازبکانو په زياتره سيمو کې توليدېږي، د ښځو يوه لويه فيصدي يې د توليد په چاره کې ورګډه کړې ځکه يې نو د ښځو د ښکلا پېژندنې د لوړ حس، ښکلي فکر او مهارتونو په مرسته په ظرافت او د هيواد د اقتصاد په پياوړتيا کې مهم رول په برخه دی.
غالۍ اوبدونکي د غاليو لپاره د پشم، وريښمو توليد او د هغې رنګولو ته، د تار توليد، د توليد وسايلو، د توليد کارګاه ته اړتيا لري، چې دا ټول شيان اکثره په کليو اولس کې د ځايي صنعتګرانو لخوا ورته چمتو کېږي.
پشمي تار چې د غاليو د اوبدنې مهم مصرفي توک دی د ښځو لخوا د ګوټونو په بڼه توليدېږي او بيا له اړتيا سره سم رنګ ورکول کېږي.
په غاليو کې د تار زياته کارېدنه د دې سبب شوې چې تار جوړونه يې پخپله په يو پراخ صنعت بدله کړې او د کليو يو زيات شمېر کورنۍ يې د تار د توليد او پلور په صنعت سره ورګډې کړې دي.
په دې برخه کې باميان د ټغر او ليمڅيو توليد يو لوی مرکزی دی، دا ځای لکه څنګه چې سره هوا لري د ليمڅيو او ټغر د توليد له کبله له ډېر پخوا راهيسې نوم لري او اوس غالۍ، ټغر اوبدنه او ليمڅي د دې ځای د کليوالي فرهنګ استازيتوب کوي.





*د غالۍ اوبدنې کارګاه          د سنۍ کولو دستګاه او بڼه*

## ټغر اوبدنه

د غالۍ اوبدنې د صنعت یوه برخه هم د ټغر اوبدنې صنعت جوړوي چې دا اکثره وختونه د کف پوشۍ او د څارویو لپاره د سرانداز په توګه تولیدېږي.
ټغر اکثره له وریښمو، د وزې او پسه له وړیو او ځینې وخت د ټولو کورنیو څارویو له وړۍ جوړېږي. افغاني ترکستان (شمالي ولایتونه) د زیاتو او ښېرازه ورشو ګانو د لرلو له کبله د مالدارۍ او رمو د څرولو چاره ښه دود کړې وه، چې دا بیا د پشم د تولید له پلوه د ګلیم اوبدنې او غالۍ اوبدنې لپاره یوه ښه تولیدي سرچینه وه.
په ګلیمونو کې به ډېر دودیز رنګونه کارېدل چې ډولونه یې د ګیاوو له هغو وو، یعنې، چای، د پیازو او غوزانو پوستکي به د ګلیمونو په رنګولو کې زیات کارېدل. په هیواد کې د

ګلیمونو مهم ډولونه دا دي، قاغمه، عسکري، میمنه يي، هزاره ګي، سرپلي، ملکي، غلبري او لسګونه نور ډولونه.



*صنعتګرې مېرمنې*

## د لیمڅي صنعت



لیمڅي جوړول ، غالۍ اوبدنه، او ټغر اوبدنه د مرکزي سیمو او د هیواد د شمال مهم صنعتونه دي چې د هیواد د اقتصاد یوه د پام وړ برخه جوړوي. تر کورنیو جګړو(څلور لسیزې موده) وړاندې د څارویو د وړیو لیمڅي د هزاره جاتو او د شمالي ولایتونو د ازبکانو ترکمنو د سیمو مهم لاسي صنایع وو، خو اوس د دغه صنعت د رکود د علت په اړه ویلی شو چې هلته مالدارۍ کمه شوې او همدا رنګه له نورو هیوادونو نه افغانستان ته د فرشونو وارداتو دا صنعت مخ په ځوړ کړی دی.

لیمڅي اوبدنه په افغانستان کې خورا زیاته هنري او تاریخي سابقه لري، له دې کبله چې د لیمڅیو کارونه ډېره کمه ده د ښار خلک یې اوس په اړه خاص معلومات نه لري، ځکه نو د لیمڅي جوړولو پر ځای د لمڅي بافۍ نوم ورکوي.
له دې پلوه چې لیمڅي یو ډول سیمه ییز محصولات دي نو د کارونې زیاتره موارد یې د ښارونو په نسبت په سیمه کې کولی شو پیدا کړو ان تر ښارونو پورې.
لیمڅي په ښار کې د سالونونو او کوټو د فیشن لپاره کارېږي.

**خام مواد**

په دې صنعت کې د پسه وړۍ، د اوښ وړۍ او د وزې وژغني د خامو موادو برخه تشکیلوي.
**بوریایي زیر اندازونه:** نی، نخي پارچې او د ندافۍ تیر کمان د لیمڅي مالۍ په صنعت کې د استفادې وړ دي.

**د لېمڅي د جوړولو طریقه**

په لومړي سر کې لوخې، نل، او نخي پارچې د ځمکې پر مخ په مستطیل، مربع او یا هم دایروي ډول تیتوو او بیا زیاته اندازه وړۍ ورباندې اوروي او د لاس په ورغوي باندې دغه اوارې شوې وړۍ چې ۱۵ یا ۲۰ سانتي متره مربع لوړوالی لري، کښېښوي؛ تر څو وړۍ له یو بل سره ونښلي او د لوخو په مخ کښېني.
په دې وخت کې وړۍ له یوې لوري( معمولا د مستطیل له لنډې او یا له دایروي ضلعې) را تاووي او د تاوولو په وخت کې ورباندې چوش اوبه اچوي تر څو وړۍ له یو بل سره ښې ونښلي او اوږدې شي، وروسته یې په ځمکه یا میز باندې ږدي او دوه کسان تاو شوې وړۍ د پړي په واسطه دواړو خوا وته کشوي، تر څو وړۍ ښې اوارې شي.
تاو(مروړل) شوې وړۍ بیا پرانیزي او د ځمکې پر مخ یې اچوي او د لېچو او څنګلې په واسطه وړۍ مښي تر څو پر یو بل ښې ونښلي. دا ډېر ګران کار دی او د هیواد د شمال په کلیو کې خلک له دغه کار د ښځو د لاس د فلج کېدو خاطرې په یاد لري. د هیواد په مرکزي سیمو کې د شمالي سیمو د لېمڅي جوړولو د طریقې تر څنګ، په خپله ځانګړې طریقه یې هم تولیدوي. په دې طریقه کې وروسته له دې چې وړۍ د لوخو او نل پر سر اوارې او تیت شوې، ښځې او ماشومان ورباندې تر هغه وخته ګرځي، څو وړۍ په کامل ډول له یو بل سره ونښتې او

او ارې شوې نه وي. وروسته يې د لاس د ساق او آرنج په واسطه مبني او کښېنوي، تر څو وړی له يو بل سره غوټه وخوري.
د ليمڅي د مخ طراحي داسې ده چې لومړی د صنعت کار طرحه د وړيو د مروړل شويو ټوټو په واسطه د ليمڅي په مخ جوړې او وروسته د (ګل، پاڼې، حيوان، غره او ونې...) طرحو منځونه د رنګينو وړيو په واسطه چې مخکې له مخکې د ليمڅي جوړوونکي له خوا اماده شوي وي ډکيږي او وروسته د طرحو پر مخ په مساوي ډول اواروي، بيا يې د مښلو بهير پيليږي.
د ليمڅي جوړولو په اوږده تاريخ کې يو کار چې تر اوسه هم ورته توجه نه ده شوې، هغه د وړيو د بوی له منځه وړل دي، ياد بوی خلک ځوروي. د هيواد په شمالي او مرکزي سيمو کې پسونه سم نه مينځل کيږي، بلکې پسه يو يا دوه ځله د سيند په اوبو کې غوټه کړي او بيا يې وړی ترې پرې کړې، دغه کار ددې لامل شوی چې ليمڅي تر توليد وروسته د پسه بوی وکړي.

## ټټاري يا حلبي سازي

حلبي سازي يا ټټاري هم د هيواد له لاسي صنايعو څخه دي، ډېره اوږده مخينه نه لري، خو صنعتګران ترېنه بخارۍ، د اوړو او وريجو کندوان، سطل، بيلابيل ډول لګنونه، د کورونو پوښل، اودانونه، بکسونه او نور شيان جوړوي او خپل توليد د خلکو غوښتنو ته په کتو سره عياروي.

**د ټټارۍ د کار وسايل:**

د دغه صنعت د کار اساسي توکي، بياتي، دايره ايستونکی، د پرې کولو قلم، د لرګي، ربړ او اوسپنې سوټکونه، خرک، د څرخ ماشين او لارن دي.

**د توليد طريقه:**

صنعت کار د ورکړل شوي فرمايش په نظر کې نيولو سره د اړتيا وړ اندازې د آهن چادر ټوټې د دايره ايستونکي، خط کش او د خط کشۍ د ميخ په واسطه ټاکي او په بياتي (د حلبي سازۍ بياتي لاستي اوږده او د کمان په ډول دي او په وروستۍ برخه کې حلقه شوي وي او لنډه خوله لري.) پرې کوي او د وصله (دبل او پيچ) په واسطه يادې ټوټې له يو بل سره نښلول کيږي او د ربړي او پولادي سوټک په واسطه لوښي توليديږي. ځينې برخې يې پرچې کيږي هم، چې د

میخ په واسطه له پوښ سره وصل کیږي. د ساختماني حلبي سازۍ په صنعت کې وسپنیزې پاڼې یا قطعې له یو بل سره نښلول کیږي چې په سړو او باراني سیمو کې د کورونو محافظت وکړي.

**پښګري یا اهنګري :**

پښګري هم د افغانستان د لاسي صنایعو له ډلې څخه ده چې اوږد تاریخ لري دا صنعت د هیواد په هرات، تاشقرغان، کابل، کندهار او نورو سیمو کې شته، د دغه صنعت تولیدوونکي د کرنیزو وسایلو تر څنګ د کور تزیني شیان هم تولیدوي. دا د هیواد له سختو لاسي صنایعو څخه شمیرل کیږي او د خلکو اړتیاوې پوره کوي. د پښګرۍ د صنعت له لارې یوم، تبر، تېشه، قلم، میخ تبېله، د لرګینو دروازو لپاره غټ مېخونه او نور تولیدیږي. ددغې برخې صنعت کاران خپل لاسي تولیدات په عمده او پرچون ډول پلوري او په انفرادي ډول هم د مشتریانو فرمایشتونه مني.



**د آهنګرۍ صنعت د اړتیا وړ وسایل:**

**څټک :** چې د هغه په واسطه وسپنه اوبه او لوښی ترې جوړوي.

**سنګدان:** هغه وسیله چې سره او په اوبو شوې وسپنه ورباندې ایښودل کیږي او په سوټک وهل کیږي.

**وسپنیز قلم:** دا هغه وسیله ده چې ورباندې سره او په اوبو شوې وسپنه سورۍ او پرې کیږي او سوټک، تېشه، تبر او مارتول ترې جوړیږي.

**د اور نغری:** دا وسله د صنعتکارانو له خوا په سنتي ډول له ښتې او خټې څخه جوړه شوې او اور په کې بلیږي او اوبه خوړلې وسپنه په کې ایښودل کیږي. د هوا پمپ، دا وسله پخوا د مشک په واسطه جوړه شوې وه، چې په واسطه یې د کورې په منځ کې ذغالو ته هوا ورکول کیده، تر څو ذغال تازه او وسپنه سره کړي.

**مهره:** مربع شکله او دایروي وسپنیزه وسیله ده چې له پنځو تر لس سانتي مترو پورې پیړوالی لري او په بیلابیلو کچو سوري لري، چې د تېشې، تبر، سوټک، مارتول او نورو شیانو د سوري کولو لپاره په کار وړل کیږي.

**سُنبه:** دا قلم ډوله وسپنیزه وسیله ده چې معمولا له لسو تر شلو سانتي مترو پورې پنډوالی لري او د شیانو د سوري کولو لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي.

**انبور:** انبور هم وسپنیزه وسیله ده چې د دغه سکټور د صنعتکارانو له خوا جوړه شوې ده او وربادې وسپنه د کورې له منځه ایستل کیږي، انبور په دوه ډوله دی، انبورچه چې وړه خوله لري او بل هم لږ غټ انبور دی، ګرده خوله، میله ډوله او اوږده لاستي لري، د هغه په واسطه کلوله ډوله وسپنې را اخیستل کیږي او په سنګدان باندې ایښودل کیږي.

**د تولید طریقه:**

په پخوا وختو کې به صنعتګرانو زړې وسپنې چې ګټه ترې نه اخیستل کیده، له کاروونکو په ټیټه بیه اخیستې او راټولولې او ښانو به ترې پیرلې او په کوره کې به یې اوبه کولې او وروسته به یې په بیلابیلو قابونو کې رژولې او اهنګرۍ ته به یې اماده کولې. قالبونه د صنعګرانو د غوښتنو مطابق جوړیدل څو د وسپنیز توکي د جوړولو په وخت کې د وسپنې د ماتولو او پرې کولو له بې ځایه لګښته مخنیوی وشي.

ښنګرانو به د اوبه شویو وسپنو ټوټې د اوسپنې په کوره کې چې د ښانو د دکانونو په منځ کې جوړې شوي وي او د لګرګیو او ډبرو د سکرو په واسطه چلیږي، ږدي تر څو د تغییر لپاره نرمه او اماده شي او د سوټک په واسطه یې بیا یی ښه ور بدلوی او د اړتیا وړ توکي ترې جوړوي. د یادولو وړ ده ، کومې وسپنې چې تبر، تېشه او نور توکي ترې جوړیږي له کورې نه تر راایستلو وروسته په سنګدان باندې ایښودل کیږي او د تېره اوسپنیز قلم په واسطه چې د درې شاګردانو له خوا په نوبتي ډول په مارتول او یا سوټک وهل کیږي او له څو دقیقو وهلو وروسته سورۍ کیږي او بیا هم په سوټک وهل کیږي چې د اړتیا وړ د وسیلې شکل ونیسي.

وروسته تر هغې چې شکل يې جوړ شي هغه په اوبو کې ږدي، څو اوبه وخوري او سړه شي بيا يې د سوهان د تيږې په واسطه تېره کوي، اوس د فريز څرخ په واسطه تېره کيږي او د سوهان د تيږې په واسطه يې خوره پاکه کيږي.





د پښبګرۍ يوه څنډه

ريخته ګري په هيواد کې لرغونی تاريخ لري، چې پخوا د کور ځينې شيان د رژول کېدو په واسطه توليديدل. سکه هم ددغه صنعت يوه برخه ده چې څو پېړۍ لرغونی تاريخ لري. خو په افغانستان کې د ريخته ګرۍ تاريخ سل کاله مخينه لري، چې د کابل عليمردان کوڅه د ريخته ګرۍ د صنعت مرکز و. خو د اويايمې لسيزې د جګړو له امله د عليمردان د کوڅې د ريخته ګرۍ صنعت ورک کړ. خو د طالبانو په دوره کې د ريخته ګرۍ صنعت په يوه ټاکلې سيمه کې د خلکو د غوښتنو او اړتياو له مخې نه بلکې د کابل ښار په بيلابيلو برخو کې په خواره واره ډول ليدل کيدل.

د کابل ښار د مالوچو په کوڅه کې چې پخوا د کتاب پلورنځي د کوڅې په نوم مشهوره وه، يوه رسته د دوکانونه چې ټول دولس دوکانه کيږي د ريخته ګرۍ صنعت باندې لګيا دي. دوی

کفګیر، تخم پزي، د موټرو د ټایرونو کپونه، د دروازو دستګیرونه، د وسپنیزو دروازو ګل او پاڼې، د آشکو او منتو قالبونه او نور اړین توکي تولیدوي.
د ریخته ګرۍ صنعت د تاریخ په اوږدو کې په دوه برخو وېشل شوی:
**لومړی: د زرو ریخته ګري**
**دوهم: د درنو فلزاتو ریخته ګري**
**۱-د زرو ریخته ګري:**
دا ډول ریخته ګري د زرګرانو په فرمایش تر سره کیږي، چې په کې د لباسونو تزئیني توکي او د ښځو زینتي توکي لکه د ټهر ګلان، ټیک، تتکۍ، پیزوان او نور شامل دي.
**د درنو فلزاتو ریخته ګري:** دا ریخته ګري د ټولنیزو اړتیاو د پوره کولو په خاطر تولیدات رامنځته کوي، چې د نقلیه وسایطو پرزې، د فلزي دروازو زینتي توکي، د بخار دیګی، د پلو پخولو دیګی، تخم پزي او د مشتري د اړتیا وړ توکي تولیدوي. د درنو فلزاتو ریخته ګري په دوه ډوله ده، یو ساده او په دودیز ډول ده چې په ساده کورو کې او بل ډول یې هم د ماشین په واسطه تر سره کیږي. د ریخته ګرۍ ساده کورې له نه سوځیدونکې خښتې او خاورې چې له بهره واردیږي او له لګنونو چې شاوخوا دېرش یا پنځوس سانتي متره ژۍ او دوه لاستي لري ګټه اخیستل کیږي. ددغو کورو د سون توکي د نښتر او ځیرۍ د لرګیو سکاره دي، خو د سترو کورو د سون توکي غاز او ډیزل تېل وي.
**د ریخته ګرۍ د صنعت خام مواد:**
د ریخته ګرۍ په صنعت کې له المونیم، چونې، برنزو، مسو او سربو څخه ګټه اخیستل کیږي، خو زیات له مسو، المونیمو او برنزو ګټه اخسیتل کیږي.د ریخته ګرۍ د صنعت لپاره مرستندویه توکي سرمه ریګ دی چې د کابر رڅوونکي یې د له کارتهنو سیمې څخه راوړي او له اوبو، قیر او یا هم له مبیلایلو سره یې مخلوطوي. د ریخته ګرۍ بل مرستندویه توکی قالب دی، چې د طرحې مطابق تولیدیږي، واړه قالبونه د ژرووونکو له خوا رڅول کیږي، خو غټ قالبونه د لګښتونو د مخنیوي په خاطر د فلزکارانو له خوا رڅول کیږي.
**د کار وسایل:**
په دې صنعت کې د کار توکي څټک، انبور، بیاتي، د اوسپنې اره او بیلاییل ډوله سوانونه دي، چې ټول په کور دننه تولیدیږي.



د هیواد دغه صنایع نستبا ښه بازار لري، ښه تنوع لري، کاشوغه، پنجه، مرچدانۍ او نمکداني، د دروازو دستګیر، د کلچو قالب، د قفسونو دستګیر، د فلزي دروازو لپاره د برنزو زینتي توکي، کفګیر، ملاقه، تخمپزي، دیګ بخار، د موترو د ټایر وهیل او لسګونه نور توکي.

## د تولید طریقه

ریخته ګري چې له کومه وخته د افغانستان په لاسي صنایعو راګډه شوې د افغانانو په ټولنیز او اقتصادي ژوند کې ځانګړې ځای لري،
په دې صنعت کې لومړی د اړتیا وړ څیز له ګچو، لرګي، موم او خټې نه جوړېږي، او بیا ریګي مادې ته ور ننه ایستل کېږي، البته ریګي ماده (( د سرمه ریګ، قیر او موبلایلو ترکیب) په څلور کونجه یا مستطیلي قالبونو کې خورېږي او دا قالبونه اینه واریو بل سره نږدې وي.
کله چې له خوښې او ډیزاین سره سم قالب په ماده ریګي کې جوړ شو، نو ویلي شوي المونیم، یا ویلي شوي مس له یوې ځانګړې مجرا نه په دغه مستطیلي قالب کې ورخوشې کېږي او د څو شیبو لپاره غاړې ته ایښودل کېږي تر څو ذوب شوي المونیم په قالب کې کلک شي او ښه خپله کړي.
وروسته له کوچني قالب نه شکلن مواد لرې کېږي او بیا د سمولو او پاکولو لپاره یو پوخ صنعتګر استاد ته وړاندې کېږي.له دې وروسته تولید شوې وسیله له سوان او ریګمال کېدو وروسته پالش ته وړاندې کېږي او پالش د ریخته ګرۍ د وسیلې یا اوزارو وروستی پړاو وي.
دا پروسه په لویو کارخانو کې چې څو برخې ولري ترسره کېږي، خو د ریخته ګرۍ په کوچنیو

کارخانو کې يوازې ريخته ګر استاد د دې کار مسووليت لري او د ريخته ګرۍ ټول کارونه پخپله ترسره کوي.

ترکاڼي (نجاری) او زموږ ملی اقتصاد کې يې ارزښت

د معلوماتو له مخې زموږ د هيواد دوو ولايتونو يعنې کونړ او پکتيا کې چې له پاکستان سره په ګاونډ کې دی، د عالي لرګيو ځنګلونه شته. دغه ځنګلونه هم نرم لرګي او هم کلک لرګی لرونکي ونې لري. له دغو لرګيو څخه د ودانيو دروازې، فرنيچر او نور راز راز وسايل جوړيدای شي. دغو ځنګلونو په دغو دوو ولايتونو کې هوا او سيمې ته ډيره ښکلا هم ورکړې ده او د هوا په پاکوالي يې ډيره اغيزه کړې چې د سيمې اوسيدونکي يې پياوړي او ځواکمن دي. دا دلوی خدای يو مهم او قيمتي نعمت دی. ددغو سيمو د ارچې لرګي برسيره پردې چې دترکاڼي په چارو کې په کارځي عربي او يو شمير نورو هيوادو ته هم استول کيږي چې د هيواد د بهرنۍ سوداګري يو مهم صادراتی قلم جوړوي. ددغو ولايتونو ارچه په ټوله نړۍ کې ساری نه لري.

د پکتيا ولايت د ارچې لرګي

ددغه ولايت ارچه لرګي د نړۍ تر ټولو غوره لرګي دي چې ډيرکلک دي ددغه لرګي په ترکيب کې مخصوص غوړ لرونکي مواد دي چې د لمدبل او اوبو په وړاندې ډير ښه مقاومت لري او عمر يې ډير اوږد وي. دغه ونې بيلابيل ډولونه لري لکه: کتيبه، نښتر، ناجو، ګجر، سرخ ارچه د جنغوزی ونه او نور.

د کونړ ولايت لرګي

دا هم د ارچې ډير ښه لرګي لري چې د خپل نرموالي او ښکلا له مخې په نړۍ کې نوم لري. له دغو لرګيو څخه بيلابيل وسايل، دروازې، کړکی او نور جوړيږی، چې بيلابيل ډولونه لري، لکه: سليپر، نښتر، سرخ ارچه او نور ډوله چې دا هريو يې نرم او د ډيرې لوړې بيې لرونکي لرګي دي.

د لرګيو درجه بندي

نرم يا پاسته او کلک لرګي په دريو برخو ويشل کيږي:

۱. لومړۍ درجه لرګي: دا هغه لرګي دي چې ډير عالي خواص لري (ښه مقاومت، ښکلا، د زخو او غوټو نشتوالی، منظم کلني رګونه او کلنۍ کړۍ) او ښه کيفيت.

۲. دوهمه درجه لرګي: دا هغه ډول لرګي دي چې ډیر لږ شمیر زخې او غوټې لري او ښکلا او رنګ یې په منځنۍ اندازه وي او کلنۍ کړۍ او رګونه یې منظم وي،
۳. دریمه درجه لرګي: دا هغه ډول لرګي دي چې ډیرې زخې لري او پر مخ باندې یې کلنۍ کړۍ غیر منظمې او په ټیټ کیفیت وي.
دنرمو او کلکو لرګیو ډولونه
له دې پلوه لرګي په دوه ډوله دي: پاسته لرګی او کلک لرګي
**پاسته یا نرم لرګي**
پاسته لرګي بیلابیل ډولونه لري چې زیات شمیر یې د لرګي د تخنیک له پلوه د استفادې وړ او د ترکاڼي لپاره په کار راځي، خو لږ شمیر یې د ترکاڼي چارو لپاره مناسبه نه دي، خو دنورو چارو لپاره مناسب دي. نرم لرګي دادي: چنار، خار لرګی، دولې لرګی، سپیدار یا نیله، سلیپر اونور.
**کتیبه ارچه لرګی**
دا د ارچې تر ټولو غوره لرګي دي چې د پکتیا ولایت له نامتو لرګیو څخه شمیرل کیږي. ډیرې ښې ځانګړتیاوې لري، رنګ یې نخودي، کلنۍ کړۍ یې منظمې او ښکلې او د کړیو رنګ یې تور بخن دی. ښه کلک لرګي دي او د هر ډول فشار په وړاندې ښه مقاومت لري، خو ماتیدونکي لرګي دي. د کږیدو او ارتجاعي والي خصوصیت یې کم دی. د مسطح ، کړکیو ، دروازو او د نجارۍ نورو چارو لپاره مناسب لرګي دي د پالش کولو ، رنګ کولو ، ریګمال کاري، کندنکاري او بیسن کاري ډیره ښه وړتیا لري، دغه لرګي برسیره پردې چې د هیواد دننه د نجارۍ په چارو کې په کار ځي، له هیواد څخه بهر هم صادریږي او په دې توګه د هیواد د اقتصاد لپاره یوه ډیره ښه اقتصادي سرچینه ده. کتیبه ارچه لرګي د لوبو او لمدبل په وړاندې ډیر ښه مقاومت لري، اوږد عمر لري. دا د ستن پاڼو ونو په لرګي کې شمیرل کیږي. د غه لرګي یو ډول غوړ لرونکي مواد لري چې د لرګي عمر زیاتوي. یو ډول توند بوی لري، چې د انسان روغتیا ته تاوان رسولای شي، نو ځکه باید د کار پر مهال له اکسیجن او ساتونکو وسایلو څخه استفاده وشي.

## دنښتر دارچې لرګي

دغه لرګي په پکتیا، کونړ او ننګرهار ولایتونو کې شته. او د درجې له پلوه په دوهم ګروپ کې راځي چې د ډیرو غوره ځانګړتیاوو لرونکی دی او د نرم کار خاصیت ډیر ښه ورباندې تر سره کیدای شي. دا د ترکاڼي د کارونو لکه کړکۍ، دروازې او نورو لپاره ډیره ښه وړتیا لري، خړ بخن نخودي رنګ لري. د ریګمالي، پالش کاري او بیسین کاري ښه وړتیا لري. د ستن پاڼو ونو لرګي شمیرل کیږي چې د کږیدلو ارتجاعی خواص هم لري.

## ګوجر ارچه لرګی

د پکتیا ولایت د ارچې تر ټولو ښه لرګي دي. د ډیر کلکوالي له امله د ترکاڼي لاسي وسایل ورباندې ښه کار نشي کولای، خو د ترکاڼي د ماشینونو په واسطه ښه تر کار لاندې راتلای شي. ښکلي کلنۍ کړۍ لري. د موبل او فرنیچر په جوړولو کې ورڅخه زیات کار اخیستل کیږي، خو د ودانیو په جوړولو په تیره بیا د دروازو او د کړکیو جوړولو کې چندان نه استعمالیږي، په قالب بندی، پایه بندي، قیچي پوش ودانیو، د لرګي د فرش جوړولو او نورو مواردو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي. د فشار او لمدبل په وړاندې ښه مقاومت لري. د کمان کیدو او کوږوالي ښه وړتیا لري یعنې ماتیدونکی لرګی نه دی.

## د سرخ ارچې لرګی

دغه لرګی هم د پکتیا او هم ننګرهار په ولایتونو دواړو کې موندل کیږي، نرم لرګی دی او سور رنګ لري، نو ځکه ورته سره ارچه وایي. نرم خاصیت لري، دنورو لرګیو په پرتله لږ موندل کیږي. ښه بوی لري، ماتیدونکی لرګی دی، یعنې د کږولو وړتیا نه لري. له دغه لرګي څخه موبل او فرنیچر کې کار اخیستل کیږي، خو په ودانیزو چارو کې ورڅخه کار نه اخیستل کیږي. د ګاڼو او نورو سامانونو د ساتنې او د صندوقونو او د صنوقچې د جوړولو لپاره ډیر مناسب لرګي دي.

## د جنغوزي ارچه

دغه لرګی ډیر نرم دي یعنې د کار کولو ښه وړتیا لري. د موبل جوړولو لپاره ښه مناسب دي، خو د ودانیزو چارو لپاره مناسب نه دي. رنګ یې ژیړ دی، خو ستوغ بوی لري، نو ځکه د کار پرمهال کارګرانو ته په زړه پورې نه دی او روغتیا ته زیان رسولای شي. د کږولو وړتیا نلري او ماتیدونکی دي.د میوو صندوقونو او د قالب بندۍ د چارو لپاره غوره دي.

### ګردم ارچه

دغه لرګي د ډيرو لويو چارتراشونو په بڼه بازار ته راځي پخوا به يې ورته شتري يا قاطري چارتراش ويل، دا ځکه چې هغه مهال به د دروند والي او غټوالي له امله يا په اوښانو يا د کچرو په واسطه راوړل کيدل. دخپل کيفيت له مخې لومړۍ درجه لرګي کې شميرل کيږي چې په کونړ کې موندل کيږي، رنګ يې سوربخن نخودي دی دکلنيو کړيو رنګ يې په زړه پورې بڼه لري. د فشارونو او لمدبل په وړاندې ښه مقاومت لري هره کنده چارتراش يې ۴۰۰ سانتی متره اوږدوالی، ۴۰ سانتي متره پلنوالی او ۴۰ سانتي متره لوړوالی لري. دغه لرګی د موبل، فرنيچير، کړکيو، دروازو د کوټو د فرش او نورو چارو لپاره مناسب دی. پرمخ باندې يې ښه کندنکاري او د انځورونو توږل ترسره کيدای شي او ډير ښه چکن ورباندې راوستل کيدای شي د بيسين کاري، ريګمالي او پالش کاري وړتيا لري. د هيواد دننه له مصرف پرته بهر ته هم صادريږي.

### سليپر ارچه لرګي

دغه لرګي د کونړونو د ولايت دوهمه درجه لرګيو کې شميرل کيږي چې د ترکاڼۍ د چارو او موبل جوړولو په برخه کې يو غوره لرګی دی. معمولا د چارتراشونو په بڼه چې دوه نيم متره اوږدوالی او ۳۰ سانتي متره پلنوالی او پنځلس سانتي متره لوړوالی لري بازار ته راځي. دغه لرګي هم دهيواد دننه بازارونو او هم د هيواد څخه بهر مارکيټ لپاره عرضه کيږي. سپين بخن نخودي رنګ لري. دګردم لرګي په پرتله يې د کږيدو وړتيا کمه ده. د پالش کولو ، بيسن او انځورونو د کښلو وړتياې لري. دفشار او لمدبل په وړاندې ښه مقاومت لري. بيه يې د ګردم لرګي په پرتله ټيټه ده.

### د چنار لرګی

دغه لرګی د موبل او ودانيو د ترکاڼي لپاره ډير وړ نه دی، دا ځکه چې نا منظمه خواص لري. په دغه لرګي باندې د ترکاڼۍ لاسي وسايل ښه کار نشي کولای، دا ځکه چې يو کلک لرګی دی. د کار کولو په ترڅ کې پرخچه کيږي او د کار مخ نا منظم راځي. رنګ يې سپين دی چې قهوه يي رګونه لري. د فشار او لمدبل په وړاندې يو کلک لرګی دی. د چنار ونې ډېرې هسکې وي او لرګی يې له لسو څخه تر پنځوسو مترو پورې هم اوږدوالی لري. ښاخونه يې

سيخ او مخ پورته وي، چنار د پلن پاڼو ونو په ډله کې راځي. د کږېدلو وړتيا لري، د لمدبل او فشار په وړاندې مقاومت لري. د چتونو د لرونو په توګه د قالب بندۍ او د قيچي پوش لپاره ښه استفاده ورڅخه کيداى شي. يو ډول چنار ته تخمکدار ويل کيږي، چې د منې په موسم کې يې د پاڼو منځ کې د تخم په بڼه جوړ ښتونه پيدا کيږي، که په پسرلي کې وکرل شي د چنار ونې ورڅخه راشنې کيږي.

**وله:**

دا يو نرم يا پوست لرګى دى چې د افغانستان په هر ځاى کې موندل کيږي، سور بخن رنګ لري او د کږېدو او کمان کېدو وړتيا لري. د ونې ډډ کوږ وي او سيده وده نه کوي نو ځکه د ترکاڼۍ په چارو کې ورڅخه کار نشي اخېستل کېداى. د لمدبل په وړاندې ښه مقاومت لري. د راشبېل جوړولو او صندوقونو لپاره ښه مناسب لرګى دى. د بېل لاستى او تبر لاستى ته هم ښه مناسب دى. په کليو کې د ويالو او کروندو خواته کرل کيږي او بزګران يې په اوړي کې سيوري ته کيني، پلن پاڼې ونه ده چې ښکلې ښاخونه لري چې د سيمې په هوا باندې ډېره غوره اغېزه لري.

**نيله يا سپېدار:**

دا يو ډول ګڼه ونه ده چې خواره واره ښاخونه لري. ونه يې ښه لويه وي او پلنې پاڼې لري. خلک يې د سيمې د ښکلا لپاره کري. پوستکى يې ډېر نرى وي او شين رنګ لري. باغ لرونکي يې سيوري ته کيني، باغ شين کوي او په هوا باندې ښه تأثير لري. لرګى يې سپين رنګ لري او نرم دى د موبل جوړولو کې او د ودانيو لپاره ورڅخه استفاده نه کيږي او ماتيدونکي دي. د فشار او لمدبل په وړاندې هېڅ مقاومت نلري. له لرګي څخه يې يواځې د مېوې صندوقونه جوړيږي او د سون لپاره ورڅخه کار اخېستل کيږي. دغه لرګى د افغانستان په شمال کې زيات موندل کيږي.

**توند ارچه**

دغه لرګى د ارچې په لرګيو کې شمېرل کيږي. د خپل خاصيت له مخې يې تونده ارچه بولي، زياتره به ننګرهار او لغمان کې پيدا کيږي په نورو سيمو کې ډېر لږ موندل کېدونکي دي. د همدې لږ پيدا کېدو له کبله يې بيه ډېره زياته ده. بېلابېل رنګونه لري لکه سور، نخودي، شين، قهوه يي، او نور رنګونه. دا لرګى د ډېرو ظريفو ترکاڼي چارو لپاره په کار ځي ونه يې

ټيټ قد لري چې ايله يو نيم مترو ته رسيږي. ښاخونه يې لکه د مېوه لرونکو ونو په شان ټيټ او خواره وي. لرګی يې کلک او د فشار او لمدبل په وړاندې مقاومت لري. د کندنکارۍ او پالش کولو ښه وړتيا لري او د ترکاڼۍ ځينو کارونو ته مناسب دی. توند ارچه ونه د پلن پاڼو ونو په ډله کې راځي.

**خار ارچه يا صبر**

دا هم د ترکاڼي په چارو کې يو ډول ارچه شمېرل کيږي، خو د سپکوالي له پلوه ورته خار ارچه وايي. هغه لرګي چې له روسيې څخه دلته راځي ټول همدا لرګي دي چې د چارتراشو ښه لري. د خپل سپکوالي له امله ډېر ضعيف لرګی دی او د فشار او لمدبل په وړاندې هېڅ مقاومت نلري. د دېوال او د کوټو د فرش، کړکيو، دروازو او مسطح جوړولو لپاره يو غوره لرګی دی. د تختو پر مخ يې کندکارۍ، پالش، انځور تونډل، بيسين نشي ترسره کېدای. بهرته د لېږدلو لپاره ښه مناسب دی ځکه چې سپک دی. ونه يې يوه ستن پاڼې او تل شنه ونه ده.

**کلک لرګي**

کلک لرګي ډېر مقاومت او دروندوالی لري. دغه ډول لرګي د ترکاڼي په چارو، ودانيزو کارونو، پروژو او بېلا بېلو اړتياوو پوره کولو کې مهم ارزښت لري. هغه ونې چې په افغانستان کې شته د غوره لرګيو د توليد وړتيا لري، دا ځکه چې زمونږ د هېواد اوبه او هوا او د لمر وړانګې ونو ته ښه انرژي ورکوي او د اروپايي هېوادو په پرتله ډېر غوره صفتونه (مقاومت، ښکلا او ښه کيفيت) لري. يو شمېر بېلګې يې دا دي: ښنګ، بلوط، زيتون، شيشم، د غوزانو ونه، جاغور، پنجه چنار، پشه خانه، اکاسي، توت، سنځله، زردآلو، ناک او د يو شمېر نورو مېوه لرونکو ونو لرګي. دلته به هريو وګورو:

**د ښنګ لرګی**

وروسته تر وسپنې څخه دا يو ډېر کلک لرګی دی. ډېر دروند او د پوره مقاومت لرونکی دی. د موبل او ترکاڼۍ لپاره ښه لرګی نه دی. خو په نورو لرګيو باندې د ورق شاني او پو ښولو او پاڼه پاڼه کولو لپاره ښه دی. لږ پيدا کيږي او بيه يې زياته ده. خو د څټک، ترښځ، تبر او نورو وسايلو د لاستې جوړولو لپاره ډېر غوره لرګی دی، د بار وړونکو لاريو د باډيو جوړولو او د وسپنې پټلۍ لاندې کېښودلو ته په کاريږي.

**بلوط**

دا هم د ښنګ په شان دروند او کلک لرګی دی. په دې لرګي باندې د ترکاڼۍ لاسي وسایل کار نشي کولای، خو د ترکاڼي ماشینونه وربانديې کار کولای شي په ودانیزو چارو کې ډېر نه پکاریږي خو د ورق ورق کولو ښه وړتیا لري چې د ۱ – ۳ میلي مترو په اندازه پاڼه پاڼه کېدای شي او په مصنوعي تختو باندې سریښ کیږي او د جنس بیه پوره لوړوي. د ښنګ په پرتله لږ سپک دی. د بلوط له لرګي څخه د بخارۍ د وسایلو جوړول د دې لامل کیږي چې هغه وسایل ډېر درانه جوړ شي. د فشار په وړاندې کلک دی او د کږولو وړتیا هم لري. د وسپنې د پټلیو جوړولو کې په کار ځي. زمونږ په هېواد کې په ژمي کې د سوځولو لپاره په کار ځي. کندنکاري وربانديې نشي کېدای، خو د پالش کولو وړتیا لري. د سوان، ترښځ، تبر او نورو وسایلو لاستي ورڅخه جوړیږي.





**د زیتون (ښون) لرګي**

د ښون لرګی ډېر ښکلی قهوه یي، تور بخن رنګ لري، یو درونډ لرګی دی چې د ډېر زیات فشار په وړاندې هم کلک دی. د مبل او د ترکاڼي د یو شمېر نورو چارو لپاره ډېر مناسب نه دی، خو د یو شمېر کوچنیو زینتي کارونو لپاره مناسب دی. د ښون لرګی ډېر کم پیدا کیږي. د زیتون له لرګي څخه پرته دغه ونه ډېره ښایسته قیمتي مېوه (د ښون دانې) لري چې ډېر د عالي کیفیت غوړي لري چې د روغتیا لپاره ډېر ګټور دی، د ښونو ونې په فارمونو کې روزل کیږي، د بېلګې په توګه له جګړو څخه مخکې د افغانستان په جلال آباد کې د دغو ونو ډېر ښه لوی لوی باغونه وو چې هر کال یې ډېر زیات حاصلات درلودل، ښون په تودو سیمو

کې روزل کیږي، په تېره بیا عربي هېوادو کې ډېر کرل کیږي. د ښـون غوړي دومره د قدر وړ دی چې په قرآن کریم کې یې نوم راغلی دی چې هر درد دوا کوي. د ښونو د دانو غوړ له عربي هېوادو څخه په تجارتي بڼه په بوتلونو او ډبیو کې بهر ملکونو ته صادریږي. د ښون لرګی ډېر په زړه پوري بوی هم لري.

## د شیشم لرګی

شیشم هم یو ډېر کلک لرګی دی او د زیتون له لرګي څخه وروسته دوهمه درجه دروند لرګی دی. دغه لرګی د هر فشـار په وړاندې پوره کلک دی او په موبل او فرنیچر کې هم د استفادې وړ دی، خو د ودانیو لپاره نه په کاریږي. د دېوال او د کوټې پر مخ فرش جوړولو ته مناسـب دی او د چت مسطح هم ورڅخه جوړېدای شي شیشم ډېر ښایسته قهوه یي رنګ لري، ځینې برخې یې ژېړ بخن سپین رنګ لري. د شیشم له لرګي څخه بېلابېل ښکلی موبل او نور وسایل جوړیږي بیه یې بده نه ده، خو کار وربانديې په سختي تر سره کیږي، خو د ترکاڼي په ماشینونو باندې کار وربانديې کېدای شـي. د شـیشـم له لرګي څخه ښـکلي لوښـي خراطي کیږي لکه غابونه، کاسـه، جام او نور. له دې امله چې ډېر کلک دی، نو ځکه وربانديې کندنکاري نشـو کولای. د فشـار او لمدبل په وړاندې ښه کلک دی او د پالش کاری او بیسـن کاری وړتیا هم لري. د شـیشـم له لرګي څخه د ترکاڼي لاسـي وسـایل لکه رنده او نور جوړیږي. دغه لرګی د کونړ او ننګرهار په ولایتونو کې پیدا کیږي. همدارنګه په هند او پاکسـتان کې چې توده هوا لري، هم پیدا کیږي. دغه لرګی یوه سـتونزه لري او هغه دا چې وروسـته تر یوې مودې په هغه کې یو ډول حشـره پیدا کیږي، چې لرګی سـوری او له منځه وړي، دغه حشـره یوازې په تودو سیمو کې پیدا کیږي، خو په افغانسـتان کې چې سړه هوا لري دغه حشـره پکې نه پیدا کیږي. د شـیشـم له لرګي څخه جوړ شـوي شـیان ګرانبیه او د قدر وړ دي، هغه حشـره چې په دې لرګي کې پیدا کیږي عوام خلک ورته (وینه) وایي. له دې لرګي څخه له ۱ – ۳ میلي مترو نازکې پاڼې تراشلې شو چې په مصنوعي تختو باندې د ورقه شاني لپاره په کار ځي.

## د غوزانو (چارماغو) لرګي

دغه لرګی ډېر کلک نه دی، خو پوسـت هم نه دی، یعنې نیمه سـخت لرګی، چې د ترکاڼي او موبل او فرنیچر لپاره ډېر مناسب دی. د چارماغو لرګی بېلابېل رنګونه لکه سـپین، قهوه یي او نصـواري لري، خو تور بخن یې تر نورو غوره دی. لـه هغـه څخـه تر ټولو ښـکلی موبـل

جوړيږي. له دې امله چې يو څه کلک دی، نو ځکه د ترکاڼي وسايل ورباندې ښه کار نشي کولای، خو د ترکاڼي ماشينونه په آسانۍ سره کار ورباندې کولای شي. هغه موبل چې ور څخه جوړيږي ښه بيه او اوچت کيفيت او اوږد عمر لري. د چارماغو يا غوزانو د ونې لرګی په ټول افغانستان کې موندل کيږي. دغه ونه ښه مېوه هم لري. غوزان د روغتيا لپاره يوه ګټوره مېوه ده. دغه ونې د کابل په پغمان، شکردره، د پروان ولايت او تګاو او نجراو کې هم موندل کيږي. لرګی يې ډېرې ښايسته کلنۍ کړۍ لري. ونه يې لوی ډډ او جګ قد لري، ښاخونه يې ښايسته او خواره واره وي او پاڼې يې پلنې دي، ښه يخ سيورې هم لري، لرګی يې ښه مقاومت لري او د کمان يا کېږولو وړتيا لري پالش کاري او بسين کاري هم ورباندې کېدای شي. د چارماغو يا غوزانو له لرګي څخه نازکې پاڼې چې ۱، ۲، ۳ ميلي متره پريړوالی لري ترلاسه کېدای شي.

## جاغور لرګی

دا هم د غوز د ونې لرګی دی، خو جاغور لرګی ځکه ورته وايي چې د دغې ونې په ډډ کې يوه برخه لکه د چرګې د جاغور يا ججورې په شان راوتلې وي او ګرد دايروي شکل لري. دغه برخه ډېر لوړ صفتونه لري. په دې کې ځينې وخت لکه د کامرې په شان د يو شمېر شيانو لکه غرڅې، الوتونکو او انسان څېره ښکاري. کله چې د جاغور برخه پرې شي نو دغه ډول څېرې پکې ليدل کيږي چې دا د الله ج يوه معجزه ده. دغه لرګی په خاتم کاري کې په کار ځي دا ډېر د ستاينې وړ لرګی دی، نو ځکه يې بيه لوړه ده.

## پنجه چنار لرګی

د کلکو لرګيو په ډله کې شمېرل کيږي چې ډېر ښايسته قهوه يي رنګ لري چې پرمخ باندې يې ټکی انځورونه هم ښکاري. د فشار په وړاندې يو کلک لرګی دی او د کږولو وړتيا هم لري. له دې لرګي څخه د موبل او فرنېچر بېلابېل ډولونه جوړيږي. د لرګي پرمخ کلنۍ کړۍ کم رنګه غوندې وي، وروسته تر درې اوراه کېدو څخه خپله ښه بدلوي، يعنې پټ کيږي، له دې لرګي څخه په هر څه کې کار اخېستل کيږي، خو د دروازو او کړکيو جوړولو ته ځکه مناسب نه دی چې دروند لرګی دی. د کږولو، بيسن کاری او پالش کولو وړتيا لري. که دغه ونه ښه وروزل شي له هغې څخه د ۴ – ۵ مترو په اوږدوالي لرګي ترلاسه کېدای شي. دغه

ونه ډېر منظم او ښایسته ښاخونه او په اوړي کې یخ سیوری لري. له دې امله چې پاڼې یې د پنجې بڼه لري، نو ځکه ورته پنجه چنار وايي. د ترکاڼي د لاسي رندې لپاره هم په کار ځي او د څټک، سوان او نورو و سایلو لاستی هم ورڅخه جوړېږي. ونې یې د ښارونو د ښکلا لپاره د سړکونو په غاړه کېنول کیږي.

### د پشه خانې ونه

دغه ونه هم د کلک لرګی لرونکې ده چې د هر ډول بهرني فشار او زور په وړاندې ښه کلکوالی لري، سور بخن رنګ لري چې پر مخ باندې یې کلنۍ کړۍ ښې روښانه ښکاره کیږي. د کږولو، بیسن کاري او پالش کاری وړتیا لري د غه و نه قوي او نېغ ډډ لري چې پنځه متره جګوالی او ډېر اوږد عمر لري ښاخونه یې ګڼ او له پاڼو ډک وي، پاڼې یې هوارې او تکې شنې دي. د میزونو، چوکیو او موبل جوړولو لپاره منا سب لرګی دی، خو د ودانۍ د وسایلو لکه چت، دروازې، دستک او کړکیو ته مناسب نه دی، د تبر، سوهان، ترښځ او څټکونو د لاستی جوړولو ته هم پکارځي. دغه لرګی د خراطي کولو وړتیا هم لري او د کوټو د فرش او د مسطح کولو لپاره ډېر غوره لرګی دی. ونې یې د سړکونو تر غاړې د ښارونو د ښکلا په خاطر کنښېنول کیږي.

### اکاسي

په منځنۍ اندازه یو کلک لرګی دی، یعنې نه ډېر کلک او نه ډېر پوست دی، د اکاسي ونه ډېره ښایسته وي، خو ډډ یې نرۍ وي چې ایله ۲۰ – ۲۵ سانتي متره پنډوالی لري. دغه لرګی د ترکاڼۍ، موبل او ودانیزو چارو لپاره ښه وړتیا نه لري، خو د کوچنیو وسایلو او د زینتي اسباب لپاره ښه ده، ژېړ بخن سپین رنګ لري. ډېر لږ موندل کیږي. دغه ونه په پسرلي ښایسته سپین سپین ګلان کوي، لرګی یې د کوږوالی وړتیا لري دغه ونه د سړکونو او ښارونو د ښایست لپاره کرل کیږي.

### د توت لرګی

دغه ونې د هېواد د شمال په سیمو او د کابل شاوخوا ډېر کرل کیږي. په تېره بیا خنجان، سالنګونو او د پروان ولایت کې ډېر لیدل کیږي. تازه توت په اوړي کې یوه ښه مېوه ده او په ژمي کې وچه خوړل کیږي. د توت لرګی هم ډېر صفتونه لري. ژېړ رنګ او کلنۍ ښایسته کړۍ لري. تر څو شنه ونه وي ډېر کلک لرګی وي، خو کله چې پرې شي او وچ شي بیا نو یو پوست

لرگی دی. د موبل او فرنیچر خاصیت نه لري خو له هغه څخه زینتي وسایل او د ساز آلې لکه دمبوره، رباب، او نور شیان جوړیږي دغه لرگی د غړد غبرگولو ښه وړتیا لري چې دا یې یو عجیب خاصیت دی. د کږولو ارتجاعي وړتیا لري او ماتېدونکی نه دی، د استعمال په اثر خپل رنګ له لاسه ورکوي. له دې لرګي څخه د خاتم کاري او د کړکیو د جوړولو لپاره هم کار اخېستل کیږي.

### د سنځلې لرگی

دغه ونې د کابل د شمال ولایتونو، لوگر او پکتیا ولایتونو کې ډېرې کرل کیږي، خو یو شمېر نورو ولایتونو کې ډېرې کرل کیږي، خو یو شمېر نورو ولایتونو کې ډېر لږ پیدا کیږي. په کرنیزو ځمکو کې ښه وده کوي، سنځله یوه مېوه لرونکې ونه ده چې مېوه یې د مني په پای کې پخیږي چې د ژمي یوه وچه مېوه بلل کیږي او د انسان روغتیا ته ډېره گټوره ده. په پسرلي کې ډېر ښایسته او د ښه بوی لرونکی گلان لري او پاڼې یې ډېرې ښکلې وي چې دغه گلان یوه میاشت دوام کوي. د سنځلې د ډډ لرگی سیخ نه وي، بلکې کږه وږه وده لري نو ځکه د پرې کولو پر مهال ډېر ضایعات لري، خو ځکه یې لرگی ډېر لږ پیدا کیږي. قیمتي لرگی دی چې نخودي ډوله سپین رنګ لري او په موبل او فرنیچر جوړولو کې ورڅخه کار اخېستل کیږي د دغې ونې کلنۍ کړۍ د تختې پرمخ ډېرې ښکلې نصواري رنګه کږې وږې کرښې انځوروي. دغه لرگی ډېر لږ موندل کیږي، نو ځکه یې موبل هم ډېر گران بیه وي، د سنځلې د ونې ډډ د پاڼو په شکل پرې کوي او په مصنوعي تختو باندې یې سریښوي او بیا په اساسي او تخنیکي توگه ورڅخه ډېر ښکلي او با کیفیته موبل او فرنیچر جوړیږي. د سنځلې لرگی ډېر کلک نه وي، بلکې لږ څه متوسطه اندازه پوست دی. پخوا وختونو کې به د ځاگانو لاندې د چک په بڼه د سنځلې لرگي اېښودل کېده، دا ځکه چې هغه مهال لا سمنټي چکونه نه و جوړ شوي.

### د مېوه لرونکو ونو کلک لرگي

د مېوه لرونکو ونو لرگي عموما ډېر کلک وي لکه زردآلو، آلو، ناک، مڼه او نور. په تېره بیا دغه ونې مخکې تر چپه کولو ډېرې غوره مېوې تولیدوي چې په دې توگه د خدای یو لوی نعمت بلل کیږي. د دغو ونو لرگي ډېر کلک وي او ارتجاعي قوه لري، ښکلي رنگونه لري او د لرگی مخ ښایسته کرښې لري. مېوه لرونکي ونې تر هغو پورې چې پوره زړې نشي نه وهل کیږي کله یې

چې عمر ډېر زيات شي او نور نو مېوه نه نيسي خلک يې وهي نو بيا دا مهال په ترکاڼي او موبل جوړولو کې ورڅخه کار اخلي. دغه ونې د خپلو مېوو – دانو پرته سيمه هم ښايسته کوي او چاپېريال له ناروغه کوونکو عاملينو پاکوي چې د خلکو د روغتيا لپاره ډېره ګټه لري. مېوه لرونکي ونې پلنې پاڼې او ګڼ ښاخونه لري. د دغو ونو ډډ نېغ نه، بلکې کوږ وږ او قدونه يې يو څه ټيټ وي چې ايله دوه مترو پورې رسيږي. کله چې د دغو ونو ډډ پرې شي نو د دړه کولو پر مهال ډېر ضايعات لري نو ځکه يې بيه لوړه وي. د مڼې او زردآلو لرګي ډېر ښکلي رنګونه لري چې موبل او فرنيچر يې ډېر ګران وي او کيفيت يې ډېر عالي وي.



## ستن پاڼې ونې

ستن پاڼې ونې معمولا نرم خواص لري، خو لږ شمېر يې کلک لرګي لري. د دغو ونو لرګي د پلن پاڼو ونو په پرتله لږ کلک وي چې له ساده ژونکو څخه جوړ وي چې ساده دندې لري. د ستن پاڼو ونو د لرګي وچول د پلن پاڼو ونو په پرتله آسانه وي. ستن پاڼې ونې لوړ او نېغ ډډ لري چې ښاخونه يې ژمی او اوړی شنه وي.

پلن پاڼې ونې بيا کلک لرګي لري، خو ډېر عموميت نه لري، داسې امکانات شته چې يو شمېر پلن پاڼې ونې تر ستن پاڼو هم پاسته او نرم وي د پلن پاڼو ونو د لرګيو داخلي جوړښت د ستن پاڼو د ونو په پرتله ډېر پېچلی دی چې له بېلابېلو ژونکو څخه چې بېلابېلې دندې لري جوړ شوي وي.

لکه چې څرګنده ده د هر ولایت او به او هوا او اقلیم له یو بل سره ډېر توپیر لري، کله چې د ترکاڼي یو تولید شوی جنس له یوې سیمې څخه بلې ته وړل کیږي، نو لږه موده وروسته یې سره نښلول شوي برخې له یو بل څخه جلا کیږي. دا مهال د لرګي د ننه لمد بل هم ورباندې اغېزه کوي. د لرګیو د بېلابېلو وسایلو د بېلابېلو برخو له یو بل څخه د جلا کېدو لامل دادی چې د یوې سیمې هوا، تودوخه او نور عوامل یو بل سره توپیر لري. لکه لاندې شکلونه:





د کونړ ولایت کې د ترکاڼي هټۍ

### د براس په بټۍ کې د لرګي وچول

د ونې ډډ وروسته تر پرې کولو څخه یو څه لمدبل لري چې ځینو برخو کې د غه لمدبل زیات او په نورو کې کم وي، چې په دغه بټۍ کې ټول لمدبل په یو برابر نه وچیږي، نو ځکه بیا وروسته پټ کیږي او دا عیب د اقتصادي زیان لامل کیږي.

### په اوبو کې د لرګي لمدول

د امکان په صورت کې به دا ډېره غوره وي چې د لرګي چارتراشونه مخکې تردې چې دړه دړه شي باید د لسو ورځو لپاره د اوبو دننه کېښودل شي. په دې موده کې د لرګي ټولې برخې په مساوي اندازه لمدیږي. وروسته له اوبو څخه را ایستل کیږي او دړې ورڅخه جدا کیږي. که چېرې د براس بټۍ نه وي، نو په آزاده هوا کې په سیوري کې د لمر له وړانګو لرې وچیږي. د دړو ترمنځ باید چفتي کېښودل شي چې د هوا جریان موجود اوسي. دغه ډول لمدول او په اوبو کې کېښودل په لرګي باندې ښه تأثیر کوي او په راتلونکي کې لرګی پټ نه کوي.

### د براس په بټۍ کې د دړو وچول

په اوبو کې د لرګیو له لمدولو څخه وروسته، هغه په دړو جدا کیږي او د براس په بټۍ کې یو پر بل باندې ایښودل کیږي چې تر منځ یې چفتۍ ګانې وي تر څو تودوخه ټولو برخو ته ورسیږي دغه چفتۍ ګانې 3x3 cm وي. دغه دړې وروسته تر څلورویشتو ساعتونو څخه په یوې ځانګړې وسیلې باندې چک کیږي او یوائې په سلو کې ۵-۱۰ لمدبل په دړه کې پاتې کیږي. باید دا وواېو چې په پیل کې له تاوده براس څخه کار اخلو او وروسته بیا په دوهم پړاو کې په ساړه براس و چې او په دریم پړاو کې څو ورځې آزاده هوا کې ایښودل کیږي.

### په لرګي کې د استفادې وړ سریښ

سریښ د ترکاڼي او دلرګي د تخنیک یوه مهمه وسیله ده، چې د کار په ترڅ کې د دوو یا له هغه څخه د زیاتو لرګیو د نښلولو لپاره ورڅخه استفاده کیږي او دلرګي د تخنیک یوه مهمه برخه ګڼل کیږي. سره له دې چې لرګي په ډېرو وسایلو سره نښلول کیدای شي لکه د ساده چول او فاق، د ګونیا برش چول او فاق او کشتي بند په واسطه. وروسته د کار د پای ته رسیدو څخه دا یو بل سره سریښ کیږي. د تخنیک د ډېر دقیق کار لپاره په تیره بیا د موبل او فرنیچر لپاره د کار د ټوټو ،د لرګیو د جاینټونو، د دروازو د اوږدو دړو د سریښولو او نورو اړتیاوو لپاره له سریښ څخه کار اخلو. د سریښ کولو پر مهال د ترکاڼي ګیرا ګانو استعمالول ضرور

دي تر څو د لرګي درزونه ييخي سره ونښلول شي او پوره يو بل سره کلک شي. په مستطرفه او ډير دقيق او عاجل کار کې له ميخ او پيچ څخه کار اخيستل کيږي. په دغو عاجلو چارو له قالب بندي، دستک بندي. پايه بندي او تخته بندي کې د سريښ پر ځای ميخ او کوکه کولو څخه کار اخلو.

## دلرګيو د سريښ ډولونه

د لرګيو سريښ دوه ډوله وي چې يو يې طبيعي ګرم سريښ (د کمان ګري سريښ) او بل يې مصنوعي سوړ سريښ دی.

۱. د کمان ګري تود سريښ په حقيقت کې يو طبيعي سريښ دی چې لرګی ډير کلک يو بل سره نښلوي. د کمان ګري سريښ د څارويو لکه د غوايي او پسه له پوستکي څخه جوړيږي. ډير ښه سريښ د غوايي له پوسبکي څخه جوړيږي چې هم مقاومت لري او هم ډير کلک نښلول کوي. دغه سريښ په دوو ډولونو جوړيږي او بازار ته عرضه کيږي: پارچه يي او مهره يي. دغه دواړه د کار اخيستو ښه وړتيا لري. تر هغه مهال پورې چې لا مصنوعي سريښونه بازار ته نه وو راغلي په ټوله دنيا کې د کمان تاوده سريښ کارول کيدل، چې د هر ډول فشار او تودوخې په وړاندې ډير کلک و.

**دکارولو طريقه**

دغه سريښ، په تيره بيا په نورماله او توده هوا کې ښه وړتيا لري، خو په سړه هوا کې ډير ژر ټينګ او بيا سم کار نه کوي، دا ځکه چې لرګی د سريښ کيدو لپاره يو څه ځنډ ته اړتيا لري او سريښ بايد ورو ورو سوړ او ټينګ شي. دد دغه سريښ د چمتو کولو او تودولو لپاره دوو لوښو ته اړتيا ده چې يوه کې اوبه او بل کې سريښ اچول کيږي. د اوبو لوښی په نغري باندې اېښودل کيږي کله چې اوبه وخوټيدې د سريښو لوښی په نغري باندې اېښودل کيږي او داوبو د بړاس او تودوخې له امله سريښ نرم او توديږي او بيا ور څخه کار اخيستل کيږي. له ايشيدلو اوبو او دهغو له بړاس څخه تر هغه وخته کار اخيستلای شو تر څو چې تودې وي.

**مصنوعي سريښ**

دا سريښ په دوه ډوله دی:

۱. د لرګي سپين سريښ: لکه د مستو په شان سپين رنګ لري او مايع يا اوبلن سوړ شکل باندې هم موندل کيږي. تل د استعمالولو لپاره تيار وي. دا د نړيوال ستندرد مطابق جوړ

شوی او په تجارتي بازارو کې پلورل کيږي. له دې څخه په آسانه کار اخيستلای شو چې هم په توده او هم په سړه هوا کې کار وکوي. د لرګي سپين سريښ په قوطيو کې د ۰,۵،۱،۲،۱۵ کيلو ګرامو په وزن پلورل کيږي. سپين سريښ له مستو، پوڅې او خرابو هډوکو څخه د کيمياوي موادو په ورګډولو جوړيږي، ښه مقاومت لري، خو د اوبو او تودوخې په وړاندې سست دی. دغه سريښ بايد نه ډير ټينګ او نه هم ډير اوبلن وي. بلکې بايد منځی حالت ولري. د سريښ کولو پر مهال بايد له وسپنيزو ګيراګانو څخه کار واخيستل شي، ځکه چې پرته له هغو کار نه کوي.

د استعمال طرز

۱. د سريښول بايد په توده هوا کې په بيړه تر سره شي تر څو ژر وچ نشي

۲. په سړه هوا کې سريښول بيړې ته اړتيا نه لري

۳. په توده هوا کې وروسته تر سريښولو ګيرا بايد دوه ساعته وروسته خلاصه شي

۴. په سړه هوا کې کيدای شي ګيراګان وروسته تر ۲۴ ساعتونو پرانيستل شي

پټکس سريښ

له دغه سريښ څخه يو په بل باندې د لرګيو د سريښولو لپاره کار نه اخيستل کيږي، بلکې په شپانپليت تختو باندې فارميکا تختې وربا ند سريښ کيږي او يا هم لاساني تختې په شپانپليت باندې وربا ندې سريښ کيږي دغه سريښ له ترکيبي کيمياوي موادو څخه جوړيږي او په ټوله نړۍ کې رواج دی. پټکس سريښ ډير ژر نښلي وروسته له څو شيلو پرته له ګيرا ډير ژر نښلي. په نورو تختو باندې فارميکا دړه په داسې ډول سريښ کيږي چې لومړۍ د فارميکا دړې چپ اړخ باندې سريښ وهل کيږي او د شپانپليت اړخ باندې هم وهل کيږي او وروسته تر پنځلسو دقيقو يو بل باندې ايښودل کيږي او په يوه مخصوصه آله باندی په فارميکا مساوي فشار راوستل کيږي، تر څو يو بل باندې په هوار ډول ونښلول شي.

د پټکس سريښ ځانګړتياوې

۱. پټکس سريښ د تودوخې په مقابل کې مقاومت نه لري، آن دا چې په توده هوا کې فارميکا دړې څخه جلا کيږي.

۲. د پټکس سريښ د ډيرژر نښلولو له امله احتياط غواړي، نو بايد ګوتې ورڅخه وژغورل شي، يعنې بايد دغه سريښ په ګوتو باندې تماس ونه کړي.

۳. پټکس سریښ باید تودوخې او اورته نژدې نشي ځکه چې اور اخلي.
۴. د استعمال په وخت کې باید د قوطي سر ژر پټ شي ځکه چې سریښ وچیږي
۵. کار باید په بیړه تر سره شي تر څو ښه نتیجه ورکړي
۶. په ټینګ سریښ باندی کار کول سمه پایله ه لري، باید د تینر تیلو په واسطه سریښ نرم شي.
۷. فارمیکا تخته یوائې په شپانپلیت او لاساني سریښ کیږي.
۸. په طبیعي لرګي باندې د فارمیکا نښلولې غلط دي، دا ځکه چې طبیعي لرګي له خپل اصلي حاله څخه بدلون مومي.
یادونه: فارمیکا تختې د پټکس په پرتله د لرګي د سپین سریښ په واسطه ډیره ښه نښلولای شو. په هغه صورت کې چې د پرس د ماشن په واسطه تر سره شي. د سور سپین سریښ په واسطه سریښ کول ښه نتیجه ورکوي هیڅکله فارمیکا له تختې څخه نه جلا کیږي.
له طبیعي لرګي څخه د څو دړو خوا په خوا نښلول
۱. د لرګي د غوره کولو مرحله: باید غوه شوې دړې په سلو کې ۸۵-۹۵ وچې وي. همداراز دړې باید یو بل سره یو رنګه وي. که د موبل او فرنیچر لپاره دړې غوره کیږي، باید درز، غوټې تورې زخې او چاودې ونه لري، پاکه وي باید تر ممکنه حده اصلاح او زخی یی له منځه یوړل شي او په فني ډول لرګي یو په بل ونښلولی شي. غټې غوټې خطرناکه وي دا ځکه چې د دړو په اوږدوالي باندې د ماتیدو سبب کیږي، نو ځکه باید د لرګي په غوره کولو کی ښه پاملرنه وشي او د وخت او لرګي د ضایع کیدو مخه ونیول شي. په ظریفو کارکولو کې ډیر دقت په کار دی تر څو کار ښه ښایسته او بی عیب وي.
۲. د کار مراحل: د دړو یا لرګي له غوره کولو وروسته هغه خوا په خوا کیښودل کیږي چې صفا مخونه یې یوې خواته وي. راسته خوا باید راسته سره او چپه له چپه سره کیښودل شي او بیا سریښ شي. د تختو پر مخ باندې غشي ډوله نښه ایښودل کیږي چې د سریښولو پر مهال د دړو د پام وړ لوری غلط نشي. ددې نښې په مرسته د تختو جفت کول او سریښول پرته له غلطۍ په فني او مسلکي توګه ترسره کیږي. په لاندې دوو شکلونو کې د تختو یو ځای کول او خوا په خوا کیښودل په فني ډول ښودل شوي دي او کونجونه د ۹۰ درجو په زاویه کې په کچ، رند او یا هم د زنده پلند په واسطه تیار جوړ شوي دي.

۳. که چیرې په تختو باندې کوم فشار وارد نشي امکان لري چې تختې پرته له جفت کاري او سریښ څخه پرته له کوم ځاینتې یا د سریښلو له وسیلې څخه ترسره شي لکه الماری یا موبل او نور. که چیرې په تختو باندې فشار یا وزن راوستل شي باید د لرګي له ځاینتهونو څخه استفاده وشي لکه د دفتر د میزونو، یا د کوټې د فرش تختې او نور.

۴.نظر هغې نښې ته چې په تخته باندې شوي په ترتیب سره د لرګي اړخونه د برس په واسطه سریښ باندې لړل کیږي او بیا یو بل سره نښلول کیږي او په دوه متره ګیرا کې کلکیږي. دا ډیره مهمه ده چې له ګیرا څخه په فني توګه استفاده وشي مثلاً د تختو په دوو سرونو کې لویې شکنجې او تختو په منځ کې لاسي ګیرا کلکې شي. ددې لپاره چې تختې په یوه سطح پاتې شي او د ګیرا د ټینګولو پرمهال یو بل څخه لرې نشي د تختو په دواړو څوکو کې په لاسي ګیرا باندې چفتي کلکوو او په دې توګه تختې هیڅکله یو بل څخه نه لرې کیږې او مراحل په فني او مسلکي ډول سره ترسره کیږي.

۵. سریښول باید په توده هوا کې وشي چې دړې هم کلکیږي او ژر هم وچیږي. ګیرا وروسته له ۲-۴ ساعتونو له دړو لرې کیږي، خو لاهم باید کار ورباندې ونشي او ۲۴ ساعته باید همداسې کیښودل شي. په سړه هوا کې سریښول ښه نتیجه نه ورکوي، دا ځکه چې سریښ سړیږي او د سریښولو خواص له لاسه ورکوي، نو ځکه په ژمي کې باید سریښول په هغو کوټو کې دننه وشي چې تودوخه یې د سلزیوس له ۱۵ درجو څخه کمه نه وي او ګیرا هم باید تر ۲۴ ساعتونو وروباندې ټینګه وي.

## ګلګل او په لرګي باندې د هغه استعمال

ګلګل هغه مواد دي چې د لرګي په مخ باندې د میخ، پیچونو، ژورو ځایونو، درزونو او سوریو د پټولو لپاره په کار ځي او لرګي هوار او ښوی بریښي او داغونه یې نه ښکاري. ګلګل بیلابیل ډولونه لري چې د لرګي د نوعیت، رنګ او څرنګوالی له مخې جوړیږي. بیلابیل ډولونه یې دادي:

۱. دلرګي د برادې( ټوټو) ګلګل: دغه ګلګل د لرګي له ټوټو او میده ګي څخه جوړیږي. د لرګی ډیر ضعیف میده ګي له سپین سریښ سره ګډیږي او ګلګل ورڅخه ترلاسه کیږي. باید غټ میده ګي غوره نشي، دا ځکه چې ګلګل کاري هم زیږه وی او د لرګی مخ نور هم خرابوي.

۲. د لرګي له مقطع او ذراتو څخه جوړشوی ګلګل: د لرګي له مقطع او میدګیو څخه ډیر ښه ګلګل جوړیدای شي. دغه ګلګل په فني ډول سره په لاندې توګه جوړیدای شي چې 10x10 سانتي متره یو لرګی په ګیرا کې کلکوي او په چورس باندې یې سولوي چې لکه د پوډرو په شان یې میده ګي تویيږي او بیا یې له سریښ سره ګډه او خمیره کوي خو دغه لرګی باید ترکار لاندې لرګي سره یو شانته وي په دې ډول سره یو ډېر ښه ګلګل ترلاسه کولای شو. که رنګ یې ښه نه وي، لږ رنګ هم ورسره اضافه کوو وروسته د لرګي په درزونو، داغونو، سوریو، او زخو باندې د لسې په واسطه موښو. ګلګل شوي برخه باید له اصیل لرګي څخه لږ پورته وي تر څو وروسته تر وچېدو څخه بېرته د لرګي له سطح سره برابره شي. که د لرګي له سطح څخه ژوره وي مجبور یاستو چې یو ځل بیا ګلګل کاري وکړو چې دا کار زمونږ وخت ضایع کوي. ګلګل وروسته تر ۱۰ – ۲۰ ساعتونو وچېږي دا وخت که د تینر تېل هم ورګډ شي ښه به وي. دا ځکه چې ژر وچېږي او وخت نه ضایع کوي که چېرې ورنس او سریښ سره ګډ شي، نور هم ښه کیږي که ګلګل د لرګي په شان نه وي، کېدای شي چې له پوډري رنګونو کار واخلو.

۳. د لرګي همرنګه ګلګل: د لرګي له رنګونو سره سم معدني مخصوص رنګونه جوړشوي دي چې د اړتیا پر مهال یې له سریښو سره ګډولای شو او په تودو اوبو کې یې خمیره کولای شو او لرګی سره ورته رنګ باندې ګلګل ورڅخه جوړیږي. دغه ډول ګلګل په قیمتي کارونو کې استعمالیږي. وروسته تر صفا کارۍ څخه لرګی باید پالش شي. د مطلوب رنګ د جوړولو لپاره دوه ډوله رنګ هم سره ګډولای شو او بیا پس له هغه باید په لرګي باندې ګلګل کاري وشي. مخکې تر استعمال څخه به ښه وي چې ګلګل یو ځل په یوه بېکاره لرګي باندې و ازمایل شي که د لرګي د رنګ مطابق نه و، باید استعمال نشي. د ګلګل لپاره رنګونه په لاندې توګه دي: قهوه یي روښانه، تیاره قهوه یي، ژېړ نارنجي ډوله، لاجوردي شین بخن، او نور.

۴. روغني ګلګل: قاشقاري سپین پوډر له تینري روغني رنګ سره یو ځای ډېر ښه ګلګل ترلاسه کوي. له دې ډول ګلګل څخه د ودانیزو چارو لکه دروازې جوړولو، کړکۍ او نورو کارونو لپاره کار اخېستل کیږي. ګلګل باید نه ډېر نرم او نه ډېر کلک وي. ګلګل له ودانیزو چارو پرته د موبل جوړولو کې هم په کار ځي باید له نرم او مناسب ګلګل څخه کار واخلو دا ځکه چې په دې ډول ګلګل سره د لرګي ټوله سطح په لسه باندې ښه موښل کېدای شي او وروسته تر وچېدو څخه یې ریګمالي هم په ښه شکل ترسره کېدای شي او بیا ورپسې رنګ

کیږي. سپین قاشقاري پوډر له الف تېل سره یو ځای او یو ښه روغني ګلګل ورڅخه جوړیږي چې په ودانیزو چارو کې ورڅخه استفاده کیږي. که چېرې مو بل هم روغني رنګ ته اړتیا ولري باید مخکې تر رنګولو د دغه ډول ګلګل په واسطه ګلګل کاري او هوار شي. که چېرې په فني او مسلکي توګه کار وشي هېڅوک به پوه نشي چې آیا دا له روغني رنګ څخه استفاده شوې او که فارمیکا باندې ورق شاني شوې ده او دا یوه لویه لاسته راوړنه ده.
**۵. د ګلګل کاري سامان:** د ګلګل کاري ځانګړې وسیلې ته لسه وایي چې له نازکو پولادو جوړیږي او راز راز شکلونه لري تر څو قات او کږه نشي، د لسې څوکه باید هواره او منظمه وي او کنډوه نه وي تر څو ګلګل په فني او مسلکي توګه د لرګي پرمخ هوار او د ګلګل کارۍ مخ باید ښه هوار او صفا وي. د ګلګل کارۍ لسې په دوو ډولونو دي: څلور رخه مسطتیل هوارې لسې چې نازک لاستی لري او بل ډول یې مثلثي شکله او د قوي لاستي لرونکې لسې دي. لسې د ۳ – ۵ او ۸ سانتي متره اندازو لرونکې دي چې د اړتیا له مخې ورڅخه کار اخېستل کیږي. باید لسه وروسته تر کار څخه پاکه شي. دا د کار مهمه وسیله ده.
**۶. د ګلګل کارۍ تخته:** هغه وسیله ده چې د هغې پرمخ باندې ګلګل جوړیږي او ۳×۳۰×۴۰ سانتي مترو په اندازه وي. د ګلګل جوړولو تخته باید له کلک او هوار لرګي څخه جوړه شي چې درزونه، چاودې او زخې ونه لري. ګلګل باید د اړتیا په اندازه جوړ شي چې وچ نه شي، که کار ډېر وي نو غوره ده چې پاتې ګلګل د تختې په یوه کونج کې په پلاستیک پټ کړو چې وچ نشي او بیا د اړتیا پر مهال ورڅخه کار واخلو. وروسته تر ګلګل کارۍ باید تخته پاکه او وچه کړو.

## د ګلګل کارۍ پر مهال د یو شمېر ټکو په پام کې نیول

۱. د ګلګل رنګ ډېر مهم دی چې باید د لرګي په رنګ وي.
۲. باید ډېر دقت وشي چې ګلګل یوازې د لرګي په درزونو او سوریو کې کېښودل شي او نورو برخو ته یې د خبرېدو مخه ونیول شي دا ځکه چې وروسته تر وچېدو یې مخنیوی آسانه نه دی.
۳. د ګلګل په جوړولو کې باید پاملرنه وشي چې نه ډېر کلک وي نه ډېر اوبلن.
۴. د لویو سوریو د ډکولو پر مهال باید اول له سرېښ لرونکي ګلګل څخه چې رنګ نه لري استفاده وشي وروسته یې پر مخ باندې رنګ لرونکی ګلګل هوار شي.

## د لرګي رېګمال کول

هغه اجناس چې د لرګي په تخنیک کې تولیدیږي باید مخکې تر پالش کولو څخه په فني او مسلکي ډول رېګمال کاري شي تر څو د لرګی مخ ښه صفا او هوار شي او د لرګی د ودې کرښې او ګلان په طبیعي بڼه راڅرګند شي او پالش کولو ته چمتو شي. ښکاره خبره ده چې د لرګی مخ وروسته تر زیږې رنده کارۍ څخه مته رنده کارۍ ته اړتیا لري او بیا وروسته باید رېګمال او په پای کې ښه صفا کاري شي. ښه رېګمال کول جنس با کیفیته او ښکلی کوي.

## د لرګیو د رېګمال ډولونه

رېګمال بېلابېل ډولونه لري لکه: کاغذي مستطیل شکله، تسمه یي رېګمال، متري او دایروي رېګمال.

۱. کاغذي مستطیل شکله رېګمال: د ۲۰ × ۳۰ سانتي مترو په اندازه د ځانګړو خصوصیاتو په درلودلو سره داسې جوړ شوی دی چې د ۱–۱، ۲ او ۵، ۰ او صفر نمرو یا درجو لرونکی دی. د ډېر ظریف کار لپاره له صفر او ۵، ۰ درجې رېګمال څخه کار اخېستل کیږي، خو د زیږه کار لپاره ۵، ۱ درجه رېګمال کارول کیږي. دغه ډول رېګمال ۲×۶×۱۲ سانتي مترو په اندازه له څلور اړخه لرګي پرمخ باندې اېښودل کیږي او بیا په کار اچول کیږي. همدا رنګه اوس وخت کې د رېګمالي ماشینونه هم راوتلي دي او په ښه ډول سره کار پرمخ بیایي.

۲. تسمه یي او متري رېګمال: له ۱۰۰ تر ۵۰۰ سانتي مترو پورې اوږدوالی او ۶، ۸، ۱۰ او ۲۰ سانتي مترو په اندازه سور لري چې هم د لاس په واسطه او هم د ماشین په واسطه کار کوي.

۳. دایروي رېګمال: دغه ډول رېګمال د لاسي ماشین لپاره او د مدور لوی ماشین لپاره دی چې د کار ښه وړتیا لري. مدور رېګمال د دوراني ماشین په واسطه په لرګی باندې حرکت کوي او لرګی په ښه مسلکي او فني ډول هواروي چې د کار پر مهال باید د لرګی د ودې په سرچپه خوا کار ورباندې وشي.

۴. د کارولو طرز: د لرګی د تخنیک په سیستم کې باید رېګمال کاري د لرګی د طول او نمو په لوري وشي. باید د لرګی د مخ زخې، داغونه او ټپونه ورباندې پاک شي او یوه ښه ښویه او صفا سطح ورڅخه ترلاسه شي. که د لرګي د عرض په لوري چې موج هم ورته ویل کیږي، رېګمال کاري وشي، لرګی نه هواریږي، بلکې زیږ او خط خط کیږي او کار خرابوي. که چیرې

د صفر رېګمال په واسطه ظریف کار کیږي، بیا نو دوهمه مرحله پیل کیږي. په دې مرحله کې باید د لرګي مخ لږ څه لوند شي او وروسته تر دوو یا څلورو ساعتونو په صفر نمره باندې رېګمال شي او لرګی پالش کاري ته چمتو شي.

**د لرګينو محصولاتو رنګ کول**

د لرګي رنګ او پالش کول يو ډېر مهم او حساس عامل دی چې د هغه د تطبيق او ښه استعمال په اثر يو ډېر ښه توليد ترلاسه کېدای شي، ښه رنګ او پالش د يوه محصول په سلو کې ۶۰ ښکلا رامنځته کوي.

**د لرګي پالش او ورنس**

پالش هغه مايع مواد دي چې د کيمياوي موادو لکه لاک، اسپرټ او الکولو څخه جوړ شوي وي دغه مواد پرته له دې چې د لرګيو د ښکلا او صفا کاري لپاره په کار ځي لرګی له اضافي غوړ، لمدبل او نورې ناپاکۍ څخه هم صفا کوي. په دې توګه د لرګي پالش کول د لرګي د ښکلا او ځلا لپاره او د اجناساو د عمر د اوږدولو لپاره يوه ډېره ښه وسيله ده ښه پالش کول لرګی د تودې او سړې هوا له ناوړه تأثيراتو څخه ساتي او راز راز ټاپې او داغونه هم له منځه وړي او لرګی له کږېدلو او پټ کېدلو څخه ژغوري، که چېرې په توليد شوي جنس باندې پالش کاري ونشي، د هغه په شکل کې بدلون راځي او جنس بد ښکاري.

۱. د لرګي ورنس: ورنس هم د پالش په کورنۍ پورې اړه لري، خو د پالش په پرتله لږ څه ټينګ دی چې ځينو وختو کې په کار ځي. ورنس د لرګي د ننه باندې لږ څه ټينګ او پلن کارول کيږي، خو د لرګي په مخ باندې بيا ضعيف او اوبلن کارول کيږي. ورنس د پترولو يا هم د تينرتېلو په واسطه اوبلن کولای شو او بيا د پالش په ښه ورڅخه کار اخلو. په دې توګه د پالش او ورنس دنده دا ده چې توليد شوی جنس ښايسته کوی او له منفي اغېزو څخه لرګي ساتی. د لرګي ورنس او پالش په دوو ډولونو کيږي: جلادار او بې جلا.

۲. جلادار: په دې کې له هغو موادو څخه کار اخېستل کيږي، چې روښانه او ځلانده خواص لري او لرګی روښانه ښکاره کوي يعنې دا د مشتري غوښتنې پورې اړه لري، خو دواړه ډوله پالش هم ځلا لرونکی او هم بې ځلا د لرګی د ښه والی لامل کيږي.

۳. بې جلا پالش: لکه چې مخکې وويل شول په توليد شويو اجناسو باندې د دواړه ډوله پالش اغېزه يو شان ده، خو بې ځلا پالش يوه بله ښېګڼه هم لري او هغه دا ده چې لرګی زوړ او

پخوانی ښيي او د پخوانيو يا لرغونو کارونو نښه ګرځي، نو ځکه دا هم د ترکاڼي چارو کې يو ه لاسته راوړنه ده.

۴. ورنس: د پالش تینګ او اوبلن ورنس دواړه په قوطيو کې بازار ته عرضه کيږي چې د ۱،۲،۳،۴ او ۱۰ کيلو په وزن وي. پورتنی قوطي د ورځنۍ مصرف له مخې پېرودل کيږي او په کوچنيو کارونو کې سپکو قوطيو څخه، خو په ډېر کار کې له لويو قوطيو استفاده کيږي. هغه پالش چې اروپايي هېوادو کې توليديږي لوړ کيفيت لري چې د لرګي په کيفيت هم ښه تأثير کوي، خو د توليد جنس د بيو د جګېدو لامل ګرځي، چې ممکن تقاضا ورته کمه شي. نن ورځ ايراني پالشونه هم له اروپايي سره برابر کيفيت لري چې مونږ ته مناسب ښکاري. دا پالشونه په دوه ډوله وي سېلر پالش او پولستر.

۵. سېلر پالش: دا ډېرې ښې ځانګړنې لري او په لرګي باندې غوره اغېزه لري. دې ته هم بې ځلا پالش وايي چې د لرګي کيفيت ښه کوي يعنې د لرګي په مغز کې جذب کيږي او لرګی کلکوي.

۶. پولېستر پالش: دا ځلا لرونکی پالش دی چې د سېلر له استعمالولو وروسته په دوهم ځل باندې په لرګي استعماليږي او دوه ځله بايد په توليد شوي جنس باندې پالش شي. په پای کې لرګی ته خاصه روښنايي او ځلا وربخښي.

۷. پالش د رنګ د بدلون له مخې دوه ډوله دي: هغه پالش چې دلرګي رنګ وربدلوي او بل هغه چې رنګ نه بدلوي خو د لرګي دوام ښه کوي. هر ډول پورتني پالشونه خپل خپل خاصيتونه لري چې له بېلابېلو اجزاوو څخه جوړ شوي دی. ځينې مشتريان غواړي چې د لرګي رنګ کې بدلون راشي ځينې غواړي چې لرګي په هماغه خپل طبيعي رنګ اوسي، ځينې خلا لرونکي او ځينې بې ځلا خوښوي، نو ځکه د ترکاڼي دستګاه د مشتري غوښتنې ته ګوري او هغسې کار کوي.

## په پالش کاري کې ساتنه او خارنه

۱. ورنس او پالش کې تينر تېل ګډوي چې د ډېر لږ تودوخې له امله هم د اورلګېدنې لامل کيږي، نو ځکه بايد ډېر احتياط وشي.

۲. د ټینګ ورنس د پالش او ترکیب کولو پرمهال باید ډېره پاملرنه وشي چې د تینرو قوطۍ سرپوښ خلاص نه وي، یعنې باید ژر وتړل شي، پرته له هغه د تنفسي ستونزو او ربزش لامل کیږي او له اور څخه باید لرې وي.

د پالش کاري شاپ: پالش کاري باید په یوه ځانګړې ځای کې وشي چې هغه ته د پالش کاري اطاق یا ورکشاپ وایي. هلته تل د اړتیا وړ وسایل چمتو وي د غه اتاق باید له خاورو او دوړو څخه پاک وي او له پالش کارۍ مخکې باید د اتاق مخ اپیاشي شي او دوړې له منځه یوړل شي ترڅو کار ښه روښانه راشي. تینر تېل او د ورنس قوطۍ باید ځانګړې ځای کې وساتل شي او له هر ډول خطر او تودوخې څخه وساتل شي.

د پالش کارۍ وسایل: پالش کارۍ په درې ډولونو ترسره کیږي:

۱. د ځانګړي برس په وسیله ورنس په لرګي موښل کیږي، خو په دې طریقه کې ورنس کارۍ ښه روښانه او ښویه نه وي، ځینې ټاپې پکښې ښکاري او اثر بې کیفیته کوي، خو د غیر ظریف کار لپاره بده نه ده.

۲. د ټوټې په واسطه پالش کارۍ چې پتلې ورته وایي د منلو وړ ده ځکه تر برس څخه پتلې یا ټوټه نرمه ده. تافته رخت څو طبقې مروړل کیږي او بیا د لرګي پرمخ په لاس باندې ښه موښل کیږي او بیا په لرګي باندې هېڅ ډول داغ یا لکه نه پاتې کیږي او د لرګی مخ لکه د ښیښې په شان صفا کیږي. په دې توګه د مشتري پاملرنه ځانته را اړوي، خو باید دغه ټوټه تارونه او مویک ونه لري دا ځکه چې بیا د پالش ځلا خرابوي.

۳. د رنګمالي د تفنګچې په واسطه پالش کول: د تجربې له مخې دغې طریقې هم ښه نتیجه ورکړې ده چې لږ وخت کې ډېر کار پرمخ ځي. په دې سیستم کې د کمپریسور د ماشین په واسطه د هوا په فشار پالش ترسره کیږي او جنس ښکلا او ځلا پیدا کوي او مشتریان جلبوي.

۴. سپرې پالش: دغه قطۍ د سپرې پالش په نوم بازار کې شته او په ستندرد شکل د نیمې کیلو په وزن پلورل کیږي. نن ورځ د لرګي په تخنیک کې ډېر ورڅخه کار اخېستل کیږي. دا ډېر ساده شکل لري هرڅوک په کور کې هم هغه استعمالولای شي او اضافي مصارف هم نه لري لکه د کمپریسور د ماشین په شان کارکوي او د ګوتې په فشار سره کولای شو هغه استعمال کړو. دا هم په دوه ډوله دي: جلادار او بې جلا، چې د مشتري غوښتنې سره سم کوچنۍ او لوی تولید کې استعمالېدلای شي.

## د پالش کارۍ پړاوونه

۱. باید د لرګي اثر یا تولید شوی جنس د ترکانۍ چارو له پای ته رسېدو وروسته د ۵،۰ رېګمال په واسطه رېګمال شي.
۲. وروسته تر لومړني رېګمال باید د دوهم ځل لپاره په صفر درجه رېګمال باندې یو ځل بیا رېګمال شي تر څو د لرګي مخ ښه صفا شي.

## د لرګي بیسن کاري

د لرګي د مخ بیسن کاري په بېلابېلو رنګونو باندې پوډري رنګونه دي چې د لرګي پرمخ ورڅخه استفاده کیږي، که چېرې وغوښتل شي چې د مشتري په خوښه د لرګي رنګ بدل کړو، نو له دغه رنګ څخه کار اخلو چې لرګی لکه د هېنداري په شان ځلا پیدا کوي، خو که وغواړو چې ځلا یې لږ کمه وي، نو بې ځلا روغني رنګ څخه استفاده کوو. دغه ډول رنګ ته مات ویل کیږي. مات کوونکي مواد په رنګ کې اضافه کوو او وروسته تر وچېدو څخه یې رنګ ډېره ځلا نه لري او رڼا نه پکښې منعکس کیږي.

## استر رنګ

دغه رنګ هغه ډول مواد دي چې له اصلي رنګ څخه مخکې په لرګي باندې استعمالیږي او دا د لرګی د رنګ د بدلولو لپاره جوړ شوی دی، یعنې د لرګی مخ د اصلي رنګ د منلو لپاره چمتو کوي، استري رنګونه د اوبو په واسطه حل کیږي. دا طبیعي رنګونه دي چې له تنباکو، زعفران یا نورو بوټو څخه جوړیږي. د دغو رنګونو جوړول یو ستونزمن کار دی.

**الکولي استر رنګونه**

دغه استري رنګونه له نقره یي او طلایي لاک واد څخه دی چې په فني او مسلکي ډول سره جوړ شوی او د الکول په واسطه حل کیږي. پخوا له دغو رنګونو څخه ډېره استفاده کېدله.

**نفتي استر رنګونه**

دغه رنګونه د تارپین تېلو په واسطه حل کیږي چې د موم استر رنګ په نوم هم یادیږي چې موم له بېلابېلو رنګ دانو سره یو ځای کیږي او بیا تر استفادې لاندې راوستل کیږي. د دغو رنګونو عیب دا دی چې تارپین تېل او نفتي مواد د لرګي مغز ته نه رسیږي او کم نفوذ لري او د لرګي مخ زیږ پاتې کیږي.

## د رنګمالي سامان او وسایل

روغني رنګونه د هغو طریقو له مخې چې جوړ شوي دي، د استعمال بېلا بېل ډولونه لري او په بېلا بېلو طریقو باندې ورباندې هر سامان او تولید شوی جنس رنګ کولای شو د هغو ډېر مهم یې د رنګ کولو تکه (ټوټه)، درنګ کولو برس او د رنګ کولو تفنګچه یا پستول دی. هر یو به تشریح کړو:

۱. د رنګ کولو تکه (ټوکر یا ټوټه): باید دغه ډول ټوټه ډېره پاکه او پرته له اضافي تارونو ټخه وي او هېڅ غوړ او خیرې باید ونه لري. دا یوه پخوانۍ طریقه ده او س ښه پایله نه لري.

۲. د رنګ کولو برس: د رنګ کولو برسونه د رنګ د ټوکر یا ټوټې په پرتله ساده او غوره دی چې تولید شوي اجناس ورباندې په ښه ډول رنګ کولای شو. برسونه بېلا بېل اشکال او اندازې لري لکه نیم انچ، یو انچ، دوه، ځلور او شپږ انچه، هریو خپل ځانګړی ځای کې کارول کیږي. دبېلګې په توګه د کوچنیو تولیداتو او سامانونو لپاره واړه برسونه، خو د زیات کار لپاره لوی برسونه په کار دي. باید د برس د څوکې صرف ۳ – ۴ سانتي متره برخه په رنګ کې غوټه (غوپه) شي، له هغه اضافه برس خرابوي، وروسته د کار له پای ته رسېدو څخه باید برس ډېر ژر په تینر تېلو باندې ومینځل شي پرته له هغه رنګ ورباندې وچیږي او برس له کاره غورځي چې دا یوه اقتصادي ضایعه ده.

۳. تفنګچه یا د رنګمالي پستول: دا درنګ کولو یوه پرمختللې او نوې وسیله ده چې د کار (لرګی) مخ په روڼ او یو شانته ښه رنګوي. دغه تفنګچې ماهرو کارګرو ته اړتیا لري چې پرته له ځنډ څخه د کار (تولید شوی جنس) مخ په شفاف ډول رنګ کړي او عالي کیفیت جنس ترلاسه شي او د کار اهمیت لوړ شي. د رنګ کولو تومانچه د هوا د فشار او د هوا د ماشن په زور (کمپرېسور) په ذریعه په قوي فشار سره رنګ د تولید شویو اجناسو پرمخ پاشي. د رنګ کولو تفنګچه د کار د لویو تولیداتو مخ په کم وخت کې رنګوي. د کوچنیو کارو لپاره دغه ډول تفنګچې نه استعمالیږي، دا ځکه چې د رنګ ضایعات زیاتیږي. باید لومړی رنګ په یوه دړه وازمایل شي او وروسته بیا په اصلي کار پیل وشي. د کار د پای ته رسېدو سره سم باید دغه وسیله په تېلو ومینځل شي.

## د ترکاڼۍ او معماري په چارو کې د آب ترازو استعمال

آب ترازو هم یوه مهمه وسیله ده چې د سطح د برابروالي او د لېول د کنترول کولو او اصلاح کولو لپاره په کار ځي. دغه سطح هم عمودي وي هم افقي، لکه دېوالونه، سنګ کاري، پایه، سرطاق او د ودانۍ نورې برخې. آب ترازو په فني او مسلکي توګه د باتجربه معمارانو په لاس اجرا کیږي، تر څو د ودانیو مسطح او افقی برخې هوارې او سره برابرې شي. که چېرې په ودانیو کې له آب ترازو څخه په ښه توګه استفاده ونشي په زلزلو او نورو پېښو کې د ودانیو د نړېدو خطر شته، نو باید ختګر او ترکاڼان د هر کتار خښتو او پایې لګولو وروسته دېوال، پایه او سنګ کاري لېول او آب ترازو کړي. له آب ترازو څخه کار اخېستل په نجارۍ کې هم ډېر مهم دی. د دروازو د چوکاټونو درول، د کړکیو افقي او عمودي پایه بندۍ، د چتونو قالب بندۍ، د سرطاقونو افقي جوړول، د کوټې د مخ هوارولی، دستک اچول او مسطح کول ټول په آبترازو باندې سمبدلای شي.

## د آب ترازو ډولونه

آب ترازوګان دوه ډوله دي: لاسي او پایيي. دا هریو یې خپله خپله ځانګړتیاوې لري او د اړتیا پر مهال جلا ډول باندې په کار اچول کیږي. دغه وسایل د معمارۍ او ترکاڼۍ د مجربو استادانو شتون ته اړتیا لري. هریو یې په لاندې ډول دي:

۱. لاسي آبترازو: له لرګي یا فلز څخه جوړیږي او د ۲۰، ۳۰، ۶۰، ۱۰۰ او ۱۲۰ سانتي مترو په اوږدوالی په بازار کې موندل کیږي. دا هر یو یې د کار د اندازې له مخې غوره کیږي. په ترکاڼي کې معمولا د لرګي له آبترازو څخه کار اخېستل کیږي، خو د ختګرۍ د چارو لپاره المونیمي استعمالیږي، دا ځکه چې سپک او د اوبو به وړاندې کلک دی. فلزي (المونیمي) آبترازو له سپکوالي او کلکوالي پرته زنګ هم نه وهي یعنې اکسید یې ازاد وي. آبترازو د ترکاڼۍ د کارونو د افقي او عمودي لېول کولو وسیله ده. د ښیښې په منځ کې یې یو خوځېدونکی ځګ لیدل کیږي. د دغه ځګ حرکت ډېر دقیق او د اعتبار وړ وي او د یوې سطح ټیټوالی او جګوالی (مټه او نګون) د ښیښې مرکز کې ورباندې معلومیږي که چېرې یوه افقي یا عمودي سطح هواره وي دغه ځګ د ښیښې په مرکز کې دریږي. که هواره نه وي ښي یا کیڼ لوري ته ځي، چې په دې حالت کې باید سطح اصلاح شي. په آبترازو کې دوه ځګ

لرونکي ښيښې وي، يوه يې افقي او بله يې عمودي. آبترازو بايد ډېر ښه وساتل شي دا ځکه چې دا د کار يوه مهمه وسيله ده بايد له غورځېدلو او ټکان خوړلو څخه وساتل شي.

۲. پايپي آبترازو: که چېرې اوبه په هر لوښي کې واچول شي، په افقي حالت دريږي او د نوموړي لوښي شکل غوره کوي. پايپ څخه جوړ شوي آبترازو يا پايپي آبترازو يو پلاستيکي روڼ پايپ دی چې اوبه پکښې وي. کله چې اوبه د A نقطه کې وي بالمقابل يې B نقطه په نښه کيږي، په دې توګه AB نقاط په يوه مساوي افقي خط کې راځي، په دې ډول سره کولای شو چې بېلابېل نقاط نظر يوې ټاکلي نقطې ته لېول کړو. د دغې عمليې د اجرا کولو پرمهال بايد پلاستيکي پايپ له هوا څخه تش وي، پرته له هغه به د آبترازو کار سم نه وي.

**د آبترازو د استعمال ځايونه**

پايپي آبترازو په کانکريټي او چوبي سرطاقونو، تاودونو، د اوږدو او لويو چتونو د جګوالي په لېول کې کولو او ډېرو نورو ځايونو کې په کار ځي لکه لاندې شکلونه:

**تار او رجه او په خټګرۍ او ترکاڼۍ کې يې ارزښت**

رجه يو ځانګړی کلک تار دی چې درې ميلي متره قطر لري، دا دنجارۍ او خټګرۍ يوه مهمه وسيله ده. د کورونو او د ودانيو جوړول پرته له رجې څخه سم سم نه راځي. په رجې سره دېوالونه او د ودانۍ فني او مسلکي بڼه باندې جوړيږي، د بېلګې په توګه د تارونو خط اچول، د دېوالونو سنګ کاري، د دېوالونو د خښتو لګول او نور ټول کارونه په رجه باندې کيږي. معمولاً د ديوالونو عمودي اړخ په شاقول او افقي يې د آبترازو او رجې په واسطه کيږي. يو مسلکي او لايق خټګر بايد د هر کتار خښتې په لګولو کې يو ځل يا د تيږو د لګولو پرمهال هغه يو ځل د شاقول او د رجې په تار باندې کنترول کړي تر څو دېوال سم او نېغ اوچت شي.

د ترګاڼۍ او د لرګيو په تخنيک کې رجه: رجه په ترکاڼي کې هم اغېزمنه ده، د بېلګې په توګه د لرګينو مسطح ګانو، لرګين فرش، د پارتېشنونو په جوړولو، د لويو سالونونو په قالب بندۍ، د کانکرېټي چتونو په جوړولو، د سرطاقونو په لګولو او د کانکرېټي زينو په جوړولو کې رجه ډېره مهمه ده لکه لاندې شکل.

**شاقول او په ترکاڼي او خټګرۍ کې له هغه څخه کار اخیستل**

شاقول د ترکاڼۍ او معمارۍ یوه مهمه وسیله ده او په دغو څانګو کې مهمه دنده لري. لکه چې ثابته ده د ودانیو د چارو پرمخ بیول او د ترکاڼۍ د یوې برخې اجرأ کول د شاقول په نشتوالي کې نشي ترسره کېدای. شاقول له یوه فلز لرونکي وزن (مثلا وسپنه) او د رجې له تار څخه جوړیږي. دغه وسپنیز جوړښت مخروطي شکل لري چې تېره ثوکه یې مخ ښکته خواته وي. د هغې اوږدوالی ۳ – ۵ سانتي متره او قطر یې څلور سانتي متره وي. د کار کولو پر مهال د شاقول ثوکه مخ ښکته خواته او د قطر بېخ یې مخ پورته وي. په دغه برخه کې یعنې په آخري نقطه کې یو سوری لري او هلته د شاقول تار تړل کیږي او د همدې تار په واسطه د دېوال په اړخ راځړول کیږي. له دې سره یو ځای یو مستطیل ډوله واشل هم په تار کې وي چې د هغه قطر هم د شاقول د قطر سره برابر وي چې دې ته د شاقول د اندازه کولو واشل وایي. اندازه کوونکی واشل په خپل منځ کې سوری لري چې په تار کې حرکت کوي. په هر ځل اندازه کولو کې واشل دېوال سره نښلول کیږي تر څو کار په سم ډول پر مخ ولاړ شي.

**د شاقول د استعمال ځایونه**

شاقول د دېوالونو د جوړولو، خښتي لګولو، کانکرېټي پایو، د دېوالو او تادونو تیرو لګولو، پایه لګولو او نورو کارونو کې په کاریږي. د اندازه کولو واشل د دېوال په برخه کې نښلول کیږي او په خپله شاقل مخ ښکته خواته د دېوال تر پایه ځوړندیږي په دې توګه د دېوال، پایې او تاداو نېغ او سموالی راښکاره کوي.

۱. که چېرې دیوال عمودی او سم وي، ځوړند شوی شاقل باید په ټیټه نقطه کې ۵،۰ میلي متره له دېوال څخه لرې وي او په دېوال باندې باید نه وي نښتی، دا د دې په خاطر چې موږ پوه شو چې آیا دېوال مته دی که نګون، ډېره ضروري ده چې د دېوال د کنترول پرمهال همدغه د ۵،۰ میلي مترو اندازه په پام کې ونیول شي، په دې توګه به د دېوال عمود او سم صفا نېغ او چت شي.

که چېرې شاقل په دېوال باندې بیخي نښتی وي یا له ۵،۰ میلي مترو څخه زیات لرې وي، نو دېوال یا پایه غیر فني ده، یعنې دېوال مته او نګون شوی دی او دا به چپه کیږي. د ترکاڼ او خټګر دنده ده چې د خپل کار په هره شېبه او هر ګام کې کنټرول او شاقل کول ترسره کړي. په دې توګه شاقل د دېوالونو، تاداو، پایو، کړکیو، د دروازو او نورو چارو سموالی راښيي. په

نورو هېوادو کې دومره اوچته ودانۍ جوړېږي چې لوړوالی یې تر ۲۰۰ یا ۵۰۰ مترو پورې وي. که ډېر لږ بې پامي هم وشي نو د ودانۍ د نړېدو خطر شته، خټګران او ترکاڼ مکلف دي چې دغه ډول ودانۍ ساتتي په ساتتي کنترول کړي.
الف) لومړی شکل چوبي پایه: په دغه شکل کې دغه پایه یا دېوال د شاقل په مرسته نېغ او عمود جوړ شوی نه دی، د دې نیمګړتیا دا ده چې په شاقل باندې نه دی کنترول شوی، نو کله چې سرطاق او چت ورباندې جوړ شي، ممکن چپه شي، نو باید اصلاح شي.
ب) دوهم نمبر چوبي پایه: دغه پایه په فني او مسلکي توګه درول شوی ده او عمود ښکاري، نو دلته د خطر امکان نشته، نو ځکه لومړنی پایه هم باید همداسې کنترول شي او اشتباه له منځه ولاړه شي. لکه چې په بل شکل کې د خښتو په پایه کې ښکاري دغه پایه د شاقل په مرسته ښه پوره عمود او سمه جوړه شوې ده او کوم تخنیکي نقص نه لري.

## د لرګی مېخ او پېچ او د لرګی په تخنیک او ترکاڼي کې یې فعالیت

مېخونه او پېچونه د دوو یا له هغو څخه زیاتو لرګیو سره نښلولو او کلکولو وسایل دي. په بله وینا په مېخ او پېچ باندې دوه ټوټې لرګي یو پر بلې باندې کلکیږي. له مېخ څخه د عاجل او غیر دقیق کار لپاره استفاده کیږي، خو پېچ د دوامداره او پوخ کار لپاره استعمالیږي. دغه وسایل هم متحرک او هم ساکن وي. د متحرک معنا دا ده چې د لرګي پیچونه ډېر ښه خواص لري. له پېچونو ځکه استفاده کیږي چې ځینې وختونه سریښ کافي نه بلل کیږي نو ځکه له چوپ پېچ طریقې څخه استفاده کیږي. چوب پېچ کارته مقاومت ورکوي. د بېلګې په توګه په هغو الماریو باندې چې ډېر وزن اخلي له دې طریقې استفاده کیږي یا دخوب کټ او نور وسایل. هغه وسایل چې لېږدول یې ګران دی لکه ډېرې لویې دروازې یا بل څه د هغو لپاره هم چوب پېچ ښه طریقه ده. په دې طریقه کې د کار بېلابېلې ټوټې پرانېستل او تړل کیدای شي.
۱. فلزي مېخونه: فلزي مېخونه ثابت شکل او جوړښت لري چې څوکه یې تېره او سر یې پلن وي او بېلابېل سایزونه لري. مېخونه په انچ باندې اندازه شوي دي. یو شمېر مېخونه د کار د وسیلې د پرېړوالی له مخې اندازه کیږي مثلا له ۰،۵ تر ۸ انچه پورې مېخونه بازار کې په ستندرډ ډول پلورل کیږي. مېخ له بېلابېلو فلزاتو څخه جوړیږي لکه وسپنې څخه له المونیم، پولادو، او برنج څخه د ترکاڼۍ په چارو کې یوازې د وسپنې له مېخونو څخه کار اخېستل

کیږي نور مېخونه نورو ځایو کې تر کار لاندې راځي. هغه مېخونه چې د اوږدوالی له مخې مساوي وي، خو د پرېړوالی له مخې توپیر ولري مقاومت یې هم یو بل سره فرق کوي، نو ترکاڼ د خپلې اړتیا او تجربې له مخې پوهیږي چې آیا باید له کوم مېخ څخه استفاده وکړي. ښه مېخ هغه دی چې د ټټک په ګوزارونو سره کوږ نشي، هغه مېخونه چې ډېر پرېړوي د لرګي د چاودېدو او ماتېدو لامل کیږي.

د مېخ ډولونه: په بېلابېلو شکلونو مېخونه شته چې د اړتیا له مخې په هر ځای کې کارول کیږي لکه سرامبار مېخونه، د وسپنې مېخ، سربول، نیمه یا بې سره مېخ، درې رخه، څلور رخه، ساده ، پولادي مېخ، تاو لرونکی مېخ، کارتوسي مېخ، چوري لرونکی مېخ، د لرګی مېخ، ګول لرګین مېخ او داسې نور.

۱. ساده آهني سرامبار مېخ: دغه مېخونه معمولاً په هغو زیږو او عاجلو کارونو کې تر استفادې لاندې راځي چې د سریښ کولو اړتیا یې نه وي. په دې صورت کې کار ډېر ژر پای ته رسیږي او ښکلا په پام کې نه نیول کیږي. مېخ باید د ۲۰ درجو په زاویې سره په مایل ډول په لرګي کې ټک وهل شي. په دې توګه دوه لرګي یو بل څخه نه جلا کیږي که عمودي ټک وهل شي نو د وخت په تېرېدو سره لرګی وچیږي او انقباض کوي، په دې توګه د مېخ ځای ارت شي او بیا له خپل ځایه وځي. له مېخونو څخه په ډېرو چارو کې کار اخښتل کیږي، خو تر ټولو زیات استعمال یې په قالب بندۍ، قیچي پوش، د لرګیو په زینو (پوړیو) او نورو برخو کې وي.

۲. بې سره او نیمه سر وسپنیز مېخ: دغه مېخونه د موبل په جوړولو کې کارول کیږي د مېخ سر پولادي سنبې په واسطه لرګی کې دننه کیږي، تر څو د کار مخ پاک او هوار جوړ شي.

۳. سر لرونکی او بې سره څلور رخه وسپنیز مېخونه: دغه ډول غټ مېخونه عاجلو غټو کارونو لکه د لرګي قیچي پوښ او د پوړیو جوړولو کې استعمالیږي دا ځکه چې څلور رخه (اړخونه) لري او له لرګي څخه ژر نه جلا کیږي او په لرګي کې تاویږي هم نه، نو ځکه ښه کلک وي. درې رخه بې سره مېخونه معمولاً د چوکاټونو په کونجونو کې کارول کیږي تر څو د کړکیو او دروازو د چوکاټ او کونجونو چولو فاق یو بلې څخه جلا نشي. ښه والی یې په دې کې دی چې فلز د لرګي برخلاف خپل خواص تل یو شانته ساتي او په خپل ځای کې ښه کلک وي. د دغو مېخونو اندازه ۵ – ۸ میلي متره او اوږدوالی یې ثابت وي یعنې د پنځو میلي مترو په اندازه

باید د پلې یا دروازې له ضخامت څخه کم وي دا د دې لپاره چې بل سر یې باید له لرګي څخه ونه وځي.
۴. تاب دار او ساده پولادي مېخ: ساده پولادي مېخونه د کانکرېټي دېوالونو لپاره کارول کیږي. په کانکرېټي دېوال کې د وسپنې مېخ کار نه کوي، نو د ځینو شیانو د مېخولو لپاره له پولادي مېخ څخه کار اخېستل کیږي په دېوال باندې د پولادي مېخ د ټک وهلو پرمهال باید ډېر احتیاط وشي او باید له محافظوي عینکو څخه کار واخېستل شي، پرته له هغه ممکن هغه مات او سترګو ته وروالوزي. که چېرې ساده پولادي مېخ ښه نتیجه نه ورکوي نو باید له تاولرونکی مېخونو څخه کار واخېستل شي ځکه دا مېخ په قوت دېوال کې ننوځي او بېرته هم نه راوځي. په دې توګه تر ساده مېخ څخه دغه تاولرونکی مېخونه غوره دي.
۵. چوري لرونکی کارتوسي پولادي مېخ: دغه مېخ د تومانچې د کالتوس په شان ښه لري چې د کوټو د چت په کانکرېټ کې ور څخه کار اخېستل کیږي د مېخ د چوري برخه له کانکرېټ څخه بهر پاتې کیږي او بیا وروسته د چفتي لرګی د مېخ د سرونو د چوري په اندازه سوری او په هغو کې کلکیږي، یعنې د نټ او بولټ په شکل سره کلکیږي او بیا د خشتونو په واسطه کلکیږي. د چتونو په ټولو برخو کې په ټاکلي اندازه دغه کالتوسي مېخونه ټک وهل کیږي او بیا د مسطح درې ورباندې کلکیږي. دا دلرګی د تخنیک له پلوه یو ښه تجربوي سیستم دی او چت ښکلی ښکاري.
۶. څلور رخه لرګین مېخونه: دغه ډول لرګی د دېوال یا د کوټې پرمخ د یوې څلور رخه فاني په ښه کار ورکوي او د اړتیا پر مهال کانکرېټي یا دخټو خامه دېوالونو کې کلک او بیا لرګین فرش ورباندې مېخ کیږي یعنې اول یو ځای د همدغه چاررخ لرګین مېخ لپاره برمه کیږي او بیا پکښې ټک وهل کیږي برمه شوی ځای باید له دغه مېخ څخه لږ کوچنی وي تر څو مېخ پکښې ښه کلک شي البته د دغه لرګین مېخ سطح باید د دېوال له سطحې سره برابره شي وروسته بیا د پام وړ تختې یا لرګي ورباندې ټک وهل کیږي. دا دلرګي په تخنیک کې یوه نوې طریقه ده. څلور رخه لرګین مېخونه د دروازو او کړکیو د پلو په کونجونو کې هغه ځای کې چې چول و فاق کیږي ټک وهل کیږي. ځینې وخت دغه مېخونه سوری او د دروازې چول و فاق ورباندې سرېښ کیږي او په راتلونکي کې د چول و فاق لرګی یو بل څخه هېڅ کله نه لرې کیږي.

۷. ګول ډوله لرګین مېخونه یا لرګین ډېبل: دغه ډول لرګین مېخونه د لرګین ډېبل په نوم هم یادیږي چې د کلکو ونو لکه چنار، غوز، ښنګ، پنجه چنار او نورو لرګیو څخه جوړیږي. دغه مېخونه دوه دړې سره نښلوي. لرګین ډېبل په بېلا بېلو قطرونو لکه ۵، ۶، ۷، ۸، ۱۰ او ۱۵ میلي مترو او د ۴۰ – ۱۰۰ میلي مترو په ستندرد اوږدوالي جوړیږي. دا مېخونه الماری او د هغو ترمنځ دړې یو بل سره نښلوي دېبل یوه خوا په تخته کې په برمه شوی ځای کې ننوېستل کیږي او بل یې د الماری په پله کې په برمه شوی ځای کې ننه ایستل کیږي او د ګیرا په واسطه په سریښو باندې سریښ کیږي، دې ته دېبل وسیله وایي.دوهمه طریقه: په دې طریقه کې د کړکیو، دروازو او الماریو د دروازو پلې او د دروازو چوکاټونه په کاریږي. البته د هرې پلې کونج وروسته د چول او فاق له یو ځای کولو او سریښ کولو څخه په ګیرا کې ورکول کیږي، وروسته بیا په پورتنۍ برخه کې له چولو فاق سره په برمې باندې سوری کیږي او په دغه سوري کې دېبل مېخ په سریښ باندې لږل کیږي او په څټک باندې پکښې ټک وهل کیږي او بیا د ډېبل دوه اضافي طرفونه که راوتلې وي په لاسي اره باندې پرې کیږي او په رنده باندې هواریږي. دغه ډول ډېبل مېخونه په پولادي تختو کې هم جره کشي کیږي له دې امله چې سریښ جذبوي نو ډېر ښه کلکیږي او مقاومت یې زیات وي.

په څټک باندې د میخ ټکوهل: باید میخونه په فني او مسلکي توګه په زیات تمرین او تجربې سره ځای پر ځای شي. څټک باید په عمودي توګه په میخ ووهل شي، ښي لاس باید په یوه ځانګړي زاویه حرکت وکړي او په یوه مساوي زاویه په میخ ګوزار وکړي تر څو څټک د میخ په سر مستقیما تماس وکړي او میخ باید کوږ نه شي. که میخ کوږ شي، نو باید د میخ ایستونکی یا انبور په واسطه بیرته را وایستل شي. د انبور لاندې باید یو ټوټه اضافي لرګي کیښودل شي تر څو اصلي دړه خرابه نشي. میخونه باید په داسې ځایونو کې وساتل شي چې لمدبل ونه لري او زنګ یې ونه وهي او مقاومت یې کم نشي. زنګ وهل د میخ رنګ هم بدلوي. میخونه باید د لرګي د پریړوالي له مخې غوره شي. په دې صورت کې ډېر غټ میخ لرګی درز او چاودې کوي. که چیرې د څو تختو شاته د میخ څوکه وځي، هغه باید بیرته د دړې خواته کږه او په څټک ووهل شي تر څو د میخ د څوکې له امله کوم خطر پیښ نشي.

چوب مېخ: لکه مخکې چې وویل شول د لرګیو په تخنیک کې چوپ پیچ یوه فلزي اتصالیه ده چې دوه لرګي یوبل سره نښلوي. چوب پیچ د مېخ په پرتله لرګی ډېر په پاخه ډول یو بل سره

کلکوي. چوب پېچ یو داسې جوړښت دی چې یوې خواته نری او بلې خواته چوري لري او په لرګي کې د پېچ کش په واسطه دننه کېږي او بېرته هم را بهر کېدای شي کله چې سرېښ ورباندې وهل کېږي هېڅکله یو بل څخه نه جلا کېږي. دغه طریقه ډېرې ښېګڼې لري چې یو شمېر ودانیزې چارې او د موبل ترکانۍ او دروازې جوړول او الماری چې د هغو لېږدول له یوې سیمې بلی ته ډېر ګران وي په دغې وسیلې سره یو بل سره نښلول کېږي. دغه ډول سامانونه دوه یا درې برخو څخه جوړ شوي وي، چې بیا د غټو پېچونو او یا هم د فلزي نټ او بولټ په واسطه سره تړل کېږي او که وغواړو بېرته یې خلاصولای هم شو یعنې سره جلا شوی برخې جدا جدا وړای شو او وروسته تر وړلو یې په کور کې بېرته سره تړلی شو. د پېچ خاصیت د لرګي په تخنیک کې دا دی چې تل تړلی او پرانېستل کېدای شي چې دې ځانګړتیا یوه لویه آسانتیا رامنځته کړې ده.

د چوب پېچ ډولونه: چوب پېچ بېلابېل ډولونه لري لکه پلن سری، ګول سرلرونکی او نیمه ګول چې دا هر یو یې خپل خپل ځای کې د استعمال موارد لري، چوب پېچ د خپل جنسیت له مخې هم په څو ډوله دي لکه وسپنیز، برنجي، المونیمي او نکلي چې هر یو یې د اړتیا له مخې بېلابېلو ځایونو کې پکارېږي.

۱. وسپنیز پلن سری چوب پېچ: دغه ډول پېچ د نورو ډولونو په پرتله قوي او کلک دی او هر کار کې ورڅخه استفاده کېږي. سریې یا یوه یا دوه جرې ګانې لري چې د یو رخ په پرتله چار رخ غوره دی، دا ځکه چې چاررخ پېچکش پېچونه ډېر په آسانۍ او په کلکوالي سره په لرګي کې کلکوي. که یو رخ پېچ یو – دوه ځله وتړل شي او بیا پرانېستل شي، نور نو د هغه جري سلبې کېږي او پېچ له کاره وځي، ځینې وخت خراب شوی پېچ په لرګي کې دننه پاتې کېږي او لوی مشکل جوړوي په نرم لرګی کې د پېچونو تاوول کومه ستونزه نه لري. په دې حالت کې د پنځه میلي مترو په اندازه په یوه مېخ سره د پېچ لپاره ځای په نښه کېږي او بیا وروسته همدغه زخه شوی یا نښه شوی ځای کې پېچ کلکېږي په کلک لرګي پېچ کلکول یو ستونزمن کار دی. په دې ډول لرګیو کې باید لومړی په لرګي کې د پېچ لپاره ځای په برمه سوری او بیا په هغه ځای کې پېچ کلک شي. د برمې قطر باید د پېچ له قطر څخه دوه میلي متره کم وي، په دې توګه پېچ په آسانۍ سره په لرګي کې کلکېږي. په کلکو لرګیو کې د پېچ د کلکولو پرمهال باید په ګریسو باندې پېچ او لرګی لږ څه غوړ شي، دا وخت پېچ په آسانۍ سره د لرګي دننه کلکېږي.

په ظریفو کارونو کې د دې لپاره چې د پیچ سر په لرګي باندې ښکاره نشي، باید د پیچ سره ۳ – ۵ میلي مترو پورې په لرګي کې د ننه ژور کلک شي او دغه ځای باید ګلګل کاري شي او بیا صفا کاري او رېګمال شي. همدارنګه د چوب پیچ بله دنده دا ده چې وسپنیزې ټولې پرزې په هغې سره په لرګي کې کلکیږي.

۲. ګول سر لرونکی چوب پیچونه: کېدای شي دغه ډول پیچونه وسپنیز او یا هم برنجي وي چې د دوو لرګیو د کلکولو لپاره په کاریږي ګول سر لرونکی چوب پیچونه زیاتره د زینتي وسایلو په جوړولو کې په کاریږي له دې امله چې د دې ډول میخونو سرونه ښکاره کیږي، نو په تېره بیا د لویو الماریو په تړلو او پرانېستلو کې کار ورباندې کېدای شي. دغه پیچونه په تېره د الماریو دننه تختو د کلکولو لپاره په کاریږي چې دې ته متحرک کار وایي. چوب پیچونه د میخونو په پرتله ډېر ښه کلکیږي، قوت یې زیات وي او آسانه تړل او پرانېستل کیږي. دغه پیچونه معمولاً په لویو او کوچنیو کاغذي ډبیو کې چې په هغو کې ۱۴۴ دانې دغه ډول مېخونه ایښي وي، په بازار کې پلورل کیږي. پیچونه د یو رخ او څلور رخه پیچکشونو په واسطه چې هم لاسي او یا ماشیني وي کلک او پرانېستل کیږي. یو شمېر هغه لوی کارونه چې د چوب پیچونو په وس پوره نه وي، نو په هغو کې مخصوص نټ او بولټونه په کارځي چې دغه نټ – بولټونه هم لوی وي او هم واړه چې د اړتیا له مخې د کارولو لپاره غوره کیږي. یو شمېر حلقې او چوري چنګکونه هم شته چې په الماریو کې د جامو د زوړندولو، کوټ بند جوړولو او نورو لپاره په کار ځي. لکه لاندې شکل

## د لرګي په تخنیک او ترکاڼي کې د فلزي پرزو کارول

وسپنیزې پرزې (آهن جامه) د ترکاڼي د جوړوشویو پارچو او وسایلو د یو بل سره نښلولو لپاره کارول کیږي. لکه دروازې، کړکۍ او بېلابېل موبل او فرنېچر. دغه فلزي پرزې (آهن جامه) د لرګیو د وسایلو د نښلولو مهم وسایل دي. له فلزي پرزو پرته یو شمېر نور غیر فلزي پرزې هم د لرګیو په تولیداتو کې کلکیږي چې د لرګي دستګیر، پلاستیکي دستګیر او نور چې یو شمېر ګرد او نور یې اوږده، مثلث ډولونه او نور شکلونه لري. دغه ډول دستګیرونه د اړتیا له مخې د الماریو په پلو، د روکونو په مخ او نورو ځایونو کې په کار ځي. د وسپنیزو پرزې (آهن جامې) استعمال پرته له دې چې د لرګي محصولاتو ته ښکلا ورکوي. خپلې ځانګړې دندې هم تر سره کوي. دغه پرزې په لاندې ډول دي.

۱. د دروازو بېلابېل چپړاسونه، د کړکیو چپړاسونه او د الماریو د پلې چپړاسونه او نور.
۲. د دروازو، روکونو، مېزاو نورو دستګیرونه (لاستې).
۳. د الماریو د دروازو بېلابېل قفلونه او د کړکیو ناخنکونه.
د پلې پرمخ او د پلې تر شا بېلابېل ساده او فنري قفلکونه.
۵. بېلابېلې زلفۍ او زنځیرونه.
۶. د الماریو په دروازو کې، د کړکیو په پلو کې او دروازو کې بېلابېل مقناطیسي چسپکونه او نور.
چپ راست: د دروازو، کړکیو او د الماریو د پلو د کلکولو لپاره مونږ لویو او کوچنیو چپړاسونو ته اړتیا لرو. د چپراس (چپ راست)غوره کول د کار او محصول په ډول پورې اړه لري د دروازو دروندوالی د چپراس په غوره کولو کې یو مهم عامل دی دی، څومره چې دروازه درنه وي، هومره یې چپراس هم لوی او پیاوړی وي. په یوه دروازه کې کم له کمه دوو چپراسونو ته ضرورت دی. کوچنیو دروازو ته دوه بې وزنه یا کم وزنه کوچنۍ چپراسونه او لویو دروازو ته ۳ – ۵ جوړې لوی او درانه چبراسونه په کار وي تر څو پلې په آسانۍ وتړل شي او بیا پرانېستل شي.
۱. عادي او ساده چپراسونه: دغه ډول چپراسونه ۱ – ۵ انچه لویوالی لري د موبل او ترکاڼي په چارو کې استعمالیږي. د چپراس یوه خوا په دروازه کې او بله یې په چوکاټ کې کلکیږي. په لویو کارونو کې لوی او په کوچنیو کې کوچنۍ چپراسونه په پلن سرو پیچونو باندې کلکیږي که څومره کار کوچنۍ هم وي بیا هم حداقل یوه جوړه کوچنۍ چپراس ته اړتیا لري. چپراس باندې باید ګریس یا تېل ووهل شي تر څو یې غږ ورک او نرم شي.
۲. خوځنده لخکي چپراسونه: دغه ډول چپراسونه په چپه او راسته ډول له لرګي څخه د پخوانیو سنتي او عنعنوي لخکونو په شان جوړیږي، خو د جوړښت مواد یې یا وسپنه یا برنج وي او شکل یې د کالتوس په شان وي. د دې چپراسونو ښه والی دا دی چې ضرور نه ده چې هر ځل له پلې او دروازې څخه را خلاص شي او متحرک، دغه لخکونه آرامه ګرځي راګرځي او بې غږه وي او د دروندوالي زغم لري. دغه چپراسونه د کوټو د دروازو، کړکیو د ګراچونو د فلزي لویو دروازو او د لرګي څخه جوړ شویو بېلابېلو دروازو لپاره په کار ځي. همدارنګه په اوړي

کې د جالي لرونکو پلو لپاره غوره دي، دا ځکه چې په ژمي کې پرته له دې چې چپراس يې پرانيزو په آسانه يې لرې کولای شو او بل کال ته يې بيا په آسانه نصب کولای شو.
۳. فنر لرونکی چپراس: دغه دغه ډول چپراسونه يو فنر لري چې جوړښت يې داسې دی چې د دروازې پله کولای شي دواړو خواوو ته يعنې هم دننه خواته او هم بهر خواته په آسانۍ سره په يوه فشار سره پورې او يا هم پرانېستل شي او تل په حرکت کې وي. دغه ډول پلې آزادې وي او چوکاټ يې تادري نه لري او پله پورې کولو کې نه بنديږي. دغه ډول دروازې زياتره په روغتونونو، دفترونو، بانکونو، سوداګريزو ځايونو او نورو عامه محصولاتو کې په کار ځي.
د چپراس اندازه يې ۲ – ۴ انچه وي. لکه لاندې شکلونه:
**کولپونه:** کولپ د دروازو، روکونو او الماريو د بندولو لپاره وي. دا يوه معموله وسيله ده، تر څو د مال د ورکېدو مخه ونيول شي. د کولپ لرونکو دروازو او مېزونو يو بل ښه والی دا دی چې تل د کولپ په واسطه کلکه بنده وي او له پټ کېدو څخه ساتل کيږي، يعنې که دروازه تل پرانيستی وي د دروازې پلې پټ کوي او بيا سمه نه کلکيږي.
۱. د دروازې د پلې د مغز کولپ: دا يو ډول غټ کولپونه دي چې د نړېوال نورم او ستندرد له مخې جوړ شوي دي چې دوه لاستي، درې کلي (کونجۍ) او يو سويچ لري، د پلې د مغز کولپ بايد داسې نصب او په دروازه کې کېښودل شي چې کونجۍ يې بهر لوري ته او سويچ يې د کوټې دننه خواته وي، دغه کولپونه يوه قوي تنبه هم لري چې د دروازو پله پرته له کولپ کولو څخه هم بنده ساتي او د دروازو له کږېدو څخه ساتي. د دروازې کولپ بايد د ستندرد له مخې له ځمکې څخه ۱۰۵ سانتي متره لوړ وي، کولپونه په بېلابېلو ډيزاينونو جوړېدای شي لکه ښي لاستی، ګول لاستی، استوانه ډوله او نور.
۲. اتومات قيد لرونکي فنري کولپونه: دغه ډول کولپونه داسې جوړيږي چې د پلې شاته اېښودل کيږي، دا ځکه چې د دروازې د پلې د مغز له کولپ سره يې توپير وشي. د کوټې له دننه خوا څخه دروازه د فلزي قيدک په واسطه بنديږي او د بهر له خوا په کلي (کونجۍ) باندې پرانېستل کيږي. که چېرې د کولپ قيدک تړلی وي دروازه له دننه لوري څخه په عادي ډول پرته له کوم مشکل څخه د لاستي په واسطه پرانېستل کيږي، د کولپ جوړولو کمپنيو دغه ډول کولپونه په بېلابېلو ډيزاينونو جوړ کړي دي چې زياتره يې درې کلي لري.

۳. د الماریو د پلې او د میترونو کولپونه: دغه کولپونه د لویو دروازو د کولپونو په پرتله لږ څه کوچنی دي او قیدک او لاستی هم نه لري. د دغه کولپونو ځای د دروازې د پلې د ننه سوری شوی وي او په پیچونو باندې پکښې کلکیږي او په کونجی باندې پرانیستل کیږي. دا هم درې کلي لري. بل ډول کولپ د دروازې د پلې د ننه نه ایښودل کیږي، بلکې د پلې تر شا نصب او د کونجی ځای یې د دوه سانتي مترو په قطر استوانه یي شکل لري. دغه ډول کولپونه یوه کړۍ او دوه سوري لري چې په سوري باندې برسېره ایښودل کیږي او ښکلی هم ښکاري. دغه کړۍ په سریښو باندې په خپل ځای کلکیږي.

۴. قلفکونه: دا دروازې د پلې د ټینګولو لپاره یو ډول فلزي پرزو یا د ترکاڼي آهن جامه ده چې دروازه کلکه نیسي په الماریو او کړکیو کې هم ورڅخه استفاده کیږي. دغه قلفکونه دوه برخې لري یوې ته یې نرینه او بلې ته یې ماده ګي وايي. نرینه برخه یې په خپله دروازه کې او ماده ګي برخه یې په چوکاټ کې وي. نرینه یې د یوه راد په توګه متحرکه بڼه لري. دغه قلفکونه د اړتیا له مخې د دروازو بره خوا، منځ او یا هم لږ کوز کینول کیږي تر څو پلې او دروازې ونه لړزیږي. هغه الماری چې دوه پلې لري باید په یوه کې یې یو کولپ او په بله کې یې دوه قلفکونه کیښودل شي ځینو دروازو کې د قلفک پر ځای دوه کوچني چنګکونه ایښودل کیږی چې دا هم د دروازو په کلکولو کې مرسته کوي. همدارنګه زلفي او زنجیرونه هم له پخوا څخه معمول فلزي پرزه جات یا بارجامه ده چې په هغو کې عادي کلپونه ځوړندیږي. د دغه ډول زنځیرونو او سنګي کلپونو عمر زیات وي. اوس هم دغه وسایل په کلیوالي سیمو کې لیدل کیږي. زلپی، زنځیرونه او رازراز قلفکونه په بیلابیلو اندازو او ډیزاینونو جوړیږي. د کړکیو د کلکولو لپاره له ناخنک څخه کار اخیستل کیږي چې په بیلابیلو ډیزاینونو او له بیلابیلو فلزاتو څخه جوړیږي، په بازارونو کې په ستندرد ډول پلورل کیږي، ناخنک د قیدک، کولپ او لاستی په واسطه دروازه کې کلک شوي او ماده ګي برخه یې په چوکاټ کې ایښودل شوي او د استفادې وړ ده.

۵. د دروازې لاستی: دا هغه فلزي پرزه ده چې په دروازو باندې لګول کیږي او په هغې سره دروازه رانیسو او د دروازې د پرانیستو او پورې کولو په وخت کې ورڅخه استفاده کوو، لاستی د آهن جامې د یوې مهمې برخې په توګه د دروازو او الماریو په پورې کولو او پرانیستو کې په کاریږي. هغه کولپونه چې په خپله لاستی لري، د هغو لپاره د بل دوهم لاستی

ضرورت نشته. د دروازو لاستی لکه د کولپ په شان په ستندرد ډول د کوټې له مخ څخه سل سانتي متره پورته کېښودل کېږي چې موقعیت یې د دروازې د پلې د بازو په منځنۍ برخه کې وي. لاستي یا فلزي وي، یا د لرګي یا هم د پلاستیک چې په بېلابېلو شکلونو او ډیزاینونو په راست او ګول بڼو تولیدیږي.



د ودانیو په جوړښت کې د دروازو او کړکیو ارزښت

ترکاڼي او د لرګي د تخنیک څانګه یوه مهمه تخنیکي څانګه ده چې ټولې کوچنۍ او لویې ودانۍ دغې څانګې ته اړتیا لري، د بېلګې په توګه: د یوې ودانۍ د کار له پیل څخه نیولې بیا د هغې تر پای ته رسېدلو پورې قالب بندي، د تهداب رېنګ، د پوړیو قالب کول، ستاقونه جوړول، د کانکریټي چتونو پوښل او بیا د ودانۍ په پای کې د دروازو، کړکیو او زینو (پوړیو) جوړول او بیا وریسې د کوټو چوکۍ، مېزونه، موبل چمتو کول، مسطح او لنډه دا چې نورې ټولې چارې پرته له ترکاڼي او د لرګي له تخنیک څخه نشي کېدای او نوموړي کارونه ټول ترکاڼ پرمخ بیایي. د یوې ودانۍ د ټول کار په سلو کې ۴۰ برخې یې د ترکاڼي څانګې پورې اړه لري. د پورتنیو چارو پرته، یوه ودانۍ دروازو او کړکیو ته اړتیا لري تر څو د کوټو دننه برخې یو بل څخه جلا ، له خاورو او ګرد څخه وساتل شي او د اوسیدونکو ژوند له

راز راز خطرونو ساتلی وي، دروازې او کړکۍ د ودانۍ مهمې برخې دي. دروازې او کړکۍ د تجربه لرونکو انجنیرانو په واسطه طرح او ډیزاین کیږي او د تکړه ترکانانو په لاس د لرګي د تخنیک په تکنالوژۍ سره جوړې او په خپلو ځایونو کې لګول کیږي چې ودانۍ ورباندې بشپړې او ښکلې کیږي. هغه ترکاڼي چارې چې یوې ودانۍ پورې اړه لري: کړکۍ، د کوټو دروازې او د دهلېزونو دروازې دي. دروازه او کړکۍ دوه برخې لري: یوه یې چوکاټ او بله یې پله ده. لومړی د دروازې چوکاټ جوړیږي او بیا پله د چوکاټ له مخې ورته جوړیږي.

۱. د دروازې چوکاټونه: هر چوکاټ دوه اوږده او اوچت بازوګان او یوه سردرې او بله تادري لري دې ته سرانه او زېرانه هم وایي سردرې او تادري د دروازې د عرض په اندازه او بازوګان یې د لوړوالي په اندازه وي د نن ورځې دروازې کوم تادري یا زېرانه نه لري، دا ځکه چې د دروازې د چوکاټ زېرانه (تادري) کې د سړي پښه نښلي او د مینځلو پر مهال هم له کوټې څخه د خاورو ایستل ګران کار وي، پخوا به د دروازو د چوکاټ سایز ډېر غټ او پلن جوړېده، اوس اندازې بدلون موندلی او کوچنۍ او ظریف شکل باندې جوړیږي.

۲. له طبیعي لرګي څخه د دروازې د چوکاټ او بازو د سایز یا اندازې غوره کول: ډېره ښه اندازه د دې لپاره ۶×۷ ، ۷×۷ ، ۷×۹ ، ۸×۱۰ ، او ۱۰×۱۰ سانتي متره وي. دغه پورتنۍ اندازې په پاخه او خام تعمیر کې یو بل سره توپیر کوي، په خام تعمیر کې لږ پرېړ جوړیږي، خو په پخو ودانیو کې کوچنۍ سایز غوره بلل کیږي.

۳. د دروازو پلې: پلې له پام وړ لرګیو څخه د چوکاټ په اندازه په ښکلو ډیزاینونو سره طرح او جوړیږي. د دروازې پله دوه سرانه او زېرانه اوږده بازوګان لري چې سور او بر یې یو برابر وي، خو د دروازې د تادري عرض د هغې د سردري د بر څخه لږ څه زیات وي دا ځکه چې د دروازې وزن زیات په لاندې برخه باندې راځي او زېرانه تل له تګ راتګ او ټکرونو سره مخامخ وي او د دروازې په پرانېستو او پورې کولو هم فشار زیات ورباندې راځي، نو ځکه باید تادري (زېرانه) پیاوړی جوړه شي چې دغه ټول فشارونه وزغمي.



**۴. د ارچې او خار له لرګي څخه د دروازو پلې جوړول:** دغه لرګي د دروازو او د کړکۍ جوړولو لپاره ډېر مساعد او پوره دود شوي دي چې سپک هم دي او مقاومت او ښه خصوصیات یې زیات دي، نو ځکه دغه لرګي د ترکاڼي چارو لپاره مناسب دي او د یخني، تودوخې ، بهرني فشار ، او لمدبل په وړاندې هم کلک دي. هغه دروازې او نور لرګيني محصولات چې له ارچې لرګي څخه جوړیږي ښه ښکلا او مقاومت لري. د ارچې د لرګي بیه لوړه ده دا ځکه چې غوره ځانګړتیا لري، نو بیا یې جوړې شوې دروازې او نور محصولات هم لوړه بیه لري او هرڅوک هغه نشي پیرودلای. له ارچې لرګي څخه وروسته په دوهم ګام کې د خار لرګی دی، مقاومت یې لږ څه کم، خو هر ډول دروازې او کړکۍ ور څخه جوړیږي. خار لرګی د ارچې د لرګي په پرتله سپک دی، د دروازو او کړکیو دوام یې هم یو څه کم وي، نو ځکه یې بیه هم د ارچې په پرتله درې ځله کمه ده. اوس په سلو کې ۹۵ د ودانیو دروازې او کړکۍ د خار له لرګي څخه جوړیږي. خار لرګی له بهر څخه لکه تاجکستان ، روسیې او چین څخه راځي.

**۵. د دروازې د پلې سایز او د بازوګانو پرېړوالی :**

الف) د کوچنیو دروازو لپاره د دروازو د پلې سایز ۴×۱۰ سانتي متره کې مناسب دی.

ب) د متوسطې دروازې د پلې لپاره ۲×۴,۵ سانتي متره سایز مناسب دی لکه لکه د کوټې دروازه.
ج) ۵×۱۴ سانتي متره سایز د لویو دروازو لپاره مناسب دی لکه د دهلېزونو یو پله یي او دوه پله یي دروازې.
د) د دروازې د پلې د زېرانه (تادري) لپاره مناسب سایز ۱۸-۲۵×۴,۵ سانتي متره دی.
۶. د ورق شاني پلې: دغه ډول پلې د غوزانو د لرګي له ورقو څخه جوړېږي دغه ورقې له کلک لرګي څخه ښه نتیجه ورکوي چې ډېرې ښکلې او د ډېر عمر لرونکي وي. خو نقص یې دا دی چې دروازه ډېره درنه وي او چپراسونه له منځه وړي او له بلې خوا یې بیه هم لوړه تمامیږي، نو ځکه اوس خلک له کلکو لرګیو څخه د دروازو لپاره پلې نه جوړوي او له سپکو لرګیو لکه ارچې او خار څخه یې جوړول غوره بولي. کله چې له دغه سپک لرګي څخه پلې جوړې شي بیا غوز د لرګی ورقې چې صرف یو میلي متره پربړوالی لري په دوو خواوو باندې ورته سرېښوي. په دې حالت کې پلې ښکلې، سپکې او د چار مغزي رنګ لرونکی بریښي او یو څه ارزانه هم تمامیږي.
۷. له مصنوعي تختو څخه جوړې شوې پلې: د لرګیو له میده ګي څخه د پرس شویو دړو یا شپانپلېت څخه هم د دروازو پلې جوړېدای شي. همدارنګه د پلایو د له دړو څخه هم جوړېدای شي چې هغو ته څو طبقه یي دړې هم وایي. پورتنۍ ټولې مصنوعي تختې یو شمېر ښې ځانګړتیاوې لري. یو خو دا چې دروازه نه پټ کیږي او ښکلی هم بریښي. که چېرې اړتیا وه کېدای شي دا ډول تختې هم د درنو لرګیو لکه غوز او نورو له ورقو څخه ورق شاني کړو لکه لاندې شکلونه
د دروازو اندازې
۱. له طبیعي او مصنوعي دړو څخه د جوړو شویو دروازو نورم او ستندرد
دغه ډول دروازې پرته د چوکاټ له تاوه دان څخه ۹۰×۱۹۰ سانتي متره او ۱۰۰×۲۳۰ سانتي متره او ۱۱۰×۲۱۰ وي.
د چوکاټ د تاوه دان په اندازه نورم ۱۱۰×۲۳۰ سانتي متره او ۹۰×۲۲۰ سانتي متره او ۱۰۰×۲۳۰ سانتي متره وي.

پورتنۍ ټولې اندازې د نورم او ستندرد مطابق دی او له بلې خوا د لرګي د تخنیک د مسلکي او فني مشخصاتو لرونکی هم دي.

۲. له مصنوعي درو څخه د کوټې بېلابېلې دروازې او د هغو د پلې بېلګې:





۳.له طبیعي لرګیو څخه په بېلابېلو ډیزاینونو دروازې په لاندې ډولونو جوړېدای شي . د دروازو د پلې د جوړولو نوی سیستم کې روی کش د دروازو دوو اړخواوو کې لګول کیږي او دواړو خواوو ته یې د غوزو د لرګي نازکې ورقې لګول کیږي. دغه ورقې د درې میلي مترو په پریړوالی د پرس په ماشینونو کې په بېلابېلو ښکلیو ډیزاینونو جوړیږي او ټوله دروازه

ورباندې ښايسته کيږي. دغه نازکې ورقې چې له طبيعي لرګي جوړيږي د لرګي په سپين سريښ باندې ننښلول کيږي لکه لاندې شکلونه

۴. په طبيعي لرګيو کې د نورم او ستندرد په اساس د دهلېزونو د دروازو اندازې: د چوکاټ له تاوه دان څخه پرته د دغو دروازو اندازه ۱۲۰×۲۲۰ او ۱۱۰×۲۱۰ او **۱۱۵×۲۱۵** سانتي متره وي.
د تاوه دان له اندازې سره يو ځای ۱۱۰×۲۴۰، ۱۱۴×۲۴۰، او ۱۲۰×۲۴۰ سانتي متره وي، دغه ستندرد اندازې د مسلکي اشخاصو له نظر سره سم ثابتې شوي دي، خو د اړتيا او د غوښتنې په صورت کې دغه اندازې بدلېدای شي.
**۵.** له طبيعي لرګيو څخه په بېلابېلو ډيزاينونو د دروازو د بلې بېلګې: د دهلېز دروازې د اړتيا سره سم په بېلابېلو اندازو چې ښکلي ډيزاين لري جوړېدای شي.
**کړکۍ**
کړکۍ ګانې په بېلابېلو ډيزاينونو او د چوکاټ او پلې لرونکي وي. د کړکيو شکل او ډيزاين د لرګي د ډول له مخې درجه بندي کيږي، د بېلګې په توګه د تعمير د موقعيت له مخې د کړکۍ په بېلابېلو برخو کې غوره کېدای شي او لرګی هم له دې مخې غوره کيږي. هغه کړکۍ چې مخ په لمر وي بايد د لومړي درجې ارچې څخه جوړ شي چې ښه مقاومت او دوام لري. هغه وسايل او کړکۍ چې مخ په سيوري دي او د باران، واورې لمر او باد سره نه وي مخامخ هغه کېدای شي له دوهمې درجې او دريمې درجې څخه غوره کړو، نه خرابيږي. د کړکيو د چوکاټونو د بازوګانو عرض او پريړوالی اندازې دکړکيو د چوکاټونو د بازوګانو د عرض او پريړوالی غوره کول په لاندې اندازو وي: ۶×۶، ۵×۷، ۶×۸، ۸×۷، او ۸×۸ سانتي مترو همدا مناسب ستندرد دی. معمولا په پخو ودانيو کې د خامو ودانيو په پرتله له کمې اندازې څخه استفاده کيږي. په پخو ښکليو دانيو کې ځکه له کمې اندازې څخه استفاده کيږي چې لګښت يې لږ او د کړکيو او دروازو ډيزاين ښکلی وي د کړکيو د بازوګانو عرض او پلنوالی توپير کوي او دا په دې پورې اړه لري چې کړکۍ په څه ډول ده، نورمال سايزونه او ستندرد د کړکيو لپاره داسې دي: ۴×۶، ۴×۶,۵، ۴×۷، او ۴×۷,۵ سانتي متره.
**په ودانيو کې کړکۍ او د هغو ارزښت**

په ودانیو کې کړکې یو مهم ضرورت دی، د بیلګې په توګه، دهلیزونه او کوټې رڼا ته اړتیا لري او باید د لمر رڼا او د هوا جریان کوټې ته ننوځي. کړکۍ معمولا دوه پلې او او ښیښې لریږ ښیښې پرته له دې چې کوټې ته رڼا ورکوي، کوټې له یخنۍ او ګرمۍ څخه هم ساتي او کوټو ته د خاورو او دوړو د ننوتو مخه هم نیسي. مونږ د کړکیو پرانیستو او پورې کولو ته اړتیا لرو. که دباندې هوا ښه وه، نو کړکۍ پرانیستې پریږدو، که هوا یخه وه تړو یې. په ښه هوا کې باید کوټې ته هوا ننوځي. انسان پاکې هوا ته اړتیا لري یعنې کوټې په هر حالت کې تازه هوا او کړکۍ ته اړتیا لري.

## د کړکیو ډولونه

لومړی شکل کې کړکۍ یوه پله او دوه پلې لري چې د چپراسونو په واسطه تړلی او پرانیستل کیږي. د دواړو خواوو ته پرانیستل کیږي.
دوهم شکل کې کړکۍ کشکي چپراسونه لري یعنې په چفتۍ سره کښته او پورته کیږي دریم شکل څخه تر شپږم پورې ملاقي کړکۍ دي چې ځانګړي آهن جامه لري او کښته او پورته خوا ته حرکت کوي.
کړکۍ او دهغو د پلی جوړښت: کړکۍ معمولا د یوې اندازې او سکیچ له مخې جوړیږي چې مهمه برخه یې د کړکۍ پلې دي چې لاندنۍ ځانګړتیاوې لري.
۱ .کړکۍ باید د نورم او ستندرد له مخې اویزه ولري. نن ورځ په ډیرو پرمختللو هیوادو کې هم کړکۍ د آویزې لرونکی دي، دا ځکه چې دغه ډول چجه یا آویزه د باران اوبه کوټې ته نه پریږدي. چجه یا آویزه کیدای شي د لرګي او یا هم فلزي وي دغه برخه د کړکیو په جوړولو کې ډیر اهمیت لري باید په پاّم کې ونیول شي ترکاڼ باید په دې برخه کې پام ولري که له فلز څخه جوړیږي باید پریړوالی ۳-۲ میلي وي او په مناسب ځای کې کلکه شي دغه ډول جوړښت د دهلیزونو لپاره هم ضروري دي، ځکه چې باید دهلیزونو ته هم د باران د اوبو ننوتو مخه ونیول شي.
۲ .کچالک: دا هغه جوړښت دی چې د ښیښې د ایښودلو لپاره په پام کې نیول کیږي. کړکۍ ته باید د کوټې د بهرله خوا ښیښه واچول شي یعنې د ښیښې کچالک باید د کړکۍ د چوکاټ بهر خوا ته وي، ترڅو د باران اوبه کوټې ته دننه رانشي. اروپایي هیوادو کې ټول کارونه د نورم او ستندرد له مخې دي او دهر کار ستونزه په پام کې نیسي. زمونږ هیواد کې کړکیو

کچالک دننه خوا ته جوړوي، په دې حالت کې د باران اوبه دننه کوټې ته راځي. باید دغه تیروتنې اصلاح شي او د ترکاڼې چارې باید په اساس او تخنیکي بڼه په ستندرډ ډول پرمخ بوتلل شي. په کوچنیو ودانیو کې کړکۍ باید له لرګي څخه جوړې شي

په ودانیو کې کړکۍ او فلزي دروازې د آسانتیا لپاره دي او په تیره بیا د کوټې لپاره ډېر اهمیت لري او د کور د ښکلا لامل کیږي. خو طبیعي لرګي خپله ځانګړې ښکلا لري او تر فلزي بڼه ښکاري او طبیعي لرګي د ګرمي او یخني په وړاندې ښه عایق هم دي. په لویو ودانیو کې کړکۍ او دروازې په عمومي توګه له فلزاتو څخه جوړیږي. فلزي پروفیل هم ډېر ګټور دی چې هم ارزانه دی او هم دوام لري او د ګرمۍ او لمدبل په وړادې مقاومت لري . د کړکیو او دروازو لپاره الومنیم نظر وسپنې ته غوره دی دا ځکه چې له یوې خوا سپک دی او د لمدبل په وړاندې کلک دی او زنګ یې نه وهي او ځلا یې هم ښه ده. وسپنه هم درنه ده هم یې زنګ وهي او موریانه یې خوري او له منځه ځي. که او سپنه په کړکیو کې استعمالیږي باید د زنګ وهلو په ضد ښه رنګ شي. رنګمالي وسپنه ساتلای شي. دنن ورځې تکنالوژي کې اوسنۍ دروازې او کړکۍ د پلاستیک او الومنیم له سپک پروفیل څخه جوړیږي چې ډېر کلک ، دوام لرونکی او ښکلی وي د تودوخې او سړو مقابل دوام لري او ښه عایق هم دی او زنګ یې نه وهي او غږ هم ورڅخه نه تیریږي او غږ نه غبرګوي. دغه ډول کړکۍ او دروازې په لویو فابریکو کې د ماشین په واسطه جوړیږي.

څرنګه چې وکتل شول، وروسته تر کرنې څخه ، صنعت او محلي شوی صنایع زموږ په ملي اقتصاد کې دوهمه درجه رول لري. زموږ ګران هیواد کې صنایع او لاسی کاروبارونه ډیره اوږده او تاریخي سابقه لري. اوس هم ګڼ شمیر لاسی کاروبارونه او محلي شوی صنایع شته چې زموږ زیات شمیر هیوادوال ورباندې بوخت دی او آن داچې د دوی ټوله کورنۍ ورباندی مصروفه او د عاید منبع یې جوړوی، لکه: سنۍ اوبدل، ټغر جوړول، غالۍ، ترکاني، پښګری، خامک ګنډل، کولالي، کاشي جوړول او داسې نور. د هیواد په ځینو سیمو کی د کورنیو لاسی صنایعو وده او دهغو ښه مارکیټ او دغالیو د سکښت، مینځلو او وروستی پروسس د مرکزونو جوړیدل یو ډیر ښه زیری دی، خو د تولیدوونکو شمیر او خپوروالی ته په کتو سره دغه مرکزونه ډیر لږ دی، دغه مثال د کولالي او ترکاڼې په برخه کې هم صدق کوی. باید دی برخی ته نوره هم پاملرنه وشي. غوره تولید او زیات صادرات په هر هیواد کی د

اقتصاد ماشین بلل کیږي، ډیر شمیر هیوادونه په دې هڅه کې دي چې خپل تولیدات زیات او صادرات پراخه او په نړیوالو بازارونو کې خپل اغیز او نوم ښه کړي. ښکلي صنایع او مستظرفه لاسي کارونه د ماشیني تولید او صنعت په پرتله اوچته بیه او ځانګړې ارزښت لري، چې په بهر کې هم ورته ښه مارکیټ لټول کیدای شي. دلاسي مستظرفه صنعت سوداګري او صادرات نن ورځ د یو علم یوه څانګه بلل کیږي. موږ پخوا د دې څانګې لپاره د کابل په د نوی ښار کې د هندوستان د اوسني سفارت ترمخې د ملي صنایعو امپوریم درلود. له بده مرغه زمونږ په هیواد کې دغې موضوع ته چاروا کې، صادروونکي او تولیدوونکي سرسري ګوري. د دې پایله به دا وي چې مونږ به ونشو کولای چې په نړیواله کچه سیالي وکړو. دې ته په پاملرنې سره چې غالۍ په افغانستان کې بهرنی مصرف او خارجي مشتریان لري، نو باید د دې صادراتو ښه پاملرنه وشي او له مخې یې خنډونه لرې شي.
لکه څرنګه چې مخکې وویل شول، زمونږ هیواد لرغونی تاریخ او د غالۍ اوبدلو،خامک، ګڼ کمیسوینو، ټوکرۍ او لیمڅي جوړول، پوستین او پوستینچې ګنډول اوږده سابقه لرې، خو دغې برخې ته نه پاملرنه د دې لامل شوه چې د خپلو خویندو، ماشومانو او ورونو د زیار پوره ګټه ترلاسه کړو او د دوی د هنرمندو ګوتو ثمر او حاصل د دوی جیب ته ولاړ شي. لاسي او محلي کاروبارونه او دهغو محصولات دتوریزم دتشویق لامل هم کیږي. داسې یو هیواد ته چې لاسي صنعت لکه غالۍ او نور یې مهم صادرات وي او له درې میلیونو څخه زیات وګړي یې په دې برخه کې بوخت دي، نو دغه هیواد ته بویه چې ورته پام وکړي. د غالیو په نړیوالو نندارتونونو کې د لومړي دریځ ترلاسه کول دا څرګندوي چې افغانی غالۍ ډیرې ښکلې دي، خو یو څه نور کار ته هم اړتیا ده.

## تمرین

۱.د افغانستان د محلی شویو صنایعو څو مثالونه وویاست.

۲.دلرګیو د صنعت د استفادی موارد کوم دی؟

۳.د افغانستان دغالیو عالی صفات کوم دي؟

۴.دولت باید د لاسی صنعت او محلی کاروبارونو د رونق لپاره کوم تدابیر ولري؟

۵.له طبیعی لرګي څخه د یوې کړکۍ یا دروازی د جوړلو پروسه تشریح کړئ.

۶.په افغانستان کی د غالۍ اوبدلو مهم او نامتو محلات کوم دي؟

۷.کولالی کوم صنعت دي؟

۸.دمحلی صنایعو څو ډوله ابزار ( دکار محلی وسایل) را وپیژنئ او د استفادی طرز او موارد یې وښایاست.

## ماخذ


۱.آریانا دیره المعارف، شپږم (ص) ټوک، (۱۳۹۶)، د افغانستان د علومو اکاډمی، د نبراسکا مطبعه: کابل-افغانستان.

۲.میر عبدالله حسینی او زوار پرمه، ساختار بازار جهانی قالین دستباف و بازارهای هدف صادراتی ایران، فصلنامهٔ پژوهشی بازرگانی، 30ګڼه، د 1383، 93ګڼه

۴.فرهاد، محمد عالم. (1380)، صنایع دستی افغانستان، انتشارات ادارهٔ کتابخانه‌های سیار اریک، پیښور، 3، 4او 5 مخونه

۵.سیار، نیلوفر (۱۳۸۴)، زندګی زنان قالین باف در شمال افغانستان، اداره حمایت و تقویه مهارتهای رابعه بلخی، بلخ ۵ او ۶ مخونه.

۶.فرصت های سرسمایګذاری درافغانستان، ګزارش وزارت تجارت وصنایع ۲۰۱۴م.(۱۳۹۴ش.)

۷. سور اسرافیلی، شیرین (۱۳۷۴)، آشنایی با طراحی فرش ایران و جهان (جلد ۲) تهران، انتشارات موسسه فرهنګی هنری،

۱۰.د کونړ هینداره، د کونړ ولایت له خوا نشر شوی کتاب، ۱۳۸۴- د کونړ د اطلاعاتو او فرهنګ اداره.

۱۱. د محل له خلکو، د کونړ له نجارانو، د غالی اوبدونکو له اتحادیی او نورو کاروباریانو سره مرکې

۱۲. د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداري ډاټابیس

۱.امین، حمیدالله.(۱۳۶۰)،جغرافیای صنعتی افغانستان: مطبعه ی مدیریت نشرات پوهنتون: کابل- افغانستان.
۲.فوگت،اریش(۱۹۷۳)(مترجم: محمد انور دوست)،سیاستهای انکشاف حرفوی وصنایع دستی، پوهنځی اقتصاد: مطبعه پوهنتون: کابل- افغانستان.
۳.دودیال،محمد بشیر.(۱۳۸۳). صنایع در افغانستان ونقش آن در اقتصاد ملی، مرکز معلومات پوهنتون کابل (برنامه توانا/ځواکمن)، کابل.افغانستان.
۴.دودیال، محمد بشیر(۱۳۷۵)، دکرنې او صنعت د سکتورونو د متوازنې ودې اهمیت، ننګرهار پوهنتون: جلال اباد- افغانستان.
۵.کریمی، حسینعلی.(۱۳۹۶).صنعت قالین در افغانستان، نشر مرکز معلومات افغانستان در پوهنتون کابل: افغانستان.
۶.غبار، میرغلام محمد.(۱۳۴۶) ، افغانستان در مسیر تاریخ، مطبعه ی دولتی، چاپ نخست: کابل-افغانستان.
۷.سالنامه احصائیوی(۱۳۹۵،۱۳۵۷،۱۳۶۲)
۸.گزارش پیشرفت ستراتیژی ملی افغانستان.
9.Jhingan, ML.(1999),The Economic Development and Planning, New Delhi: India
10.Stewart,W,H.(1978),What is industrial Economics, Macmilan Education UK.
11.Symeonidis,W.(2011) Industrial Economics, The London School of Economics and Political Science(LSE)print. EC3099,2790099.

## د مولف لنډه پېژندګلوي او آثار

پوهاند محمدبشیردودیال دعلي محمدخان حسین خېل زوی،په ۱۳۴۰ ش. کال دکابل په ولایت کې نړۍ ته سترکې پرانیستي دي. منځنۍ او متوسط مکمل زده کړې یې دحبیبې په عالي لېسه کې پای ته رسولي او لوړې زده کړې یې دماسترۍ ( MS c. Hons)په سویه بشپړې کړي دي،له دې پورته یې د(Micro Economics) یوه دوره د آلمان هیواد د رور– بوخم ( RUB)په پوهنتون کی په بریالیتوب سره بشپړه کړی ده. دهیواد دننه او بهریې ګڼ شمیرکنفرانسونو ،ورکشاپونو او سیمینارونو کی ګډون کړی دی او مقالې یې اورولې دی. دافغانستان دلیکوالو اوژورنالستانو داتحادیې غړی دی، کابل پوهنتون، دننګرهارپوهنتون کې دکرنې،دوترنرې علومو،عامه اداری اوپالیسی، ژورنالیزم او اقتصادپوهنځیوکې یې تدریس کړی دی. دافغانستان دعلومو داکاډمۍ علمي غړی او داریانادایرةالمعارف انستیتوت مشر،دوترنرۍ علومو دپوهنځي مرستیال، په GTZ/PAL کې ترینر، داداري اصلاحاتو په کمېسون کې داداري دکورس استاد ،په کابل پوهنتون، ننګرهار پوهتون او خراسان پوهنتون کې د ماسترۍ او لسانس دورې استاد پاتې شوی دی. په پیښبور کې دافغانانو دپوهنتون استاد ،دننګرهارپوهنتون کې دتقرراو دانفکاک دکمېټې غړی،دعلمي ترفیعاتو دکمېټې غړی،دکانکورد کمېټې غړی،دپوهنتون داعتبارموندنې دتضمین اوځان ارزونې دکیمټې غړی،د پوهنتون دنصاب د کمیټې مسئول، دنشراتو دبورد او دیوشمېر مجلو او اخبارونو (پوهه،انګازه،ارزښت، آرین، ننداره او افغان یووالي) دلیکنې دهئیت دغړي په توګه یې مسئولیتونه ادا کړي دي. د تدریس ترڅنګ، څه موده دننګرهارپوهنتون دنشراتو مدیر،بیا داقتصاددپوهنځي تدریسي مدیر،وروسته ددغه پوهنځی مرستیال او درې دورې دپوهنتون دعلمي شوراغړی ؤ.څه موده دپوهه علمی مجلې مسئول مدیر او دوه کاله یې د(A.H.F ) ددفترفرهنګي څانګه کې کار کړی دی، دوه کاله یې داریاناخصوصي پوهنتون دعلمي مرستیال په توګه، درې کاله

دخراسان پوهنتون استاداودماستری دبوردآمراویوکال یې دجامعه العلوم الاسلامیه دمشاورپه توګه دنده درلوده. دننګرهارپوهنتون دعامه اداری اوپالیسی دپوهنځي رييس اوددغه پوهنځي استاد او همدا رنګه په کابل پوهنتون کی دافغانستان دمعلوماتودمرکزداديتوريل بورد غړی او دافغانستان دپوهانو او متخصصانو د ټولنی ) (Assembly of Scientists & Experts of Afghanistanد رهبری (RASEA ) د شورا او موسسینوغړی دی. دخپل خدمت په دوره کې یې په ۱۳۶۹ش. کال کې داسدد ۲۸ مې په مناسبت داستقلال ستاینلیک،په ۱۳۷۴ش. کال کې یې دغوره خدمت ستاینلیک اوپه ۱۳۸۸ش. کال کې یې درېیمه درجه ستاینلیک ترلاسه کړی دی. دری ځله یې د کال ادبي جایزې ترلاسه کړی اوپینځه ځله دادبي کانکورونودجایزووړونکی شوی دی. په۱۳۹۳ل. کال کې یې دلوړو زده کړود وزارت ستاینلیک اوپه۱۳۹۴کالکی یی دمشرانودجرګی له خوادغوره خدمت ستاینلیک ترلاسه کړی دی. په ۱۳۸۹ کال کې یې دادبي کانکورلومړی‌جایزه ترلاسه کړې ده. په رادیو ،تلوېزیون کې یې یوشمېرمقالې خپرې شوي دي. محترم استادیوشمیربهرنیوهیوادولکه جرمني،هندوستان،ایران،اتریش،پاکستان، ترکیې،هسپانیا او هنګری ته رسمي اوعلمي سفرونه کړي دي.دیوشمېرچاپ اوخپروشویواثارونومونه یې دا دي:

۱. Constraint in Adoption of Technology دماستری‌تیزس.

۲. اقتصادي پلان جوړونه دپوهنیارعلمي رتبې ته ژباړل شوی اثر.

۳. دکرنیزې مناسبې تکنالوژی‌ستونزې اودحللارې ( دپوهنمل علمي رتبې لپاره څېړنیزاثر).

۴. دکرنې اوصنعت متوازنه وده ( دپوهندوی عملي رتبې ته څېړنیزاثر ).

۵. تانده غوټۍ (لنډې کیسې) دافغانستان دلیکوالوټولنه ۱۳۵۶ – کابل. دولتي مطبعه.

۶. دکرنې پلان جوړونه( علمي- مسلکي ژباړه ) دکرنې وزارت،دکرنیزتبلیغ،ترویج اوزده کړوریاست خپرونه۱۳٦٦- کال- کابل.
۷. په کرنه کې دطبیعي منابعوپلان جوړونه ( دغه کوچنۍ رساله دمنې دکبنت دکمپاین په مناسبت په ۱۳٦۸- کال کې دکرنې وزارت دترویج دریاست له خوا خپره شوې وه).
۸. شاهین ( دلنډوکیسومجموعه )- اردومطبعه- کابل ۱۳٦۷ل.ه.
۹. دمینې ډالۍ (ناول) دلیکوالوټولنه- کابل ۱۳٦۷،دولتي مطبعه.
۱۰. دشواریهای بازگشت اواره گان افغان،مرکزمطالعات افغانستان (ASC) پیښور ۱۳۷۷ کال- تاپ پرنټز- پاکستان.
۱۱. دافغانستان دطبیعي سرچینوپېژندنه- دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه- جرمني- کولن ۱۳۷۹( ۲۰۰۰م.)
۱۲. حیات وحش افغانستان- چاپ مرکزمنابع نشراتی واطلاعاتی اکبر (ARIC) پیښور- پاکستان. ۱۳۸۱ش. کال.
۱۳. داقتصادي پرمختیاتیوري اوپلان جوړونه- دختیځ بیارغاونه(KOR )دخپرونوڅانګه.
۱۴. صنایع درافغانستان ونقش انهادراقتصادملی،چاپ کتابخانه های اریک- نمبرمسلسل۱۳۸۲،۱۲٦ش. کال،پیښور-پاکستان.
۱۵. دیموګرافي اودنفوسوتحلیل( دپوهنتون درسي کتاب )- ( لومړی چاپ۱۳۸۲ ش. اوبیاپه دوهم ځل۱۳۹۲کال.)،دانش خپرندویه ټولنه
۱۶. نباتات طبی-چاپ دفتراکبر- انتشارات الازهر- پیښور- پاکستان (۲۰۰۴) ۱۳۸۴ش. کال.( دغه کتاب دوه ځله خپورشو)
۱۷. احصائیه (لومړی،دویم، ... اتم چاپ) دپوهنتونونولپاره درسی کتاب. خپروونکې ساپي دپښتوڅېړنواوپراختیامرکز،پیښور (۸۱، ۸۴، ۱۳۸۷ش.) اوڅلورځله نورګودرکتاب خپرولوټولنی اویوځل دلوړوزده کړوزارت د( DAAD) پروګرام په مالی مرسته خپورکړی دی.

۱۸. اصل خلجی های افغانی (ژباړه) ۱۳۸۹ش. دمیوند کتاب چاپولو مؤسسه.
۱۹. پښتو ریاضي ۱۳۸۸ ش. دسبا نشراتیمؤسسه.
۲۰. دتصوف حقیقت، ۱۳۸۹ ش. (ژباړه)، دمیوند خپرندویه ټولنه.
۲۱. اداره، ګودرخپرندویهټولنه ۱۳۸۸ش. (په پښتو او دري ژبو شل ځله چاپ شوی دی).
۲۲. غزنوي سلطان محمود؛ژوند او پېښلیک.(ژباړه) دمیوند خپروندیې ټولنې چاپ.
۲۳. دعلمي تجربو طرح او ډیزاین، ګودرخپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ش. ،درسي کتاب.
۲۴. په پینځه ټوکوکې دیوشمېرسبوتولیداوروزنه ( له پوهنمل سیداجان عبدیاني اوپوهنیارمحمداسماعیل سعادت سره په ګډه).۱۳۸۵ش. کال. اودیوشمیرسبومارکیتنګ.
۲۵. دننګرهارولایت او جلال اباد ښار پېژندنه ( له اسد الله حصارشاهیوال او سید پاچا باور سره په ګډه ).
۲۶. مرکه ( دلنډو کیسو ټولګه )، ( امین افغانپور، ډاکټراسدالله حبیب او ببرک ارغند سره په ګډه )، کمیته دولتی طبع و نشر، کابل - افغانستان.
۲۷. په افغانستان کې دګاڼو جوړلو هنر، ۱۳۹۱(ژباړه).
۲۸. سوداګري دټولولپاره (ژباړه، ۱۳۸۸ش. کال- کابل)
۲۹. دخریداری هیات ( دطنزونو مجموعه ۱۳۸٦ ش. کال، سبا (میوند )خپرندویه ټولنه.
۳۰. پښتو ریاضي(ژباړه، ۱۳۸٦ ش. کال- پېښور)، داکتاب دوه ځله خپورشوی دی.
۳۱. دطبیعي منابعو اقتصاد( دپوهنتونولپاره درسي کتاب- لومړی چاپ ۱۳۸۴ ش. د لوړوزده کړو وزارت، ،دوېم چاپ ۱۳۸٦ ش. کال. درېیم ځل ۱۳۸۹ ش. کال).
۳۲. نګهداری وپرورش بز در افغانستان (ژباړه).۱۳۹۰
۳۳. په افغانستان کې هنراو ښکلي هنرونه.(ژباړه)
۳۴. داقتصادي پروژوتحلیل اومدیریت. داقتصادپوهنځی لپاره درسی کتاب (لومړی چاپ۱۳۹۰، دوهم چاپ۱۳۹۴ل. درېیم چاپ ۱۳۹۶)

۳۵. سرگرمی با اعداد ورشد استعداد های شما (۱۳۸۹ل.) مرکز خدمات کمپیوتری شیبر، د (توانا/ABLE) د کتابونو دلړۍ ۱۸۴ ګڼه.
۳۶. د مدیریت علم (ژباړه). د اقتصاد پوهنځی لپاره درسی کتاب (لومړی چاپ ۱۳۹۲، دوهم چاپ ۱۳۹۳ل.)، ګودر خپرندویه ټولنه
۳۷. اسانه محاسبه. (دا کتاب دوه ځله ګودر خپرندویي ټولنې نشرکړی دی). ۱۳۸۹.
۳۸. ولایتي شوراګانې د ملی یووالی په لوری دریځې (ژباړه). ۱۳۸۹ل. کابل- افغانستان.
۳۹. حکایتونه او په زړه پوری مطالب (ژباړه)،
۴۰. په افغانستان کې د ګاڼو جوړولو هنر، د ABLE د پروګرام چاپ، ۱۳۹۱.
۴۱. دژویو او ښارویو په زړه پوری نړۍ. ګودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱.
۴۲. کوچنی اوتطبیقی اقتصاد (ژباړه) د اقتصاد پوهنځی لپاره درسی کتاب، د اقتصاد د پوهنځی استاد، پوهنمل زبیر نورمل سره په ګډه
۴۳. عامه اقتصاد (ژباړه)، درسی کتاب، د اقتصاد پوهنځی استاد انو پوهیالی عبد الله عادل او پوهیالی اخترغنی سره په ګډه.
۴۴. افغانستان دتاریخ په تګلوری کی( د ادافغانستان دسترمورخ میرغلام محمد غبار د افغانستان در مسیر تاریخ، نامتو کتاب ژباړه ده، لومړی چاپ ۱۳۹۳.
۴۵. معرفی تکنالوژی محلی افغانستان، چاپ مرکز معلومات افغانستان در پوهنتون کابل( چاپ اول ۱۳۹۲، چاپ دوم ۱۳۹۷).
۴۶. د انسانانو اوژویو په ژوند کې د ونوبوټو اهمیت، ژباړه (۱۳۹۰) (ACKU) پرله پسې نومره ۲۳۳، کابل- افغانستان.
۴۷. نقش و اهمیت صرفه جویی در مصارف، ۱۳۹۱ (۲۰۱۲ل.) په کابل پوهنتون کی د افغانستان د معلوماتو مرکز د (USAID) په مالی مرسته چاپ کړی دی.
۴۸. په افغانستان کې اقتصادی، اجتماعی پلانونه او د هغو په طرح، جوړولو او تطبیق کې د جمهور رییس محمد داوود خان ونډه، مومند کتاب خپرندویه تولنه. ۱۳۹۱ل. کال.

۴۹. دافغانستان یوه لنډه دیارلس کلنه تجربه: بهرنۍ مرستې، ملی پرمختیایی ستراتیژی اود بازار نظام ته کتنه. ګودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۲.
۵۰. په افغانستان کې دبېوالۍ د ترویج او پراختیا لارې-چارې(ژباړه)۱۳۹۲.کابل پوهنتون کې دافغانستان د معلوماتومرکز، موج طباعتی او تبلیغاتی شرکت چاپ.
۵۱. په کور او ګلتون کې د ګلانوروزنه(ژباړه). ۱۳۹۵. دایبل نشرات، کابل- افغانستان
۵۲. دسازمانی اړیکومدیریت (درسی کتاب) ۱۳۹۴ل. یار خپرندویه ټولنه.
۵۳. دسازمانی شخړو مدیریت(درسی کتاب)۱۳۹۴ل. یار خپرندویه ټولنه، جلال اباد.
۵۴. دمالی خطرونومدیریت (درسی کتاب)۱۳۹۵، ختیځ کتاب خپرولو ټولنه.
۵۵. په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو صنعت (۱۳۹۵)، په کابل پوهنتون کی د معلوماتو د مرکز چاپ.
٥٦. د دیموکراسی او ټولټاکنو مفهومونه ۱۳۹۶(ژباړه) ، خپروونکی : ACKU
۵۷. منطقوی اقتصاد ۱۳۹۶ل.(درسی کتاب)، کتاب خپرندویه ټولنه.
۵۸. په افغانستان کې میناتور ( ژباړه) دځواکمن/توانا د پروګرام چاپ (۱۳۹۶). کابل-افغانستان
۵۹. داقتصاد تشریحی قاموس (په ۵۲۰مخونو کې د ۱۷۵۰ اصطلاحاتو تشریح) ۱۳۹۶، مومند خپرندویه ټولنه.
۶۰. کرنیز تمویل ( د افغانستان د کرنې د پوهنځیو لپاره درسی کتاب)، له بناغلی پوهنیار ضیاالرحمن راسخ سره په ګډه، د مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۶ل. کال.
۶۱. د اقتصادی پرمختیا تیوری، لومړی چاپ ۱۳۹۴،دوهم چاپ ۱۳۹۶ل. کال.
۶۲. دبشری سرچینومدیریت(ژباړه) ، د عامه ادارې او پالیسی د پوهنځي لپاره درسی کتاب.
۶۳. د کرنې تشریحی قاموس، ۱۳۹۸(په ۴۰۰مخونو کې د ۱۵۰۰اصطلاحاتو تشریح).
۶۴. د درملو اداره او تنظیم (ژباړه). دپوهاند غضنفر د روغتیایی انستیتوت لپاره درسی کتاب، ۱۳۹۷

۶۵. موږ بيرته خپل کلي ته ځو. ۱۳۹۷ ( دغه رومان په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز د ځوانانو د ادبياتو په مناسبت په دري پارسی هم ژباړلی او چاپ کړی دی)،
۶۶. د طبيعی منابعو مديريت او د چاپيرال ساتنې پاليسی (همدا حاضر درسی کتاب).
۶۷. عامه اداره (دوه ټوکه۱۳۹۸) دعامه ادارې او پاليسی پوهنځی لپاره درسی کتاب (ژباړه)
۶۸. د مديريت اصول او بنسټونه (۱۳۹۷)(ژباړه).
۶۹. دملکی خدمتونو د بستونو لپاره د کانکور لارښود (له استاد مير احمد مهمانی سره په ګډه)۱۳۹۸.
۷۰. دپروژې مديريت په عمل کې ( له انګليسی څخه ژباړه) درسی کتاب ۱۳۹۸ال. کال.دلوړو زده کړو وزارت– Germanic د درسی کتابونو د تاليف او خپرولو دفتر
۷۱. صنعتی اقتصاد ،داقتصاد دپوهنځيو درسی کتاب ( همدا حاضر کتاب)

**چاپ ته چمتو آثار:**

- اقتصادی سنجشونه (د اقتصادی رياضی په اساساتو سره )
- ازينجا تا شمالی کار دارم (مجموعه ی داستانهای کوتاه)
- ورک شو پل (دلنډو کيسو ټولګه)
- د ادارې او مديريت قاموس

همدارنګه پوهاند محمدبشير دوديال ديوشمېرعلمي اثارولپاره تقريظونه ليکلي اودافغانستان دعلوموداکاډمۍ،داقتصادپوهنځي اودکرنې پوهنځيو ديوشمېراستادانولارښوداستاد اوددفاع وزارت دستردرستيزدقوماندانيت اوقرارګاه دکورس دعاليرتبه افسرانولارښوداستادپاتې شوی دی، له پورتنيو کتابونو پرته يې تراوسه دايرةالمعارف ته۶۲ ارتيکلونه،يوشميرسايتونوته ليکنی اودهېوادپه نورومطبوعاتوکې يې په پښتو، دري او انګليسی ژبو ۳۷۴ مقالې چاپ اوخپرې شوې دي.

# د افغانستان د پوهنتونونو د انجنیري، زراعت، طبیعي علوم، اقتصاد، ښوونې او روزنې او ژورنالیزم چاپ شوو درسي کتابونو لست (ننگرهار، کابل، کابل پولی تخنیک، هرات، بلخ او خوست) ۲۰۱۵-۲۰۱۹

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون | شمېره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عالي کلکولس رياضي I 534 A رياضي | حمیدالله یار | ننگرهار | ۲ | د عالی ریاضیاتو عمومی کورس | محب الرحمن جنتی | ننگرهار |
| ۳ | د نفوسو جغرافیه | پروفیسور لطف الله صافی | ننگرهار | ۴ | عالي کلکولسII | نظر محمد | ننگرهار |
| ۵ | فزیکی کیمیا III کیمیاوی کنتیک او کتلسس، کروماتوگرافی او اسپکتروسکوپی | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننگرهار | ۶ | IIفزیکی کیمیا الکترولیتی محلولونه او الکترو کیمیا | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننگرهار |
| ۷ | د د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه، دسون تخنیک | داکتر غلام فاروق میر احمدی | ننگرهار | ۸ | د ژویو فزیولوژي | پروفیسور غنچه گل حبیب صافی | ننگرهار |
| ۹ | معیار های جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموری | ننگرهار | ۱۰ | د متیورولوژی مبادی | پروفیسور عبدالغیاث صافی | ننگرهار |
| ۱۱ | الجبر او د عددونو تیوری لومړی برخه | سطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۱۲ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموری | ننگرهار |
| ۱۳ | د اوسپیز کانکریټي عناصرو د لومړي صنفي کار متودیکي لارښود | پوهندوی دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار | ۱۴ | د ژوند چاپېریال | پوهاند عارف الله مندوزی | ننگرهار |
| ۱۵ | عضوی کیمیا، کړیوال ترکیبونه | پوهاند دوکتور محمد غوث حکیمی | ننگرهار | ۱۶ | جامداتو میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ۱۷ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | دیپلوم انجینېر اسدالله ملکزی | ننگرهار | ۱۸ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | دیپلوم انجینېر اسدالله ملکزی | ننگرهار |
| ۱۹ | کیمیايي عنصرونه دویم ټوک | محمد طاهر کاښې | ننگرهار | ۲۰ | کیمیايي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کاښې | ننگرهار |
| ۲۱ | عمومی ریاضیات | کل محمد جنت زی | خوست | ۲۲ | د اقتصاد او تجارت اصطلاحات (انگلیسي- پښتو تشریحي قاموس) | پوهنیار عبدالله عادل او امان الله ورین | ننگرهار |
| ۲۳ | خطي الجبر | داکتر عبدالله مهمند | ننگرهار | ۲۴ | روانشناسی و ضرورت آن در جامعهٔ افغانستان | داکتر اعظم دادفر | کابل پوهنتون |
| ۲۵ | مبادی اقتصاد زراعتی | پوهاند ولی محمد فائز | بلخ | ۲۶ | اساسات هندسه ترسیمی مسطح | پوهنوال سید یوسف مانووال | بلخ |
| ۲۷ | تأسیسات و تجهیزات تخنیکی ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموری | کابل پولی تخنیک | ۲۸ | د راډیویي خپرونو تولید | پوهنوال دوکتور ماستر واحدي | خوست |
| ۲۹ | د خاورې تخریب او د چاپیریال ککړتیا | پوهنیار محمد حنیف هاشمي | خوست | ۳۰ | تیوری و سیاست بودجه عامه | پوهنوال داکتر سید محمد تینگار | کابل |
| ۳۱ | حیوانات مفصلیه | پروفیسور داکتر دیپلوم علی آقا نحیف | هرات | ۳۲ | عضوي کیمیا، د اروماتیک او هیتروسیکلیک برخه | پوهنوال ډاکتر گل حسن ولیزی | کابل |
| ۳۳ | د پروژې تحلیل او مدیریت | پوهاند محمد بشیر دویال | ننگرهار | ۳۴ | د انجنیری میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ۳۵ | کلکولس او تحلیلي هندسه، لومړی برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننگرهار | ۳۶ | کلکولس او تحلیلي هندسه، دوهمه برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننگرهار |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | د کرنیزو محصولاتو بازار موندنه | پوهاند محمد طیب | ننگرهار | ۳۸ | کارتو گرافی با اساسات توپوگرافی | پوهنوال دوکتور محمد طاهر عنایت | ننگرهار |
| ۳۹ | انرژي سمپا کوونکي وداني | اسد الله ملکزی | ننگرهار | ۴۰ | د موادو مقاومت | پوهنمل بهرام امیری | خوست |
| ۴۱ | فزیکی کیمیا گازونه او کیمیاوی ترمودینامیک | پوهاند خیر محمد ماموند | ننگرهار | ۴۲ | اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې | دانش کروخیل | ننگرهار |
| ۴۳ | حیاتی جغرافیه | پوهاند لطف الله صافی | ننگرهار | ۴۴ | د فاضله اوبو انجنیري | زلمی خالقی | ننگرهار |
| ۴۵ | د رياضي په هلکه خبرې اترې | سلطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۵۶ | اقتصادي جیولوجي (کانپوهنه-فلزي کانونه) | پوهاند دوکتور شریف الله سهاک | ننگرهار |
| ۴۷ | گروه های اجتماعی بسته (مطالعه جامعه شناختی سکتها) | داکتر احمد سیر مهجور | کابل پوهنتون | ۴۸ | گرم شدن کره زمین | محمد نعیم نسین | بلخ |
| ۴۹ | الجبر او د عددونو تیوري دوهمه برخه | سلطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۵۰ | اعمار ساختمانها (اساسات، مواد و سیستم ها) | پوهندوی دیپلوم انجنیر امان الله فقیری | کابل پولیتخنیک |
| ۵۱ | په سیول انجنیري کې د اټوکډ استعمال | پوهنوال میا پاچا میاخیل | ننگرهار | ۵۲ | وترنری عمومي پتالوژي | پوهندوی محمد طاهر کاکړ | ننگرهار |
| ۵۳ | انجنیري جیودوزی (سرو) | پوهندی گل حکیم شاه سیدی | ننگرهار | ۵۴ | جیومورفولوژي | پوهنوال عزت الله | ننگرهار |
| ۵۵ | د تلویزیوني خپرونو تولید | پوهنوال داکتر ماستر واحدی | خوست | ۵۶ | اوسپنيز کانکریټي عناصر، لومړی برخه | پوهنوال دیپلوم انجنیر عبدالرحمن مومند | ننگرهار |
| ۵۷ | زولوجی فقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار | ۵۸ | زولوجی غیرفقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار |
| ۵۹ | د تهداب انجنیري | پوهاند انجنیر زلمی خالقی | ننگرهار | ۶۰ | الجبر معاصر | داکتر عبدالله مهمند | بلخ |
| ۶۱ | رهنمود موثریت حفظ انرژی در تعمیرات | داکتر انجنیر محمد عمر تیموری | کابل | ۶۲ | معاصر الجبر | داکتر عبدالله مهمند | خوست |
| ۶۳ | د افغانستان د پوهنتونونو د درسی کتابونو چاپول | داکتر یحیی وردک | ټولو ته | ۶۴ | آلماني د افغانانو لپاره | داکتر یحیی وردک | ټولو ته |
| ۶۵ | آلمانی برای افغانها | داکتر یحیی وردک | ټولو ته | ۶۶ | د پروژې مدیریت په عمل کې | محمد داود علم او یو اف . گهل | ننگرهار |
| ۶۷ | صنعتي اقتصاد | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار | ۶۸ | نباتي فزیولوژي لومړی جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست |
| ۶۹ | نباتي فزیولوژي دوهم جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست | ۷۰ | صنعتي اقتصاد | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار |

ټول کتابونه له دې ویبپاڼې څخه ډونلوډولای شی : www.ecampus-afghanistan.org

**مرسته کوونکی**: د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټی، د آلماني او افغانی پوهنتونونو ټولنې، د آلمان د فدرالی جمهوریت جنرال کنسولگري، کانراد ادناور بنسټ، میخایل کلبت، سلواک اید، په جرمنی کې د اناسیس کمپنی او افغانیک

**تطبیق کوونکی**: ډاکټر یحیی وردگ د لوړو زده کړو وزارت، څلورمه کارته، کابل افغانستان، فبروری ۲۰۲۰

دفتر:075601640، ایمیل: textbooks@afghanic.de



## Publishing Textbooks

Honorable lecturers and dear students!

The lack of quality textbooks in the universities of Afghanistan is a serious issue, which is repeatedly challenging students and teachers alike. To tackle this issue, we have initiated the process of providing textbooks to the students of medicine. For this reason, we have published 311 different textbooks of Medicine, Engineering, Science, Economics, Journalism and Agriculture (96 medical textbooks funded by German Academic Exchange Service, 190 medical and non-medical textbooks funded by Kinderhilfe-Afghanistan, 7 textbooks funded by German-Afghan University Society, 2 textbooks funded by Consulate General of the Federal Republic of Germany, Mazar-e Sharif, 3 textbooks funded by Afghanistan-Schulen, 2 textbooks funded by SlovakAid, 1 textbook funded by SAFI Foundation, 8 textbooks funded by Konrad Adenauer Stiftung and 1 textbook funded by inasys) from Nangarhar, Khost, Kandahar, Herat, Balkh, Al-Beroni, Kabul, Kabul Polytechnic and Kabul Medical universities. The book you are holding in your hands is a sample of a printed textbook. It should be mentioned that all these books have been distributed among all Afghan universities and many other institutions and organizations for free. All the published textbooks can be downloaded from www.ecampus-afghanistan.org.

*The Afghan National Higher Education Strategy (2010-2014) states:*

*"Funds will be made available to encourage the writing and publication of textbooks in Dari and Pashto. Especially in priority areas, to improve the quality of teaching and learning and give students access to state–of–the–art information. In the meantime, translation of English language textbooks and journals into Dari and Pashto is a major challenge for curriculum reform. Without this facility it would not be possible for university students and faculty to access modern developments as knowledge in all disciplines accumulates at a rapid and exponential pace, in particular this is a huge obstacle for establishing a research culture. The Ministry of Higher Education together with the universities will examine strategies to overcome this deficit ".*

We would like to continue this project and to end the method of manual notes and papers. Based on the request of higher education institutions, there is the need to publish about 100 different textbooks each year.

**I would like to ask all the lecturers to write new textbooks, translate or revise their lecture notes or written books and share them with us to be published. We will ensure quality composition, printing and distribution to Afghan universities free of charge. I would like the students to encourage and assist their lecturers in this regard. We welcome any recommendations and suggestions for improvement.**

It is worth mentioning that the authors and publishers tried to prepare the books according to the international standards, but if there is any problem in the book, we kindly request the readers to send their comments to us or the authors in order to be corrected for future revised editions.

We are very thankful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and its director Dr. Eroes, who has provided fund for this book. We would also like to mention that he has provided funds for 190 medical and non-medical textbooks so far.

I am especially grateful to GIZ (German Society for International Cooperation) and CIM (Centre for International Migration & Development) for providing working opportunities for me from 2010 to 2016 in Afghanistan.

In our ministry, I would like to cordially thank Acting Minister of Higher Education Prof Abdul Tawab Balakarzai, Administrative & Financial Deputy Minister Prof Dr. Ahmad Seyer Mahjoor (PhD), Financial Director Ahmad Tariq Sediqi, Advisor at Ministry of Higher Education Dr. Gul Rahim Safi, Chancellor of Universities, Deans of faculties, and lecturers for their continuous cooperation and support for this project .

I am also thankful to all those lecturers who encouraged us and gave us all these books to be published and distributed all over Afghanistan. Finally I would like to express my appreciation for the efforts of my colleagues Hekmatullah Aziz and Fahim Habibi in the office for publishing and distributing the textbooks.

Dr Yahya Wardak
Advisor at the Ministry of Higher Education
Kabul, Afghanistan, February, 2020
Mobile:  0706320844
Email: textbooks@afghanic.de

## Message from the Ministry of Higher Education

In history, books have played a very important role in gaining, keeping and spreading knowledge and science, and they are the fundamental units of educational curriculum which can also play an effective role in improving the quality of higher education. Therefore, keeping in mind the needs of the society and today's requirements and based on educational standards, new learning materials and textbooks should be provided and published for the students.

I appreciate the efforts of the lecturers and authors, and I am very thankful to those who have worked for many years and have written or translated textbooks in their fields. They have offered their national duty, and they have motivated the motor of improvement.

I also warmly welcome more lecturers to prepare and publish textbooks in their respective fields so that, after publication, they should be distributed among the students to take full advantage of them. This will be a good step in the improvement of the quality of higher education and educational process.

The Ministry of Higher Education has the responsibility to make available new and standard learning materials in different fields in order to better educate our students.

Finally I am very grateful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and our colleague Dr. Yahya Wardak that have provided opportunities for publishing this book.

I am hopeful that this project should be continued and increased in order to have at least one standard textbook for each subject, in the near future.

Sincerely,
Prof Abdul Tawab Balakarzai
Acting Minister of Higher Education
Kabul, 2020

| | |
|---|---|
| Book Name | Industial Economics |
| Author | Prof. Mohammad Bashir Doudiyal |
| Publisher | Nangarhar University, Economics Faculty |
| Website | www.nu.edu.af |
| Published | 2020, First Edition |
| Copies | 1000 |
| Serial No | 296 |
| Download | www.ecampus-afghanistan.org |

This publication was financed by **Kinderhilfe-Afghanistan** (German Aid for Afghan Children) a private initiative of the Eroes family in Germany.

Administrative and technical support by Afghanic.

The contents and textual structure of this book have been developed by concerning author and relevant faculty and being responsible for it.

Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.

If you want to publish your textbooks, please contact us:
Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Karte – 4, Kabul, Afghanistan
Office 0756014640, 0706320844
Email textbooks@afghanic.de

All rights reserved with the author.

Printed in Afghanistan 2020, Sahar Printing Press

ISBN 978-9936-620-93-3